
# دَ غني کلیات




Ketabton.com

غني خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغني کلیات

## د پنجرې چغار، پلوشې او پانوس

## ویونکې

خان عبدالغني خان

خپرونکې

د قومونو او قبایلو وزارت

د نشراتو ریاست

۱۳۶۴ ش / ۱۹۸۵ ع

A .S.K B

# سریزه

عبدالغني خان د پښتنو د ستر اجتماعي، سیاسي شخصیت خان عبدالغفار خان
مشر زوی دی. غني د هندوستان د نیمې وچې د خلکو د آزادۍ په غورځنګ کې د ماشوموالي
څخه د پاکستان تر راپیدا کیدو پورې مخامخ برخه اخیستې او بې شکه د ضد استعماري
او ضد امپریالیستي مبارزې د میدان یو پیاوړی مبارز پاتې شوی دی او په دغه
لاره کې یې سختۍ او جیلونه ګاللي دي. د دې سره سره د مستعمره هند تر
محدود واک لاندې انتخاب شوې مرکزي قانون جوړوونکې اسامبله کې د هند
د آزادۍ غوښتونکي ګوند کانګرس له خوا د پښتنو د صوبې یوازینی منتخب نماینده
پاتې شوی و.

د هندوستان د وېش په نتیجه کې د پښتنو لې برخې کیدو غني خان په مروجو ادبي ترګو نې
سیاستونو باندې لپ باور کړ، د سیاست د ځینو اړخونو له کتنه راجلا شو او د شعر تیرو تور دې
د نابیاني ستورو حقیقتونو او د ناویونکو د کړونو د بیان او رسوا کولو لپاره له تیکي را ادا یسته. هر څه یې چې
زړه او الهام ورته ویل، هغه یې د تکل او په دې توګه یې هغه لوی عقل چې "شعر" نومیږي
صیقل کړ او د رعایتونو او قیودو له ننګ سره او شرم نه یې آزادي ور کړه.
بې له دې چې غني د فلسفي تفکر په لحاظ تخیل کړو او بې له دې چې یو نقاش، مجسمه جوړوونکی
او خوارځیز هنرمند په توګه یې ځبیره، دی نړۍ مونږ د دوران یو دیر لوی شاعر دی چې د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښکلا او اولس او د هغه په کمزورو پوتړلو پښتون شاعر ښه پوهیدلی دی . د دانسان تکل غوښتنې او ګناه ګارهونو د هغه ځینو مذهبي فلسفي ، سیاسي او خرافي اندیښنو کې ځیرلي او آزمویلي دي . غني د دې لپاره چې د شعر ژبه پاکه وساتي او د دې لپاره چې انسان د ده کې لا پرخاتن باندې د بادري ګواو په لومه کې ښکیل نه کړي پر ټولو قرارداد دي ، تعدساتو باندې چینه بر دی او خلکو ته د ریاکار شیخانو ، وطن فروشه اخوندانو کاذبانه لافي او مقدس د رواغ بربنډ دي .

ای د لیونیانو ښکلو مخ ښکاره مستي ښه ده
حسن چې ځوانیه ښه دی که حسن پرستي ښه ده

په پاکستان کې د پښتو ژبې د زوالي بد برخه ، او د پښتنو د کم سوادۍ له کبله د عبدالغني خان غني شعر د نیاوال د ده د شعر د پیاوړي سوزنګ او د هغه د رنګینو عطرو د ډېر مولاوه احساس څخه محروم پاتې دی زه باور لرم چې پښتانه ، افغانان او نړیوال به په لنډ مستقبل کې غني د خپلو نه څپېدونکو شعرونو په محراب کې ودرېږي او ورته به یې لمانځي .

د غني انتقادي ژبه بربنډه ده . دی د یو رومانتیک ، ریالیست په توګه د ښکلا او د مینې ستاینکی دی . لیکن په هر څه . هر ځای او هر وخت کې انسان د ادخمکې خوځنده او هوښیار خاوند نه هېروي . هغه له خپلو ټولو بدایو او خطوروسره د ده د شعر په محراب کې ناست دی او د خپلو ښکلو او بدیو په ننداره توان کې د غني د شعر ته د لذت او عذاب په ژړانګو کې د ژوندانه د دوام لپاره الهام ورکوي .

سلیمان لایق

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادونه او مننه

د قومونو او قبایلو د وزارت له همکارۍ سره د نشراتو او فرهنګي امورو د ریاست له خوا په تېرو پنځو کلونو کې څینې کتابونه او رسالې د مقالو مجموعې او نور ګټور فرهنګي، ادبي، تاریخي او علمي کتابونه د حروفي چاپ، آفسیټ او ګستنر له لارې چاپ او خپاره شوي دي چې د دغو کتابونو له جملې څخه پنځه ویشتې علمي ادبي، تاریخي او کلتوري کتابونه د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړي معاون سرمحقق زلمي هېوادمل د هېواد له فرهنګ سره د مینې له امله بې حق الزحمې، بې له دې چې کاري او بیرته له کوم رسمي مکلفیته په وړیا ډول موږ ته چاپ ته کړي دي، د څینو کتابونو اډیټ او د مقالو د دوو مجموعو (د الفت یاد - د ننګرهار شاعر غني او اجمل) تدوین یې هم وړیا ترسره کړی دی.

زموږ له کتابونو سره د باچا خان زمانه او د جدوجهد. او د باچا خان لیکونه هم ده بې کومې مادي ګټې په ښه توګه وړیا چاپ ته چمتو کړي دي. د نشراتو او فرهنګي امورو ریاست د ده د دغه ډول مخلصانه هڅو ته په درنه سترګه ګوري، له زړه د مننې ترڅنګ ورته اوږد عمر او د هېواد په فرهنګي خدمتونو کې هیوادمل نه په راتلونکي کې هم د نورو فرهنګي او علمي مرستو هیله لري.

په درناوي

عبدالله ...
د نشراتو او فرهنګي امورو رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| پیشکش | ۱ | وږکښې | ۳۲ |
| دعا | ۳ | جنّت | ۳۴ |
| ثنا | ۴ | سپرلے | ۳۶ |
| ژوند | ۵ | ژوندون | ۳۹ |
| ګواه ( | ۷ | بلهٔ لار | ۴۱ |
| خوږه | ۸ | قسمت | ۴۳ |
| بل څه | ۹ | قارغان مارغان | ۴۵ |
| تش جام | ۱۰ | مرګے | ۴۶ |
| غم | ۱۱ | چینجخ | ۵۰ |
| هوش | ۱۲ | مزه | ۵۲ |
| حسن | ۱۴ | بازیګر کمتر | ۵۴ |
| اورکښې | ۱۶ | کوچے | ۵۶ |
| حساب | ۱۹ | تورانئ | ۵۸ |
| غزل | ۲۲ | ملاچرګک | ۵۹ |
| قسمت | ۲۳ | بورا | ۶۱ |
| دَ فریدون د موږ خط | ۲۴ | تارو | ۶۳ |
| اول سبق ستاد لید خورا | ۲۸ | کوږکوږ | ۶۶ |
| تړقه | ۳۱ | مېچ | ۶۷ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| شپږ زمري | ۶۹ | کټ ماله | ۱۰۶ |
| اوږه کلونه | ۷۴ | مسافر | ۱۰۹ |
| پلوشه | ۷۹ | بې غیرته پښتون | ۱۱۱ |
| خیال او رنګ | ۸۰ | دامکان او لاامکان | ۱۱۳ |
| یوخط | ۸۲ | قانون | ۱۱۵ |
| کاروان | ۸۳ | آسره | ۱۱۶ |
| بې وفا | ۸۴ | ډبوډئ تال | ۱۱۷ |
| بنګله | ۸۵ | دره په دره | ۱۱۸ |
| خمار | ۸۶ | ګوډاګی ! | ۱۲۰ |
| ملارسم | ۸۷ | مرګ | ۱۲۱ |
| صنوبر | ۸۸ | مینه | ۱۲۳ |
| ترانه | ۹۱ | جنت | ۱۲۴ |
| صحرا | ۹۵ | شمع | ۱۲۸ |
| خروُ چه هیڅ نه وُو | ۹۷ | جانان نها | ۱۲۹ |
| جزا | ۹۸ | قیدی | ۱۳۱ |
| شهوت | ۱۰۱ | غیرتي | ۱۳۲ |
| خندا | ۱۰۲ | | |
| سپیڅۍ | ۱۰۴ | | |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| تسلی | ۱۳۵ |
| سوال ـ ځانان | ۱۳۶ |
| افسوس ـ راګ | ۱۳۷ |
| کرخیږي ـ حال زما | ۱۳۸ |
| که ـ دوصال مزه | ۱۳۹ |
| ثنا ـ مورے | ۱۴۰ |
| پابېړه ـ بهار | ۱۴۱ |
| اے دهر چا دلبره | ۱۴۲ |
| غزا ـ خان | ۱۴۴ |
| اتفاق ـ انسان او فطرت | ۱۴۵ |
| غم | ۱۴۶ |
| داروش د دګے دنیا | ۱۴۷ |
| ازبېلتیه ـ زوراور | ۱۴۷ |
| دتورګے فریاد ـ جنته | ۱۴۸ |
| خرمستی | ۱۴۹ |
| ترانه | ۱۵۰ |
| دعا ـ زړه او س | ۱۵۱ |

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| کونده | ۱۵۳ |
| دعشق نور | ۱۵۴ |
| آرزوګانې ـ تماوزنه | ۱۵۵ |
| بلبانه | ۱۵۶ |
| خانصاحب | ۱۵۷ |
| مورے | ۱۵۹ |
| ګل که یار | ۱۶۰ |
| لیلی | ۱۶۱ |
| سوال ـ لیونتوب | ۱۶۲ |
| توبه | ۱۶۳ |
| سیل | ۱۶۴ |
| ګلی ـ بهانه | ۱۶۵ |
| پلوشه ـ غرور | ۱۶۶ |
| آدخاره ګله ـ ګلدورې | ۱۶۷ |
| پلوشه ـ لوبه | ۱۶۸ |
| ګلدورې ـ انصاف | ۱۶۹ |
| په کارګي ـ زور | ۱۷۰ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| بادشاه خان ته خط | ۱۷۰ |
| نیمګړې مرستې جیړا وانه | ۱۷۱ |
| دفقیرانو غزل | ۱۷۲ |
| خوشحال خان خټک | ۱۷۳ |
| لږ شو خمار پیدا | ۱۷۴ |
| میا جعفر شاه ته خط | ۱۷۵ |
| ګډې وډې | ۱۷۵ |
| پلوشه | ۱۷۶ |
| کارغه او بلبل | ۱۷۷ |
| پلوشه | ۱۷۸ |
| رشته | ۱۷۹ |
| پلوشه | ۱۸۰ |
| زه | ۱۸۱ |
| معمی - پلوشه | ۱۸۲ |
| لنډکې چیرګ | ۱۸۳ |
| دمال وزیر ته خط | ۱۸۳ |
| خسره | ۱۸۴ |
| د زړې زورې | ۱۸۶ |
| پلوشه | ۱۸۸ |
| پلوشه - دلربا | ۱۸۹ |
| مې ځې زما لیلی | ۱۹۰ |
| پلوشه - بهار | ۱۹۲ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| ولې | ۱۹۳ |
| ورو ورو | ۱۹۴ |
| ولې ته - مینه او حسن | ۱۹۵ |
| زما د کالو لښتې | ۱۹۶ |
| ځوانی | ۱۹۶ |
| ګډې وډې | ۱۹۷ |
| پلوشه | ۱۹۸ |
| ګډې وډې | ۱۹۹ |
| خار د نشمه | ۲۰۰ |
| پلوشه | ۲۰۱ |
| بې پروا لکه لونګی | ۲۰ |
| منارې | ۲۰۲ |
| حوره | ۲۰۴ |
| غمګینو سترګو | ۲۰۵ |
| عدم تشدد | ۲۰۶ |
| جدائی - فلسفه | ۲۰۷ |
| دفقیرانو سوال | ۲۰۸ |
| جانان - رباعی | ۲۰۹ |
| پلوشه - لیونی | ۲۱۰ |
| سوال ځواب دلیونی | |
| او ملا | ۲۱۱ |
| پلوشه | ۲۱۲ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| ګل ے وړے | ۲۱۳ |
| پلوشه | ۲۱۳ |
| دپسرلی شپه | ۲۱۴ |
| دعا | ۲۱۵ |
| شاعری | ۲۱۶ |
| جنډه | ۲۱۷ |
| مور | ۲۱۷ |
| دنیا پیرو شهزادګۍ | ۲۱۷ |
| زه | ۲۱۹ |
| تول او تال | ۲۲۰ |
| خسرو | ۲۲۱ |
| اسلام | ۲۲۴ |
| سیل | ۲۲۶ |
| ګل ے وړے | ۲۲۷ |
| مسلمان | ۲۲۸ |
| دنیا د شمع کښے - / د سحر نور داغی | ۲۲۹ |
| پلوشه | ۲۳۰ |
| اګست ۱۹۴۷ع | ۲۳۰ |
| تول | ۲۳۰ |
| ارمان - بکواس | ۲۳۱ |
| پلوشه | ۲۳۲ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| دوه خبرے | ۲۳۲ |
| ګل ے وړے | ۲۳۲ |
| دنیاګۍ - دالۍ | ۲۳۳ |
| ګل ے وړے | ۲۳۴ |
| قصه | ۲۳۴ |
| ګل ے وړے | ۲۳۵ |
| ځوانه | ۲۳۶ |
| سلام | ۲۳۷ |
| د زړې مابنام | ۲۳۸ |
| ژوند | ۲۳۹ |
| رتبه | ۲۴۰ |
| اول سړے ستا | |
| دلید خورا | ۲۴۱ |
| رباعی | ۲۴۲ |
| یادے دی | ۲۴۳ |
| دنیا | ۲۴۵ |
| ژوندون | ۲۴۵ |
| جنتی ته | ۲۴۶ |
| واده جنتی | ۲۴۸ |
| شان او شرنګ | ۲۴۹ |
| ترانه | ۲۵۲ |
| شاعر او لیلی | ۲۵۴ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| اے نایکه | ۲۵۶ | ماتم | ۲۶۵ |
| ژوند | ۲۵۸ | پلوشه | ۲۶۶ |
| غــزل | ۲۶۰ | شاعري | ۲۶۶ |
| عبادت | ۲۶۱ | تک | ۲۶۸ |
| دا ایلم تو تیان | ۲۶۲ | ګل دے وړے | ۲۷۰ |
| سزا او جزا | ۲۶۳ | پلوشه | ۲۷۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټکر واخلی چه ماشوم | ۲۷۱ | دانډت | ۳۰۲ |
| تقسیم | ۲۷۳ | حسین | ۳۰۰ |
| بیا | ۲۷۴ | سپوږمۍ | ۳۱۳ |
| لیلهٰ | ۲۷۹ | نوی بلا | ۳۱۵ |
| خوګه | ۲۸۰ | دغنی بتوس | ۳۱۷ |
| دخت | ۲۸۱ | حساب کتاب | ۳۱۹ |
| وائي ملا جان ـ پلوشه | ۲۸۳ | دنیئے خال | ۳۲۱ |
| نرس | ۲۸۶ | دنیا او غلام | ۳۲۴ |
| شپه وه دسپرلی | ۲۸۷ | یورپ | ۳۲۶ |
| کیمیاګر | ۲۸۹ | زما وطنه | ۳۲۸ |
| دبودے تال | ۲۹۰ | جنت او دنیا | ۳۲۹ |
| صانه | ۲۹۳ | مینه او حسن | ۳۳۲ |
| ناري | ۲۹۴ | سریدلی ګل | ۳۳۳ |
| اسپتال | ۲۹۶ | دنیا | ۳۳۴ |
| شهید ډاکټر صاحب | ۲۹۸ | چه آدم خان .... | ۳۳۹ |
| بیرووت میره یوانه | ۳۰۰ | قسمت | ۳۴۱ |
| | | مرګ | ۳۴۵ |
| | | یو آن | ۳۵۰ |
| | | رنګ | ۳۵۱ |
| | | ګل دے وړے | ۳۵۲ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| تصویر | ۳۵۴ |
| دَ سامري محل | ۳۵۵ |
| ګلاو د سحرګي په شا | ۳۵۷ |
| جلال | ۳۵۸ |
| راز مونږ غوندے..... | ۳۶۰ |
| زما محترم رور سلطان علي خان | ۳۶۱ |
| بې نوا ته خط | ۳۶۲ |
| پلوشه | ۳۶۵ |
| نقاب | ۳۶۶ |
| اختر | ۳۶۸ |
| تپوس که جواب | ۳۷۰ |
| تلے مرګ | ۳۷۲ |
| لټون | ۳۷۴ |
| کاروان | ۳۸۰ |
| نه کیږي | ۳۸۲ |
| راکه ساقي راکه | ۳۸۳ |
| دیوداسي | ۳۸۵ |
| منشم | ۳۸۸ |
| کلونه د ورخارې | ۳۸۹ |
| څمه، څمه، څمه | ۳۹۰ |
| یو تکے | ۳۹۲ |
| بامیان | ۳۹۳ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| سپرلی | ۳۹۴ |
| ماښام | ۳۹۶ |
| سپوږمۍ سکۍ شو | ۳۹۷ |
| چینجي | ۳۹۸ |
| د لندن معشوقې | ۴۱۴ |
| عجیبه فلسفه | ۴۱۵ |
| ګوګوشتو | ۴۱۷ |
| ترجمه د اقبال | ۴۱۸ |
| دعا | ۴۱۹ |
| میلاد آدم | ۴۲۰ |
| یو بې مهاره اوښه | ۴۲۱ |
| سینډ ځمه..... | ۴۲۲ |
| باډیوه | ۴۲۴ |
| تالښے | ۴۲۵ |
| خیام | ۴۲۶ |
| سرود قلندر | ۴۲۸ |
| بې تو سیاست | ۴۳۰ |
| زما لال | ۴۳۱ |
| کنې دنیا بنډ | ۴۳۲ |
| پلوشه | ۴۳۴ |
| دعا | ۴۳۵ |
| هوبر کیهو | ۴۳۶ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| پلوشه | ۴۳۸ |
| حقیقت او مجاز | ۴۳۹ |
| اوه، چیتول عمر... | ۴۴۰ |
| پلوشه | ۴۴۱ |
| نه او زه | ۴۴۲ |
| د زړه سیخي په کیدو | ۴۴۳ |
| ګډے وړے | ۴۴۴ |
| خندا او ژړا | ۴۴۵ |
| چه د مستئ نه... | ۴۴۶ |
| وه ملا | ۴۴۷ |
| ژوند | ۴۴۸ |
| عشق | ۴۴۹ |
| په مهرو ان مارچ... | ۴۵۰ |
| یو نغرے | ۴۵۲ |
| سوال جواب | ۴۵۳ |
| اے دلیونیا نو نیکه | ۴۵۵ |
| شهید | ۴۵۶ |
| منصور | ۴۵۷ |
| خرو | ۴۵۹ |
| پیدائش | ۴۶۰ |
| ګډے وړے | ۴۶۲ |
| لنډے | ۴۶۳ |

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| مسلمان | ۴۶۶ |
| ساقي | ۴۶۷ |
| نوے کال | ۴۶۸ |
| زه | ۴۶۹ |
| سپرلے خلاصیږي | ۴۷۰ |
| د جیلخانې خوب | ۴۷۱ |
| ګډے وړے | ۴۷۴ |
| قید | ۴۷۵ |
| خاورے | ۴۷۸ |
| دخوبونو جهان | ۴۸۰ |
| اے بادِ صبا | ۴۸۱ |
| مهذب | ۴۸۲ |
| سوداګر | ۴۸۳ |
| ګوګل | ۴۸۶ |
| جناب شیخ | ۴۸۸ |
| تاریخ | ۴۹۰ |
| ساز | ۴۹۱ |
| صاحب | ۴۹۳ |
| اور | ۴۹۴ |
| آدم | ۴۹۷ |
| نه کیږي په عقل | ۴۹۹ |
| اختلافات | ۵۰۲ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| لوږه | ۵۰۳ |
| ویش | ۵۰۵ |
| دغم لور | ۵۰۶ |
| زور | ۵۰۷ |
| بُت | ۵۰۸ |
| پېژندګلو | ۵۰۹ |
| ولے ؟ | ۵۱۰ |
| باچا | ۵۱۲ |
| دوزخ | ۵۱۵ |
| لیونی | ۵۱۸ |
| زړه | ۵۱۹ |
| اوښ | ۵۲۰ |
| مرګے | ۵۲۳ |
| کمتره | ۵۲۴ |
| باورے | ۵۲۶ |
| مېږے | ۵۲۷ |
| وصیت | ۵۲۸ |
| ماشے | ۵۳۱ |
| پېرے | ۵۳۴ |
| اُس بدُو | ۵۳۵ |
| پلوشه | ۵۳۷ |
| قارغه | ۵۳۸ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| پلوشه | ۵۴۰ |
| چړګ | ۵۴۱ |
| ښځے | ۵۴۲ |
| تېروتے | ۵۴۴ |
| زبرګ | ۵۴۵ |
| کله بے ودے | ۵۴۷ |
| کله بے ودے | ۵۴۹ |
| عجیبه فلسفه | ۵۵۰ |
| دتوت ښاخ | ۵۵۳ |
| مبس دے افلاطونه | ۵۵۵ |
| پیرو دا دنیا | ۵۵۸ |
| جوارګر | ۵۵۹ |
| الا بلا به ګرځن ملا | ۵۶۱ |
| جلال | ۵۶۳ |
| پلوشه | ۵۶۴ |
| پلوشه | ۵۶۵ |
| اراده | ۵۶۶ |
| رښتیا | ۵۶۷ |
| غمونه | ۵۶۹ |
| تجربه | ۵۷۱ |
| خدایه ولے ؟ | ۵۷۲ |
| باباته | ۵۷۴ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| څه دپاره | ٥٧٥ |
| بوډا | ٥٧٧ |
| پلوشه | ٥٧٨ |
| حال نه ما | ٥٧٩ |
| څه کرم | ٥٨٠ |
| زړه چاودے | ٥٨١ |
| ګپے وړے | ٥٨٢ |
| زما محل | ٥٨٣ |
| قسمت | ٥٨٥ |
| اوس | ٥٨٦ |
| دبچو ترانه | ٥٨٧ |
| پلوشه | ٥٨٩ |
| مينه | ٥٩٠ |
| تماشه | ٥٩١ |
| پلوشه | ٥٩٣ |
| نيمه تږے - پلوشه | ٥٩٤ |
| ګپے وړے - پلوشه | ٥٩٥ |
| مخ دجانان | ٥٩٦ |
| يو جام | ٥٩٧ |
| هغه دغه | ٥٩٨ |
| ولے | ٥٩٩ |
| يو جام | ٦٠٠ |
| ګپے وړے | ٦٠٢ |
| ګپے وړے | ٦٠٣ |
| بنى آدم ته نصيحت | ٦٠٤ |
| خيال | ٦٠٦ |

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| دوه سترګے | ٦٠٧ |
| دره | ٦٠٩ |
| شان دانه | ٦١٠ |
| راشه وړه دياغه | ٦١١ |
| شاعر | ٦١٣ |
| تنظيم نظم ... | ٦١٤ |
| آد ليونيانو نيکه | ٦١٦ |
| دحورو منکار | ٦١٩ |
| ګپے وړے | ٦٢١ |
| ترانه | ٦٢٣ |
| دعا | ٦٢٥ |
| مينه | ٦٢٦ |
| مړه شمع | ٦٢٧ |
| بنده | ٦٢٨ |
| سلام | ٦٣٠ |
| دژی ماښام | ٦٣١ |
| مست | ٦٣٢ |
| نوی اوسينکاری.. | ٦٣٤ |
| عقل م حيرانه | ٦٣٥ |
| ژوند | ٦٣٧ |
| آيني | ٦٣٨ |
| مسانی | ٦٤٠ |
| ورک خيال | ٦٤٢ |
| يوه قيصه | ٦٤٤ |
| دمدرك يادونې | ٦٤٦ تا ٦٨٠ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په نوم زما رتبه

دَ

# پنجرے چغار

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ — لوے یو جهان دَ ګلو نو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئې — دَ ګل تعل جهان دَ سیند نو که

دَ غنی دَ جیلخانے زما شعرونه

هریپور ـ ۱۵ اکتوبر ـ ۱۹۵۰ ع کښې
ما کتاب شروع کوم

غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیشکش

شاعر دَ خپل ماحول غلام وی، دَ دهٔ مثال دَ یو داسے حیوان دے چه دَ هغه په وجود خرمن نهٔ وی، که پو سے تے داز غی څوکه دَرورسے نو په کریکو ځان وژنی۔ او که پوسے تے آرام وړشی نو دَ خوشحالئ نه بے هوشه کیږی.

او کوره انسان ته چه باد شاه دَ ځنا وړو دے
دے که ډیر زور وکی و سے نه شی دَ خپل ځانه
دے دَ خپله ځانه دَ جهانه روکیدے نه شی
کله دَ کعبے نه تاو شی کله د جانانه

بنده دَ خپل احساس او بے حسئ په قلاکښے بند دے، او دغے ته خلق قسمت وائی. خوشبخته کاله وړاندے واقعاتو نه دَ خپلے لوئے قلا نه راووتلم او په ډیرو وړو وړو دَ خبستو قلاکانو کښے بندیوان کړم.

دغه دَ درد، زور او تیرے ماحول کښے ماته دَ لارے روښانه کولو صرف یوه شمع وه، او دا ځما دَ ځوانئے او مستئے کلونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دے تور او تاریک باغ کښې شوی دی او ماتې نه یوه مړاوے ګلدسته جوړه کړې ده هغې فرشتې ته پیش کوم، چا چه دَ خیله آباد دَ نواب رستم جنګ محل دَ غني دَ تالا شوے جونګړے دَ پارۀ پرېښود. او ماشي دا دغم. دَ درد او بے سروساماني روږدے ډیرے په خندا خوشحالئ او بهادرئ تیرے کړے. زه چه دَ هغے درد ته ګورم نو خپل درد را ته روک ښي. زه چه دَ هغے نږتوب وینم. نو په خپله بزدلئ ستومانه شم. زه دَ ډیر وینزانو نږیم. خو دَ هغے نه نږنه مشوم.

نو ځکه دا کتاب زه په ډیر ادب او ډیره مینه دَ خپلو بچو مورته پیش کوم.

یو خوب دَ شاعر په جامه انساني
یو ساز دور- دراز ښکلے خوږ آسماني
یو ګل دَ جنت په خصلت رحماني
یو جسم ناري یو زړه کے نوراني
شوله دا سے پیدا دَ غني دلبرا
په غیرت پښتنه په نهایست ایراني

همرک پرو جیل
۱۹۵۳ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

ستر کو دَ جانان کښې زما ښکلي جهانونه دي
وا دِ خله دنیا زه ورېږې ستا دَ دنیا نه یم
کوږه دَ فقیر کچکول کښې تاج دَ سکندر دې پروت
زه یم دَ سخیانو دَ شومانو گدا نه یم

زه نه په غرور درنه دَ مینې په نوم غوارمه
زه ملنګ بې نیازه ستا دَ دېر واویلا نه یم
یو دَ سپوږمۍ څاڅکې درنه تیک له دَ یار غوارم
زه یم دَ خوبونو دَ لالونو ګدا نه یم
هغه مستي غوارم چه نه مرګ نشي وژلې
زه دِ دَ غمونو دَ بیګا او سبا نه یم
او تشه دنیا ګڼې که دِ بخښې نوا ے امیره!
ستا شوه ستا دنیا. زه ورېږې ستا دَ دنیا نه یم

غني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثنا

توره شپه دې کله کله دَ غمونو انبار راوړي
کله شمع ساقي راشي او خيام او ستار راوړي
کله توره شپه لحد شي مرغه روک کوي پېياره کښېنې
کله رنګ او خمار راوړي کله شرنګ او دلدار راوړي
کله ډوب او بې قراره يو د رباب دَ آسويلو شي
کله مست دَ رنګ محل شي بې خودي او خمار راوړي
دا زما بې خودي واره يو نظر ستا دَ قرار دے
دا زما د رباب دَ حسن ستا يو څاڅکے دخمار دے

غني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

چه خمار مستي تې وزي — شراب شي ترخې او به وي
چه سرور غرور ئې نه وي — دا ژوندانه ورځنۍ دَ ځنه وي

چه دَ مینې زړه شي پاتې — لکه ګل وي رژېدلې
یا شغله یوه دَ نور وه — یا یو موتې دَ خزلې

چه په ژوند کښې سختۍ نه وي — لکه بې مالګې طعام
چه په خوله کښې خندا نه وي — لکه ډک دَ خاورو جام

چه خوانۍ کښې تکلیف نه وي — لکه پټه میان کښې توره
نه ئې پوهه شي نه شرنګ شي — په زنګونو شي زنګ خوړه

چه آرام وي او سامان وي — او یاري په جاي ادا وي
خو بانو هم شیرینۍ وي — هر ترورپرو فرهاد وي

چه بې سره په خندا و شي — هله خوند رازونیاز شي
چه دَ سپینو تورو جنګ شي — ښکاره هلته کښې ایاز شي

ژوند که تش فیرنۍ خوشتل شي — دا خو سپې هم شي ختلې
که تش نسل زیاتول وي — دا غوټۍ هم شي ښه کولې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند نه خیښته نه ماڼئ وی — نه دیرئ د سرو لالونو
نه یاران نه معشوقې دی — نه باغونه د ګلونو

---

ژوند خوتله دی یو په مخه
غورځیدل او پاڅیدل دی
ټکې سوز او ټکې ساز دے
څه خندل دی څه ژړل دی
څه ژړا په سترګو د عاشق کښې
پلوشه ده د خمار
په صحرا کښې لټول دی
د آشنا د کوڅې لار

غنی
حیدرآباد جیل
۱۳۴۹-۹-۱۱





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هری پور ۱۴ مارچ ۱۹۵۲ ع

# ګواه

یوتکی دَ رنګ کښې ــــ دریاب رنګا رنګ
یوڅاڅکی دَ ساز کښې ــــ هم سوز او هم شرنګ
دَ ژوند یوه لمحه کښې ــــ سوونه عمرونه
یو چونګ کښې دخاورې ــــ مستي اوغمونه
په لپه ایرو کښې ــــ نښارونه دَ نور
دَ هر ګل په شونډو ــــ رازونه دَ طور
خاورینه خرمن کښې ــــ خندا او غرور
تیارے دَ شهوت ــــ او رڼا او سرور
دے بت کښې دَ خاورو ــــ دا تال دَ ابد
دَ څاڅکي په مخ کښې ــــ جمال دَ ابد

ثبوت ما نه لوئ ستا دخان کوم دے
ګواه ما نه سبه ستا دَ شان کوم دے

خانپور



A .S.K B

خان پور

# ښومره؟

ښومره مینه مستی ده کرم ادب ښومره؟
څومره تا دلدار جانان کرم رتّب څومره

نه زه ستا په حد دخان په حساب پوه شوم
ستا پوهیږی ځپل هنګ او طرب څومره

تورانئ په سازسرود ترکومے رسی
ګلاب پوه دے دخایشت (*) په مطاب څومره

د اسپوږمۍ چه کل جهان حیران حیران کړی
داپوهیږی دخپل نور په سبب څومره

رنګ رنا دخپل ځیګر پرِ خو رو نه
دومره خیشت وی چه زماوی طلب څومره

داچه یې شونډے اور سرور روښان کړی
معشوق پوهیږی دَ عاشق په مطلب څومره

ځامینه ده ادب دَ پنجرے اوزی
وایه څومره دِ جانان کرم رتب څومره

(*) خایشت : ښایست .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بلڅه

په نظر کښې مې د باغونو خيال
په نصيب کښې مې لاره د غرونو
عجيبه اچار مې اچولے دے:
د کلونو او د غمونو
په غوږونو کښې شرها ر د ساز
د ګنګرو پېزيب او خندا آواز
دوب مې زړلتمئ بلڅه نوے ساز
بلڅه نوے سوز بلڅه نوے راز
خکه خيال کښې مې د باغونو رنګ
او نصيب کښې لاره د غرونو
ما د تورو هېرو ر(*) جوړ کړيدے
ځان له بنګلے تخت
د خوبونو

(*) هيرو : ايرو

مرحب پور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تش جام

هغه څه ساقي وي — چې تش شراب وي جام کښې
نه ورکې خمار د سترګو — رنګ د سرو لبانو
دا د دوزخ اور وي — چې تش سور وي رڼا نه وي
دا هغه کانړ دے — چې خطبې لولي ماښام کښې
دا د ازغو جاړه د ګلاب — خو ګلاب نه لري
دا لوګي د هغه سیخ — تیکه او کباب نه لري
زهر زهر زړه مړ دي — شراب چې خمار نه لري
کفر کفر کفر دے — مستي چې قرار نه لري
څه هغه بنده وي — چې جنون او دلدار نه لري
هغه د څه رسیند وي — چې غوټئ او آبشار نه لري
هغه څه مومن وي — چې مستي د کافر نه لري
څه وي هغه سترګې — چې د مینې نظر نه لري
هغه دعا څه وي — چې شرنګار او ښنا نه لري
زهر زهر زهر دي — شراب چې خمار نه لري



A .S.K B

# غم

پښتنه مې ضمیر، روک که قلم تش د سیاهۍ نه
کوټه کښې یخ او تریخ لوګي باهر(*) څخه بې میلې
دماغ مې پریشانه زړګي پرېوتي د مستۍ نه
خیالات مې روک نوستلي غم وملو په نړۍ
دُنیا مې د امید د رڼا نشه تکه توره
د غم د قیصو ډکه ده خندا آوازې هېر
هره لمحه د ساه ترخه بې خوندې او چپه سپوره
محمد دې ځان لیونے که شوخۍ بته ایازے هېر
داغ مې نه د طاقت د حکومت، نه د شوکت دے
داغ مې د تیریدو دے ـ بې مطلبه د ژوند ون
لیلیٰ محمل صحرا مې تیار دی خو افسوس
د ځان لیونی کولو همت ونکړه مجنون

په پېرول
۱۹۵۰ع

(*) باهر: بهره د باندے.

# هوش

شراب هله شي شراب چه څوک[1] وڅکي
ځاڅکي سينه شي چه څڅېږي آبشار شي

ګل چه خور کړي په سپا دين د رنګ دوران کاچل
په تيږو کښې جوړ عجب د ځيښت بازار شي

چه آواز د سرو اوزي بدلې رنګ شي
چه خوږ د خوږو اوزي نو خمار شي

چه فولاد د مينې مستې او به واخلي
نو حيران او پريشان مار د ستار شي

سرتوب چه لوړ راچت شي ليونتوب شي
چه صحرا په رنګ مين شي نو ګلزار شي

چه انسان مالک د حسن او سرور شي
اور او کور ورته ګلونه لاله زار شي

د سپوږمۍ حسن روښان شي په شبنم کښې
د غانمول[2] او کښې ولونه د ښامار شي

د ژوندون مطلب کمال دې د اظهار
يوله او ښکې يوله اخ يوله شهکار شي

بل څه نشته ځان او ژوند پوره کول دي
قسمتي هغه خو بو نه چه بهار شي

بس بله دې که مجنون دې که مدهوش دې
خرڅونکې اخستونکې د ده هوش دې

که جومات کښې بس الله الله دې
ميخانه کښې يو آواز د نوش نوش دې

دغه خوند کړي چه يو يار شي يو ديار شي
دغه خيال کله جانان کله بهار شي

تول د هوش کفر که مينه که سرور دې
د ده سر دې که نه شمع ده نه نور دې

(۱) څوک: څوک يې. (۲) غانمول، غاټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه واکدار که جوړ رب د جهان — چه د عقل تور کړندو ته قانون والی
د ے د حُسن بخاری ته لیونے والی — او د خاورو سوداګرو ته قارون والی
د ژوندون احساس ته خبط او سودا والی — عاشقے ته د بدبختو خرو جنون والی

د ده هوش د ده د مینے تور ښامار شی
دا عیسیٰ غریب بخپل بستر په دار شی

هوش عمل یو د سوځنو منارو دے — لونے وطن د دریابونو د درو دے
ده کښے بخے تارخانے د طور د کتو — دے کښے خور یو تور دریاب تپ په تیرو دے
دے کښے سپین لونے محلونه د دنیا کے — دے کښے خور خاموش ارمان د مقبرو دے
کله کله د مستے سره خمار و نه — کله کله تش کچکول اوک د آسرو دے

دا د شکر چه د غم په تور محل کښی — را ښکاره کله یا مینه یا دلدار شی
دا د شکر چه د مرګ په بادشاهی کښی — کله کله خاڅکی وخاندی آبشار شی
دا نعمت دے چه په لوږه کا نه شوے — خط و خال تالا په سره شونډو د دیار شی

هوش چه ورک شی د خپل هوښ نو مستی شی
چه خودی د خوده او زی نو خمار شی

مکرسر





A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسن

اوه تپوس دَ حسن مکوه | سمندر شي څوک تللے
څوک سپوږمۍ شي رانیولے | څوک زهرا شي بنګلولے

حسن پلار دَ مینې او مور د عشق
پکښې پټ دي تول سپین او تور د عشق
دَ ده خیال نظر همه زور د عشق
په سرو شونډو بلې بنګلې اور دَ عشق
دا بابا دَ سُر او سرور دے
دا تعبیر دَ جلال او نور دے
دا مکه دَ ستر کو خندا کښې
دا په هر کو ځه کښې طور دے

دَ آدم دَ نوم بس یو دا سبب | دَ بهار سبب دَ رنا سبب
دَ حوا دَ ژوند او ارمان قیصه | دَ سرود دَ رقص او د ژړا سبب
دا جواب د لکونو سوالونو دے | نشته هیڅ دَ ژوند ون بل جواب
دا صوفي نه محراب او منبر خالي | لیونی ته کباب او شراب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے د خیال او رنګ دنیا ګنبے دا — پلوشه د مینے د یار ده
دا د رحم پیغام او وعده د وصال — را لیږلے غلام له دلدار ده

دا د مرګ سبب
دا د ژوند ضرور
دا د ګناه تعریف
او معنی د نور
دا د عشق وجود
دا د مینے راز
دا د سوز خوند
دا مستی د ساز

هر نظر ئے شراب د مستی ده — دا د روح لیونے میخانه ده
د بنده او آقا د زړه راز دے — د ژوندون او جنت افسانه ده

خان پور
۱۹۵۰ء



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور کښې

دول دَ لرے خوږ دے دَ هندکیانو دا متل دے
مړه فلسفه دَ لرے ښه او پوره ښکاري
زړه دَ بنده نه دے عجیبه بے چله چل دے
ډوبه په ارمان کښې چوارې هم حوره ښکاري

عقل له دهوکه ورکوي حسن که دلدار دے
خان ته تښتېدل دي عبادت دے که خمار دے

دا مسته رڼا دا مینه حور دے او ماښام
څه رنګین سراب دے دَ لیدلو پوهېدلو
داچه ورته ګورے بل څه نه وینې نه ګورې
دا عجیبه دام چا دے جوړ کړے دَ لیدلو
دا یوه قصه ده دَ ډک جام دَ توئیدلو
دغه فلسفه ده دَ دریاب دَ بهیدلو

رحم نه انصاف دے یو تدبیر دے دَ دوام
هر څوک ئے پکار دي که خیتو دے که خیام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شړنګ وي دَ نږدې نه اوروړلې دَ لرې لرې
دواړه غږئ یو شانې اوریو رنګې خبرې
دَ کړ دَ ظلمه زوره دَ طاقته دَ باز پرې
جوړې دَ مینې او رنګین بوی دَ ګل وزرې

کومه لار چه اخلې خو مقام ئې بس یو دې
دلته زړ جوماته دی امام ئې بس یو دې

خکه لیونې دې مرور شي هر کله
بل خوا ته ورتا وکړي دا دَ موش تتقه شله
پریوزي په پړاو کړي بتخانه کښې دیوه بله
خپې سپینې پولۍ طمغې تاقتې دَ منزله

تانه او رسرور دې یو ماوړې وژنې اورکښې
اے دسپین او تور مالکه څه مزه ده تور کښې

وړې زما لال وي پروت په خُلې کښې دَ ښاما ر
وړې دې ګلاب له نه اوربل او نه بهار
وړې دِ بندي که ځا ځکې تن کښې دَ ړنه وکي
غوار سې ترچپې دَ سیند سازونه دَ ابشار

ماله مرګ او ژوند دې تاله تش دَ خُنې ول دې
اورکښې دې بل کړې ولې حسن الوول دې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورته دے نیولے یم فولاد جوړے زمانه
سبه۔ چه زه فولاد شمه نو څه زما جانانه
جسوله فولادو له جوهرو له کمال له
بس خاورے کیده دی روکیږدی کړی دنیا نه

وے دِ ورانولو له جوړ کړے سور محل دے
اور کینبے دے بل کړے وے حسن الوول دے

غني
ډیرهٔ اسمعیل خان
۱۹۵۰ع





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حساب

یو خوا لیونے دے د تیکرو جام پہ لاس
غواړی د عطار نہ روح د گل، خمار د گل
بلخوا ۔ او بنیار شاه ۔ د بوے پہ کته پہ لباس
پوخ ئے کہ خوراک لہ ھم ۔ پیغے ۔ لھم بلبل
تلہ پہ لاس ناست دے خرخوی مینہ خمار
بس د ده ایمان دغہ جنت دے نشتہ بل
بے خمارہ مینہ لکہ بے نشے شراب
زما ئے خکل حرام حرام ورتہ کتل
بے مینے ژوندان دے ۔ لکہ بے سُرہ ستار
تنگ ترے نہ او بنکل د جنت حورو تہ کتل
روکہ کره مجنون لیلی محل کښے د ایران
ده تہ سُر محل شو د غمونو بیابان
ټول جهان تہ اوروُ ده تہ مینہ د جانان
وه د ده خندا پښہ ژړا کښے د جهان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دہ تہ درد او چغو کښې وناست مستي ژړلون
دہ لہ وے دوہ لاړے یو مرګے، او یو مجنون

ښه - یو خوا خودغه بلخوا بله تماشه ده
ناست خان له نمرود دے او دَ بل درد نشه ده

داخه عجیبه شانتې انصاف دے دَ فطرت
ګل له ښکلے بوی دے او د ښر خوار له لشده

داخه عجیبه خیشت پرستي ده دَ رحمن
مرہ پرته بلبله ده او ښتے پے با ښه ده

خه وکړي شاباز یا به روکیږي یا به زور وکړي
خه وي جرس چه وي دَ ژوند هله چه شور وکړي

دغه دَ جهان، دغه ئے چل، دغه ئے راز دے
دغه دَ ساقي، دغه محمود، دغه ایاز دے

دغه وائي، دَ غم او دغه وخ، دَ همه ساز دے
دغه دَ خیام، او د بلال، دَ خُلے آواز دے

خان مستول مینه او خمار زیا تول
دے دَ ژوند تنور کښې سور انګار زیا تول

یو د یار دَ خُلے ورېت او بل ئے دَ دولت
یو دَ خان، په سترګو روک او بل ئے په شوکت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ئے مست په شرنګ او په خندا او په سرور
بل ئے په غضب دَ غور زنګونو دَ شهوت
یو ئے په تیرو دَ غم په لړو دَ ماښام
بل ئے په سیلئ او په باران او په قوت
یو ئے په پَستو پَستو سوالونو د ارمان
بل ئے په باهوا او په جلال او په شوکت
یو له تیز نیلے، سترګے سرے سره تورو په لاس
بل له تنهائی، رنګین ملګونه د حیرت
یو له دَ الماسو محل، سپین او روڼ او پاک

دوی سره حساب خو لږ ګران شان دے
ستا په هر جنت کښے لږ عذاب شان دے

غني

ډیره اسمٰعیل خان





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

هله يار وته نژدې شوم — چه دَ يار شومه لرې
هلې (*) پوهٔ شوم په خبره — چه ئې نا ورمه خبرې
چه ملنګ شومه جانانه — خزانه مې ومُندله
په زړګي کښې مې پرتې وې — ښکلې ښکلې ملغلرې
چه مې ګل بُستان قربان که — نو د ګل بُستان مالک شوم
چل مې هله دَ پړ زده که — چه مې وسوے وزرے
چه په جام کښې دَ ساقي مې — دَ څوانئ وِينه کړه ګډه
هله پوه ته شو محفل کښې — د خمار خمار بڅرې
چه په شوق او مستئ مې — دوارهٔ سترګې ورلوګې کړې
هله هله راته او کړې — دَ ساقي سترګو خبرې
چه پرې مستې څوانئ داو کړې — چه پرې ښکلې سرې کړې خاورې

د غني دې ليونيه!
دَ جانان شونډې شکرې

غني
حيدرآباد جيل

(*) هلې = هلېي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

چې څوک سوال دَ پلاؤ ورکړي ورکړے دال
اکثر خور کړي په ښکارۍ دَ ښکارۍ جال
چا ته جام کښېږدې دَ سرو خاورو ډکے واچے (۱)
چا له ورکړے دَ ایرو په ډ (*) هېر کښې لال

یو وبال چې څوک په صبر صبر تېر کړي
ورله راولے دَ هغې لوئے وبال
څو مره بار چې څوک وړي دومره وراچے
دَ زمرۍ خطرے نه تېرې شغال

چې کوم کال خلق زارۍ دَ باران وکړي
په باران پسے (۲) رانده وکړے هغه کال
لیونی نه خفه مشے دے قربان شم
اکثرو داغې دَ خرے په ځائے کلال

غني

حیدر آباد جیل

---

(۱) واچلے، واچوے. (۲) پسے، پسے یے.
(*) ډهیر: انبار، ډلۍ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ فریدون دَ مور خط

ځما دَ وادهٔ په دولسم کال په ۱۵ تاریخ دجون دمیاشتې ۱۹۵۱ع ځما صرف یو او یوازې زوی فریدون • رستم جنګ • پیدا شو. دغه مور دَ پښاور په هسپتال کښې وه • او زهٔ لرې په مزاره کښې ناجوړه پروت وم. مړ ځت به م دَ کوټې دَ دروازې په څنګ کښې یو تور بلا رنګه توپک او سنګین په لاس پولیس ولاړ وو. ټول جهان تور او تاریک وو، دَ وجود دَ ناجوړتیا سره م روح هم دَ مایوسۍ آخري مقام ته رسیدلے وو چه ناګهانه خبر راغے چه زوے دِ وشو، ماوے سبه دهٔ غنی روک خوئے خو میرات خو نه ئے.

دَ دغې ورځې دَ درد او دخوشحالي بیان زهٔ نشم کولے. خو درد او خوشحالي دواړه انسان ډیر ستومانه کوي • او چه آخر م ستر کے دَ هوش دنیا ته سپڼې کړے • نو څه وینم چه دفریدون مور راغله



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماته ئې یو خط په لاس کښې کېښود

دا هغه خط دے :

ما دَ دوه لپو خاورے تاله ژوندا د جهان جوړ کړه
خپلې مینې داسے یو ډېر بل م تاله جانان جوړ کړه
دا چه زه دَ وفا دکه دَ جنون جهان له لاړم
دا م لاڵ هغه لته وموندَ (*) دَ همه لالونو ښکلے
دا زما دَ غرور بخښنه دَ هغو گیلو جواب دے
چه به تا په ما بنا مې کښې ماته کولے غلے غلے
دا ثبوت زما دَ مینې دَ ایمان او دَ وفا دے
دا زما روح چه روښان شو دَ ده سترګے کړے بلے
دا تصویر زما دَ ژوند دے څه خندا ده څه ژړا ده
دَ شهباز دَ وزر شغ دے پوست سره دَ بلبلے
دا ثبوت دَ شاه دَ مینې ، دا زاری ده دَ غلام
دا انعام دَ تولو ښکلے دَ هماو ښکین جام
دا تعبیر ستا دَ خوبونو او زما څ دَ ارمان دے
ما جوړ کړے دَ خپل ځانه ښکلے عکس ستان دځان دے
په صحرا م وو خور کړے سور ځاده دَ گلستان دے
هره ساه کښې م لیکلے نوم دَ مینې د جانان دے

---

(*) وموند : وموند .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه زه ستا دَ خوبونو دَ جنون تالاش کښې لاړم
ستاخانئے له م جوړ کړے ستانه سبه غوندې بوخا ن کړے

داچه ماستاو زړونو کښې ارمان دَ عقاب ولید
داعقاب م ستانه جوړ کړه ، م عقاب م نے ارمان دے

داسې سرے دَ ساقی شونډئے خه مستی او خیام
دا په سوز کښې رنګ د ساز دے دَ ممبر دَ پاسه جام

داد ۔ نیشت ، په شاملات کښې ما اجل ته کیبود خلے
داخوما دَ صبا طمع کړے پرون سره بدلے

داچه زه یو رنګین خوب شم دَ تالاش او دَ آرمان
ستا په تور تاریک محل کښې سپینے شمعے شولے بلے

ما دَ درولپو خاورے تاله ژوند او جهان جوړ کړه
خپلے مینے دا سے یو رم بل م تاله جانان جوړ کړه

ماکه داؤ په یو آرمان ستا خپل ژوندون تمام تمام
ماخپل هوش کلال له ورکړه چه ته تاله جوړ کړې جام

چه ته قول مجنون مجنون شوے ، زه همه لیلیٰ لیلیٰ شوم
چه ته رنګ شوے او خیام شوے ، زه شراب زه ګل اندام

چه ته طور شوے او موسیٰ شوے ، زه دَ نور برق او رنا شوم
چه ته شور شوے او ارمان شوے زه د وصل ګل سمام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چه شوې دَ اوربجړې زه هم سره لمبه د اور شوم
چه مستا زړه په تالاش سره شو ، زه شوم لاړه . زړه مام
دا چه مستا سونډه شوې تېزه دَ مستې دَ سرو شرابو
دا خو ځکه زه جانانه هم شراب شومه هم جام

تا چه سوال دَ رڼا وُکه ، دَ بهار صبح صادق شوم
ته مُین چه په تیاره شوې ، زه دَ ژمي شوم ماښام
چه تا نوم دَ غُرا (۱) ، واغشت (۲) ما کړه مرګ ته ډیوه ملبه
چه تا نیت دَ طواف اوکه ، نو ما وتړو احرام
ما دَ دوو لپو خاورې ، تا له نور او ګلستان جوړ که
خپلې مینې دا سپې یوړم ، بل م تا له جانان جوړ که

بهکنوتر
۱۹۵۰ع

(۱) غُزا ذمکے . دَ عربو د جنګ بت خدائے وو ، دَ اسلام نه اول . (۲) واخیست



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «اول سترګې ستا دَ لیدو خورا»

زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم یا لیلیٰ پیژنم یا ایاز
زه خو غم او اور او دلدار پیژنم یا رقیب پیژنم یا غماز
دې نسکور شمکور (*) ته دَ نور قصې دَ جنت قصې دَ جلال قصې
منبر کوري (+) ته دَ زړه قصې دَ مابنام قصې دَ ملال قصې

زه خو ګل او چمن او شراب پیژنم او بهار پیژنم او خزان
نه خو شرنګ او رنګ او کباب پیژنم نه ګناه پیژنم نه شیطان
دَ ملا هوش بې هوشه دَ خو طمع ته به ظلم دِ رته نږدې دې
دَ کیکړنه ستا دَ مال تو طمع او کیکړ غریب له اور دې
دې شکړنه ستا دَ لیدو طمع، دې نسکورنه تا ته دَ تلو طمع
اول سترګې ستا دَ لیدو خورا، بیا کړه دَ مینې و طمع

زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم هغه خرم ته به چې ځکلې شم
زه خو شرنګ او غورنګ او ستار پیژنم او جانان هغه لیدلې شم
زه خو ناز او مکیز مسخره پیژنم ښکلې خط پیژنم ښکلې خال
زه خو شونډې پستې او خله سره پیژنم، او رنګینه خنده دَ وصال

(*) شب کور - شوکور. (+) منبر کوري، د موږک چرچي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوسترګې خوږې په ارمان پېژنم، او نرۍ ترمګئ[1] د ملنګ نام

زه خوست او منت د جانان پېژنم، د ساقي په سرو ګتو کښې جام

د ملا هوش بې هوشه د نوره قصې د جنت قصې د جلال قصې

د اکونکته د باتور قصې، د پرواز د خیشت[2] او کمال قیصې

* * *

چه پتنګ د نمر رڼا نه شي لیدلې

ګناګار[4] شو چه په شمع شو شیدا

زړه کښې چونګ لپه هیله د خاورې خاشې

چرته خاکرم پکښې دا د نور دریا

څنګه څنګه په یو کوټ کښې دا جهان او آسمان واچوم؟

د شبنم څاڅکي کښې څنګه د سیندونو دوران واچوم؟

او بیا لا۔ دا۔ دې د پاسه په حساب او کتاب هم وي؛

د رندو سترګو بادشاه له په سزا او عذاب هم وي؛

د غه مشوم ستا دی جوړې ماله وله شو عذاب

چه خوار د پرې باندې لګي د شکرونه شراب

د غه سترګې چا کړې جوړې خیشت ته وګه او حیرانه

په کلونو کښې چا خوږکه دا خاښت د ۰ لامکانه،

چا که جوړ ځان له مکان خپل روک[3] زما د کل امکانه

زه په څاڅکي کښې ډوبیږم۔ سمندره بې پایانه

(۱) ترمګئ، تړلو تیلو. (۲) خیشت، خاشت، نجاست. (۳) روک، وړوک. (۴) ګناګار، ګنهکار.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یو نور د تیرې سورې، ته د زمکې آسمان نور (۱)
بې کناره دریاب د رنګ ته زه یو څاڅکې د سرور

ته ژوندون د کل ژوندون یې زه د مرګ لمحه ناکام
سمندر ته د مستۍ یې زه یو مات او سوری جام

ستا په رحم دیر نیازبین یم ځکه یم ورته ګویا نه
د غلام ګیله هم واوره د سپوږمۍ او ستوره ځانه

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم، هغه خوږم رباب چې څکلی شم
زه خو شرنګ او غړهنګ او ستار پېژنم او جانان مغنه چې لیلی شم

زه خو ناز او مکیز مسخره پېژنم ښکلي خط پېژنم ښکلي خال
زه خو شونډې پستې او ګُلبه سره پېژنم او رنګینه خندا د وصال

زه خو سترګې خوږې په ارمان پېژنم او نرۍ ترمکۍ د ما بام
زه خوست او منت د جانان پېژنم د ساقي په سره کوتو کښې جام

که شکور نه ستا د لید و طمع، دې نسکور نه تا ته د تلو طمع
اول سترګې ستا د لید و خوړا، بیا کوه د مینې د طمع

---

(۱) اللّٰهُ نُورُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توقع

ما به شمع کوله
تا که جوړ رانه پتنګ
تل مې ښکارله د کبوترو
تا دې ښین کړم په غمنګ
ما د قصتو ملنګ یم
تا ښتیا کړمه ملنګ
ما ښېښې کړې، د تورزنو
تا مې کوره راوړو جنګ
زه خوغږ کوم نه شم
په کیلو ته خفه کیږې

خوشحاله داده لوبه خدایه
ته په توقو نه پوهیږې

غني

حیلۍ آباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډن کښې

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ
لوئې یو جهان د ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئې
دک تول جهان د سیند وتو که

دا روحاني کارخانه زما — زور او ستم نه خمار جوړی
دا لیونے شان ځیګر زما — او ښه پسې تر نه هار جوړی
دا مصور په خپل رنګ مسرور — تول جهان مست او سرشار وینی
ډن کښې چپې او خند اد سیند — شا څکې کښې غم د آبشار وینی

ګوره بلبل پنجره کښې جوړ
لوئې یو جهان د ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئې
دک کل جهان د سیند ونو که

* * *

وته سپرلے او ځوانی شو کښې — لیونۍ روح او رنګین ماښام
خوا کښې ګلاب ئې په مستۍ تیر شو — شونډه وکښې رنګ او ګوتو کښې جام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړه چینه شوه چرته روان
دړوند او مرګ ئې شروع که ساز

ډنډ او ډروند ئې شو عشق راز غوړان
خیشت پټ ئې شال کښې دَ مینې راز

بیا خزان راغې ګلونه لاړل
ستا ړنګ شو غلې او شراب کم

ځواني رخصت شوه خندا نایاب
دعا او زده شوه او رباب کم

زړه چپل تخت وکه سر او سودا ئې
وخت شو بادشاه او ډروند ئې مړ شو

مستې جنګ بېله توره ئې کېښووه
سرور غلام شو جنون مړ ئې شو

واره رنګونه تیره کښې ډوب شو
سبا رخصت شو او ماښام راغې

او میخانه شوه دَ جرا ډکه
ساقي رخصت شو او امام راغې

خوناکهانه وره لولکه
په خوب بوده شو او خوب ئې ولید

نوي سپرو او سره ګلونه
دَ عشق ایمان او نړتوب ئې ولید

دَ خپلې مینې جواب ئې ولید
نوې لولکې نوي ګلونه

روښنائي ئې ولید یو نوی رنګ کښې
خپل ارمانونه، خپل امید ونه

مصور په خپل رنګ مسرور
ټول جهان مست او سرشار ولید

ډن کښې(۱) چپې او خندا دَ سیند
ځنګل کښې مخ دَ آبشار ولید

کوره بلبل په پنجره کښې جوړ
لوی یو جهان د ګلونو که

مست شو صحرا او په خوب کښې ئې
دَ ټول جهان دَ سیندونو که

تهند باني حبل

(۱) ډن = ډنډ =



A .S.K B

# جنّت (۱)

ستا دَ رحمت څه حد هم شته دے ؟ اے بے حسابه اَبے پایانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے ، دَ سترګو پته روک دَ ارمانه

د ملا سترګے دَ تهرږ دے راته قیصے کوی دَ دوږخ او زور
دَ جانان شونډے دَ کوکو دے دی(۲) راشه او ګوره جنت کښے اور

مرګ بلے سترګے او خوږے ښځے راته خوزی(۳) لحد ، نیست او عدم
شیطان ، ملا ، دواړه په یو آواز وی ، ستا ګناه ډیره ده او رحمت کم

مشکی وږمه په لاس ، قبا په اوږو دستار په سر
لاهو وزرے د بلبل اېښے ، ښائی شهباز ته دَ الم سر

ښاپیرک مشرے د کاروان ، دَ ښا خیشت او سنګار لټی
سارې ژارې دَ زړه بت کښے ژوندون مستی او خمار لټی

---

(۱) په جنت ما نورهم دوه درے اوږده اوږده نظمونه لیکلی دی ، څکه چه په دلشی دانسان په دماغ کښے د جنت تصویر ډیر عجیبه او لطیف دے . خو عام انسانانو دَ یو تصویر د پاره هم دوه درے درمے هضم کړے ځکه دَ جنت دَ پاره . (غنی)
(۲) دی : دوایی . (۳) خوزائی : خوځوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګونګټ د سوتو په ډیرې پورته ، زیرے لوګے ته د نو بیان کی
چینجے د خاورے په ممبر بره ، قیصے د حورو او د آسمان کی

ځکه په چغوزه د جماته لا رم په لورې د میخانے
دے خپلو سترګو د وب کړم ډالګه کړم هم شرابی کړم هم لیونے

خو چه په بلدو او بد رنګو خپل لګه د سکورلو ګے ادا او رشمه
چه سُر او تال م تیاره فنا کړی د بے وسئے فریاد ډرا او شور شمه

نو ځان ته دایم تاته وا او ړوم دا د مجبوره زړګی بهانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے اے بے حسابه اے بے پایانه

غنی
خانپور جیل





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے

بیا سپرلے راغے بیا ئے پیغام راوړه
د رنګونو ـ ګلونو ـ او ـ رڼا
شو ساقي مسکے ډک ئے جام راوړه
د مستئے ـ خوا ښئے او خندا

یو سبا راغے ـ یوه شپه لاړه
د تیرو ـ یریدو ـ او ارمان
یو زیرے ګل م ما بنام ولیدلو
سلامونه ئے کول د جانان

دا دماغ زما چرے نه منی
چه د ګل خالق په سقر کړی جوړه
خنک خوږے به پے زما کړیکے لګی
چا چه ماله نرګس او دلبر کړه جوړه

دا شینکے چمن ـ دا ګلونه سره
دا مست مست ښا مستا نه ئے ما بنام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ثبوت دَ ساقي دَ مينے دے

دا دَ سرو شرابو بر پوره جام

د ساقي چه سترگے خمارے دي

دا خمارئ ماته جوړ کړے دے

د جانان چه شونډے دلدارے دے

دا سينګارے ماته جوړ کړے دے

دا سپوږمۍ او ستوري او مست ماښام

مشغولا (۱) زما د غمونو ده

دا په ما مئين دے مالک زما

ځکه دکه دنيا د ښکلونو ده

سپرلے څه دے د جانان مست شونډے

هره ساه او زړه کښے ځلي نور خور

په کلونو کښے خپله رڼا خوري

په نسيم کښے رنګونه دَ طور خوري

چه تر څو يوه نظاره دَ رنګ

دَ غرزنګ دَ مستئ په انسان کښے کي

تر هغے به دا زه وُ نه منم

چه او رونه به هغے جهان کښے وي

---

(۱) مشغولا . مشغول .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه جوړ کړے نه يم سزا له يار
زه ئے جوړ کړے يارانے له يم
مانه مينه، خندا او مستي غواړي
که جمات که بتخانے کښے يم

بيا سپرلے راغے بيا ئے پيغام راوړو
د رنګونو، ګلونو، او رڼا
بيا ساقي راغے ډک ئے جام راوړو
د مستئ، خولئ او خندا

بيائے سرو ګوتو کښے ونيوه
ليونی ته جام د غمونو ډک
د ژوندونه ډک، د فراق نه ډک
د وصال د رنګونو خوبونو ډک

فرورى
۱۹۵۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوندون

لکه کال کښې سپرلے او خزان — لکه روح کښې سبا او ماښام
لکه سیند کښې چپې او غلې شتے — لکه ژوند د مرګی دے غلام
لکه تله. خلاصیدل د مستے شته — تښیدل. ماتیدل. د هر جام
ژوندون څه دے یو سیند دے روان — اول لوے لوے موجونه کښتو نه
بیا تش شي چپې نرې وړې شي — غلے لګے شي ډیر شي ډبونه
اول هر یو غوټۍ کښې ورانے کی — ورانوی غوړزوی کولوے غوټۍ
اول هر څوک روکی یو (*) بی ځان — بیا د بل شي روان کړي نمر وته
دریا بونه لوټ لوټ کړي فنا کړي — غوټۍ ګونه لښتی کړي تالا کړي
یانے هر څوک د خپو لاند دل وی — یا مړ شي خدمت د هر ځا کړي
ځان کړي روک خو کلا به نرګس کښې — په زرګونو سینا نه پیدا کړي
ژوندون څه دے یو باغ دے لوییږی * * * — رو کیدل دی د خیشت (۱) زیاتیدو له
خپل ژوندون خپل سنګار ورکول دی — سوزیدل دی ژوندون خوریدو له
د انګور په شان روک فنا شه — چه خمار شے د چا سترګو سره له
د منصور په شان او خیبر دار ته — څه بهانه لټوه رسیدو له

---

(۱) خیشت: بنایست. (*) روکی: وړکوی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون څه دې یو خوب د لیدې شي — د خندا او ژړا واک د بل دے
یو دوران د سحر او ماښام دے — د ماښام او سبا واک د بل دے
یو رنګین شان محل د هوا دے — د مرګ وټ د هوا واک د بل دے
باغ د بل په ګلونو زه پریم — غم زما د خندا واک د بل دے

***

ژوندون څه دے یو ساز د بې غږیوی
کله پوست، کله زیر، کله بم
کله اور سوزیده شور غوغا شي
کله غلې، قلار، شو مه دم
کله شرنګ د ګنګرو شي خار شي
کله یخ اسویلي او ماتم
کله تال مستانه د خیام شي
کله سپور ماښامونه د غم
کړه وي ترخ. کړه وي خوږ به تیریدې شي
ژوندون څه دې یو خوب د لیدے شي

غني
دار الامان
په پیرول



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بله لار

رحم فقیر له روا ، بادشاه له حرام دے
شاعر له ګوټ د زمزم د میو جام دے
بلبل د مینې کمال خون د انصاف دے
سخاوت شان د خان مرګ د صراف دے
رقیب له شور او ماتم یار له وصال دے
یو له د وینې څاڅکے او بل له لال دے
ماله د ګندګنده . لاله ته بام دے
یو له د مرګ پیغام بل ته دوام دے
د عجیبه ژوندون عجب کاروان دے
دے کوز دوکان کښې ګټه کښې زیان دے
یو ناست محل کښې غمګین حیران دے
بل ته ایرو کښې ویړ پړوت ایران دے
دا روک کاروان کوم خوا روان دے
روند ئے نظر دے اوچ ئے ایمان دے



A .S.K B

ظالم. جابر ته. سجده. دُعا ده
میرے دَ عُمره رحیم رحمٰن کړ
دَ زور او یرے (١) بت ته نسکور. ښه
ډک ترے دَ مینے. د نور مکان دے
دَ بل دَ وینو ئے لاس کښے جام دے
تنګ ئے جمات دے رونړے مام دے

خوږه څه وکړم چه وینم په تُره* کښے رنګ دَ یار
دَ ګلو نور زېړ وکښے امید ونه دَ بهار
دَ تاوان ملا کښے پته دَ جنون ناوے مستانه
رنګ محل ته نه شم تلے دَ صحرانه دَ جانانه
ماله غم ماتم دَ یار نه دَ غم دَ غم تعویذ دے
ماله بلبل ته کتنه بے شئ دَ شوق دَ بیزدے
هغه غم چه مستول کړی دَ نامباتو (٢) نه لذیذ دے
زلیخے ته تور ځنګل دے سرو محل که دَ عزیز دے
ماله بله لاره نشته دَ جنون او دَ جانانه
کنی خوښه مے خندا ده، ډیره ډیره دَ ژړانه

غنی
دَ غر سر
دیرۀ اسمٰعیل خان

(١) یرے : ویرے. (٢) نامبات : نبات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

زه نو مه خټه یم لاس د کولال کښې
یا به د میو جام شم او یا کوزه د جمات
یا ډیوګئې د زیارت د میخانې فانوس
یا د ویران ټیکرے سرے او مات
ځوانی مستی ښوندنو د بل د لاسه دی
ځانه وس شته او نه ہم واک
شیخ په باغ کښې د یار د کوره
کوم ګل پلیت کړمه او کوم پاک

څنګه ملامته زه په ګناه شم — چه وس قسمت او تدبیر د بل دے
څنګه ستومانه زه په خندا شم — خوب دِ د بل او تعبیر د بل دے

! ہم ګناه ده مین په عمل یم
نه زه د عمل آقا نه د نظر
نه ہم د واک دی خمارې سترګے
نه اوږے شونډے ماشهوس



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نه دی اېښی دَ یار نظر کښې — سپرلی گلونه او سور خمار

ما دَ خپل نور مه نه دی جوړ کړے — شړنګ او غورځنګ او رنګ د بار

ما دَ سبا په پسته دنها کښې — نه دے خور کړے دَ جادو ساز

چا شیرینۍ وو فرهاد ته خولے — چل جوړ په محمود که خان د ایاز

زه نه پوهیږم چه چا روښانه
دَ زهرا نور که په مخ دَ لال کښې
زه تصویریم دبل دَ کوتو
بے جبانه (*) ختم لا س دَ کولال کښې

یا به قسمت وی یا به دوزخ وی
او که وی دوار ونو ته رحمن نے ؟
نه شم زغملے . نه شم منلے
چه ته جلا دے او هم جانانے

غنی . خانپور

---

(*) جبانه : ژبانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قارغان مارغان

تر اوسه پورې موږ ژوند ډېرې ډېرې مسئلې واورو دا وار وېلې د ګو ورځې نه چه آدم له قامته هوش ورکړې دې. دا سوالونه د مغز ورځې راروان دي. هر سړي ولې د خپل طاقت او پوهې په مناسبت جوابونه کوري. انسانانو د هر سوال جواب ښتنه ولې د مرګ جواب نه لري. د جهان اکثرې فلسفې او ټول مذهبونه د عزرائیل د شاهنشاهیت برخلاف بغاوت دې. ټول دد تورې ګنده نه تښتي. څوک یو ګز څوک یو میل او څوک زر میله مخکښې د غټه چغه وهي، لکه ما چه په ځواني کښې لوږه وهلې وه.

## خاورې

چغې وهي (*) اجل مُلا ته اوري که نه اوري
تشه خاوره نه ده غني څنګه به شي خاورې

---

او یا بله ورځ چه ذ لحد په تور درز م د مستې سور شال
ویر کړې وو.

---

(*) وي ، ده‌ي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګې

مرګې دِ راشي — چې کله ئې وس وي
ګل به مِ لاس کښې وي — او یا به آس وي
یا به تُوپک وي — یا به قلم وي
دوب به خندا کښې — دَ دنیا غم وي
په څه مو بخت وي — دومره به بس وي
مرګې دِ راشي — چې کله ئې وس وي

ولې آخر سرې ستړې شي ، او دا ارمنې چې ،

چې جام کښې ګوټ ګوټ — شراب غمېږي
سپرلې خلاصېږي — ګلاب کمېږي
دنیا دَ شمع کښې — دَ سحر نور راغې
سکور دَ بلبلو ته — نوم دَ باتور راغې
ستار کښې شرنګ هغه — دَ ماښام نشته دې
سرور په سترګو کښې — دَ خیام نشته دې

دَ ښکلې نه ښکلې ، دَ مست نه مست ، دَ سوزنه سوز ګل آخر خپلې خبرانې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوغمجنې ستر ګې دَغزان يخو او بې رحمو بادونو پورته کړي اودخپل ژوند دشروع اوخلاصيدو تپوس تر ې وکړي او دغې ته وايو مونږ فلسفه.

زه مرګ يوه ورځ په مخه کړم، او دَ خپلې مور دَ سينې نه نې دَ خاورو هغه ډيرې ته بوتلم، کوم ځاې چه په يو دشت او بيابان کښې دَ هغې ملګې پراته وو، ماچار چاپيره او عقل ستغ درېب، سره خاورې او شنه کانې وو. دلته نه دګلونو چمن وو، نه دَ بلبلو باغ، دې دَ بډه ګي په سمندر کښې دَ حُسن يوه قطره هم نه وه، زه دخاورې دَ يو ډيرې خوا کښې او درېدلم يوه ماته شنه خازه وه مثل دېرش کا نې ښکته پراته وو. نور يې مونږ اوچې تورې ورېځې خاورې وې، مرګ هم را ورسيد او شا ته م دَ آسمانه اوچت ولاړ وو، خوما سر او چت که او دَ مرګ خالق ته م او وې،

زه دَ هغې لال زه دَ هغې دستر ګو تور ومه
زه به دَ هغې په سينه تل ورده نسکور ومه
اوس يې ښکته ښکته دَ مزار ځانو ته ګورمه



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورو کښې هغه ده چه ئې زه دَ زړه هلال ومه
هغه لال شو خاورے چه ئې زه ورو کے لال ومه

لا زه آسمان ته ماورائے دَ جهان موړ سپوږمۍ
زور دَ مرګي زيات دے که دے زيات دَ مينے نوړ سپوږمۍ
اوري په لحد کښې څوک دَ سوي زړګي شو سپوږمۍ

مونږ نے خاورے ښکله پټ دَ حُسن يو جهان کړي
يو پوکے دَ باد دا چمن ښکله بيابان کړي

خول م نه جوړيږي چه ظالم ووايم رحمن ته
څو مرګ چه دَ جهان بادشاه کړم څه ووايم خان ته
ولے دېوازه دَ علم لړ (۱)، نه شوه انسان ته
سيال ئې دَ خان ولے کړم چه نه دَ خاورو سيال ومه
هغه لال م څه شو چه ئې زه ورو کے لال ومه

---

خود ژوند خايشت داد ے چه تول عمر انسان سره دَ دے دَ خلاصيدو فکر نه وي، کله کله ئې دا تو لے غمتے هيرے شي، او په خپل ماحول کښې دورو ورو خيزونو په تماشه شي او دورو ورو شمعو په تالاش کښې ځان دَ هغے لوئے تاريکۍ نه اوتښتوي.

(۱) لړ = لوي = پراختي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ حیدرآباد سنده په جیل کښې زما دَ توتې توتې
مستقبل نه علاوه ډېر نور څه هم وو، دَ چکنې دَ دروازې په خوا کښې
دمیږو جالې وې، کله نا کله به نهونږ د احاطې په کیکر کښې کمترې (۱)
کیناستې، کله به مونیمه شپه کښې دَ تارو چرچق وا وریدل
کله به تور تاړغه لکه دَ یو جمهوري وزیراعظم دَ شور او
چل نه ډک په دیوال کیناست. دَ ډیمبې خواله به ما بنام کښې
چینجي څه راغله. دَ دیوال دَ پاسه به دَ اوبس بړبړاغې
او په دغه ورځو کښې زه ډېر وږې تږې او یوازې ووم، نو ما
دې ټولو سره خبرې کولې. میږو ته به م خپل دَ تیلو
پوخ ساګ (۲) غورزوو، او کمترو ته به م خپله دَ باجرې ډوډۍ
چوري (۳) کوله. دا روان شعرونه ما دَ هغوی په مجلس
کښې لیکلي دي که زه دَ هغوی په طبیعت نه یم پوهې شوې
نو معافي غوارم زه دَ انسان هډوکي لرم. او دَ چینجي
په څرمن نه شم ننوتې.

(۱) کمترې: کوترې. (۲) ساګ: سابه. (۳) چوري: مالیده.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چینلخ

غ دِ دَ شیخنو په شان نه خاندی او بسیار دے
بنګلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دَ غرار دے

سترګے بتے بتے، بغے بغے تشے تشے
چغه دوه منے غریبه، توره دوه اوربشے

خُله کښړه وږه لویه او ږده او وازه ویسته
زرد دِ زرے کے خورشی دنګا چه کړے راپلیته

خیته دِ چیتے، لویه او پلنه دَ لاله په شان
لښاے دِ پاپے، ارتے سپینے دَ منتولا په شان

توپ وہے تُل نه کے خه بد رنګه دِ رفتار دے
بنګلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دَ غرار دے

او سے په او بو کښے دَ تمپخ او دَ ملنی په شان
کښږ دِ دَ سرې هسے کاته دمار ګمنی په شان

ګرزے په پهتو کښے دَ نولی او دَ لو مبړ هسے
توپ دِ د ملخ په شان، غټے دبا کوکر هسے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه اوبه څه خاوره شوے څه مزَ څه کبور ے
کله دِ په سترګو کښے چپے وی کله دوړے
رنګ دِ بے نمکه دَ خزان نه دَ بهار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژړند ے دغرار دے

شپه کله ښانګ کښے کله شپه دَ لښتی غاړه کښے
چې ماښے چه پېښ شی خیل خانه ورله دېجاړ کړے
خوب کوے په خاورو خو مستی یاری او بو کښے کړے
او سے په تیراه (۱) کښے خو چې راوړه پیوړ (۲) کښے کړے
پېښې دِ دَ ښے اولېنګی دَ چرګوټې په شان
چیت اولنډ او پلن، راغونډ وجود دَ مرهتی پښتان
مخ دِ دَ دله دے رنګ روغن دِ دَ ښامار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژړند ے دَ غرار دے

---

(۱) تیراه دافریدو وطن.
(۲) دَ پښاور خوا کښے کلے دے. پکښے مشهور زیارت دے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړه

اوسې په کندو کښې یاره غل ئې پلار دِ غل وو
مور دِ غلچکئ وه، ستا نیکه دَ بد و مل وو
قوم دِ حرام خور دے قبیله دِ حرام خوره ده
مړ شوے په غورو پسے لګئې توره دِ سپوره ده
سترګے دِ کاسیرے دی، چلباز دی بے شرمے دی
کلک دِ دی غابنونه او پا ئې دِ نرمے نرمے دی
خیته دِ کوهئ ده دَعدو پاد شنانه مے
سر دِ دَ نولی او بریتو کی دَ تره بازمے
غلا کے دَ غریبه غلا دَ خانه، دَ بنهیانه کے(۲)
سید او مُلا نه پیژنے، بوته دَ هرچا نه کے
ستا دا رو کے(۱) خیته دے همه جهان مړه نه کړه
ستا کاسیره تنده دَعمر ونو غلا سړه نه کړه
ذات دِ خُنا ورد ے خوخوراک کے(۳) دَ انسان مے
اوسے په سخسوری کښې نیرنی ختے دَ خان مے

(۱) روکے = دړوکے، دړه (۲) کی: کوی. (۳) کے: کوث.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه دِ دَ يزيد دے طبيعت دِ دَ شيطان هسے
چين دِ دَ منت دے خوئ دے دَ پهلوان هسے
خو ور شے چه پيشوله نو پولاؤ پېتي دِ هيره شي
پښ په خيټه مور شي په تاکياړه -باړه تيره شي

غل ترهغے غل وى چه ترے بره غل پيدا نه دى
چل ترهغے چل وى چه ترے بره چل پيدا نه دى
دوه دانے ترے او خوړے دوه دړى خاورے اير کړے
او پرے خوله دِ خاورے شه انبار ذرے ذرے کړے

خوئے دِ دَ خنزيرے او فطرت دِ دَ ښامار دے
خوله کښے دِ آفت دے او په شونډو کښے آزار دے
خوغوته چه شى سخته آخر سينه ئے چاوده شي
ته شے په جوارو پيشوګان په تاماړه شي

او سے چه کوم کور کښے حرام خوره هغه کورلوټے
دا سے حرامى ئے خپل بابا او خپله مور لوټے
خو ور شے چه پيشوله نو پولاؤ پېتي دِ هيرۀ شي
پښ په خيټه مور شي په تاکياړه باړه تيره شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بازیګر کمتر

چاله لوږه چاله تنده — چاله نور چاله نظر
څوک بندګي دَ خپل نګاه وي — څوک غلام دَ خپل ځیګر

یو جوړ کړی دَ سقر نه — سره ګلونه مار بګر
بل دَ حورو دَ غلمانو — نه جوړ کړے دے سقر

په نیکرۍ پسے ژاړي — یو خوا ناست په تخت قارون
بل خوا زړه رنګه وصال دے — او لکه قصه بېلتون

چرته سپي ته خپله لوږه — هم لیلی شي هم مجنون
کله خر ته خپل خرتوب شي — مست جادو رنګین افسون

دلته ړنګ بلې ننګي دوله — دَ احساس کتوَل یو جام دے
زما سترګو پیدا کړے — سپین صاقي او تور الهام دے

شپه او ورځ زما نظر دے — ړوند له نمر او ماښام نشته
زه عاشق ځکه دَ رب یم — چه انسان له دوام نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رَبّهٔ دے هر څه، او هغه چې زما هوش پې نه پوهېږي

رَبّهٔ زما دَ روکېدو نه بَرَه، لوړے، سپین مقام

رَبّهٔ زما دَ هوش صحرا له یو محل دے دَ کمال

رَبّهٔ زما دے ستړی سر له دَ مستۍ برپوره جام

دا دَ روکو په وطن کښې یو ارمان دے دَ دوام

دا په توره توره شپه کښې محبوبا ماه تمام

چې امید دَ هوش یاغی شو
پاس که دلندن وي      يا د امريکن وي

وار ده ماپره وکړي زه ډاکټر پيدا شي يمه      شي په سود يشي (١) يمه

سوال: ته څوک يې چاتا ! ؟      دلې که کوا تا!

چڅي دې ډپاپي دي نوري از کين يې بې مقدار      دا مزې دې د بنار

ځوږ مهين کلام      غور دې هر مقام

(خوږ:)
سترګې دې دمار دي پسانه خيهر دلسر مې      شان شوکت دې کم

ځواب: ډير کوپې دې خان      کوږه کښې تاوان

لسو باندې واخيسته او خرڅ يې کړه په شل      خپل کوره ولو تسل

دلته چې بيوپار وو      يار زمونږ ستا پلار وو

مونږ به يو دوه کالې هسې مغې نه واخيستل      خپل کوره ولو تسل

---

(١) وطني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

دلبر دوارو دلبرانو دې دلدار زما
سردار دوارو سردارانو دې سردار زما

زما پټ کله شغله کښې د سپوږمۍ شي جانان
کله لاله شي کله بیا بنیسته لولۍ شي جانان
کله اهیل کله د سور ګلاب غوټۍ شي جانان
ورته به وایم چه بیا ماسره یو ځای شي جانان
دلبر دوارو دلبرانو دې دلدار زما

یا المر خانه کښې خمار هستر راپورته کړي
سپینه سپوږمۍ شي موسکۍ خوله د جانان لوڅه کړي
ما په خندا خندا د غم له کنده پورته کړي
دلبر دوارو دلبرانو دې دلدار زما

سردار دوارو سردارانو دې سردار زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

لاړه که ځواني شي ده ځواني جانه د تللو شي
لاړه که ښکلي نګ شي ښکلي نګ به دے د بايللو شي
ځکه ژوندون د خلاص شي دي ژوندون د خلاصيدلو شي
واړه دا فاني دي بې فنا د عشق سازونه دي
عشق به تل ژوندي وي خو چې ځکه آسمانونه دي

# دلربا

نه مې پلار رشته نه مې مور
واړه خونه مې تالا
نه زما په غم څوک پوه شو
نه زما په واويلا
دا چه ما ده کومه کړې
څوک دي بې له دې ګناه!
دا ګناه ده د فطرت
دا ګناه نه ده زما
خو يو کس مې په دنيا کښې
دي مې پلار ده هم مور زما
تل زما د غمه ژاړي
سودائي مې ده سودا
نصيحت به پسته ژبه
شکايت هم په خندا
وارخطا لکه د مور شي
په پوهې سختي زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکیزه لکه سپوږمۍ ده — دومره خوږه او خوږا (۱)
په ښایست د جنت حوره — په خویونو فرښتا (۲)
ما پخپله مینه پېټ کړی — له غمونو د دنیا
د جنت د رنګه زیات — دی رنګین دلبر زما
که دنیا کښې وحدت نه وی — ما لیدلی ده چینا (۳)

د الله د نقش کمال دی
مخ زما د دلربا

# هی هی زما لیلی

ما د زما لیلی به مېنځ کې مستې مستې ګرځي — یو باغ کښې په چمنا
ما د زما لیلی به لکه ګل تر و تازا (۴) — د ګلونو ښیستا
ما د لیلی شونډې به غوټۍ وی د ګلاب
ښیسته به پرې سازونه تنګوی لکه رباب
په سور او ر د مستۍ به نګی وی سره کباب
بې تاجه ملکه به وی د حسن د دنیا

د ګلونو ښیستا (۵) هی هی زما لیلی

ما د لیلی سترګې به سرې مستې په خمار وی

---

(۱-۲-۳-) د ضرورت شعری له کبله په الف لیکل شوی.
(۱) خوږه، (۲) فرښته، (۳) چینه، (۴) تازه، (۵) ښایسته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماوے په سپینه غاړه بے (۱) د سرو کلونو هاروی
په لاس به ئے کوتے څه چه به د نرګس ببل قطاروی
ورته بمینه د وپته کښے ښیست پټ او څه ښکاریږی
دګلونه ښیستا — مئی مئی زمالیلیٰ

ماوے زمالیلیٰ ده د لالا د سترګو توره
بابا ته دیره څکرانه ده نیا ته ښیره ده د موره
زما د زړه بی بی لیلیٰ بی بی ده د خپل کوره
موسکئ ما ښام ویده شی سحر پاڅی په خندا
دګلونه ښیستا — مئی مئی زمالیلیٰ

نشه به د خیالاتو خوبونه په جهان کښے
محل ته د لیلیٰ مجنون روان شو بیابان کښے
نه باغ ونه بنګله وه لیلیٰ ناسته وه د الان کښے
ښیسته سره ئے سترګه توره وه غوجل کښے لوپټا
مئی مئی زمالیلیٰ — دګلونه ښیستا

ببل د نرګس کوتے د څپیاسکے نه چاپیره
په مخا، ریمن (۲) کمیس ئے وه هم کیارې بار ته تیره
لیلیٰ مینځ کښے لو غیږی شین لوکے تر ینه چاپیره

---

(۱) به ئے . (۲) خیرن غوندې .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلو ینبت خوازه دوستان نه ذو راغلی دلا لا

می می زما لیلی دکلونه بنیستا

لبنستی نه دخولو دملا په تیر بنکته روان

په زلفو کښې خو قسمه غونه وه دویران

سره شونډې سپیرې دچپې دخندلو په ارمان (*)

می می زما لیلی دکلونه بنیستا

## پلوشه

داده وینم دلربا! په مخ کښې سترګې که دحسن شمندرو کښې دنور کرګې

داده وینم دلربا! په خوله کښې شونډې که دوه حورې دجنت باغ کښې بر بنډې

داده وینم دلربا! سترګو کښې نم
په ننګوکه دنرګسو دی شبنم

## بهار

بلبل ګلزار ته نن په دیر سینګار راغی
په خمار وسترګو کښې نوی خمار راغی

جوړې بهار راغی جوړې بهار راغی
غوټی شوې پیغلې وخت دبهار راغی

بلبل راپریږی نن نه دلدار راغی
خو نه خبر راغلی دونه م یار راغی

غوټی شوې پیغلې وخت دبهار راغی

---

(*) نامکمل.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبوحی می شراب لوڼي د بنیست په جام یاره ‌ ‌ ‌ ‌ ورته مړې مړې کړم پوره ته مستې با دا م یاره
چه د ته روانی بیا زما سلفا م یاره ‌ ‌ ‌ ‌ صبوحی م ونه لیده دستا په بام یاره
دا خوږ شراب لوڼي د بنیست په جام یاره

کله دسته بو کښې کړم صبوحی سوران زما ‌ ‌ ‌ ‌ ورو به بهو ولینه داد جانان زما
وایه چه بنکته شی اوس داد آسمان زما ‌ ‌ ‌ ‌ چه خوب کښې ووینې ټول رنګین جهان زما
کله دی په شراب کښې صبوحی سوران زما

ځوانی له ما نه واخله مستی له ما نه واخله ‌ ‌ ‌ ‌ دا روه ګلونه صبوحی لیبابانه واخله
په پسو ولو نوه وایه جانانه واخله ‌ ‌ ‌ ‌ صدقه دسحر شونډې دد خپل اشنا نه واخله
ځوانی له ما نه واخله مستی له ما نه واخله ‌ ‌ ‌ ‌ بلبل د ګلزار ته تن په ډیر سینګار راغې
جوړ بهار راغې جوړ بهار راغی ‌ ‌ ‌ ‌ چا ته سلام راغې چا له دلدار راغې
خو نه خبر راغې او نه م یار راغې
په خمار کې سترګو کښې نوی خمار راغې

## ولې (۱)

څوک دے ما ته ووائی ‌ ‌ ‌ ‌ څرنګه شیدا شی څوک ؟
څوک چه چا ته وخاندی ‌ ‌ ‌ ‌ ولې په خندا شی څوک ؟
ستورې د غره څوکې ته ‌ ‌ ‌ ‌ غلې شان بیکار وے

---

(۱) دا شعر غني دخپل واده په شپه لیکلې دے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینے په ژړا وو ے حسن په خندا وو ے
ماته موسکو سترګو کښې ښکلې دلربا وو ے
ولې څوک زړه وبايلې؟ څرنګه شېدا شي څوک؟

څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک؟

سترګو د مجنون وو ے او ښکو د ليلیٰ وو ے
وو ے په نشه خواني غم ورو په سودا وو ے
ماته موسکو سترګو کښې ښکلې دلربا وو ے
ولې څوک زړه وبايلي؟ څرنګه شېدا شي څوک؟

څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک؟

## ورو ورو

ورو رو ظالمه دا چغې ناوړے
ورو رو پرې پښې زړه دانه دي خاړے
داخو مستي دی داخو خواني دی
سپينے د کوکے لکه دواوړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولي ته

سړی په مخکه بانده کېږده | چه په راز پوه د آسمان شي
ستر که ستوري ته کړه پورته | چه په شان پوه د جهان شي
لږ سړی ښکته په ژړا کړه | چه مزه د خندا واخلي
د دنیا نه ځان راغونډ کړه | چه مزه د دنیا واخلي
د چیلي په کوتکۍ کښې | یو پیاله د شراب واخله
خوله دې وچه په لوږه کړه | بیا مزه د کباب واخله
لیوني زما په شان شه | چه په راز د خودۍ پوه شې (۱)
سر او زړه دې ماشوم کړه | لیونیه چه سړی شې (۲)

# مینه او حسن

ستوري ته آسمان کښې یوه ورځ ووې هلال
خدای آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم دا خپل ښېست د کمال.
ماله که یو ښاغلي مینه راکړي ځواب په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده | حسن له زوال شته مینه نه لري زوال

---

(۱-۲) چه د پوه (ه) او د سړي (ی)، په مجهول د ے تلفظ شي نو قافیه به جرخته شي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما د کلو لښتې

خدایه زه به دم خوشحاله د جانا خنجر به زړه کښې
ستا وفا لا لوغړن کړم بې وفا به وے لا ښه

موسکئ شونډې دې لښتې د عماد هوښ بېرون ستي کړې
ستا خندا د شتې کوزارے د پې ژړا به وے لا ښه

چې ژاړې زما غم کښې بل غم هم په ما انبار کړې
ستا سودا زه سودائي کړم بې سودا به وے لا ښه

خان م هم خاورے ایرے کړ ته م هم په اودستي کړې
اے زما د کلو لښتې بې زما به وے لا ښه

## ځواني

دا بسم الله خدایه: دا الیونئ ده
چه ځواني نبیست دې او نبیست ځواني ده
بوډا خوشحال بابا سپین سر کړ پوره ته
وے خاني تورې ده او توره خاني ده
د مېنان خان همسا د مېناني دا ملا
دا هم فاني ده
دا هم فاني ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسته رندی زما    روغه مستی زما

خاندانی ده

خاندانی ده

## پلوشه

د مستے جینئ نبه ده بنګړی ویرتوږ ماڼی

چه لږ د نور مسته شی زرګی ویرماتوی

## کډے ودے

شوق کښے د وصال    چه مس خوږته ور نږدے شومه

خوله کښے نے سګرټ و    زما خوله وسو خیدله

راغے د تهذیب باران    په ملک د خوار پښتون

ځمے جومات لاهو شو    هم کوټه نے څخیدله

نوے زمانه ده    که د کلو وصل غواړے

اوس په انګریزئ کښے    واویلا کوه بلبله

ماسره دیوے نه کاوه    پیدا اشوه بله

بند د لاس انګریز شوے    ګرځی وچلیدله

تلے دے لندن ته مجنون    اوس ډرایور زده کئ(۱)

او ښه لیلی خرڅه کړه    موټر کښے ګرځیدله

---

(۱) کئ، کړی.



A .S.K B

خوناست شاعر په کوټ کښې ‌ ‌ ‌ ‌ هغه شان قصې د ګل کوي

شمع سره خاندي ‌ ‌ ‌ ‌ ساقي سره محفل کوي

راشه زما وروره ‌ ‌ ‌ ‌ د يار سترګو ته بيتري وايه

ګل و بلبل پرېږده ‌ ‌ ‌ ‌ الجبرا او جوميتري (۱) وايه

وايه ستا وجود دې ‌ ‌ ‌ ‌ دوه ايټ د زاويو په شان

ښکلې دې آواز ‌ ‌ ‌ ‌ زما د رېډيو په شان

وې (۲) سترګې د کاربو لرې ‌ ‌ ‌ ‌ او شونډې د «کترين»

او ښه رنګين د کريم ممين ‌ ‌ ‌ ‌ ستا ښکلې جبين

هېر دې کړه رحمان (۳) سعدي (۴) ‌ ‌ ‌ ‌ غزلې د «بايرن» وايه

«کيټس» او «شکسپير» ته ‌ ‌ ‌ ‌ «شيلي» او «ټينيسن» وايه

او زه ليونې خدايه ! ‌ ‌ ‌ ‌ کله خاندم کله ژاړمه

لاړ پښتو لاهو شوله

زه په ژړې ورته ولاړ يمه

# پلوشه

په غمونو کښې خندا کړه ‌ ‌ ‌ ‌ په خندا کښې غم هېر نه کړې

او د دېر په سودا کښې ‌ ‌ ‌ ‌ په قيمت د کم هېر نه کړې

د وصال په لمغرو کښې ‌ ‌ ‌ ‌ د فراق ستم هېر نه کړې

---

(۱) هندسه. (۲) وړې. (۳) صوفي عبدالرحمن مومند (۱۰۴۲-۱۱۲۸ ه ق) (۴) د پارسي ژبې مشهور شاعر او ليکوال مشرف الدين مصلح بن عبدالله سعدي شيرازي (۶۰۶-۶۹۱ يا ۶۹۵ ه ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه ته ئې سترګو ته خاندې　　　　ددې سترګو غم ميړ کړې
د الله الله په شور ګڼې
چه صنم صنم ميړ کړې

## پلوشه

نه خوشحاله دې وفا کړم　　　　نه خفه دې کړم ستم
ژوندیو تال دې چه عزيزي　　　　کله زيرا او کله بم
دایو دوه ګړۍ ژوندون دی　　　　په خندا خندا ئې تیر کړه
داجهان خدائي جنجال دی
کله وران او کله سم

## پلوشه

ژوند او ساز واړه د باد دي　　　　ژوند هغه بويه چه ساز وي
ساز هغه چه سا پکښې وي　　　　سا هغه چه پر نیاز وي

## ګړې ورې

خوند ورور جانه ډیر کوي خبرې بنوسئي(۱)
دوی وائي - لکه شوی ده - مونږ وايو ده هوسئ
نوم ئې په کور کوړه دی - ببو غيه بي بي - ايځي (۲)
زبه خوږه ګران دې راله ئې وکړاوه ترنجي

---

(۱) بنوځي. (۲) ايښي د شعرې ضرورت له کبله په د خ ليکل شو :



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینا، سره سره، شمشتی خواره، شکرتاتی،
تتې سره ئې شوق دی نه نې لګی ښنګړیو اتی
واتی، وړکیه، کیږدنکیه میدونه بیزه بیزه
سه کښتی لور دې دړ شخومه به ډ پیزه

## ځار دې درنشمه

اې خدایه! عقل راکړه — اې خدایه! پوهه را!
زړه کې مضبوط راکړه — او سینه لویه را
سترګې دلمر راکړه — رحم د خان را
بیا تول غمونه دی — د دې جهان را
ما ته نې په سر کړه — ځار در نشمه

زه به نې ورمه

زه به نې ورمه

یار بها دړ را کړه — که همت نه راکوی
غیرتی ورود راکړه — که غیرت نه راکوی
د سکندر بخت را — د دارا خیال را
مت د خالد کښنې — توره هلال را
اسلام دې پریږدمه — ځار در نشمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به ئې کتمه

زه به ئې کتمه

د شپې خیمه کښې     د عشق شراب را

پاک مل دلارے     لکه ګلاب را

د سپوږمۍ نور راکړه     لوبو کولوله

د بودۍ تال راکړه     جوتو و هلوله

جهان دے پرېږده     خمار دې نشمه

جنت به ئې کړمه

جنت به ئې کړمه

## پلوشه

مخ ئې و قبلې ته لیوني ترے خبر نه وُ
سترګې ئې وې وازې د انسان په تماشا

عکس د سپوږمۍ ئې د شبنم څاڅکي کښې ولیدُ
خکه په سجده شو د جانان په تماشا

نشته دے د ژوند د خوب تعبیر کتاب کښې نشته ګي
سترګې دې کړه پورته د آسمان په تماشا

خدائے مکه کښې نشته د منصور د خولې خو مې واورېدُ
لاړ شه لیونیه ! مشه د خان په تماشا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې پروا لکه لولۍ وای

بې پروا لکه لولۍ وای — په ګلونو کړ خیدلې
او چه تول عمر ماشوم وې — په بلا نه اوریدلې
د دنیا د وږ وسترګو — بې خبره ګرځیدلې
چه په خوله د جانان نه وې — د فراق ویرپیتې غزلې

بې پروا لکه لولۍ وې
په ګلونو کړ خیدلې

بې خبره چه آدم وې — د رازونو د جوانه
نا آشنا مجنون ویده وې — د غمونو د لیلئ نه
او چه حسن خبر نه و — د خپل حسن د غرور ننګه

دا زما زړه نا آشنا وې
د دې منو بدو د جنګه

# ښاری

ستړے ستړے خانه، خیر سړه راغلے — «دوه روپۍ د کلے، دوه پیسے دی چاه»
سه ګړی کښې چالاکے خانو په ښار سره دی؟ — مخ سره ت ناجوړه نیبو ما کښې منبه نه دی

(۱) په هند کو خپل مزدور ته وائي: منشي کره د دوه پیسو کابه او دوه پیسو چای خان له راوړه (۲) نیبو: لیمو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا قسم دی خان: دودی نمونږ سره به نوش کوې

دنا، ونه وې خان مونږ دغم نه به بې هوش کوې

داشه لاړه د بنیم تاله زوم (۱)، نه ده انتظام کوم

خدایږ ورنن د بنار کـــربلا متول په تا تمام کوم

څوره هغه کوټ باند ے دې پرېوت دسیټ دوکان

هغه سیټ دوکان پسې دی بل دسیټ دوکان

هغه سیټ د کان پسې یو ورور کی شان مسیت دې (۲)،

خوا کښې یو پیل دې یونانی (۳) لسیږ شان پلیت دې

اخوا دوه کوټې دی یو راځی او دیو ورځی

هلته ناست دی کوټ بانا، ے دکان یو د درزی (۴)

شاته ز مونږ کور دے مونږ ورڅو په بله لاره

اسې اوتی بیتهی اوسان وینې دکاره

لاړه که غلط شی کوره د غه خی دکان دے

دلته به تیکه جوړیږی الله مهربان دے

---

(۱) خم. (۲) مسجد. (۳) نالی: لښتې (۴) خیاط.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حوره

خلاص شراب جنت کښې شو تنګی راغې د حورو          ګلې په خندا شوې باغچه کښې د انګورو

ته ترې چې تر پته شوې د ګل د بوټي خوا کښې          څه مجبوره تا شوې د بلبل په واویلا کښې

راغې د شبنم اشنا مالیار د باغ غمګین
وې لید په ګلو کښې دیوبل ګلاب رنګین

وې شوکاو په شونډو د، سر کښې دیر په مینه کینود،
راغله لیلی سر نې د مجنون په سینه کینود

خوب کښې دې جوړیا چتر د خپلو خونډ ساز واورید
چتر د باغ کوټ کښې دې د زوړ وطن آواز واورید

وې لوړ ستورو ته په مړاو سترګو ګورې
د باغ د ته یاد کړلې حورې! باغچې نورې

زوړ ند د ده ستورو نه چه ستا د زړو تماله
پروت چه په د زلفو کښې د منګ په خای هلاله

صفه چه به لړو کښې د ستورو ګرځیدلې
یا به د سپوږمۍ شغلو کښې پټه ګلهیدلې

حورې: ما هم بوځه د ربا د غه جهان له
تا سره به زه هم خوا کښې تال د اچوم خان له



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غمگینو سترګو

خوب کښې بابا ولیدم — مور مې پیدا کړم
دسپوږمۍ عکس وې — زه هم رڼا کړم
قسمت خلق کړې — ګله په دنیا
خوانۍ ویده کړم — راویښ لیلیٰ کړم

غمگینو سترګو
دغم اشنا کړم

میینې شاعر کړم — او غم دانا کړم
یار لیونې کړم — بیا نې اشنا کړم
مرګی ته خاندم — ژوند ته ژړا کړم
ګله موسکې شم — ګله ژړا کړم

غمگینو سترګو
دغم اشنا کړم



A .S.K B

# علم تشدد

د غضب په نیلي سور شو — د شیرشاه[۱] لمسی باتور
ستړی بیا د پښتنو سړی شوی — چه نیم اور دی او نیم نور
خوان کړل شنه بریتونه تاو بیا — په مستئ چتر روان دی
د یاړ مستې سترګې وینې — بې خبره د جهان دی
مور ئې نږدې په سر قرآن بیا — خوږ سترګې ئې کړلې تورې
د بابا پښتنو سترګو — ورته وکړې قیصې نورې
اې زما د نیکه خوږه ! — اې زما د مینې وروره !
اې د نیو بابا بچیه ! — اې پیدالدنې مورې !
سترګې د کې درناستا — لاس د تش تیرې د څه شو ؟
د غضب په نیلي سور شوی — نولا دې زغرې د څه شوه ؟
وې په نوی مستئ مسته — پاکه وینه د پښتون شوه

وې لګوه که لیلی بیا
تش په مینه د مجنون شو

---

(۱) مرکز شیرشاه (۱۵۴۲ ع م) د هند د بهار د ایالت په سهسرام کې مړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جدائي

جدائي راغله بيا تکه توره

که لوګي وخوت د عشق له اوره — جدائي راغله بيا تکه توره

بې خودي لاړه زړه مستي شوه — وريته ځنګل او وريته مستي شوره
بلبل ورور راغی د بوټي خواله — ويل جدائي ده مل شه د خاورو لاله
جدائي راغله بيا تکه توره

تازه په سرلي کښې په ما خزان راغی — ساقي کړه خلاص يو ځل د بل ددې ارمانه
سر ئې کړ ښکته بوی د بوستان شو — مجنون شو خاورې روح د جانان شو
جدائي راغله بيا تکه توره
که لوګي وخوت د عشق له اوره

# فلسفه

وا وره فلسفه د ليونتوب د ليوني نه — دا آيت خو نه دے خو قرآن کښې ما ويلے دے
مرګ او ژوندګي يو د غم او خوشحالۍ يو دي — ژوند چې ترڅو نه وي مرګ ئې چا مطلب ليدلے دے
زړه لکه د پيالې د خوشحالۍ غم ئې شراب دے — ترڅو نه ځي مصيبت تښتي تا غم ته نسکور کړے ضد دے
خوندونه ئې جدا جدا د نشه يو د دواړو — د دواړو کښې خمارونه د ساقي د سترګو ئې تلے دے

مرګ کښې پټ دے راز د مرګ ژوندي پرې نه پوهيږي
دا آيات خو نه دي خو قرآن کښې ما ويلي دي



A .S.K B

# د فقیرانو سوال

ستر ګو د جانان کښې زما ښکلي جهانونه دي

وا دے خله دنیا زه ورپسې ستا د دنیا نه یم

کوره د فقیر کچکول کښې تاج د سکندر دے پروت

زه یم د سخیانو د شومانو ګدا نه یم

زه ئي په غرور دړنه د مینې په نوم غوارم

زه مانګ بې نیازه ستا د ویر واویلا نه یم

هغه مستي غوارم چه لے مرګ نه شي وژلے

زه دے د غمونو د بیګا او سبا نه یم

یو د سپوږمۍ څاڅکی ماله تمیک له د جانان را

زه یم د خوبونو د لالونو ګدا نه یم

تښته دنیا کې که دې ښې نو اے امیره!

ستا شوه ستا دنیا

زه ورپسې د دنیا نه یم

۱۴ جنوري ۱۹۳۱ع

# جانان

دوه مینو سترګو کښې ږغونه په سوونه
ماته ئې جهان ډک کړ د ګلونو د نورونو

کوټ ئې د ښار ابود جنت په جهان راکړ
خوب کښې ژوندون راغې شوږ وندو د ډکن خوږنو

سینې د سپوږمۍ د رڼا لپې ډکې ډکې
ونوستې(*) تا خاورو کښې زما په قدمونو

رب دې راته وښود پټ د مینې په رازونو کښې
وادې چولغولې کښې زما ستورې په پلوونو

ساز د حورو او درم ستا د حسن په سازونو کښې
ماته دې رب وښود پټ د مینې په رازونو کښې

## رباعي

که تش په عقل وې په لیاقت وې
نه په نصیب وې نه په قسمت وې

شیطان به نن ولړې له جبریله
غني به هم لایق د ولایت وې

---

(*) نوستل : شیندل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوشه

نه په لیونتوب ترې فلسفې کړله څه جوړه
نه په فلسفه ترې څه کړه جوړه لیونۍ

داکړه وړه دنیا کړه وړه روانه ده
بویه دوه بویه بویه بخت د خوار غني

دا دستور د ښار د وخت تلل د ساز لیدل
ښه خو نیتوالې دې چې پیر و شو کنې

## پلوشه

هر تیتو براق دی کنه سوره د محمد په شان
هر څپیر کعبه کړه او سیزي د ابراهیم پکښې

هر لاړ مکې ته خو چې نیت دې د مکې وي
هر تیر ګلشن د ګل وږمې وړي لګي نسیم پکښې

## لېونۍ

یو بنار روان کړې د نرو نرو کوڅو دی
یو خیال ئې روان کوي ئې د زړه تلو سودې

یو سرې روان کړې د تنګې سوزې او تنګي ساز
یو عشق د حقیقت د جوړه د عشقو نو مجاز

یو کوره روان کړې د خوبونو د رنګونو
د توره تمتر سیو کړ تکبل د کو سره نګونو

او خانګي لیو ستر ئې د کې دمستونه
وحدت ئې روان کړي د لګها بت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه ګل او صنم واني
او کله د مستي خبرې دیرې په غم واني
سرې پاکل غوټۍ مخ د شبنم پرې پټوي
او دل مست خوروي ستړو غم پرې پټوي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوال ځواب د لیونی او ملا

لیونیه ! مینه څه ده؟ — ملا : کوږ دیو عاشق دی
کو تښتې دی کښې ډیرې — د همو رب خالق دی
لیونیه ! ایمان څه دی؟ — ملا : دا دې پوخ گمان
د یو خوب په زړه لیدې دی — د وصلونو د جانان
لیونیه ! جنت څه دې؟ — ملا : ستا جنت پټي ده
او زما جنت وصال دې — یو خمار یوه مستي ده
لیونیه ! حوره څه ده؟ — ملا : لهر(۱) د خمار دې
یوه کرښه ده شفق ده — د خندا بربرکی ده
لیونیه ! نشه څه ده ؟ — ملا : دا په سیل واته دی
د مستۍ رنگین محل کښې — دا واته نسواته دی
لیونیه ! چه لمونځ څه دې ؟ — ملا : خاورې ښکلول دی
د جانان کوڅې ته تلل دی — د امید ارمان کیدل دی
لیونیه ! سجده څه ده ؟ — ملا : ځان خاورې کول دی
د مستۍ د ښکلو مار — د یار پښو کښې اچول دی
لیونیه ! ژوندون څه دی؟ — ملا : نه یمه ژوندون

---

(۱) چپه - موج.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما د خوب لیده دی — د سبا او د پرون

لیونیه! وصال څه دے؟ — ملا! نښیست کښې دوه بیده دي

دا په ستورو ګډېده دی — په سپوږمۍ کښې خورېدلي دي

لیونیه! حسن څه دی؟ — ملا! لهر د خمار دے

یو موسکی موسکې نښانې خیال دے — یو نرے د رباب تار دے

لیونیه! ته نے څوک؟ — ملا! زه د چا ارمان

زه یو ګل د چا د کوتو
پروت په پښو کښې د جانان

دارالامان - ۲۵ فروري ۱۹۴۴ ع

## پلوشه

چه بیخودی ډیره شی د خودۍ رنګ ورکوی
یا بوداتوب له هم د خدائۍ رنګ ورکوی

غم چه ډیر زور وکړی د خوشحالۍ په شان
د ژوندون تار له رقصانه شه رنګ ورکوی

سترګې چه تشې شی خوبونه ډک وینی
په تش کاغذ مصور مستانه رنګ ورکوی

سحر له شپه ورکوی شپې له سبا ورکوی
د فلسفیانو سره اړنګ دوړنګ ورکوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلې وړې

مچ دزمرې سترګې شکوي ماشي داوښ وينه

خدايه! ستا دا عجيبه دنيا توره ده که سپينه

مرلسو ګيدړ وبېر شير په بونډۍ چرګه کړ

سپوږ شغال په پړانګ دې دغږ ځوږ ښکاله خينه

پړيوځي چوارږې ته خان ګانه په دتۍ زروکړي

ښکلي ستا دکو توجوره ځوانه نازنينه

ناسته ده دوم دلندن لوړ په سروړ ړينمو ګنبې

لوړ دلوې شيرشاه لوړې په لاس دې لوله خينه

مست مغرور سر د پښتون تيټ سترګې ښکته دي

شرم داسې شرم چه شرمونه شرموينه

## پلوشه

که شرنګ دې که ترنګ دې — ټول رازونيازونه دي

که ښايست که مستي ده — يو ناز يو انداز دې

که حسن که نور دې — يو سپين سپين بڅرې

که ګل که ياسمين دې

يو سوز او يو ساز دې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

روند به څه قصه د دې رنګين جهان د رنګ وکړي
دا نيمې مړې ګوتې به څه ستا د طبعې شرنګ وکړي
وچې سپېرې شونډې به په څه ناز او نياز وکړي
دا غمګينې سترګې به په کومه نشه رنګ وکړي

# د پسرلي شپه

د پسرلي شپه وه مسته مستانه — ستوري څرک کيدل د ور په ښارونو بانه
سپوږمۍ ولاړه وه ښکلې حيرانه — ليونۍ سوال کړه د خپل جانانه
د نام پوځې له د لامکانه را — مستي م سترګو له د خپله ځانه را
د خپله ځانه يارم! د خپله خپله ځانه — ليونۍ سوال کړم د خپل جانانه
ناګاهه برق شو د رباب د نور راغې — څه په مستۍ راغې څه په غږ ور راغې
مستي شوه کونګه مستۍ ګويانه — ليونۍ سوال وکړه د خپل جانانه
او ليونۍ چې ورته زړګي کړلې — ډېر په خوارګۍ به ښکنې څاڅي شو بڅرې
نور د ک د ځانه ډک د جهانه — ليونۍ سوال وکړم د خپل جانانه
د رباب د نور لاړ په نيست او رالاړم — او د جانان مستي جانان له پيالا ړم

ليونۍ پاتې شوه خېره کړيوانه
د پسرلي شپه وه مسته مستانه

شمله. هندوستان - ۷ ستمبر ۱۹۲۲ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

دے بے انصافه د زور جهان کښې　　　دے بے کینے د پېغور جهان کښې
دے په غریبو نسکور جهان کښې　　　سترګے لیدونکے را عقل روښان را

زړه م مین را ربه! زړه م جهان را

دے د مطلب اوښتګو په دنیا کښې　　　دے د راهنګو غونډلو سودا کښې
دے خوږو زهرو ښکلے بلا کښې　　　مینه بے طمع را زړه بے ارمان را

سترګے لیدونکي را عقل روښان را

دے د دروغو او تور جهان کښې　　　دے بے کینے د پېغور جهان کښې
دے د بد نیتو داور جهان کښې　　　پاک د ګلے په شان نیت او ایمان را

سترګے لیدونکي را عقل روښان را

دے بے همته کمزورے دنیا کښې　　　دے په نفرت تورے تورے دنیا کښې

. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . .

مرګ چه پرے ویرېږي داسے ایمان را

سترګے لیدونکے را عقل روښان را

سر بے پروا مستانه د منصور را　　　سترګے خاکسارے مینے د نور را
ښکلے هر خیال ایمان د سرور را　　　زړه د ملنګ را او شان د سلطان را

سترګے لیدونکے را عقل روښان را



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعري

لږ خيال کړه لږ تال کړه لږ شان د جانانه
لږ ننګ کړه غورځنګ کړه يو آه د ارمان

لږ نور کړه لږ نار کړه لږ سوز کړه لږ ساز
لږ يار د سپوږمۍ شه د ستورو همراز

لږ کوټ د کعبې کښې لږ ګل د شيراز
لږ باغ لږ باغچه شه لږ توره بيابان

لږ خيال کړه لږ تال کړه لږ شان د جانان

# جنازه

سر مې لوګي شه له تا سترګې مې
شونډې مې خاورې ستا د ديار شه

قربان خلمي لتا نه قطار قطار شه

ته د خزان کښې يو ګل د بهار نې
دې تورو شپو کښې ته يو زېر د سار (*) نې

ته د بهار خوب د کلي وران نې
ته يو تصوير د پښتون د ارمان نې

ته د پښتون د ناموس او د ننګ نښه
ته د پښتون د سپين زيرې ملنګ نښه

ته زمونږ د ډېر صبر د جنګ نښه
ته يو ګواه د پښتون د مړانې

ته يو تصوير د پښتون د ارمان نې

تې د مينې او د زور او طاقت قصه
ته د شهيد د مستۍ او د شوکت قصه

ته د پښتون د يو خيال او د نيت قصه
ته يو آواز د مظلوم په آسمان نې

ته د بهار خوب د کلي وران نې

(*) سار: سهار.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس به دوی پر قوم زړه په حصار ښيي | یا به ته په خیبر یا زړه په دار ښيي

سر مې لوګی شه له تا سترګې مې خار ښيي | ته د بهار خوب د ګلی وږان ئې

ته یو تصویر د پښتون د ارمان ئې

# مور

دا په سترګو د مریم ښکښې | چه ژړا وه که خندا وه

چه ئې سوې په صلیب ولیدې | د عیسی د زلفو ول

دا غم وو او یمه تا ته؟ | چه رحیم ئې که رحمن ئې

چه په خاورو ښکښې کړې خاورې | د ګلاب ښکلي اوربل

دا مستي وه که معراج ؤ؟ | دا جهان ئې چه روښان کړ

که د نور دیار د سترګو | دریابونه بهیدل

چه دا کفر که ایمان ؤ | چه دا زړه ئې لیونی کړم

چه دا غم مې په خندا شو! | که مستي ئې مې وژړل

# د ښاپیرۍ شهزادګۍ

د سرو زرو محلونه ښکښې په تخت ؤ د لالونو

او چت د غره په سر ؤ یو کمال د کمالونو

چا پېژندې تر خندا ده او مستي مشغولا وه | کاڼو وو سرو نه وو رنګونه وو رڼا وه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ناسته دې د محل کښې شهزادګۍ د ښاپیرو وه
چې جوړه له خوبونو ښایسته ؤ نوی نوی وه

ما ورته وې اې بي بي د جنت! زه ستا د دې ملنګ یمه
ډېر تنګ د دې جهانه د غمونو نه تنګ یمه

لږ پټ مې کړه د غم د توږې سترګو نه محل کښې
زړه وړکه دا ذره به شي د ستورو په غوبل کښې

او سترګې ئې را پورته کړې پستې د رڼا سپینې
نازکې نازنینې په رنګونو کښې رنګینې

ورو د غم پکښې را وخوت لکه لوږه د ماښام
چا ډک کړو له شرابو د سپوږمۍ د رڼا جام

وې واخله دا محل دا تخت دا ټول ساز و سامانه
د غم پټېږې نشته څوک پټ به شي له ځانه

خو! ښېبوله د جانان دې دا غم د جهان یوسه
خو ځانګکیه: دا د رباب له یو قطره د ارمان یوسه

نه غم ئې نه خندا نه بهار ئې نه خزان
خو ما لیدلي خوب کښې د دې د حسن یو جهان

چې ډوب به په مستۍ کاندې ستا غم او ستا ارمان
ما وې سر مې لوګی شه له تا سترګې مې قربان



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه چه دې دنو جهان له دواړه شور روان
اې مترنګه د کونګرو! درباب تال او شرنګ کښې ډوب شه
او اې اوراورکیه! دلمر په رنګ کښې ډوب شه!
دې رنګ رڼا نیولې یم ماد ، تلوته نه پرېږدي (۱)
او ماخپلې وزرې الوتوته نه پرېږدي

# زه

اې د منطق فلسفو ملا!
اې دجنت دقصو ملا!
اې دجزا او قسمت ملا!
اې د دوزخ او جنت ملا!
مکره ماته قصې د ژوند
ناورم ته څه مستا قصې د ژوند
زه نه مالی یم نه خان د باغ
ماته ته څله کړې داستان د باغ
زه خود شاتو مچۍ یمه
شاتې پېژنم او ګل پېژنم
زه یو وړه لو لکۍ یمه
ساته تته راتلل او تلل پیژنم
زه یو چپه دنسیم یمه
بس یو لمحه د ماښام پیژنم
زه یو قطره د شراب یم
شونډې پیژنم او جام پیژنم
نو ماته ته څه لګې داستان د باغ
زه نه مالی یم نه خان د باغ
زه خود شاتو یوه مچۍ یمه
شاتې پېژنم او ګل پېژنم

(۱) دا شعر نامکمل غوندې دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوه وره لوګلکسی یمه  ساتل له راتلل او تلل پیژنم
زه خوږ شهنګ د ګونګړو یمه  پښې د رقاصې کښې تال پیژنم

زه یو بخری د سوز یمه
غم پیژنم او وصال پیژنم

## تول او تال

په سترګه دې پردې دلیونتوب دی لیونیه:
ته نه پیژنې تول، ته تش تال پیژنې

ته سترګې دلیلی وینې لیلی نه وینې
ته زړه د سیپۍ نه پیژنې لال پیژنې

ته وینې د ګلاب سترګو کښې سور د ژوند خمار
نه ئې جال لجریږ وینې نه ئې جنجال پیژنې

او دادم زویه اے ناز بینه د الله:
د زړو کالو باب کښې ته یو کال پیژنې

زما او ستا خبره دهاتی ماشی واده دے
زه تول لیلی وینم ته ئې یو خال پیژنې

نه ترک د لوګی ترک یمه د تول د آدم
ته نه پیژنې تول ته تش تال پیژنې

خو خاص دے د دو لیونو سترګو د پاره
زه جوړه خپل تصویر کړمه د تګو د غباره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خرو

تو تو تو خرو: وړه تته تته

ارمان زما النګی له فرنګه شنه جامه کړه کته
خبرے اوس پښتنے کوی شمله نے ده بے بته

یو نوے اسلام راغی دخانانو د محلته
چه خوښی نے دی موټر داکړی هجرت د جماعته

تیز کرځی په پټرولو کله بره کله ښکته
په بله تمانچه کرځیي(*) ویریږی د پنده ته

وړه تته تته خرو! وړه تته تته

ارمان زما النګی نن په اسلام کړے دے ننګ
ارمان زما النګی سبز کال کړلی دی بادرنګ
ارمان زما النګی کښے دی چالونه رنګ په رنګ
ارمان زما النګه یه: کله پلن شے کله تنګ
ارمان زما النګے وی کله بر کله ښکته

وړه تته تته خرو! وړه تته تته

(*) کرجیی کرځوي.



A.S.K.B

ارمان زمالنه یه : لوړے خیته د هاتی

په نسل فتح خان او په خویونو جلاتی (*)

ارمان زمالنه ے زړه کښے زړه کینه ساتی

ارمان زمالنه سے نن کړی کار و نه خیراتی

زمالنه حاجی شوے نه مسوان کې نه لته

ووه تته تته خړو : ووه تته تته

زمالنه ے غصه دے نن غیرت د مسلمان کتهی

مړو له جنت کتهی ژوندو له دا جهان کتهی

زوی له نوکری کتهی او خان له پاکستان کتهی

د استاد رقیب دلال به نن تاله جانان کتهی

په بله تمانچه ساتی ویږی دی پیلی ته

ووه تته تته خړو ! ووه تته تته

ارمان زمالنه ے چه پنجور لکه زمرے دے

په لنډه کښے سنه د لوړ ناړے د خوکو بوړو کښے نړے دے

په فکر افلاطون دے په اخلاقو بنا پیرے دے

په عقل لویخین دی خو په ژبه چړ چړ دے

ارمان زمالنه دے ډک د چل او د حکمته

ووه تته تته خړو ! ووه تته تته

---

(*) فتح خان بریځ او د جلات محبر بادشاه حلات تر اشاره ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله : زمالنې نن د فرنګ نه ګټي خان

الله : زمالنې هم ګټي مصر هم ایران

ولې نیت مې د کعبې دی خو لندن ته دې روان

هندو دې فیرنګي ته خوږې نه لګي هندوان

ارمان زمالنې نن نه کوګرې داونه بته

ووه تته تته خړو! ووه تته تته

پرون زمالنې چیرته ولاړو په دیران ؟

پرون زمالنې چیرته خوړل پردي توتان

پرون چې جهان وران و، و زمالنه وودان

پرون د چا په دین و چه دا نن شو مسلمان؟

زما د ښادي مشره! ستا وي غم کښې کومه پته ؟

ووه تته تته خړو! ووه تته تته

زمالنه یم! واوره د یونډې لګۍ دې خار شم

دښمن ته مې دښمن شه نوزه یار به ستا د یار شم

کمخې د جانان کوزته زه به ستا د پښو غبار شم

ته خاړ شه په وطن نوزه به ستا د سترګو خار شم

که سم نه شې روان هڅوکه به زه د ومه ښکته

ووه تته تته خړو! ووه تته تته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلام

اے په اسلام مینه! اے سیاسي مؤمنه!
نن چه اسلام ستائې ستایه دے څوک پرون!
دا هغه مخ د تپوس خونړی شنه پرونه
دا د عقاب پنجے د ښاپیرک د ړونه
نن د جنت وعدے پرونی دوزخونه
چار بیته هغه زړه خونړی دی سرونه

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسي مؤمنه!

سترګے دے برګے بهر برګ دے ایمان دننه
پرون ئے خان نه کاته نن دے اسلام کتي
په خرڅ د ننګ د پښتون خپل ننګ او نام کتي
زما په وینو چا له ایران او شام کتي
او د شرابو تاجر ساقي او جام کتي

اے په اسلام مینه!
اے سیاسي مؤمنه!



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه به وې ربّ ته خپل      چه ئې د کوږ دننه
تا د پښتون سترګو ته      د تیاره جال جوړ کړ
او د جناح د خره      دے خر د جال جوړ کړ
غلاف کعبې له دے      دوایت هال جوړ کړ
ماله لندن کښې تا      نوے هلال جوړ کړ
او د بلا نه دے      ما ته بلال جوړ کړ

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسي مؤمنه!
ګلاب نیوے نه شي
چرے د زوزونه

او د رقیب نوکر      نن ماله یار ګڼي
زاغ نن بلبل ګڼي      خزان ګلزار ګڼي
منا پیرک جنګ له ورځي      د شهباز پلار ګڼي
نن په بورا له ګونګټ      د کلو مار ګڼي
او د کافر نوکر      کړې د اسلام پالنه
اے د کنو وطنه !      اے د رندو وطنه !
او کوره شرمښ ته      کوي د شپون آواز
نن چه بانګونه کوي      خه ئې کړ پرون آواز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نفرت کړیکو کښې    د مینې سوز او ساز
پرون عمل د یزید    او نن نامه د ایاز
لږ خو پلا ے سوچ وکړه    زما ساده پښتونه !

اصلي مومن کړه بیل
له سیاسي مؤمنه !

څوک د عیسی په شان ؟    مستي د دار اخلي ؟
څوک د نمرود کاله کښې ؟    د موسی لار اخلي ؟
څوک د رقیب په محل ؟    نوم د دلدار اخلي ؟
څوک تر ال جهان غوره څوی ؟    سترګې د یار اخلي ؟
غماز لږ وپیژنه !    ایاز لږ وپیژنه !

اے د کنډو وطنه !
اے درند وطنه !

# سیل

څه چه لږ سیل وکړو    بره آسمان ته څو
د دے تیاره ے له کوره    د نور جهان ته څو
څه چه مستۍ له ور کړو    د بےخودۍ وزرے
څه چه جنت ته څو    څه چه رضوان ته څو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد خزان تیار ے کړو په تیارو کښے دی
ځه چه بهار له ځو ځه چه بوستان له ځو
داد جهان خبرے داد ملنګ تکورے
تخت تاوس ته ځو ماه تابان له ځو
او د رقیب د کوڅے د ربانی نه کوو
مونږ مستانه لیونی کور د جانان ته ځو
مونږ د جانان د شونډو شراب څکلی دی
څکه مست مست مجنونان نن بیابان ته ځو
مونږ بو، بڅرے د نور لرے لیدلی دی
د ګل په شان په خندا غیږ دخزان ته ځو
راځه چه هیرے کړو د دنیاګی قصے
ځه چه لږ سیل وکړو
بره آسمان ته ځو

۹ جنوری ۱۹۴۶ ع

# ګلدے ورځے

دمحمود غمګینے سترګے ځان له خپل ایاز لټی (*)
که زما بیګانګی نن ستا د زړه نیاز لټی
د لیلی سترګے ژړیږی دمجنون د سترګو غم کښے

(*) لټی: لټوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرګس مړاوې مړاګوري      د بلبل آواز لتهئ
راځه وجد ځه مستي ده!      چه الله ته دې آدم جوړ کړ
کې معشوق د مینې ساز له      د عاشق آواز لتهئ
نه دا غم د فلسفي دې      نه دا رنګ د لیوني دې
د کونګړو شړنګار روان دې
حقیقت د ساز لتهئ

# مسلمان

مسلمان هغه بنده دې      چه شونډې ئې تل موسکۍ وي
سترګې ئې ډکې د رڼا ئې      له غولې یو په پسل موسکۍ وي
سپین ایمان ئې لکه تنده      بې د ځانه هر څه سیځي
د جانان د دراېر وته ئې      زلفې ول په ول موسکۍ کې
چه ئې زړه ډک د آرام وي      لکه بیغ د سمنله وي
خوله ئې ډکه د ګلونو      لکه باغ د صنوبر
راسې مست دا سرشار      لکه مینه د کافر
اراده کلکه یې کړې      لکه څوکه د خنجر
د وجود هر څاڅکې وینه      سره په مینه د دلبر
په سینه کښې ئې رڼا وي      لکه ځریکه د جوهر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژړا کښې ئې تاثیر وی — په خندا کښې ئې اثر
مست ئې بر په هر څه بروی — لکه مست د سکندر
د ذره نور ئې لکه شمع — پرې اوروونه بل موسکی دی
د بلبل د خولې آواز ته
داغوږ ئې د ګل موسکی دی

# رڼا د شمع کښې د سحر نور راغی

تا و د غمې لار ماسپښینی شو — لکه د مني یخ باد د سیني شو
سرور د سترګو دیر خو د زړه کم شو — او د فراق استاځي یخ د صنم شو
ساز کښې سرور نه نن د خاموشۍ خیزې — د هوش جنبه په کور د بیهوشۍ خیزي
بادشاه شهزادګۍ شو د خپله کوره — د شفق سره رنګونه شول زړه توره
او: ستار کښې شرنګ هغه دمابنام نشته — سرور په سترګو کښې د خیام نشته
پښې د رقاصې خوبالې هغه نه دې — بانګ د بلال هغه بلال ئې نه دې
په جام کښې کوټ کوټ شراب که ګمیږي — سپر خلاصیږي ګلاب ګمیږي
او: رڼا د شمع کښې د سحر نور راغی — باغ د بلبلو ته نوم د باتور راغی
د غوټو سترګو له خیال د خزان راغی — لړزه مستی لاړه او لړزه ارمان راغی

او د فراق سوره په وصال پریوت
ستوری را ختل او هلال پریوت

۴ مارچ ۱۹۲۹ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوشه

زما بخت د شمع بخت دی یا به مړ شي یا به سوځم — یا به ډوب له دریابه ځم یا به پاسه په چپو ځم
عجبه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دے — ما ورته مستي په اوله بیایي که ځمه او که نه ځم

## ۱۴ اگست ۱۹۴۷ء

نن انسان شو د انسان د وینو تږے — نن مجنون شو د جانان د وینو تږے
د سړے رُوند په سترګو رُوند شول د تندے — چه تږے پوره شو حیوان د وینو تږے
دا محل د چا باچا د شان او ننګ دے — که دا پروت دے د بیابان د وینو تږے
دا قصه د یار د کور او استانے ده — که د ظلم پو داستان د وینو تږے
د سړے زهر چه بنا مار ورته پسخیږي — د سړے تاو چه کړي جانان د وینو تږے
د سړے قهر چه لمبه کړي خپلے سترګے — د سړے خان چه وي د خان د وینو تږے
د سړے رند چه د آدم په وینو مست کړي — د سړے شه چه کړي آسمان د وینو تږے

لیونیه! د مستۍ باغ ته تر تنبسته
نن د تندے مړے جهان د وینو تږے

## تول (۱)

جال نه دے د دام نه د تول کښکے؛ تول! — یا به په دوه خانه یاره شي یا به شي پردول
یا به قلم یوسے یا حق به دلته (۲) وادرے — جال نه دے د دام نه د تول کښکے؛ تول!

---

(۱) د منګه په شان منزل. (۲) هغه آلے چه غنم پکښے نیولے شي، ار کے هم ورته ویل کیږي.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمان

ما د ګلو باغ کړلې د خزان کښې — د جنت خوب مې لیدلې د جهان کښې

ما د ځمکې په مخ هغه لال کتلو — چه موندلې شي په برجونو د آسمان کښې

او زما په ځوانۍ مست په عشق خوږ زړۀ — فرق ونه کړ په تصویر او په جانان کښې

زۀ په خپل ارمان مین دم په تا نه دم — ځکه ډېر ومه په ارمان کښې

ته چه را غلې ستا د زلفو ارمان لاړۀ — هغه مستي د مجنون پاتې بیابان کښې

ماله سود د وصال نۀ یا شو په کښې ورک شو — هغه یار چه مې موندلې وُ په زیان کښې

زۀ په غم مست په فراق باندې مل هوشه — مرم د تندې د ګلونو په باران کښې

پتنګ روند شو د لمر سپینې رڼا روند کړ — لوګئ ګل پسې ژاړي ګلستان کښې

د ځوانۍ مستي مې شوله ځوانیمرګه
د جنت خوب مې لیدلې د جهان کښې

# بکواس

راځئ زما زړګیه یو به ته شے یو به زۀ — یوه ورځ لولکه او یو ګل د لا لا

یو شړنګ د غوړ ځنګ رنګا رنګ د مستۍ — شو سوړ په ملغ په خندا خندا

روان شو جانان له پېښو او سره ډر — په نیاز په خرام په مزا مزا (*)

یا خوب به لګې په کټ د لولکئ کاوه — یا ته به داور اور کو په رڼا

خو ډوب به قطرے د شبنم شو کښې — او چت په ملغ په خندا خندا

(*) مزه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

او د بنده مثال لکه خس دے — تو د شي لوګي وکړي رڼا ګړي جوړه
لمبه شي وسوځي خادے ایرے شي — بوره ابي پرے ژړا کړي جوړه

# دوه خبرے

نن م ماته جانان وکړے دوه خبرے د مستۍ
د فقیر کچکول کښے ګوره ملغلرے د مستۍ
چه زورور که جمال ئے ما سره په پښو کښے کینود
چه به زه ترے ګرځیدمه لړے لړے د مستۍ
د فراق سلو صدو له یوه لمحه د دیدن بس دے
د غم زر کاله ایرے کړے یو ګړے د مستۍ

# کړے وړے

څه که نه وینمه سرے سترګے خمارے — ځما پیژنم د سرو سترګو خمار
نه کعبه م ده لیدلے نه پرے پیژنم(۱) — نه خو پیژنم لولۍ او لاله زار
نه م حورے ده لیدلے نه ئے غوارم — زه لیدلے شم سپوږمۍ د دنیا تار

---

(۱) پوهیږم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریب خضر شوند لیواله د چیښنې کړ — ماله ګوټ راکوي شرنګ دستار

لکه بیخ د سمندر، دوب او خاموش دي — دا پروت دې د مستۍ بیخ کښې قرار

او پرته د قرار جرو کښې مستي ده — عجیبه مرګي ته ده عجیبه لار

په نصیب او په تقدیر م برې وکړ — توکل یم شو قسمت م د اختیار

په جنت او په دوزخ م څه کار نشته — د دې دواړو بره ماليدلې لار

له جزا او د سزا نه بې پروا یم — خو پوهېږم په فراق او په دیدار

که غمونه که فراق وي که دیدار وي — مستول کوي ګنځل هم د دلدار

په خندا به شي غني په لمبو سور

په دې شنو سترګو که ستا پېرزو شو اور

# دنیا کې

دنیا کې څه ده غم او غوغا څه ده — سوې دا اور سوز او سودا ده

لیونتوب یا ده خره داده — چا جوړ کړې خیالي، مینه مشغولا ده

# دالۍ

سترګې دې رنګینې دي نیازبینې دي میینې

شونډې دې ترسکوني او خبرې دې حسینې

ستا سینه د ساز او د آرام یو خزانه ده

څې دم چا شونډې وله ستا کوټې سپینې سپینې



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د حاتم لورې! خزانه د عشق دې لوټ کړله
چاله لېږې دې د کې چاله پېښې پېښې
دا خو د جانان د سترګو رنګ د زړه مستي ده
دې نه جوړ جنت دې او د حورو خولې وینمینې
تا چه باغ تالا کړ د مالیار کوړ له به څه یوسې؟
ته چه زړګي تښ کړې نو د یار کوړ له به څه یوسې؟

۲۹ جولائی ۱۹۴۶ ع

## ګله وړې

پښتو! تلې جنه! تا ملا بابا دهوکه کړ
راضي شو په پیتي د ګل ګلونه خبر نه شو

اوسرغړه یې جیران د کلي غیب کوري کله کاوان
به یې لا اله الا هو دا د تلونه خبر نه شو

منمه د جناح کاکا چه لوخ بنا نګ له راغي
د ده به د کو تکه د ګولونه خبر نه شو

کوره لیوني ته په مره خیته بودا شو
د خولې او د ګوامو د سلسلونه خبر نه شو

## قصه

توره توره شپه د هجرې
توده توده د غم قصه

صبا ... صبحینه نشه د خوانۍ
سپینه ښبسته د شبنم قصه

ښکلې ښیسته د امید د نیا
سپوره زړه د ستم قصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ او مهین دی نوم د یار
ښکلی پسته د صنم قصه
ما ته قصه د پسرلی وکړه
نا ورم د دیر او کسم قصه
ما ته قصه د جانان وکړه
نا ورم د دیر او حرم قصه
ما ته موسکے مخ را واړوه
پریږده د فضل او کرم قصه
وایه د رحم او نور خپل
مکړه دوران او ستم قصه
زور او اور او شور دا
دا ده ستا د کرم قصه
شرنګ ستا غوړ ژنګ د زړه
دا ده زما او صنم قصه
اور او حوړے سوز او ساز
څه دمستئ څه د غم قصه

ماله خندا خندا راځی
مه کړه دوران او ستم قصه

## ګډے وډے

ډیر نر زما لالا وُ خو چینی (۱) رانه خراب کړ
ملا پیستی ته تینګ وُ خو فیرنئ رانه خراب کړ
صاحب هټلر کړ فتح خو نے خیته فتح نه کړه
دے ترشے مسالے هندوستانئ رانه خراب کړ

---

(۱) صوبه سرحد کښې بُوری ته چینی وائی. یو وخت چه بوره ډیره سخته شوه نو ډیر خوبو رپو پرمټ لری رشوت او لالچ وُچه د انګریزانو د هغه وخت دارو له خوا به د قومی تحریک مشکرینه ورانده کیده. غنی د دے خبرے ته اشاره کوی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خان لا لا م ورک ؤ په اسلام او په ملت
مرید بنه د جناح ؤ خوجینیٔ را نه خراب کړ
کوږ لیونی به دیر ځنې او لوے قاضی ؤ
قصے د آدم خان او درخانیٔ را نه خراب کړ

## څوانه

وران د گلستان دے اے بلبله: د پښتون د باغ
نوم د رقیب لیک دی په هر بوټی د مجنون د باغ
خوار و زار ځکه دے بے هنره بے کماله دے
غوږ نے دی کانه لا سونه شل سترگے بر کاله دی
لال د دب دے ایرو کښے او مرجان پروت دے په خاورو کښے
زوے د شهباز کړے چرگ چرې خوری په سیل د داوړو کښے
پاڅه اے خلیه: مستی توره او ایمان واخله
مشرقی مشه او هم مشه تنها مشه او نوره خپل جانان واخله
خار دے دشنو بریتو شم غلام د غلام زوے ئے ته
پروت به دوسیٔ کښے ئے که زر خله خلمے ئے ته
توره دے را واخله ننگ پښتو او اسلام پوره ته کړه
ای خپله مستو سترگو دے نامه د غلام پوره ته کړه



A .S.K B

پاځه ننګیالیه! نن دلبر او جانان وګته

نوم د پښتون وګټه ناموس د افغان وګټه

ټول جهان حیران کړه د چل شان په تماشا

ای د احمد زویه (*) بچیه د شیر شاه!

# سلام

نه ساز شو نه سوز شو | بس مې ټوند تمام شو
نه خوب شو نه شرنګ شو | نه یاد ګل اندام شو
دا توره توره شپه راغله | نه ستوري نه سپوږمۍ لري
ځواني ده لاړه لاړله | یو ګوټ او خالي جام شو
یو ستوری دسبا لاړ | سور ګل یو لاله لاړ
سور لمر زیړ زیړ شولو | نړۍ نړۍ ماښام شو
قصه د حسن هیره شوه | مزه د مینې تیره شوه
ملا بانګ دسباوه | آخر په سول خیام شو
مستي بې پروائي د ګه | په خود کښې بې خودي ده

(او): کوزه لیونۍ هم نن

بادشاه ته په سلام شو

---

(*) لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۸۶ ق) چه لمسی یې سیدشه سرهنګ دپښتو صاحب دیوان شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژمی مابنام

اونن دژمی مابنام
دجړې شپه ده

پوست شبنمی باران
بهر وریږی

غاړه د اور اوخیام
شروع قصه ده

دشاعر سراوستار
ګهسین غږیږی

تنګ اوتکور دژوند
ناز اومستی دجانان

شړنګ دلوانۍ کښې پټ
شاتار دغم دمی

خنداامستی دساقی
بت پرستی دساقی

ستینی د (۱) دمرګ سره
دکونګرو شړنګ دمی

اونن دژمی مابنام
دجړې شپه ده

پوست شبنمی باران
بهر وریږی

یاره شروع کړے ماته
دغم قصه ده

کله موسکے شی

کله ژړیږی

---

(۱) ستینی: ستاینی هغه ساند چه دمرګ په سر نیغے وائی.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

هر څه د رب او همه د رب | زه یو مابنام له راغلی یم
باغ او انګور میخانه دیار | زه خو یو جام له راغلی یم
مینه مستي او خمار د بل | رقص او خندا او سینګار د بل
ګل او نرګس او ګلزار د بل | زه خو تش دیدار له راغلی یم
زه د لوګي ورې په شان | ګل او غوټۍ او بهار کوم
زه لکه شمع بلېږمه | ښیست او مستي د دلګي کوم
لوی سمندر د مستۍ له ما | څاڅکي د رنګ راوړي دے
زه پرے د لمر رڼا لتوم | ما هم مشال بل کړی دے
هر څه د رب او همه د رب | زه یو مابنام راغلی یم

باغ او انګور میخانه دیار
زه خو یو جام له راغلی یم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ربه

اے په بنیست مینه جوړونکی دګلاب ربه!
ستا ښکلے دنیا شوه دښاروی او دقصاب ربه!

اے چه دماشوم سترګے جوړے کړے ګل په شان
ووکی او خوږے خوږے خبرے دبلبل په شان

زړه ئے پاک دبلبل دهر خیال او دازاره پاک
پاک لکه شبنم ؤ دګناه او دازاره پاک

تاچه تا ته تهیت دفرښتو ښکلی سر ونه کړل
جوړ چه دچا سترګو له تا ستوري او ګلونه کړل

تاچه دچا حسن له دخپلو سترګو نور ورکړ
تاچه دخپل خانه چاله مینه او سرور ورکړ

هغه محبوبه ستا آدم نه دے آدم خوږ کړے
آ بنیسته ګلاب ستا ګلاب نه دے اوړے د اور دے

هغه ستا دلاس ګل پروت په ونو کښے سمسور دے
ستا خلیفه ربه! آدم نه دے آدم خور دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چه چاله جوړ کړه د حسن او ګلزار قصه
ورکړې مې مشغولا له دې د مینې او دلدار قصه

تا چه چاله ستورې او سپوږمۍ او ماښام جوړ کړې لو
تا چه چاله مینه او مستۍ او خرام جوړ کړې لو

سترګې نې دې یې هغه نن د زړه وپېښې ښځنې
ستا په نامه زبه! نن سترګې د سپوږمۍ وینې ښځنې

## اول سترګې ستا د لیدو خوړا!

زه خوساز او سرور او خمار پېژنم
زه لیلی پېژنم یا ایاز

زه خو غم او غرور او ژړا پېژنم
زه نه جانان پېژنم او نه نیاز

د نسکور شکوړ ته د نور قصې؟
د جنت قصې د جلال قصې؟

د نړۍ کوږ ته د ژړا قصې؟
د ماښام قصې د ملال قصې؟

زه خو ګل او چمن او شراب پېژنم
زه بهار پېژنم او خزان

زه خو شرنګ او رنګ او کباب پېژنم
نه ګناه پېژنم نه شیطان

د شکور نه ستا د لید د طمع؟
د نسکور نه تا ته د تلو طمع؟

اول سترګې ستا د لید و خوړا
بیا ګروه د مینې د طمع

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم
هغه خوږم زبه! چه ښکلې شم

زه خو شرنګ او غور ځنګ او ستا پېژنم
او جانان هغه چه لیدلی شم



A .S.K B

زه خو ناز او مکيز مسخره پيژنم — ښکلی خط پيژنم ښکلی خال
زه خو ستړي سترګې او خوله سره پيژنم — او ښکينه خندا د وصال
دې نسکو ښکلو ته د نور قيصې! — د جنت قيصې جلال قيصې!

دې ګونګو ته د باتور قيصې!
د پرواز د ښيست او کمال قيصې!

زه ستړګې خوږې په ارمان پيژنم — او ښوري تروږمې د ماښام
د سره شونډو خندا د جانان پيژنم — د ساقي په سره ګوتو کښې جام
زه خو مست او مست او خندل پيژنم — نه ګناه پيژنم نه شيطان

زه خو غم او صنم او ژړا پيژنم
نه دعا پيژنم نه اذان

# رباعي

که پتنګ د لمر رڼا نه شي ليدلې — ګنهګار شو که په شمع شو شيدا!
زره کښې چونګښه ايله د خاورو شي خلې — څنګه ځای کړم په کښې دا د نور دريا
څنګه څنګه په يو کوټ کښې دا جهان او آسمان راجوم دي د شبنم څاڅکو کښې څرګند د سيند د سمندر نغوته هم

بيا لا داد دې پامه په حساب او کتاب کړې — د رندستړګو بادشاهانو او غلامي

رته زما رته د مستئ او د خزان رته!    اے د تنګو د کور کرو د جاناںٔ رته!

اے د بنګلو سترګو د خمار او د ارمان رته!    اے د کشمالی او خیتور او د ریحان رته!

ښکلے ښکلې به یو ګوټ کښے د جهان او آسمان واچاو؟

د شبنم څاڅکی کښے ښکله د سینه د نو دوران واچاو؟

۱۳ نومبر ۱۹۴۲ ع

# یاد دے دی

اے د پستو سترګو بنا پیرئ! چه ستا دی یاد که هیر؟

هغه دوزخونه تیر او هغه جنتونه تیر

یو نجورے نور چه به کړ کل جهان د نوره ډک

یو رنګین نظر به غمګین زړه کړ د سرورہ ډک

ما ته به سپوږمئ کړلے د صبر تسلئ قصے

کل به راته کړلے ما بنا می کښے د لولئ قصے

حسن ادا خوانئ او سپرلی ادته مینه، سپوږمئ، زه او ته دویو

وصل او مستئ جنت جهان او زه او ته دویو

اور د جهنم د خوسیخل پاسته د ساز مسے

لاس ئے د جلات د خوکا تهنے د ایاز مسے

وے به هر نظر کښے د ساز و نو خزانے پرتے

هره اشاره کښے د عمر د نو ترانے پرتے

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه پټ په نور نکه ليده وي په کاکو کښې پټ
مرګ ؤ په خندا بانګ د زړکو په نارو کښې پټ

ساز ؤ بېخودي ده سوځېدو دوه جهان ډک ؤ ورک
زه وو دومره اوته وې ځلکه ستوري اسمان ډک ؤ ورک

وخت ؤ بې حسابه بې پايانه سمندر د ژوند
پښتو کښې جهان پروت ؤ بېنيازه قلندر د ژوند

خيال به د نسيم په شان ګلونو له مابنام له ته
عقل مرور د حورو سازله او خيام له ته

تن کښې م زړګے نه ؤ يو لال د شغلونه ډک
سترګې د هر رنګه، هر اندام د ولولونه ډک

واړه دنيا وه ما ته باغچه د دلربا د کور
هر ستوري به لار ما ته ښودله د اشنا د کور

اے د پښتو سترګو بنا پېرۍ: چه ستا دي ياد که مير
هغه دوزخونه تير او هغه جنتونه هير

۲۷ اکتوبر ۱۹۴۶ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنیا

ما د نغښې پښو کښې شهزاده په ژړا ولید
ما د مرګ ته تړونده وتیت په ځای ولید

ډېر بې نیازه سترګې د مستۍ د بې خودۍ ډکې
وچه تر مستۍ شوې شوې د سپي په شان ګلکۍ

لا من سکندرم غځولي په سوال ولید
پرون د منا پښو کښې م په ذکر بلال ولید
ما د نغښې پښو کښې شهزاده په ژړا ولید
دا مستانه زړه م د دنیا په سودا ولید

۲۵ - اکتوبر - ۱۹۴۶ ع

# ژوندون

دا ژوندون دے دوه ورځې
خلاص به شي او تیر به شي
دا غنی به خاوره شي
ورک به شي او هیر به شي
دا شوندې تودے خوږے
دا د غم صنم قصے
دا کاروان روان روان
ځي به په مخ تیر به شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنتي ته

ته چې جنت کښې مزې د دنيا لټې
د حورو سترګو کښې د د مو خندا لټې

ته په اسمان کښې ورځې د ديران لټې
ته په سپوږمۍ کښې تيارو له مکان لټې

ته د عاشقو عاشقي او مستي نه پيژنې
ليونۍ نه دلربا پرستي نه پيژنې

تا د دنيا د پاره، مينه د جانان ورکړه
مجنون حلوا کښې، بېخودي د بيابان ورکړه

لاس دې د ګرا ورځ د، بادشاهۍ لاره فقير شولې
يا زما خان، د ياد کوند، زما د پير شولې

تول خيته خيته شوې مستي او جانان نه پيژنې
تول ږيږ ږيږ شوې، مرګ او ميدان نه پيژنې

زما امير وې، تا لي ختمه اتو کړې خور شوې زما
زما سردار وې: ته مړو وظيفه خور شوې زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په هغه رب، چې ته ئې د خلوت دعوه ګير
چې ئې د حورو غلمانو، د جنت دعوه ګير

توبه را واخله، خيته هيره کړه میان ته څه،
مستي پتي مشه، په مستۍ، کوره جانان ته څه

لنې دوه ورځې، په پټي کښې به حلوا کښې یاره
جنت دې بابلو، د تېرو ډېرو په سودا کښې یاره

د دې ګناه نه ده، د لوړې نه کا کا جنتي!
تپ زمرې به نه دې، له څړې مړې زما جنتي!

د سامرې له زړه به نه ده، ملنګې د موسی
د زر پرست نه، یار پرست به نه دې زما جنتي!

قسم د حورو په مستۍ، او په خندا د يار
قسم په شړنګ او په نسيم، او مشغولا د يار

قسم په سترګو په بنایست، او په ځوانۍ د دلبر
قسم په ساز او په سرود، او په ثنا د يار

ته سجدې زړو ته کړې، ما ته نوم د یار اخلې
شفوق ګناه کړې، په بدل کښې د ګل خار اخلې

راځه چې زه د ته، جنون او مستي د بنیمه
راځه چې زه د ته، محبوب پرستي د بنیمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرداري نه کيږي د توحې د مستۍ نه بغير
الله ليدے نه شي، د حسن پرستۍ نه بغير

سکندري قلندري، دواړه سرو غواړي
دواړه مستي او ځوانمردي، خدا غږ غواړي

ته خو جنت کښے مزے د دنيا کوره
بربنا حوره، او تر سکو نه حلوا کوره

د شا تو نهر او کناره، ول د شرابو ډک
نمکين غليمان او بنانک د کبابو ډک

ياره چه شونډے نيني (*)، نو حورے به پرے څه ښکلوم؟
چه کولمے خالے شي۔ کورکورے به پرے څه مغموم

# واوره جنتي!

جنت يو حال دے، د عشق د مستۍ يو رنګ
جنت يو شرنګ د ګلګرو، د ځوانۍ غورځنګ

جنت نازک دے، د ګل د ارمان مے
جنت ښيسته دے، زما د جانان مے

جنت دريابونه، د مينے او ښان دے
هره قطره ئے سپوږمۍ، هر څاڅکي جهان دے

---
(*) نيني، ندوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شان او شرنګ

فلسفي:

داسوز او ساز — داشان او شرنګ
يو سوړ دوخت — داخيال او رنګ

دالمبې کاروان — داسحر ما بنام
داکوټې او شونډې — اوړې او جام
امید او خندا — او ژړا او خیام

داګل داساز — داشان داشرنګ
يو سوړ دوخت — داخيال او رنګ

دازور دا زر — د تورو پړق
دعا او ژړا — او د حورو پړق
دا پړق د سرو شونډو — مغرورو پړق

داچال اوجال — داخيال او رنګ
اړنګ دوړنګ — سپاړې ټنګ

دا بنګلې کاته — په نیاز کاته
دا ورو نازک — په انداز کاته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالړو کښې تا دسپوږمۍ دمخ
نرګس کښې پټ پټ د اياز کاته

دامینه رنګینه داشان اوشرنګ
یوسوري د وخت دخیال اورنګ

داناچ دلولکو بهار اوګل
مانبام اوخیام اوستار اوګل
ګلزار اوچغار اوخمار اوګل

داسر اوسرور اوشان اوشرنګ
یوسوري د وخت دخیال اورنګ

# شاعر:

نامرد: ته سترګې دیا نه وینې
دسترګو سره وینې خمار نه وینې

ته تنګ او تکور اوسرود وینې
مستي او جنون د دلدار نه وینې

داسوز اوساز داشان اوشرنګ
یو تار د دلدار دخمار اورنګ

دانبکلی کاته په نیاز کاته
داورو نازک په انداز کاته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالرو کښې تاو     دسپوږمۍ دمخ
نرګس کښې پټ پټ     دایاز کاته

دامینه رنګینه     داشان او شرنګ
یو تار ددلدار     داخمار او رنګ

دابنکلي کاته     په نیاز کاته
دا ورو نازک     په انداز کاته

داناچ دلولګو     بهار او ګل
ګلزار او نسیم     او ستار او ګل

سرې شونډې دیار     دسپرلي په شان
ژوندی کړي مستي     او بهار او ګل

دا سر او سرور     او شان او شرنګ
یو تار ددلدار     دخمار او رنګ

سپړ دل دګلاب     او خندا دیار
ګابه کاته     په رضا دیار

انداز دمستۍ     او تول دغم
سرې سترګې او شونډې     زما دیار

دامست مابنام کښې     دژوند غور ځنګ
یو تار ددلدار     او خمار او رنګ



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اوښ کاروان    دا سحر ماښام
دا کوټې او شونډې    او مې او جام

دا تله په امید    په ایمان او زور
دا تله په مستئ    پروا نه د خیام

دا ګل او ساز    او ښان او شرنګ
یو تار د دلدار    د خمار او رنګ

## ترانه

نه ماسره زر نه مرجان شته دي
نه ماسره شته د لالونو ډیر (۱)
جانانه! جانان د ملنګ نه ته
ملنګ سره وي د سوالونو ډیر

ما تاله دالۍ (۲) راوړې ده
وطنه! مستي او ځواني نها
سره وینه توده او زړګی نر
نر توب او ښتو او خاني زما

زه خان او جهان په دلبر نه ډمه
زه ښنو کښې جانان ته خیګر نه ډمه

(۱) ډیري. (۲) دالۍ: تحفه، سوغات.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مست داسې مست ننګيالی يمه
فقير ته کچکول کښې خپل سر ږدمه

زه مست او سرشار او مجنون يم — زه هر دې ننګيالي د پښتون يم
لوګې شه له تا دا خواني زما — مرتوب او پښتو او خاني زما

زه سر او سر زر صدقه ور کوم
دستر ګو د نور صدقه ور کوم
زه ژوند او خواني تالا کومه نن
مستي او غرور صدقه ور کوم

ما سر خپل جانان ته ښنلے دی — خمار م د رحمان ته ښنلے دی
خدايه دلبر لوګے کومه زه — ما هو ښن بيابان ته ښنلے دی
زه جوش او جنون لوګے کومه له يار — زه تمک او تکور صدقه ور کوم
زه ښيست او مستي ستا په ښنو ږدمه — زه مينه او زور صدقه ور کوم

زه ورک ليونے د منصور په شان
ليلی له په تميک کښې قمر ږدم
زه مست داسې مست ننګيالے
فقير ته کچکول کښې خپل سر ږدم

خو نه ماسره زر نه مې جانان شته دے — نه ماسره شته دلالونو ډير
جانانه ! جانان د ملنګ نے ته — ملنګ سره وی د سوالونو ډير



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر او ليلى

## شاعر:

دا ژوندون او مستي او خندا زما
دا ځواني او تازه دي يو دوه ورځې
دا مې سترګو کښې ستا د شونډو رنګ
زور د تور پلو دي يو دوه ورځې

اخر تلونکې هغو تيارو ته يم
چې د کومو تيارو نه راغلې يم
اخر ځم به بيا هغې ځکې ته له
کومې ځکې نه چې زه غځولې يم

دا ځواني لکه د سپرلي ماښام
يو لمحه د ساز يو قطره د نور
دا خندا امستانه حيرانه ستا
يو جهان د رنګ يو ذره د نور

ستا د سترګو جانان مستې ورو خوند
ستا د شونډو خوږو او مغرورو خوند
ستا د ګوتو پښتو او غمو خوند
کړيکه د ښت اي او حورو خوند



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دستر گو بنا یست او د شونډو خوند
او دا سوز او ساز او ارمان زما
د نسیم چپه او د ګــل غوټۍ
او مســتانه حیرانه جانان زما

دا یو تلونکی تلونکی کاروان دے
یوه قصه ده چه وشوه او تیره شوه
دا یو ښکلے ښــکلے تصویر د خیال
یوه تپه وه چه وشوه او هیره شوه

باقي یو مغنه د تیارو جهــــان
باقي یو مغنه، د رڼا وطن
باقي یو مــغنه، خوانی داشان
د خوبونو او د خنـــدا وطن

## لیلیٰ :

یوه لپه تږینه واخله د ک د دریاب د مینی ببېږی(۱)
دا ته وله په ژړا و ے، چه پیاله یم دریاب نه یم؛
تول جهان د نوړ د ک د ی کله: خان د نوړ د ک کړه
دا ته وله په سلګو ے چه سپوږمۍ او آفتاب نه یم

---

(۱) بمبېږی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اې نایکه! (۱)

اې مالیاره د دې چمن! — اې نایکه د دې جهان!

اې د نرګس او نسیم ربه! — اې سرداره د دې مکان

دا خلیفه او مجنون ستا — ستا د شرابو او حورو خان

دا ستا د ګوتو جوړ ګلاب — ستا د چشمانو مخمورو شان

تا خو جوړ کړې د مېنې له — ګل دې کاته بیابان له

ته خود مېنې لېواله وې — تا خو عاشق کاته خان له

تا خو ښېلو او رحم له — سترګې ښیسته د لیدو کتې

تا خو خمار او خوږ والي له — شونډې د پېژندو کتې

تا خو خپل شان او کمال له — ورکړه موقع د کمال او شان

ښکله دې سترګو دیدار لره — ورکړه رڼا د هلال په شان

تا خو پېغلې دلربا کړه جوړه — ستوري سپوږمۍ او سبا کړه جوړه

تا خو اني مستي ورکړه — تا خو شيرين او ليلۍ کړه جوړه

خوږ ړوند او کوڼ شمکور همه — ګل او تجار او جانان نه یم

---

(۱) بادار - څښتن.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د غضب او سرو او ژړ ډک　　　رنګ او مستي او خمار نه وینم
تا کړ جهان د خندا نه ډک　　　ما کړ د شور او غوغا نه ډک
تا کړ سرور او مستۍ له جوړ　　　ما کړ د غم او ژړا نه ډک
ما کړ د وړونو په وینو رنګ　　　ما کړ د خوار د آزاره ډک
ما کړ د ظلم او زور وطن　　　ما کړ د مرګ د غاړو ډک
تا کړ خوانۍ او دلدار له جوړ　　　تا کړ خندا او خمار له جوړ
تا کړ سپوږمۍ او ستورو له　　　ما له پسرلی او یار له جوړ
خو ما کړ د وینو او چغو ډک　　　ما کړ د سوز او ارمانه ډک
تا کړ سرور او مستۍ له جوړ　　　ما کړ د غم او ژړا نه ډک
اې مالیاره د دې چمن!　　　اې نایکه د دې جهان!
دا دنیاګۍ دې سمباله کړه　　　دا دنیاګۍ دې په تلو ده خان!
ګوره! علم او زور دې خوري　　　ګوره! هنر او شعور دې خوري

نور دې د آدم آدم خور شولو
وګوره! ورور ته ورور دې خوري



A .S.K B

# ژوند

چه خمار مستي ترې وځي — شراب بنې ترخې اوبه وي
چه سرور غرور ئې نه وي — دا ژوندون د ژوندون دځه وي

چه د مینې زړه شي پاتې — لکه ګل وي رژېدلې
یا شعله یوه د نور وه — یا یو موټې د خزلې

چه په ژوند کښې سخته نه وي — لکه بې مالګې طعام
چه په خوله کښې خندا نه وي — لکه ډک د خاورو جام

چه ځواني کښې تکلیف نه وي — لکه پټه میان کښې توره
نه ئې برق شي نه شرنګ شي — په زنګونو شي نځوره

چه آرام وي او سمام وي — او یاري په جایداد وي
خو یا نوم شیرینۍ وي — مړه تر وړو فرهاد وي

چه ئې سر په خندا وشي — هله خوږ راز و نیاز شي
چه د سپینو تورو جنګ شي — ښکاره هله کښې ایاز شي

ژوند که تش نیرنی خټمل وي — دا خو به هم شي خټلې
که تش نسل زیاتول وي — دا غوبې هم شي کولې

ژوند نه خیته نه ماڼۍ دی    نه ډېرۍ د سرو لالونو

نه یاران نه معشوقې دی    نه باغونه نه ګلونه

ژوند خوځله دی په یو مخه

غورځېدل او پاڅېدل دی

تکے سوز او تکے ساز دے

څه خندل دی څه ژړل دی

ژوند په سترګو د عاشق کښې

پلوشه د خمار

په صحرا کښې لټول دی

د آشنا د کوڅې لار



حیدرآباد جیل
۱۱/۹/۱۹۴۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

مینه مینه م کوله خبر نه وم
چه د ورځې مازیګر او ماښام م شته

لکه زړکه د سپرلي وم په چړ چقو
خبر نه وم د ښکاري سره دام م شته

دنیا ښیپې ښاپیرۍ په بستر پروت وم
خبر نه وم چه رقیب م په بام م شته

د ساقي په سخاوت باندې مدهوش وم
خبر نه وم تښیدلي د جام م شته

سپینه شمع د محل په خندا وائی
د رڼا سره د سولو سام م شته

دا ویل لیونې وک دریاب له لاره
آ ورو بل چیرته یو ښکلی مقام م شته

خوږ خوږ چه د ملا دروغ معلوم کړه
دی وئی هلته مستۍ انتظام م شته

حیدرآباد جیل سند



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبادت

دملا عبادت کسب — پاڅېدل او کيناستل
دحلوا په ارمانونو — تل الله الله کول

دملا مينه عجيبه — په پيتي مينېدل
او دحورو لمغرو ته — دخر چوکومنېدل

دصوفي عبادت ويرده — سوځېدل او ژړېدل
دحمن رحيم دنوم نه — رپېدل او وېرېدل

دصوفي مينه عجبه — دزړه کل مراوې کول
بې کنار دريابِ حسن — په کوزه کښې بندول

دزاهد عبادت څرده — سوال منت ژړا کول
په جنت او دے دنيا کښې — دفايدے سودا کول

دزاهد مينه عجبه — په خپل ځان مينېدل
درياسپي جوته کړے — دلربا له ورکول

دغني عبادت مينه — ځان جانان کښې ورکول
دمينو سترګو شرنګ ته — ګډېدل او خندېدل

دغني مينه عجبه — تول بيلاتْ(*) هيڅ نه ګڼل
داخپل ځان او جهان وارة — يو خمار کښې ډوبول

---

(*) بيلات، بابېزل.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا ایلم توتیان

چا بند کړي دي پنجرو کښې — دا ایلم[1] د سر توتیان

چا عقاب په لاس کېنولې — د مرز هسې چغولې
چا منصور په سر او سپینو — او خوږ و باندې غلولې
چا قسمت په زور تړلې — دکوډۍ هسې لوبولې
نن د کومې بادشاهان دي — سکندر او شاهجهان
څوک څیولې (۲)، شي کوه کښې — سمندر بې پایان
سیلاب چا دې منع کړې — په بندونو د شنو شګو
د قسمت په کوړ کښې نښته — شمیر د ډیرو او دلېرو
بادشاهي لښکرې اړې — تل د وږو او د تږو
فقیري چه نقیرې وي — بادشاهي ترې شه قربان
چا بند کړې دې پنجرو کښې — دا ایلم د سر توتیان
چا سرود په لاس کېنولې — څوک مستي شي سوځولې؟

---

(۱) ایلم: د سوات په سیمه کې یوه هسک غر دی. (۲) څیرولې: څایولې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهار ولولې څوک شي — څوک د پسنبو لاندې کولې ؛
کلکونه ژوندي مړه کړي — ژوند څرنګه شي مړ کولې
چاد بوټين منع کړې — ښکلونه د ريحـــان ؛
چا بند کړي دي پنجره کښې — دا بلبل د سـر توتيا ن
بلبل ناست بندي پنجره کښې — د سپرلي خوبونهويني
په شهشم زير ميدانونه — د نرګس ګلونه ويني
سره ګلاب مست او خندان دي — د لولو پر ونه ويني
ولي (۱) ريبارته راشه تو — دا پيغام د غني خان
څوک اچولې شي کوزه کښې — سمندر بې پايان ؛

# سزا او جزا

هيڅ په پته دې پوه نه شو — د سزا او د جـــزا
تا ته يو د ـــــې لويه خدايه! — هـم خندا او ژړا
څوک سبيستوانې کړې خارنه — په يو خيال باندې مين شي
څوک غمونه ويني وغبي — چه په مال باندې مين شي
څوک غوته په رنګ او تال کښې — په يو خال باندې مين شي
څوک مدهوش په حق او نور — په هلال باندې مين شي

(۱) والي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخو؛ ستاسې پوهې هرچاته خاندي    که زهري دي که بلا

هیڅ به پته دې پوه نه شوو    د سزا او د جزا

څوک به پټو سترګو ډوب شي    سمندر کښې د غرور

څوک به تخت لکه فرعون    ناست دې خاندي په سرور

څوک به څنګه پروت ملنګ وي    یاد دي قیصې د لور

څوک به وینه مور خندانه    څوک به مینه کښې رنځور

روند قسمت د زړه ئې نه کړي    د فرعون او د موسی

هیڅ به پته دي پوه نه شوو    د سزا او د جزا

عجیبه ده فرق نشته    د غرور او د نیاز

عجیبه ده بیلتون نشته    د یزید او د ایاز

عجیبه ده انعام یو دی    د تپوس او د شهباز

تا ته واره څپې یو دي    که د ویرو دي که د ساز

تا ته یو دي لویه خدایه!    هم خندا او هم ژړا

هیڅ به پته دې پوه نه شوو    د سزا او د جزا

یو خوا سرې سترګې شاهین    په ځنګل کښې پروت ژړېږي

بل خوا زیړې سترګې شغال    په ځنګلو کښې لوغړېږي

یو خوا ننګ مینه او توره    وهدېږي سوځي او ړنګېږي

بل خوا چل د مکر د دروغ    راخورېږي زرغونیږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آ ستا غښتې لا په څه شوې؟ د قسمت او د سزا
ما ته یو دې لوبه خدایه؟ هم خندا او هم ژړا

# ماتم

ذلخونه دې غم له جوړې ستا دا سترګې د غم ډکې
چا ته بزبره ارئ د افسوس او ماتم ډکې
په ژړا باندې چا نه دی، سرې ماڼۍ آباد کړې
په شیرو باندې چا نه دی، مړې بیرۍ آزاد کړې

د استا کوتې د پولاد و تش دعا زارۍ له نه دی
د استا متې د مړانې جوړې دې خوارۍ لمنه دی
د استا زور پښتو او توره، ستا د سره وینې غورځنګ
چه د ابنکلی سره ښتیې ښی خوا ښکارې دیر بد رنګ

پاڅه پاڅه چچه وکړه ستا د سره وینې غورځنګ
نه آفت نې نه غضب نې د سور تناره یو ګوزار دې
ستا د لاس د قسمت لاسر دې، ور انو جو ښه لالی کا
ستا په سترګو کښې اجل دې، د وګړل سوځل دوی کا

د زعون د کور په شانې د احصار خاورې ایرې کړه
د امغرورې سر تس نس کړه د اغرورې ذرې ذرې کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاخه و ښیه دنیاته د پښتون دچو ننګ
پاخه واوره شغالته ، د ویستلو تورو شرنګ

## پلوشه

زور شومه زور شومه مسلمان نه شومه
ارمانی ډیر شومه
خو پښیمان نه شومه

## شاعري

د سکروټو بیخ مې وښکه سر مې خوږ که په ګړ ولو
ډیر مې سر ونه مې را یاد کړه یو هم نه دی د یاد ولو
نه ټپه شوه نه چاربیته نه غزل نه نیمګۍ شوه
نه قصه شوه نه بدله نه ساقي شو نه کوکۍ شوه
شاعري مې یارانه ده نه په زور نه په زارۍ شي
نه په چل نه په هنر شي نه په مال نه په خوارۍ شي
شاعري لکه باران دی کله تند او کړ زهر شي
ناګهانه داسې شړق شي چه صحرا مې سمندر شي
کله نرم نرم پښم پوست نازک نازک شینین



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نسیم په شان مستانه
د مخمل هسې مهین
کله سبه درنه شیبه شي
په اوږده صحرا وریږي
کله تور باران د ژمي
نه کمیږي نه وریږي
کله شر د پشکال شي
چرته لمر چرته باران
عجیبه لکه د ژوند
څه خفه او څه خندان
کله داسې سوکړه راشي
باغ چمن شي کربلا
لا د خاورو وتې نه وي
چه بیا خاورې شي لا لا
کاش چه وي زما په لاس کښې
د وږمو غوړ ښتې
ما به هر وخت ښکلې ښکلې
سپینې لړې راوستې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځما بنام به یم جور رولو | په قبله د بودی تال
ځه د رخ به یم ستایلو | د اشنا د زنے خال
ولے څه وکړم جانانه | واک د بل اختیار د بل دے
دا په تا مینے ستړی کے | د دوی نور خمار د بل دے
دا چه ته پرے راته خاندے | د دے سرے شونډے د دے چار شم
د دوی نیست مستی د بل ده | د دوی سره سینګار د بل دے
(او بس:) دا د دوی واکمن دے | چه زه ویم د ته غزلے
ته نیسته په پښتو سترګو | راته ګورے غلے غلے
چه سات ګړی مشغول شو | بیا به څو زما بلبلے:

مونږ له تورو اوږدو شپو
دی د ماڼ د دیوے بلے

حیدرآباد جیل
۳- ستمبر ۱۹۴۹ء

## ټک

مالہ قصده د روغو تا ته وخوړو قسم
بے وفا ژبے یم هسے تا ته وے صنم صنم
ستا معصومو سترګو وکړو په تکی باندے اعتبار
لکه ونیسی ماشوم چه په خندا خندا بناما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چه ستا په سرو لبانو قسم وخوړه ما بنام
د شرابو په نامه مې ډېر کړ ډک د خاورو جام

ستا معصومو سترګو نه وې لباسي سترګې لیدلې
خلک ډېر پکښې روښانه شوي د مینې ډیوې بلې

زه وم غل د دوو څاڅکو تا د حسن دریاب راکړ
ما په چل چړنګ د کولو تا د مینې سیلاب راکړ

تا د خپل ایمان په زور زه کافر کړم مسلمان
زما زړه کښې دې کړل خاورې د تنګي مه بوتان

ستا د شونډو غلا له لاړم خپل ځیګر مې پکښې بایله
د خوارۍ او تنګۍ جمع ټول دفتر مې پکښې بایله

جام مې ورته ونیوکوټ له دوب د دریاب کښې د سرو د شوم
د منصور پېښو له لاړم لیونی شوم نه منصور شوم

لیونی نه زړګی یو ور، نازنینو، موسکو شونډو
غلا له ته په داکه واوریدل زړه نه وچاوډ په منا

حیدرآباد جیل
۱۲- ستمبر ۱۹۴۸ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګډې وډې

یاد مې باندې کړې دې — خیال پخوم پلاو
ځان له سیخکي وریتوم — د زړه داور په تاو
ناست له کمه منزلکې یم — جیلخانه کښې په دې ساو
څوک به ترې خدایه! — د قسمت د پیشو میاو
خلاص کړې نه په چل شو — لیو نې او نه په داو
ګډ ځې په ګلزار کړې — نصیب بې موسمه لاو (۱)
ګوره کشمیري ته — په پښتو کوي دباو
کال چه شي کوني، بغ
همم مرغی وني (۲) دتلاو

## پلوشه

کعبه جوړه ابراهیم کړه — زړه جوړ کړې بسم الله
وایه څوک لوی شو او څه کم شو؟ — وایه وایه اې ملا!

(۱) لو. (۲) ورمی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پائوس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لکه واخلي چه ماشوم

لکه واخلي چه ماشوم ډک شکرې دسرو کالونو
خاندي چغې وهي غزني ته پسې پسې په موجونو
دې په غاړه وربه خاندي خو سیلاب ئې کلاب یوسي
نه په زور د سیلاب پوهیږي نه په قدر د ککلونو
دا یې ما دا خپل جمدون[1] د مستې سیلاب کښې لاهو که
په خپل لاس مې خان بندي که د خو قسمه دوزخونو
لکه واخلي چه ماشوم ډک تالې د سرو او سپینو
په خندا خندا ئې نولي[*] په کوڅو په بازارونو
غله والي واه واه د نړزو یه څه سخي ارسلا خان ئې
دې نه زور د دولت وینې نه درد د ونه د غمونو
دا یې ما دا خپل جمدون ړنګ[2] که خاورې که ایرې که
خان مې وتړه په خپله د غضب په زنځیرونو

---

(۱) جمدون، ژوندون. (۲) ړنګ، ورانه. (*) نولي = لوټ، شیندي.

A .S.K B

یا دا ژوند بېلے جنګ دے
او یا زه پهلوان نه یم
ما خوشحوک هم اُو نه لید
چه زوره ور شو په غمونو

زه لا وېښ نه وم د خوبه | چه زیږے مازیګرے شو
چه ئے زه په قدر پوئے شوم | ګلزار تش وُو د ګلونو
اوس نه رنګ شته نه مستي شته | نه سیلاب شته نه ګلونه
دیو خوب لیدو و تېر شو | ژوند شو ډک دارمانونو
باغ د ګلوم تالا شو | دلالونو شکورم تش شو
دالا وا وره ملاجان | کڼ(٭) تنک تنک د حسابونو

وخت او ژوند د تقدیر دے
دیو اورېے بل له بوتلم
دا جهان وُو که یو دام وو
دا ورونو د غمونو

(٭) کڼ: کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقسیم

ځوک لیونی شي ځوک لیونتوب شي
ځوک شي په خوب ویده ځوک رنګین خوب شي
ځوک احرام وتړي مخ په قبله شي
ځوک جلال واغوندي پاکه کعبه شي
ځوک مست بورا شي مسته لولۍ شي
ځوک رنګینه نیاز بینه دَ ګل غوټۍ شي
ځوک یو دَ درد تصویر دغم قصه شي
ځوک ے په مینه مینه په ننداره شي
یو څو ساعته د رنګ دَ خندا تیر شي

اختر تیاره راشي
او واره هیر شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا

قسمت مِ روند جولا دے ناست کړے (۱)، ته په آرام
دَ منو بلو عجبه تنسته بُـد ، روانـه
دوخت ملګ چلیږي زر سپنهي (۲)، پټي تمام
خبر نه یم داخه له او داخه جوړ يُ زمـا نه
زه کر خمه چاپیره تپوسونه کـوم مدام
دَ ګل نه، دساقي نه، دکتاب نه د ملا نه
داخه له دے جوړ شوے دومره اوږد دا انتظام
داخه وي چه ژوند راوړي او مرګ یوسي د دُنیانه
دانګه هسے رفتار دے که لړي چرته مقام
تیارونه دا راغلے لاړ تیار ړو ته ده روانـــه
اوه! هغه دِ ولاړ دے په کلونو کښ خیام
ولي ژوند خاورے اېر د بے دمینے او جانانه (۳)

---

(۱) دجولا داوبدلو دستګاه.

(۲) سپنهي . (۳) ولي: والي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَے درد لرلی ژوندکښې بے خودی کښې دَ آرام
دَ ظلم په دے اورکښې یو ساقی دے مهربانه

دا مست بے خوده سړے، نشه ځوانی او دِلارام
را واخله په شکرونو ئے قبول که غنی خانه

خوشحاله دے جمات کښې اوچت بانګ اودَ امام
وئ دا دنیا بلا ده تښتسته تښتسته دَ بلانه

ساقی د ته ډک کړے دے دَ سور انګاره جام
دا سړے شونډے مے او ردے دَ دوزخ په لاره روانه

دا ژوند دَ دنیا څه دے. لوبے توقے مسخرے دی
جنت کښې شرابونه، سپین غلمان حورے مستانه

سقراط وکړه آوازونه دَ دے تولو دے سرسام
هیچرته رنا نشته بے دعقل دَ جهانه

په پوهه او په فکر کښې دے حُسن هم آرام
دا نور دے دَ رب نُور دَ آدم خاوره کښې ځربنانه

دا خبره دی نه پوهېږی وائی وهم ته الهام
منطق او فلسفه ده چه پے ګرانه شی آسانه

راځه روح له دِ هم ما پوره کړے انتظام
که بُت وی او که ربّ خه بره آمنه دَ خانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو چې رڼا پېره شوه هر خوا ولاړ وُ یوا ملام
هر یو وې زه په سمه یم دانوردې ټول په ورانه
یو بوته ورنږدې شوم منبه مِ ولټول تمام
یو هم نه کړم آزاد د نغښېرونو د سودانه
مستي مِ کته داسې چه نه مې غواړي نه جام
مغوي ډېر ودک، کونکا مړې جوړ وُ زمانه
جانان مِ کته داسې چه مِ هوش واخلي تمام
هر ساز مِ د مستۍ نه همه سوز مِ د ژړانه
دلبر مِ کته داسې چه وي تل رونبان په بام
یو کل درنا جوړ، خبر د مینې اوارمانه
یوازې تر روان شوم ژړنکی کښ مِ ماښام
نصیب نه کیله مند، په هوش جمدو بانډې ستومانه
ورغلې مِ په ولې باندې لاس کمینبو دخیام (۱)
وې په دې کوڅو کښې څه تلې راغلې یم دڅوانه
دخاورو وده آدم آخر دخاورې دې مقام
هیڅ داسې علم نشته چه ژوند خلاص کړي د خزانه
دوخت هره لمحه ده هم شروع او هم انجام
د ژوند راز و نه هرگ کښې دی پټ شوی د انسانه

---

(۱) عمر خیام (۴۴۰-۴۴۱-۵۱۵-۵۱۵ یا ۵۳۰ ه ق)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ئې سرېښته نه لګې یو دایره ده خُله د جام

رڼا د تیارې تا ده او تیاره تا ده د رڼا نه

په خود کښې درد دې ، او د بې خودۍ کښې د آرام

دې درد لرلي ژوند کښې یو ساقي دې مهربانه

دا مست مستانه سر ، نشته ځواني او د زړه آرام

د دې به زیات څه ده کړي ، او زیات څه غواړې د چانه

چاپیره خیشت او رنګ تش د کتلو په انعام

په هر مېټې د خاورې کښې زر ګونه ګلستانه

یو ښاغلي کښې د ژوند ، د عقل ، پوهې ، ګل سمام

زرګونه د نیاز ... بڼې او د بابانه

د تال او ساز او شرنګ او غورزنګ بې میو خمار

دا ټکلي لیو نتوب د بې وجوده شان هوانه

دا سې هنرمند هنر له نشته دې تمام

قسم دې جهانونه شته بنایسته د دې جهانه

د نیش نه زارو ان شوې شودي دا رنګین مقام

چه هر چېرته د ښایې زه ، ورځه وراه خندانه

او پرېږده جولاګې خپلې کله ئې نه په آرام

جوړې د ، چه کم شي وي که وي ګرانه که ارزانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چه دا قوته پوره شي، دا پښتني (٥) نے شي تمام
نوخه په خندا یاره دکدے نه دَ جولانه

چه تش یو یاد او هوش شے لکه بوی باغ کښې بانام
آزاد شے دَ دے تورو زنځیرونو د دُنیانه

بیا به جهان، او نوے هوش، او نوے مست خمار
او به قسمه سرود نورو پردو کښې دستار

(٥) پښنی: سپښنی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیلهر

د کاږغه خوله کړه ژبه د مار کړه
دَ چرګی عقل کړه زړه د سیاږ کړه
مرۍ د سپي کړه چه بنه غیاړ که
ضد د کچر کړه غرور پرے بار کړه
خته د سکلی دیران د ښار کړه
بیا چه ته روند کولال یو یار کړه

تاله به نوے
لیده تیار کړه



A .S.K B

# څوکه

لړې لړې په وږمو کښې یو سپینه څوکه ښکاري
خو په لاړه کښې دي غږونه او دږې دي غمونو
غلې غلې مې رګونو کښې یو ښکلی آواز ډلي
پکښې تور سوري سازونه، زړې پا ښې د کلونو
رو رو پټ پټ مې ځیګر کښې یو همیین ستا غږیږي
عجب ساز د خاموشئ د لیونې کوم سُرونو
او ماته ډیره لویه لاره. د از غو د تیاره پاتې
خو چه دغه څوکه وینم او د مې بل شي په رګونو
دک د کالو کور مې کور شي، همه ګلاب راته پیغور شي
همه خیښت(٭) د ژوندګري پښې تورې لړې د غمونو
زړه مې وائي چه پاڅه پاڅه غني خان لیسې ملنګ کړه
دغه څوکه کښې پټ پروت دي ستا مطلب د مطلبونو

(٭) خیښت: بنایست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وخت

تکه غرمه د لیونو د ګرځېدو دے وخت
لړه، تر مکۍ[*] د یاره دسترګو د لیدو دے وخت
زړه مې مازیګرے د ژوند غمګینه شان نښه لري
توره شپه ژمی د اورولو او ریدو دے وخت
هغه ده سپوږمۍ د ونو څوکو کښې مسکۍ شوله
پاڅېږه لالیه! اوس د باغ د ګرځېدو دے وخت
لاړه ساقي بوده ما شو، خیام هم د بزمه پریوتو
اے د مستۍ جامه دغه ستا د ماتېدو دے وخت
مه ګوره آینه کښې لیلې هسې به دې وژړي[2]
لاړه چه ځواني شي بیا مه وخت د ژړېدو دے وخت

(*) مکۍ: تروبرۍ. (2) وژړي: وژړوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ به ما مټین نشو، اوس ئې هر وخت سلام له ځي
وئ مخ که یاره ماته اوس هونږ د لیدو دې وخت

مګر صبر اوکړه لږ شان اودرم به وجود کښې شته
ډیرم دی سوزولی اوس زما د سوزیدو دې وخت

هغه سې م ساز لیونی ، مست نظر مستولې شي
وینه کښې م اوردمې ډول د ګډیدو دې وخت

سوز او ساز چه لاړ شي، تشخاوره شم نور اشنا یاره!
دره به شم سینې له دغه وخت د ټوکیدو دې وخت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وائی مُلاجان

وائی ملاجان چه په جنت کښې حورې پلې دی
غټې غټې. سپينې سپينې. مستې او بربنډې دی

گوره ښمباتې چه نښې ځای خانه دلاړو دکه شوه
ښائسته نگلۍ (۱) کښې دحورو تې. الحمد قامه وه که څوشوه

گوره داشنا په بيړ لاړې راروانې شوې
تول شهوت شهوت. سرو راسوتې ښځې تشوې

دا وجود د خاورې. دې نه پاتې جنتونو کښې
دا د خاورې گل مستوي دخاورې په کاڼو کښې

خاوره به شي خاوره به احساس اويادبه پاتې نشي
سازسره به لاړ شي خوشبوئي تشې بادبه پاتې شي

زه به حورځکه هم چه ئي غير کښې کينوې نشم
غټو مستو ستر گو ته ئې په سرو سترګو کتې نشم

---

(۱) ورنوکی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا وجود که بیا شي جوړ شهوت خوږ شراب وي
مست مست هلکان چه به هسم بنګلي هم خراب وي
کوږه ملا کې ته دې چه لس ئې دهٔ له کیږه کړي
نه به ورله ګورے او هغه به دهٔ له تیره کړي
او لونه دے راونیسي، لا مور دلته په مخه کړي
تو له خیلخانه به دلته ګرمه کړي او ښه کړي
دغه که جنت وي ملا رَبّ دِ وهٔ له بوځه زر
دغه دله توب نه زما زړ خله دے غوبهٔ سقر
یا خو وجود نه لري یو مست او رنګین خوب دے
حُورے او غلمان د مینے خیشت او لیونتوب دے
یا داته چه وګ که دا رښتیا ستا په کتاب کښې وي
تول غلمان به مرهٔ وي پښتانه به په عذاب کښې وي
تالا ملا جانه رَبّ دِ دهٔ کړي جنتونه ډیر
اوس پوهٔ شوم چه ولے داو بهٔ ډکوے مځکونه ډیر
زهٔ به سوزهٔ دوزخ له خپل غیرت او غرور یوسمه
ځان سره به خپله حیا، خیشت او سرور یوسمه
او روی که عذاب وي تیر وم به ئے لکه خان
نه همسایه لاس شره دَ ښځے نه غلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

ژوند او ساز واړه د باد دی
ژوند هغه بويه چه ساز وي
ساز هغه چه سا پکښې وي
سا هغه چه د نياز وي



A .S.K B

# نرس

د درد مند خوار خلکو
خدمت نه د عبادت دے

لکه مور، رحم او مینه
د حوا اصلی فطرت دے

دا د مرګ سره جګړے
دا نرتوب او شجاعت دے

دا د درد په اور کښې رحم
او تیارو کښې سپین مشال

هر ژوند د ښځے نه دے
هم ئے خیشت او هم کمال

که دنیا ورته سپک ګوري
دنیا څوک دي پیژندلي

د شکورو خــرو کاله ده
هر بلال ئے خاور کړے

لور د خیشت او مور د ژوند
دے له رب پیدا کا کړه

داخو مونږ د شاعرانو
یا ساقي یا دلربا کــړه

د مغرب قیچر تهذیب دا
یو مسته شان بلا کړه

نه ئے مور کړه نه ئے خور کړه
نه د دین نه د دنیا کړه

د حوا اصــــلی مقام
رحم مینه او خدمت دے
دا د مرګ ســـره جګړے
خدمت نه د عبادت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپه وه د سپرلی

شپه وه د سپرلي ژوند رپېدلو په ګلونو کښې
ټول جهان روښانه وو، وه تیاره زما خیالونو کښې
او ښکلي د سپوږمۍ رڼا د مینې د آواز په شان
روح ئې د ژوندون نیوه د حُسن په دامونو کښې
څه دَ ولې ولې په دریاب کښې روک لاهو وُمه
ډوب په بې حسابه لاجوابه تپوسونو کښې
ماوې ژوند قصه دے، یو جنجال چه معنی نه لري
بې مطلبه د ژړلے اور کښې او غمونو کښې
کوز شومه چمن ته د لښتي غاړے ته لاړمه
څاڅکي له دَ جوندم کته کوز چَله سینونو کښې
حُسن باغ کښې او خندل د هر سوال ئې جواب وکا
ژوند شو لکه ناوے د امید په سرو ګلونو کښې
هغه سرے غُټے چه قسمت کښې ئې سپړ دل نه وُو
غُټے وشے سوي د بادلاهے خوړ شوے په بادونو کښې



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ژړې چغې کړه چه ژوند د ړوند دیوه نه دی
نه د غم قصه بندي د اور په زنځیرونو کښې

حُسن دې بس حُسن چه هم خدای او هم جانان دی
د فاني مکان کښې بل مثال د لامکان دی

یو د ګلاب غځ کښې چه ښکاره کوم جواب نه دی
نشته یو هم نشته د منطق په کتابونو کښې

مینه چه تالا شي یو امید شي یو ارمان شي ټول
حُسن په خلا شي تورو لړو د غمونو کښې

ژوند او درد او غم همه کړۍ شي د زنځیر د نور
مرګ او قسمت ډوب شي په دریاب د خمارونو کښې

وخت بابا د تال دې، بې پایانه سمندونه دے
تال د ساز ژوندون دې، چه ګډیږي په سرونو کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کیمیاګر

راته ښکاري جوړ پاست — په آسمان کښې کیمیاګر دے
ګل سره زر کاڼي خاورې — ګل خاورې زر کوي
ډېر کلونه ئې راغونډ کړل — د جانان شونډې کړې جوړې
چه د ډکې لا بو خارې — په کوم ګل ګجــر کوي

د تقوۍ زر شپې کړي جمع
د عشق یو ساعت ترې جوړ کړي
خه به ناز غني ته خانګي
چه دلــبر دلبر کوي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دبوډۍ تال

داکم جانان له بامه جوړ ښکلی تال کښی
رڼا بنډی کړې خنکه د رنګ په جال کښی
داڅه له جوړکه چا، دڅه تصویر دی دا
خوب دی او خوب دی دا. که ئې تعبیر دی دا
که دجنت ورچا لمحې له لرې که
که د وصال ارمان دچا د لمکیر دی دا
که مخ زما دخوانئې، ارمان او خیال کښی
که امید ونه خاندی، مخ دجمال کښی
ښکلې دهوکه دنظر وه، په آسمان کښی سراب
که دکتاب دجمه وان. ډیوه نګین غوټۍ باب
د رباب د رنګ، که ثبوت، چه رب مئین دی په خښت
بڼه صحرا کښی روان، یو دنوروونور، د رباب



A .S.K B

که رنګ د یار د سترګو، د وبلې په خیال کښې
که د جانان مسکې شو، خوب د وصال کښې
تړنګ نالې بهېږې باغ ته ماښام کښې
ښکلې خیالې او ښکلې ګلاب د غم په جام کښې
په مړاوو مړاوو سترګو، وائی نصیب ته وې!
وړې کړې خیشت پیدا، وړې تمام کښې
ناوې خزان، خزان، د سپرلی شال کښې
رنګ او رنا بندیوان د وخت په جال کښې
نوم یم دیر ستړې بهېږې دیر د جهانه ستړې
د خوشحالو سکین، او د خفګانه ستړې
داسې سفر خدایا. نه نې پړاو نه دمه
داهوش په بیړه واخله همه د خدا ستړې
بس تش خزان او خزان د ګل په خیال کښې
یو سور عقاب کېر پروت د غم په جال کښې
ومه یو ښاخکې د رنګ، شومه نه ګل نه تصویر
لمحه خمار وه وړک شو. نشو د سترګو اسیر
یو ساز چه دام کښې د سُر، د چار رباب او نه نیو
یو خوب چه خوب پاتې شو، ژوند او نه که تعبیر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو لال بندی به سینې د کوتې لال کښې
یو بې قراره ښاخکې ، سینه د کمال کښې
ما هم لږ پرېږده بوډې ، د دې خېل جهان ته
ستا د رنګونو ، خندا ، رونې ګلستان ته
زه به یو ښاخکې د رنګ ستا د دریابونو کښې شم
اور د آدم به وښیم ، زور د آسمان ته
پټ م که ، پټ م که ، لږ ، د رڼا ښال کښې
یوه تمالنې راکه . د بوډې تال کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

زه یو مست شان لیونتوب یم     د هوا په اَس سوریږم
که یو رنګ د یار د سترګو     شل رنګونه شم ګډیږم
دا زه څه له وے جوړ شوم     خبر نه یم نه پوهیږم
وے سوز شم، وے ساز شم     یو آواز یم چه غږیږم
دَ زړهٔ پیتو تارخانو ته     یو شغله یم چه کوزیږم
یو سُرور یم چه شرنګیږم     یو خمار یم چه مستیږم
چه په رګ رګ کښې دِاوړ شم     یو لمبه یم چه رپیږم
دا زه نور یم چه برقیږم     که سُرور یم چه سوریږم
حقیقت مِ نشته باد یم     مستول کوم هم مستیږم
په خندا کښې مِ ژړا ده     په خفه سترګو خندیږم
وایا وایا لیونیه !     وے ژاړے چه ژړیږم
او چه برق د اتڼ ولجوم     ستا په وینه کښې ګډیږم
دا زه تش د خیال دهوکه یم     که یو خیشت یم چه خوریږم
که یو مست د باد نیلے یم     په فکرونو کښې ځغلیږم
که تال او شرنګ نه جوړه     یو دُعا یم چه قبلیږم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناوې

اُف دنیا کې پلیتې | گنده د گنده وبوټې
نه یو لمبه ئې د اور | دې کښې غیرت سوزېږي
سړیتوب، علم، پښتو | ډوب او نازک خیالونه
ددې نه ښه شو چنده | حرام حلال مالونه
بال بچ او دین او ایمان | په مال او ښیار ورکوي
د سړو بدل کښې والله | جانان دِلدار ورکوي
لوړ خاندان ښه خصلت | دا هیڅ قیمت نه لري
ښائسته صورت د گلاب | چه حبیب ئې تش کې خوري
دلوُر د خوښې تپوس | وئي دا سپک کار دې
یو سپي ته ئې ناوې ورکې | خو سپې مالدار دے
دمه غریبه سپی ئې ده | چه په ښکاره چلیږي
دلته زر کونه دي | په سړو دولو کښې پټې
په مږ که مال او دولت | ښه په عزت ورکیږي
که په یو نوټ لاړه | دمه ده دمه ده
د زر جریب خرڅه | ترې په څه کمه ده
دا نه تیر باسي څوک | په د سړو بریتو خان!



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دهوکه راکوے　　که دهوکه کړې دخان ؟
مُـلا دغټ پټکی　　او دببرے ږیرے
کُې معربې غُـټې　　دَغوږ تالو خـبرے
ځان او جهان دَیاره　　څه تماشه جوړه کړې
جُمات مُلا سپین ږیري　　قصه دړنه جوړه کړي
لکه غوا خـر څـه لیلیٰ　　په شرنګا شرنګ ورکوي
دے دَله توب له برېتو　　د پښتـو رنګ ورکوي
بیالاړ شي ګټ کښې د کور　　نوتونه او شمارې
که زر پردو کښې پټ شي　　دَله منـکاره ښکاري
او دګلاب هسې لوړ　　که دَسپي کوږ له لاره
خیر دے چه ته موړ شوے　　که هغه خـور له لاړه
اے مصوره دَخیشت　　اے دخوائے الله
اورے سلګۍ دَناوے　　پته بر سـتن کښې ژړا
که وي خنزیر سره مال　　ګل او جانان به اخلي
ستا شاهیان فقیران　　تش بیابان به اخلي
دا دله ګان شو مونږ　　که سـتا قانون دے دا
دا زه چه ویم(*) پښتو ده　　او که جنون دے دا

اے مصوره دَخیشت
اے دخوائے خدایا!

(*) ویم: وایم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسپتال

مستا دجهان کښې خدایا!
یو سور غضب دِ خواری

مړی په زړو دے څخ — دَ روی رسول سامری
که وی د چا موتر — دړه لږ لوے ادبنګلے
دَ عغه پلار نیکه هم — شی ستانه ښه کښلے
بورته به پوزه کړے دے — د ک د غرور شاخیلے
داغل لومبر به غالی — زهرے به ناست وی غلے

زړونه زور شو جوړ
شو ستا د ملک بادشا
که نے وی دغه رفتار
ورانه دِ والـه (*) دنیا

یا ئے که سمه جوړه — او یا ئے وړانه کـه
یا دِ داخپل عاشقان — وړک دَ دُنیا نه کـه
دَ دوی یوه سودا ده — زموږ دهٔ نوږ غموـنه

(*) والہ : واخله ·



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خوښ دې او ښیار وي مال

## دَ لیونو ـــــ کلونه

ستا جماتونو کښې نن — دَ زرو سخي (*) دي ولاړ
په ممبرونو ورته — خرمن شوي سپي دي ولاړ
ستا په نامه مولا — بل ته سجدې کوي
تا ته ئې لاس نیولي — بل ته اسرې کوي
ستا عاشقان مولا — اور کښې ترلي دي تول
ستا غریبان بادشاه — په ژوندون مړي دي تول

دغه دُعا قبوله مې کړې جانانه
یا ئې که سمه جوړه او یا ئې وړانه که

(*) سخي: خرسي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شهید ډاکټر صاحب

(*) (د مرګ په او م کال)

د بهرام بابا چیه ستا په وینه کښې نږتوب وُ
په ځیګر کښې د قام وینه یو سور او ږیولیونتوب و
واچه پے تالوګے له د پښتون د غیرت خوب و
هم باباوے هم اشناوے عجیبه د سړیتوب و
زړ خلمی به تږي قربان که به دا مست د بابا توب و
پاک زړګے د دماشوم و تاله نه د ښتله چلونه
ننګ، پښتو، توره، غیرت وکا کا ستا د باغ ګلونه
دَ هغه چا به پښل تا، زړه د رباب د د رحمت و
په سور اور کښې به خندل تا، دومره مست د شجاعت و
بادشاهي او ملنګي کښې، هغه خوی هغه خصلت و
تخت غوره تا کښې را نه وست، اوا یے ته د ذلت و
زور، زور نه دے او ردے او ردے، سوزي د زړه نه ملګونه
تا د ازور د خان غلام که، ستا په کول د خدائ تونه
چه به زړه د رحمانخ شوم، لیونے او پریشانه
په خپل خود په خپل احساس او په خپل ژوند بانانے ستومانه

---

(*) ډاکټر خان صاحب د باچا خان مشر ورور وم پې عبدالجبار و د (۱۸۸۳ - ۱۹۵۸ ع)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا شنې سترګې به مسکې شوې کړې وے پهلوانه
بې هیڅ کښې قرار نشته. دخپل ډېره دخپلې خانه
دیو اوره بل ته دا نړۍ، سمندته، د طوفانه
بې ستا سره کښې جوهر دی، نه تهمیر جوړې دَ ځانه
که مزار به د ژړل زړه، پښتو به دې زمانه
ماته تل مسکې کاکاوے، مینه ناک او مهربانه
نشته نه به راپیدا شې، پښتنو کښې دا سې ترونه
کاش چې ته دلته کښې ناست وې ما ښکولول د قدمونه
خوتالوې د هاله یوړل دخپل سوی زړه غمونه
دَ ولس د ننګ جنګونه. دپښتون دشان خوبونه
او چې کله را به یاد شې. سترګې ناوینه مې ژاړی
خوښه زوے دارمان دې، تل رک شوے جانان غواړی
که زه ژارم ستا بچې یم، تول خواران د پښې ژاړی
ستا انصاف او ننګ به ستائې. پښتون چرته چې ولاړی
کاکا زه به دې څه وایم. دا خو وئې به تاریخونه
تا پخپله وینه ډک کول. دپښتون ننګ ته جامونه
ستا دَ پاکې وینې څاڅکې، سره ګلونه . سره اورونه
دَ هر پښتون به زړه کښې دے یوا و دوهي توپونه
مارا وری تاله نه دی درا مېلو امیلونه
د جنت بلبلان څه کړی د دُنیا دَ باغ ګلونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پروت یمه یواځې

پروت یمه یواځې، تور غمونه رانه تاو دي
مسې خوځا مړه، سره کلونه رانه تاو دي

کور نه دې جنت دې پکښې زر قسمه ګلونه
مرخواته چه ګورې په رنګونو کښې رنګونه دي

هر روکی قالین کښې د ایران د تلی شانقصه
هغه شان تازه داد دارا د باغ ګلونه

زه په دې کښې ژارم، آزارونه رانه تاو دي
پروت یمه یواځې، تور غمونه رانه تاو دي

لور م خاندان، د محمد نو جدی خانان
پلار م شین زمرکې، د پښتنو یاد په جهان

پاک ښکلې اولاد لکه ګلونه د ایران
مورې دا سې نړه، پښتانه وړ ته حیران

زه په دې کښې سوزمه، اور ونه رانه تاو دي
پروت یمه یواځې، تور غمونه رانه تاو دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه لویه خدایا، دا احسان دے که سزا ده
ژاړمه ګلونو کښې دا څه برخه زما ده

عیش دې راله زهر که آرام راله بلا ده
روږد د تیښتې نښته. تیښته لا توره بلا ده

داسے د قسمت سره زنځیرونه رانه تاؤدی
پروت یمه یوا زے، تور غمونه رانه تاؤدی

ولے دې زه جوړ لکه مشال کړم. ولے ولے
هله شي رڼا چې م په سر لمبے وی بلے

وژنم که دا اور. ګلزار او حسن شیخ نه لے
اور کښې ګل بدل دی، خدا نیکو ستا د کوړ مزلے

چار چاپیره تور د تیرو غرونه رانه تاؤدی
داسے په ښکاره خو سره ګلونه رانه تاؤدی

زه د خپل زړه خان آدم یم ځکه دې پیل کړمه
زه که سل ګیلے کوم که سل ځله ژړا کړمه

یو ښا ښکی د حسن له به تول ژوندون تالا کړمه
هره ساه که اور کړے زه به لا ډیره رڼا کړمه

یا به یو لید لے خوب د هوش کښې را رښتیا کړمه
یا به ستا په در، د اوریت احساس تالا ژونګیر د

بل څوک په ستی کړه، زه ایره شوم نه بلیږمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډانډټ

چې نه خوند لري نه جوش، نه سرود او نه خمار
تش غمونه اغښتل وي، د جنون او د دلدار
تش بې خوندهٔ کړو بې دے، د ډېرانونه د تنظیم
که هر جام کښې د غه شے وي، خم کړم ځان له افیم
چې هر ټک نے شماوروي ځي ګټے ګړے هر تال
هر یو خیال وُنی تیندکونه، نه ډُلکی نه تهکه چال
څه ضرور ووُ کبے خر دے، د عربو په سیال پرېښود
د شاعر د خیال لیلیٰ له، د په ستړکه کښې خال کېښود
دے وینانه خو چپ سبنه کړے، ښکاریږي لے سبنه او سبنیا
ولے پوئے دِکه جهان چې، ستا خمار وُو کانی خار
سبنه تکرو شه غږ وو نے، تا ته ښکاري چې شهکار
خو کاسه کښې له ماته، او بې سُروه د هر تار
او والله که زه پے پوئے شوم
چې ډانډټ دے که ستار



A .S.K B

# حُسین

دا قیامت دے که معراج دے او که ورځ د کربلا؟
دی د اشکو کښې سرې وینې که ګلونه د لاله؟
سو خمار نه هر وکښې کله دے تړنه د که ده پیالا (*)
څه په جوش ورته روان دے د مینو سربالا
وے خپل عاشق ته اچې د سکروټو کر مالا
چانه وے ګلاب بچې دِ درته غوارم حلاله
چانه اور صلیب او دار کښے هم خلاشے م وصال
چانه سر چانه ګلونه، ژوند حسن او کمال
نن بادشاه د عاشقانو، در روان دے اے جانانه
شان د مینے در ته بنائی، توان د د خاوړے بے توانه
تول جهان تیاره کښې رپی. یو ځرکے ځی روښنا
کوره ستر کے نے ځلیږی. په څه نوی نوره ستانه
ستا منصور ورته پسخیږی. ستا عیسیٰ ورته حیرانه
دا د ده د درد لمبے دی. که د نور ستوری روښانه

(*) پیالا: پیاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ګلاب خان له روان دے . تک تور سوی بيابان کښې
يو سپينه شمع خاندی ، ديو تهر په طوفان کښې
ولے کم خواته روان يئے ! اے حُسينه ولے
کربلا نه ده بلا ده ، په دے ښکو کښې څه ګورے
ولے غم دِ لاخيشته کړے ، پسته ښکلے سترګے تورے
زور او زر ، اقبال او بخت دے هم هما ده هم سوړے
يزيد خان دِ دَجهان نن ، انسان وړے او کمزورے
دَ انسان د شان مثال بنئ دے خرڅ شوی زرک غلام ته ؟
دَ سبا د ستوري تو ږنئ دِ د ژمی تو ږما بنام ته ؟
بره مه ګوره حسينه ، نن ستا خدا ئے د ستا جانان
نه ما دګئ نه پره کئ ستا دے وخت دَ امتحان
ستا اختيار او تقدير يو شو په دِ ورځ په دے مکان
ستا دَ مينے مستئ ګوری ، زور دِ ګوری دَ ايمان
اے د سرو ګلابو خانګے ، نن ما بنام دے دَ خزان
دا کافر ښکے تږے ، ستا دَ وينو په ارمان
څه ورځه زما جانانه ، ساقی لړے ميخانه کړه !
دَ سور اور او سور خمار نه ، تالئے ډکه پيمانه کړه !
اے زما غمګينه ياره ! ، غم د مينے دے حصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور دَ ساز خیشت ادخمار دے، دَ یقین موږ تلو سره
چا چه مو نتے دِ جانان خپل په آرام په د لاسه
نوم نشان ئے مرګی روک کړل، وخت ئے روکه کړه قصه
چه دَ سر سره ئے داؤ کړی مستی حُسن ارمانونه
سُرور زر قسمه مستی شی، خمار زر رنګه نشه
کوره کوره اے حُسینه، کوره دغه دے عیسیٰ!
دغه مست ملنګ منصور، او ابراهیم درب اشنا
یو په دار، یو د اور مېنځ کښې، حُسن ولید دَ دِلبر
بے ګناه یو په صلیب شو، دا زغو تاج ئے په سر
ستا د یاره اے حُسینه، دغه سپین تیغ دَ شمر
هم ایمان دَ هم نړتوب دے، هم قسمت دَ هم باور
آدَے مینے بل مشاله، رڼا راغله دَ سحر
دا د قهر طوفان راغے، که یزید سره لښکر

---

کوره کوره پاکه ربه، عجیبه میدان د جنګ دے
یو خواه زور د تورے صفونه، بل خواه تش حسین ننګ دے
یو خواه زور، غرور او حرص، قت قت په او ښنګ شنګ دے
بل خوا یو مېن ایمان دے، مستانه او په غوږنګ دے
ربه او کوره فرعون نن بیا موسیٰ سره په جنګ دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه شین زمری دی، هم باداشاه دی هم ملنګ دی
یو خواه سترګې دي د کاڼو، هم ضمیر خوړلی زنګ دی
بل خواه وړوکي خوار توتی دی، هم د تندې په سیاسي تنګ دی
دم یو نظر کښې کوږه، نن توب څه چه لیونتوب دی
د آدم د شان قیصه ده، کلک یقین د سړیتوب دی
تول جهان توره تیاره ده، دوئی د نور لیدلي خوب دی
جنګ په تاج کې نه په تخت، جنګ په حق د سړیتوب دی

---

دلمعزوره فرعون ناست دی، که یو مست بېر حیوان
یخ بې رحمه چمچمار، چه چېچه شوی ویران
مري د تندې د هغې لتې، روکي روکي ماشومان
چارچاپېره ترې ولاړ دي قطار ونه لښکریان
یو یو ګل د تندې هړي، د رسول د ګلستان
او یزید ولاړ دی اوري، دا سلګی او دا سوالان
دا بلا د کربلا ونیم لیوه او نیم شیطان
په دنیا کښې دي تیر شوي، ډیر بې رحمه بلاګان
داسې ظالم نه دی شوی، نه به اوشي په جهان
د چینې په غاړه مړه شو، تول د تندې ماشومان

---



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر جګړه کړه حسین، نو بچې زه د حسین یم
څه که نن یم اوږ نږې، زه په اصل شیر ببر یم
راشه او ګوره فرعونه د حسین د وینې اور
لوړ راڅو د ننګه میدان ته، چه ښکاره کړو سره زړه
خونړیلې تماته پټ شو، چار چاپېره جنګ شروع شو
کربلا په وینو رنګ شوه، بیابان ډک د نارو شو
دا د لسو او د زرو، جنګ خونړی وی قتل عام وی
په لکها په زرو خرڅ، د خپل حرص یو غلام وی
د حسین ملګری واړه، په نوتوب کښې حیلې دو
خو سیلاب د توره روب کړه که سل ځله زمري وو
سر تېږې خوړې یواځې حسین او کتل آسمان ته
دُ علیٰ مسکې ولاړ، نه کتل ښکته میدان ته
وے اے حسینه زمونږ وینه تل د خدائے له بچیلے
ستانیکه او بابا دوارو څو څو ځله بیولے
او ربس او رد اے بچیه، چه پاکیږی په فولاد
د شهید وینه مستیږی، تل په توره د جلاد
تول جهان تیرو کښې ګیرو، خپل غیرت ایمان هیرو
چه بنده د بل بندشی، ډیر نسلونه کړی برباد



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوړ مې زهر مې شراب دی، د سړي نه ځان خطا کړي

د غرور ماڼۍ وي دنګه، خو کچه یې وي بنیاد

د آدم نو سانو سو کښې نه بادشاه شته نه غلام

خپله خېټه سړي پېښې کړي، سړیتوب یې شي برباد

بل به مکر په فریب، په دهوکه په چل ولونو

نیم لومبړ نیم زمری وي، په خپل علم کښې اُستاد

رحم روک شي، ظلم ډېر شي، سړیتوب کې سوړ میړ شي

یو سود او ورور ترینه چاپېر شي، هر څوک چل عذاب کښې ګیر شي

قانون مړ شي، زور زیاد شي، نر تالا، ګیدړ دلېر شي

بې غیرته غیرتمن شي، بې پېغمبري بېر شېر شي

زر شي زور د هر چا ځان شي، خوار غریب په ژوند ستوماني شي

بل خنزیر د هر چا پلار شي، که خنزیر سره مال ډېر شي

وزیر غل، امیر داکو شي، ایماندار په سینه لاهو شي

روغ به مړی یا به غل کېږي، چې تول غله ترینه چاپېر شي

تول وطن یو تور ځنګل شي، یو د بل په غوښه پائي

ځناور ترا امان غواړي، چې انسان په کمه تېر شي

علم چل شي، مذهب دام شي، رنګ حلال لو کښې حرام شي

هر بیا لکه ما بنام شي، ژوند به تور آفت کښې ګیر شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت کښې د خدائے رحم ، او رحمت په جوش کښې راشي

چې ته غلې د چا کور کښې ، يو حُسينؑ په کښې پيدا شي

چې که مېنه کلک پهلوان شي ، ورته جوړه کربلا شي

مرګ له نوي معنیٰ ورکړي ، ژوند کښې نوي رنګ راشي

آخر چرته به سپرلی کښې ، پے باران او برقا راشي

ناګهانه وچ صحراتول ، سره ګلونه دلاله شي

څه ورځه وه څه حسينه ، په چپل غښت شکر ګذار شه

ستا شمر سره نيته ده ، سيپلنے د مخ د يار شه

که دنبتيا په ته مئين ئے ، په خندا ورته تيار شه

اے په غم سوي کلابه ، ورشه خمله په قرار شه

حُسينؑ اووے مرحبا ، دا ازانه ده سودا

کاش چې وے م په تنا ، قط سرونه په زرها

او بويو ورکولے ما ، په زر قسمه کربلا

دادے د علم بابا ، لَآ اِلٰہَ اِلّٰہ !

اے بادشاه د يزيدانو ، اے مالکه د جهان

ستا تقدير مے يواور د ،خي په مخه کے روان

کله وسيزي بے وجے ، سپين ګلونه ماشومان

کله تاج د سره په سر کړي ، کيلے ستر ګی شرمنبان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ یزید په لوئے محل کښ ، د شرابو رود روان
د رسولؐ بچي دِ مړه کړه ، او چې شونډے په میدان
دَ یزید په سور پالنګ کښ ، په ژوندون خوړے غلمان
د حُسینؑ جانان مرګے دے ، او پالنګ ئے ریګستان
ظُلم ظُلم دومره ظلم ، وران دِ نه کړو پے جهان
د حسینؑ په زنګدن کښ ، دیو کوټ او بوارمان
امتحان دِ کو دَ مینے ، د حُسینؑ څه امتحان
ولے زړے دَ حیلۀ نه و ، شیر ببر مرد میدان
مکوه مکوه اے اجله داسے نه دے دَ وژلو
دَ آدم نشان او سینګار دے . تا پے اور اولګولو
مُتہ خاوره ، داسے مسته د زهرئ په شانخلیني
ستر سړے نے داسے اور کړ لښکرونه تے تښتیږي
یو مثال د حریت دے . د خپل زړه په زور بلیږي
پټ دَ زړه په تار خانو کښ یو سور ورد چه غزیږي
حُسین او کتل چاپیره ، او ښتو ژوندے او ښتو اور
دے بے حِسه تور ملحول کښ هر ساه شرم پیغور
په دَ ظلم په دِ اور کښ یو ساعت ژوندون حرام دے
دا دے د رعلم مرکیه ، زور او صبر مِ تمام دے



A .S.K B

کربلا ذرّه ذرّه ستا ، ونې به چغې تر قیامته
چه انسان به زور آوره په هیڅ شان سر نه کړي ښکته
غلامي نه هرڅه منه دي ، دا چه تیر شو او تیریږي
رتبه داسې زمانه د ژوند د مرګ به بیعه کیږي
په خپل ژوند کښې په هــر چا به کربلا یوه جوړیږي
چه څوک ځي د جانان کور ته په دې لاره به تیریږي
دا یو ستر غمګین مهر دې لوګي کومه نه له تا نه
دا روښتې مراوې سور ګل دي د حیاته د ګلستانه

---

سر دې ورکه لکه نر ، شیر بچې د شیر ببر
نه د خیښت دې څوک ثاني شته نه د دوی دې برابر
اې بادشاه د شهیدانو . نر ځانه د نــرانو
ستا مرګ هغه یاد تازه که چه هیر کړې هر انسانو
ستا د ژوند او د مرګ تول ، ماته او ښو کربلا کښې
څه رنګین سرور دې وا چو لا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰه کښې
ځکه کله نه اوس هم د شپې ژاړمه
ستا د خیښت او نور کمال بیا په دنیا غواړمه
کوم د ته منت دُعا ، اې حُسینه راشه
هر قدم شو کربلا ، اې حُسینه راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ ومه په اور کښې ما وې اور زما قسمت
لمبې دَ قسمت نه وې ، وې لمبې زما دَ نیّت

نه ګل نه دُلبربا منم ، نه حُسن نه بهار
یو ستا دَ سترګو خیال منم او ستا دَ شونډو وَست

نه بخت او نه کمال منم ، نه توره نه جلال
یو ستا دَ خندا راج منم ، بې تاج بې سلطنت

نه چل او نه تدبیر منم ، نه عقل نه تقدیر
یو زیړ دَ سپرلي ګل منم ، ضامن دَ یار دَ بت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپوږمۍ

اې لیونیه ساقي — دلیونو د شراب
ستاجا دوګره رڼا — دخمارونو دریاب
نن مې په سترګو کښې ستا — سوري دَ غم ولیدل
دارمانونو لړې — خاموش ماتم ولیدل
یاده که هیره دې ده — خُما خواني لیونۍ
چه تا به سره لمبه کړه — نه ما نشه دخوانۍ
ستا پلوشو به رانه — آرام او خوب پټ کړه
یو بې قراره ارمان — کښې به مې هوش پټ کړه
چه را ښکاره به شوې ته — لکه مسکۍ محبوبه
خما هر رګ به دې کړه — یو دَ جنون لمبه
بس یو آرمان یو درد — سوز او خمار به شومه
هر سر کښې اور او ژړا — داسې ستار به شومه
یا به دې داسې مست کړم — یو سور انګار به شومه
یا به دې را ورو اُمید — یو سپین ګلزار به شومه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونن خفه غونکے ئے　　زیره حیرانه شانے
سترگے دِ مراوے مراوے　　او پریشانه شانے
پیتول جهان دِ که خور　　مراوے غمگین ارمان
لکه بے وسه مالیار　　په تور ماښام دخزان
نن دِ رنا کبن هغه　　رنگ او سرور نشته
هغه مستی دخوانئ　　دخیشت غرور نشته
سترگے دِ مراوے مراوے　　خفه روانه وے
لکه زما د زړه　　سترے ستومانه وے
هغه جادو د خه شو　　هغه شراب خه شو
هغه د اور لمبے　　او سره گلاب خه شو
زما رنگینه خوانی　　خوږ خت په غلا یوړه
خمار خوانے سر لاړ　　مستی سودا یوړه
ما خان با چا گنهلو　　د بل غلام او ختم
مایو دریاب گنه خان　　دخاورو جام او ختم
خوستا جادو گره رنا　　دخمارونو دریاب
خه شو ستا دک خمونه　　دلیونتوب د شراب
بس هیخ جواب نه کے　　کم خواه ته خے زمانه
سترگے مسکے مسکے　　مراوے خفه حیرانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوې بلا

کله کله را پيدا  شي يو دا رنګې بلا
ژبه ښکلې او پسته  سږې ډک دي د رڼا
هر يو سوال کښې ئې معنی  هر جواب ئې فلسفه
هر دليل ئې ښه پوره  پوهې په هره مسئله
فکر تيز او ښه روښان  علم خور لکه آسمان
دروند په عقل هم بيان  د منطق په تول پوره
دا په شکل فرښته  ده بلا توره بلا
زړه کښې قهر او تياره  باهر[1] سپينه تجلی
د ده هر خيشت او نيت  يا ورانې کې يا علت
دا سکرو[2] تکه د نفرت  سوزي ولو له پيدا
ده ده هر زور د کمال  هر لطيف او مهين خيال
بس يو جال او يو جنجال  ستا د خود او هوش پرکه
ده دا ښکلې ګفتار  دې يو دام د ښکلې تار
د لومبر هسې مګا  را ګيرې دې په رضا

(۱) بام: بهر. (۲) سکروټکه: سکروټه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوئے غازی مست په اسلام　　لیونے په ننګ دَ قام
تاجوری دخان غلام　　یا په زور یا په دهوکه
په مرچل په مره لاړ　　دکمبکاری او ته بنګاړے
دغه سترګے د بنلار　　ستا د دړه دپکښ اسره
سپین ګمبت کښن دَ جمات　　دی پراته لاَت او منات
دا په شکل آدم ذات　　په هاړو ینه اژدها
دده دا شیرین ګفتار　　کفر کفر او انکار
پروتے زړو ته دے زنار　　دده هوش توړ لمبه
دغه علم دَ جهان　　ورته لے نبودے شیطان
دَ ده دا رنګین بیان　　اړ ولے بسم الله
دغه بنکلے سپین صورت　　مقبره ده دَ نفرت
دغه پند او نصیحت　　دی د زهرو پتاسه
دا دلال دے دتیارو　　دسکرو تکو دسکارو
دغه سپینو منارو کښن　　او ورونه دی زرها
دا په شکل فرښته　　ده بلا توړه بلا

هم آفت دے هم وبا
غنی خدائے دے ساته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغنمي تپوس

غوټئ ماشومه کوکۍ
دکه دخيشت سينګاره

الله ته پورته کړله
خفه او بې قراره

وې اې دګلونو خدايه
او ورې که نااورې

ولې کړې ماګلاب
او ګلاب خاورې

ما بنا م د باغ مالکه
ليلى په سيل راغله

وې واه دا زيږه غوټئ
پر يکه و يبنستوله زما

ما بنام ؤ ساز او محفل
تول دخوانئ غوبل

يوازې ناست ؤ غني
غمګين غمګين نې کتل

ليلى ئې خواله لاړه
وې سترګې دې ځه کوي

وازې دي ماته اشنا
بل خواه، بل ځه ګوري

غني دغمه ړکې
سترګې ور واړوې

هم هغه سوال ئې اوکه
چه سار[+] غوټئ وکړې

سترګې رو بنا نه ليلى
غاړه مسکئ غونډې شوه

وې دد سوالونو جواب
چرته منتلئ[*] د ې جا

(+) سار: سحر، سهار. (*) منتلئ: مونډلى.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه بس دے دا — چه ښته د خیښت پۀ دنیا
د عقل تور ځنګل کښې — نه ښته ګلاب نه رڼا
ستا دَ زړه سوالونو — رنګین جواب زۀ یم
چه به تا مستے جوړکه — هغه ګلاب نۀ یم
د دے وړے جهان — دالا جواب سوالونه
بس د رَب شکر کوه — او منعکلوه ګلونه
شکر او باسه چه چا — خیښت او ځواني کړه جوړه
زړه ما شکرونه په دے — چه ئے فاني کړه جوړه
د زړو کالو لیلیٰ — او سل کلیز جانان
د ځوانے خیښت دَ دغه — چه ئے خلاصیږی ستان
چه مستی خیښت بشی خلاص — شکر چه ښته مرګونه
شکر چه خاد رَ ځوانی — تو کوی زیړ ګلونه
دَ وړے وړے تپوس — ئے د ماليار اوکه
زۀ دیو سات سیلانئے — پو تے مستے شه یاره
جانانه کی(*) ځوانے کښې — خوند د مستے او روونه
دے فلسفوله د ښته — دا پاتے تول عمرونه
راشه د سرو شونډو کښې — سوز او سازونه دی
عجب رنګین خماری — د جونډ(+) رازونه دی

---

(*) کی = کوی. (+) جونډ = ژوند.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حساب کتاب

په ژړا ژړا مې عمر په سجدو مونځونو تېر که

نتیجه ئې بس مرګ یو، تور لحد رانه چاپېر که

دقسمت او دَ تقدیر یخه قانون لاړه ګوره شسته ؟

د ځوانئ اورته مې ولې، بیا وې او سوزیدې ولې؟

لاس او خپې مې دې تړلې، او وې شا به کله ښکله شه

هر انسان دې د اتڼ ته، زنځیرونو کښې بللې

دَ مسکو سترګو جانانه لږ دَ خپو مې که دا پرې

بیا مستي د خاورې ګوره، او توپونه دَ آدم

کله شرنګ د خوا خواکښې، کله زیر و او کله بم

د تقدیر کړئ که سسته، بیا زما کله اته ګوره

ستا د عرش په منارو کښې، لیونئ خنداته ګوره

چه زه مست شم په هوا شم، او ړشم تنده شم، رڼا شم

چه یو ساز مست او سرشار شم، نور شم پرق شم، بڅلا شم

روښان تور د مرګې سورې، برند سترګې تکې تورې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو نظر راته راوړئ . یو نظر کښې روک تالا شم
دنیا نور مستي لاهوشي ، مُتې خاوره دَ صحرا شم
اے زما دَ زړه د نور ، د دنیا او دَ خیال رَبّه
دَ خُوانئ د سرو رنګونو ، د مستئ او جلال رَبّه
اے چه زه جوړ تش د خاورے بس د خاورے ومه سیال
ولے تا را کړه ساز ونه ، او کلونه ، او جمال
دا انصاف دے مُتې خاوره ، د خپل تخت پایوله یوسے
بیلئ درو زمکے له راولے ، هسې کار بنایستے یوسے
دلیلئ نه بنایست واخلے خوان بود اکړے بوډا خاورے
نور دیرښه دِ راروان دی ، دُملا هغه چه واورے
مستئ خیشت کمال مِ واخلے ، خپل یو تورِ دِ سینه پرے بند دے
زه دِ لوټ تالا کړم دلته ، ته به تله کښې دِ خه بد دے
دَ ګلاب په شان خوانی دِ ، راله خاورګ کړه تباه کړه
تر مغے به مِ مجبوره ، چه مړ به مِ واویلا کړه
دالږ ژوند پوتے احساس د وخي مرګی له غلے غلے
چه آخر به را نه جوړ کړے ، یو تو یکے شان دَ خزلے
حساب ؟ ستا به څه حساب کړی ، جناب را وسپړو روکړ دِ
لوټ تالا ، برباد دِ زه کړم ، خو کم زور بے دله پر دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ زړے خال

په سپینوګوتو ایرے کړے پوره ته
په ښکلوستړګو یه کښې تلاش کړے
لالونه ګورے ته په دیران کښې
لیلیٰ دا ته نه دا چه مجنون د ے
چه دے مړ باغ کښې ګلونه ګوړے
دا ستا مستی دۀ، او ستا جنون دے
زه؟ زه یم څه، ستا تخیل یم
ستا خوبونه، ستا ارمان یم
بے خودی زه ستا دَ هوش یم
ستا چشمے له زه طوفان یم
چه ستا زړه مین په نور شو
زه شوم شمع زه مشال شوم
چه تا ځان سره دړله وړکه
نو زه ستا د زړے خال شوم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ستا خود دَ ساز لیوال شو

زه سرور شوم زه بلا ل شوم

نه چه طمع دَ سبا شوے

زه سبا شوم زه هلال شوم

نه خفه چه د ایرو شوے

زه یو مست او د روک جلال شوم

چه تلخان په عشق کښ ډوب که

زه مستی شوم او وصال شوم

نه چه ورېے دکمال شوے

زه همه کمال کمال شوم

چه تا یرغه (+) دَ تیغ وکړه

زه قلا شوم زه ډهال (٭) شوم

چه ته وېرے دَ دولت شوے

زه الماس شومه زه لال شوم

چه ته وېرے دَ مستئ شوے

زه منصور شوم زه بلال شوم

چه تا نیت دَ کتے وکه

کله دام شوم کله جال شوم

(٭) ډهال = ډال. (+) یرغه = ډیرغه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه تا واغیستم جانانه
زه بنائست شوم زه کمال شوم
چه تا ولیدم دلبره
زه هلال شوم زه مثال شوم
چه ستا زنه په کسم لوړه
بس زه ستا د زنخ خال شوم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تيارو غلام

ولې ماله د نور که په خوا د اور — د شغلو په بستر ولې خوب راځي
ولې ماله په جنګ کښې خوانۍ مستي — په آرام کښې فنا بلها توب راځي
ولې ماته دلرو په سوري کښې — د جبلونو توانخانښت نمايان شولو
ولې ماته هر کال مستانه او مست — په مابنام، په مابنام د ځان اشنا شولو
ولې شور د وجود زما ساز شولو — ولې ماته ارمان خپل اياز شولو
ولې ماته د ژوند همه نور اورنګ — يا لښکرې يا شاهين يا شهباز شولو
ولې ماله د ژوند کل سوب ضرور — نه نياز شولو نه انداز شولو
ولې ماته خانښت دهر ښه او تال — د غمونو د دردونو آواز شولو
ولې ماله د نور که په خوا د اور — ولې ولې شو سپين مې مرګ د تور
ولې ژوند بس پيغام او مطلب د ګور — زما سور ګلاب شو غلام د اور
ولې ماله همه خوشحالي د ژوند — يو تنګ تورې مطلبه تصوير شولو
تش په خان په جهان پسې ژارمه — زما ساز هم مرګ هم هم وير شولو
کمزوري د وجود او خيګر زما — زما خود شو قسمت شو تقدير شولو
او زما د تيارو تاريکو غلام — زما خانان شو امام شو او پير شولو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مینه دعوه دَ ډېر غرور شوه  —  زما حُسن لیدل د راندو شولو

زما زړه شو غلام دَ وجود ټها  —  نظرونه یې د لیدلو شو

تورې لړې، او لړې او کړې خوب  —  نه اُمید شولو نه ئې راز شولو

زما ژوند، یو سلګۍ د شکست شوله  —  چه نه سوز شولو او نه ساز شولو

خپل وېجاړ ژوندون پسې ژاړمه  —  زما ژوند هم مړ کړه هم ئې ویر شولو

چه دَ عقل رڼا مِ یو برق وکه  —  هغه هم د تیرو یو تصویر شولو

ځکه ماله هر تال او سر وړه ساز  —  د غمونو د دردونو یو راز شولو

ځکه ماله دِ نور که په خوا دَ اور  —  ځکه ورځ مِ دَ شپې د ړُند آواز شولو

دَ ژوند هره شعله، شوه لمبه د اور  —  هر اُمید، ارمان، یو دهوکه دَ ځان

زه غلام د تیارې په پنجره کښې پروت  —  کړیکې وام (*) چه نو یم دَ کل جهان

زه چیغې په ویران کښې غزیږمه  —  ړندې سترګې مِ رنګ دَ بهار نه وینی

زما ونه کښې اورې د خزاو دَ ویران  —  دَ یار سترګو کښې مې راکې خمار نه وینی

زه لوئے شوے صحرا او تیارو کښې یم  —  دغه شګو کښې ستوری هلال کم دے؛

زه یو تور او او نبیار شان کو نکتې یمه  —  شمع چیرته دُ، سپین دِ ښتا کم دے؛

دا اُمید، دا خیشت، یو دهوکو د ځان  —  ژوند تیاره ده او مړ سمندر دِ تور

زما سر کښې سپوږمۍ او کلونه شته

خو هر رنګ دِ تور، لکه کوږ کور

۱۹۶۵ع

---

(*) وام: وهم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوزپ

دَ مغرب دَ سوی زړه نه یوه سوے کړیکه وځی
جنګ دِے دا سبے درد وے اوس هم ربی اوس هم سوی
ماشومان ګلونه ښکلی
امیدونه نیازولی
د سبا خوبونه خاورے
پرونی سازونه غلی
دَ یو بم په سُور انګار کښی تول ذره ذره هیره شی
دا تور تم چه په چا تیر شی وړه ته تول جهان تیاره شی
ژوند یو توقه بے مطلبه
رک دَ دړده دَ غضبه
څه ثنا به دَ رب واوړے
په سره تیلو کښی دَ کبه
دا رانډه په بقو کوری. لمبو سوے ئے نظر دے
دوی بینا اُوته رانده وی. او چغرے پیغمبر دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ماښام مغرب راوړي، شپه راځي د دې د کوره

د مشرق رنګینې خاورې، تا نه تل ختلې نمر دې

پاڅه پاڅه راپیدا که یا یو بد هم یا مسیحا نن

کنې لاړه تیاره ویره دا ړنده شمله د دُنیا نن

ورته او وایه چه مرګ بس د ژوندون دلیل تول دې

د ژوند سره ګلاب بې بنج دی، مرګ که تور د ازغو ښبود دې

که مرګ نه وې ژوند به نه وو، هر ماښام به د پوهیږي

بندخلکه به ورځ پوه شي، چه ماښام کښې تیاره کیږي

انسان نه ده تشه خاوره، چه پخاوره کښې مټۍ خاورې

ده کښې ساز یوا بدي دي، که لږ چپ شې نو ته به واورې

ده کښې سوز ده کښې مستي ده، ده کښې مینه او خمار دې

دا به کم لحد کښې بږدئ ته، ده له کم قبر تیار دې

آ غلامه زنځیر د تیاره کښې پروت، خان که هیر لږ چاپیر خوار کړه

د جانان د خاښت او د مینې نور، پر هر خوا برسیره خوار کوره

هره بانه کښې ژوندون لازواله ژړنده، هر ګلاب کښې دریاب سره دې

بدلیدل د ژوند د دوام ده لاره، کوره هره غوټۍ کوره لحوړه دې

١٩٦٥ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اے زما وطنه

اے زما وطنه د لالونو خزانے زما — ستا هره ذره کښې دي د تورې نښانې زما

ستا سر چې وي تیت نو زه به شان و شوکت څه کړمه

ته چې خوار و زار یې زه به مال او دولت څه کړمه

ته چې روان ویجاړ یې زه به خواب او راحت څه کړمه

مستې به دې خاورې کړم په وینه مستانې زما — اے زما وطنه د لالونو خزانے زما

عقل مې ایر شه ستا د پاره د فکرونو نه

سترګې مې قربان شه ستا د پاره د سوچونو نه

زار شمه قربان شم ستا د خاورې د کورونو نه

ستا ذره کښې پردي لګې تلې نه مانې زما — اے زما وطنه د لالونو خزانے زما

یا به دې زه سیال کړمه وطنه د جهان

یا به ستا په خپو کښې تورې خاورې کړم خپل ځان

ځان به دې د ورے کړم خو تا به کړم ودان

نو زمه پښتون یم تا ته یادې افسانې زما — اے زما وطنه د لالونو خزانے زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنّت او دُنیا

چه مستي وي او ځواني وي او جانان وي او ډک جام
ډېر کلونه، لږ یاران، او غمګین غوندې ماښام

عشق څه او روي او څه نور وي زړه لېبې لکه تنور وي
په دې ژوند به زه ور زار کړم جنتونه ستا تمام

خو دا کته په دې وګړې چه هېڅ رنګ له قرار نشته
هر ساعت. هر رنګ د ژوند، ستا د وخت یې کس غلام

او جنت کښې مُلا وائي وخت به وي زما غلام
د کچه روک شي او زه شته شم، تول به وران م شي تمام

چه زه تول غم زلي یم، زلمي توب به یو عذاب شي
ځکه اوس را باندې ګران دي، چه ئې خیشت شي زر تمام

تل سپوږمۍ د څوارلسمې، تل جانان د شپاړسمې
تل ځواني، سیند د شرابو، دا دوزخ دې که انعام

دې دنیا پسې به ژاړم، دا تیاره هلال به غواړم
هره ورځ به یادومه، نرۍ لړه د ماښام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمنګ د حورو وفادارو ، بې وفا جانان به غوارم

ستا آدم په ذات ښکاري دې . د ښکار خوند کوي مرګام

د مستۍ د سېند په غاړه ، ثوابي روژې به نیسم

اسویلي به کوم یاد وم به د ساقي نیمګړې جام

مړ چې ابدي شي ، یو آفت شي یو عذاب شي

بس یو تماسره مزه کا دا ازل ، ابد ، دوام

ښکلي نوې رنګ محل کښې نوې نوې جانان غواړي

بیابان کښې سره ګلونه ، تورې شپې ، چراغان غواړي

تل تیاره کښې د روکېږي . تل رڼا کښې هم رنډېږي

دا بچې د تغیر دي . یو حالت کښې نه ټینګېږي

که ده ستا جنت له یوړم ، دا فطرت او دا وجود

یو څو ورځو کښې به سوزي ، په سره سترګو به ژړېږي

اې د لوی فضل مالکه ، ماله دا دنیا جنت که

فارمولې ده آسانه ، د دې توکونه جوړېږي

لکه ویلي م د سرکښې ، بس جانان خواني او جام

چې زما لیونې سرې کله کله مشغولېږي

او هغه بل د مرګه پس م ملاجان سپي خیرات که

تش د حورو په خوبونو که د خوار ګذاره کیږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دلته یوه راکه غونډه . مسته ، تکه سپینه

مینه ناکه . سپینه شمع ، چه لمبې وهي بلیږي

ښکلي ړنګونه نظر کښې ، ښکلي مزاج په خیال کښې

دَ سپرلي هسې خوبونه ، کله نمر کله وریږي

یو څو منه کښې دننه ، یو حرم دَ جینکو دی

کله مسته او سترګه ، کله غلي شي شرمیږي

او زما دې سترې زړه کښې ښکلي رنګونه او لمبه کړې

چه دَ اور هسې سوزیږي ، دلبرتو هسې کډیږي

چه په یو بې تاب نظر مِ دا سې مست دا نشه کړې

میخانې ورته حیرانې او ساقي ورته پسخیږي

دغه زړو بدل کښې ماله دلته یوه راکه

دَ ابد توله خواني مِ ، د خوږ کالو مشغلا[1] که

که دانه کړې اې جانانه ، سره بې حور دِ سبا که

نه مِ هغه لته پکار دی ، نه مِ دلته کښې یادیږي

غنچې غنچې ، سپینې سپینې ، چه نه سوال نه منت غواړي

ارتې بیرتې ، او ږې سترګې ، په نخملو به لغړیږي

ربه ! اې جانانه ربه ! دغه یو سوال خو منظور که

کښې لاړ غنې دِ مړ شو ، وړه لیسې نې جنې[2] کیږي

(1) مشغلا ، مشغولا . (2) جنې : زلې .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه او حسن

ستوري ته اَسمان کښې یو ورځ ووې هلال
خدائے آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم دا خپل ښائست د کمال
ماله که یو څاڅکے مینه را کړي ځوک په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده
حسن له زوال شته مینه نه لري زوال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ریدی گل

یوه ورځ یو صحرا کښې په ښکار وتے وم روان
یو ګلاب مې ولاړ ولید، پر قید د خیشته خندان
زه خفه شوم خواله لاړم، ما وے، اه! زما په شان
ته هم ګل یې بدنصیبه، روک دَ زلفو دَ جانان
نه د جانانو سینې کوتے، نړم مخ له به دِ یو سی
نه به ښکل دِ کړي سرے شونډے دیا سره نازک لبان
هغه غلے شان مسکے شو، وخان مه کوه خفګان
زه به دا صحرا ونکړم، دَ ایران په ګلستان
دلته زه یوا ویکتایم، هلته زه زما په شان
چار چاپیره سپیره خادرے، زه یواز یم روښان
دلته دَ تورے ریګستان کښن زه دې رنګ او نور لمبه یم
دَ خاښت چپه نغمه یم، کرشمه دَ لامکان
ستا په باغ کښې به زر ګونو، دی ګلاب زما په شان
یو بې نومه سوړه دریاب کښې یو بې نوم څاڅکے روان
ته دِ هم په ځیل صحرا کښې خفه مه شے زما د روره
آخر اباسي دیلن له دِ خوک سوے غني خان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُنیا

دا په خپل خود کښې دے دنیا ته کتل
ګرانه ده، ګرانه، ډیره ګرانه ده
دلته شل قسمه دهوسان(*) ګرځي
دنګ د شهباز کښې تیهو سان ګرځي

ګیدړو بوبیت د ببر شیرو اینې
غړ مباکوی لکه شیران ګرځي
خوګ د غړیې خوار لګه ګړنګ کښې
آدم خواره او شرمښان ګرځي

یو غټ پتنګے، سپینه مساپلا مښ کښې
په اوږ د ډیرو کښې شیطان ګرځي
زړه خو سینه کښې دي پټ پټ پروت وي
نقشے سترګو کښې رو ښانه ده

دا په خپل خود کښې دے دنیا ته کتل
ګرانه ده، ګرانه، ډیره ګرانه ده

(*) دهوسان = دیوسان.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا ته کندکښې د ملنګ سامرې
دَ فقیر نوم ئې سپک بدنام کړلو
دے ملک کښې داسے وخت تشے تېر سو دے
بادشاه به سوال د خپل غلام کړلو

فقیرې هیڅ جامه لباس نه لري
بادشاهي تے نوره او الماس نه لري
دا خو یو نور د زړه په زړه کښې بل وي
دَ روح مستي ده، نه لباس نه چل وي

دغه بو بل چه جونکے چا نه شو
ښکارې دے خورئے تا ته دام کړلو
دا چه هوسولکه کیدے کوې
دا ذکر نه دے تا ته ځان یادَ وي

یزید دے ناست په چغو چغو تا ته
په کربلا کښې شهیدان یادَوي
که یو کهلس وُ ما به منولے وُ تول
دغه شماره خو ښه آسانه ده

دا قسمه، قسمه پېژندل منتریان
ګرانه ده، ګرانه، ډیره ګرانه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ګوره دغه دے یوصیب برغ
بریت ئے جنل الګه قیصر نیولے
سترګے ئے دی دَ شاهین غوندے
خومره مغرور ئے دَ سر نیولے

دَ دیرشو زرو په موټر کښ ناست
خومره دولے ئے د ډرائیور نیولے
سُوټ ئے دَ زرو روپو لاندے نه دے
شمله ئے نیغه ده په سر نیولے

دالنګے سپے دے دګیدړ بچے
هر دله توب ته ئے تیټ سر نیولے
نه دے په لور نه دے په ښغه حیران
لوړے ښکاریږی منه ارزانه ده

دا قیصر شکله دلالان پیژندل
ګرانه ده ګرانه، ډیره ګرانه ده
دغه دے یوچه شمله نیغه لری
ګرے خبرے په لاسونو کوی
دوه غلچکی ورپسے روستو روان
ښتے خبرے دَ خونو کوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه معـجزه اوږد کوټ تک تور
د مولانا تور ه قبا بنـکاري
سپین ئې پر توک تور و بو تا نو سره
ښایسته سپین ستورې د سبا بنکاری

دادِ بنهیا[1] اتڼ[2] ئې او بنګې دي
د پلاو رنګه نوم او عزت خرخوي
تا خرڅ ئې، ماخرڅ ئې، اَتڼ خرڅ ئې
چه څه ئې تر غوږو په دولت خرڅوي

دغه رونـغ، دغه بت ستوې شمله
په تش د دکان کښې شان شوکت خرخوي
څه چه ئې ترغوږ ته، بنه داده په وچه
د ده سودا تول ارزانه ده

دغه چه سپین لکه ګلونه ناست دي
دا د رنا ورځې د اکوان[3] ګي تول
ژبې ئې تیزې، چلولې ستر ګې
نیم از مري، نیم لومبړان دي تول

څه بنګلې ئې مخونه او بنـیار
بلا د خبرو سپین قارغان دي تول

---

(۱) بهیا: نیل، ماګنګ مړکه. (۲) اتڼ: دکان. (۳) ډاکو: داړه مار، داړه اچوونکي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په خوږه خوږه کښې ماره کوی
دا نسبې پاخه ښکاریان دی ټول
پښتنې څه دولې قبا پرته ده
مسکولبانو کښې بلا پرته ده

کرځی دنیا کښې په لکهاو تکان
هر یو دِ ځان له یو ښه او ږد داستان
که زه ټول عمر کښېنم، خلاص به نه کړم
دا تعارف دَ دے قلم په بیان

خو په انجیل کښې دی عیسیٰ لیکلی
دے دَ بنده دلید و یو اسمعان
ستر کے کړ کنے دی، دَ روح رنګ ښائی
ستر کو ته ستر کے همیشه ښائی خان

دُعا کوه، وے خدایا لاؤم (*) نه کړی
خو ر په دنیا دَ دَهوسے دے طوفان
چه سمه دمه ده نو کرانه ده
او چه آسانه ده نو وړانه ده

(*) لاؤم: لاهو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چه آدم خاورو کښې کښېنې

سر يتوب چه لوړ او چت شي ليونتوب شي
چه خودي د خودۀ ورځې نو خمار شي
چه فولاد د ونې موړ په مينه مست شي
نو حيران او پريشان تار د ستار شي
چه ترې عشق او جانان د واړۀ وخت فنا کړي
هله پوې سړے په شان د خان او يار شي
چه آدم خاورو کښې کښېنې ځه زرغون کړي
منجيله چه په دولت شي نو بنا مار شي
ماته حورے غلمان مه ښندوه بس دے
په والله که بے له تا م په چا کار شي
دا چه نن پکښې زه مست او مغرور کړځم
سبا خدائے خبر د چا به دا ګلزار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مرګه نه يريږمه پښتون يم
خوږم تش جسد وان او خوشې مرګ ته قاړ شي

زړه کښې دوب د وسوسو درياب بهيږي
جوړ به کله د اُميد رنګين آبشار شي

داخپل زړه ستا بې پروا نظر ته کوږي
کله کله په ژړا خکه شاه تار شي

ساز ژړا ده که مستي ده نه پوهيږم
هر آواز کښې کله سوز کله چغار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

ملاجان وائی ازل کښې تا لیکلې هر یو کار دے
یو له ستر کو کښې شفق د بل له مسې ګلنګار دے
ستا تقدیر هره لمحه کښې دهر یو وینسته والګدار دے
یو له ګل یو له ډلدار دے یو له اور یو له انګار دے
یو به ټول عمر نالان وی، او بل ټول بے پریشان وی
یو نیاز بین به په مخملو بل به پروت په بیابان وی
یو به ترږې د سپی غپار کا. بل خوړل به لکه مارکه
یو به ښکلے ښاپیرے وی. بل به باډوی توړابان[*] وی
مُلاجان وائی اے ربه! دهر خون ته ذمه وار نے
دا ټول ظلم تا لیکلے. ستا د کوتو دا آزار دے
دا بے رحمه افتونه، دا بے خایه رحمتونه
د حسینؓ په مرګے توړه، او یزید د ملک سردار دے
ملاجان وائی تا اینې په آسمان کښې یو کتاب دے
چه هغې کښې تا لیکلې هر آدم له هر یو کار دے

(*) توړابان ویچه د شهزاده بهرام په قول کلوګړ قصه کی یاد شوی دی.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو چه داسے انتظام دے اے زما منصفه خدایه

مانه څه له کے تپوس، نه مِ واک نه مِ اختیار دے

ماکښې دومره طاقت کم دے چه ستا لیک دَ ابد وړاندې کړم

نه دَ زړوزور روخان زه بے وسه خوار غلام

که زه خاندم که زه ژاړم، ستا یو تکے نه بدلیږي

دا بتان دي ستا دکوتو، دا کفر ونه ستا الهام

داحساب کتاب به ښخ وي، دا تپوس جواب دَ ختمې

هر کلاس چه دِ ماښکلے ستا دکوتو وُو اکرام

مُلاجان وائي ساقي هم دتقدیر دکوتو جوړ دے

مُلاجان وائي داخیشت هم تاجوړ کړے دَ تمام

نو چه زه دساقي ستر گو ستا دَ کوږ خان له بو تلم

ماکړه سپینه راوچته په آسمان ماه کلفام

چانه تشکیل کړمه په دام کښې دسرور او درنا

چاکړه جام کښې راته کله په شرابو کښې خندا

او مغه راته روښانه سپینه شمع بلیدله

زه جلبل لکه پتنګ شوم، دَ دے شمع په لمبه

دا به ته په کوم قانون کښې راکوے ماله سزا

تا آسمان کښې بره لیک کړه، او ما اوکړه په دنیا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه اختیار نه وی جانانه څه ګناه دَ چا ګناه
راته ښکاری ملاجانَ چرته تلے دے خطا
که قانون وی که رواج وی که منطق که فلسفه
دا ګنا خوا ے تقدیره تو له ستا راوختـه
که اختیار وی ګنهګاریم، که اختیار نۍ ګناه کم دی
دا خو لاس دېرې کار دے ته په هر څه کښې ټکره
وایا وایا ملاجانه که اختیار راځی قسمت ځی
د قسمت سره دِ وار ه آرامونـه او راحت ځی
د تنا ی لیکلے روک شی، بس سړے د خان مالک شی
که په باغ کښې دِ آرام ځی، که په لار د مصیبت ځی
بیا کیدے شی حسابونه دَ جزا دَ ثوابونو
چه سړے په ښه په بد ه په خپل وس په طبیعت ځی
خو قصه چه دَ قسمت شی، ملاجانه زه بری شوم
تل به ځم په هغه لاره چه په کمه م قسمت ځی
زه موټر، هغه ډرائیور دے ځم په کمه چه م بیائی
که جنات که میخانه وی که په سمه په صحرائی
که موټر کندو کښې پریوزی، نو ګناه د موټر نه ده
دا چه هر قسمه سزائی د ډرائیور سره ښه ښائی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ګناه ده که ثواب دے، زه به دواړو کښې بے وسه
مُلاجانه دا کتاب دِ خوږخه برېغے ژبے وائي

زه بے وسه ګناه اوکړم، بل بے وسه ثواب اوکړي
به دِ دواړو کښې به کم یو قسمت سور دوزخ له بیائي

نړه ابو تله خو سره پ جفا ده دغه بل کښې لا ځاے شته دِ
دے جهان کښې خو به ئے عمر سنبه تیر کړے په خندا ئي

ما دیو بے واکه اوره بیائے بل بے واکه او ړته
بیا دا سا خو یو غضب دے، که دا بعیه ددے سائي

ستا کتاب په دے کښې څه وی لزم بوئے که ملاجانه
یا خو راشه کوده شروع که قلاړ کښې سینه د آسمانه

یا خو تله مله نه ده، د جهات کړه دینګرے ده
یا خو تا څه اکو بکو ایجاد کړي دی د ځلنه

وران او سم د بل د لاس دی که ده وړانه که ودانه
اور او دود او مناماران به چا پیره وی زمانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګ

ماتم وُ د خانانو د میاګانو ډک کمونه
پخې پخې خبرې وې او کلک نه دَ لیلونه
ټولو په نظر کښې یوه لړه یو ارمان وُو
روک شوې ترې منطق کښې وُ د حسن امیدونه
دَ مرګه یریدل دا سې چه ژوندو ورته اوړه
غرې دُ پلاوونو ښکاریدې ورته قبرونه

دَ ټولو سترګې وازې، لکه ا سپې تړیلې
• نغه خغه خبرې او پاسته نه آوازونه
چه زه شوم ور ښکاره یو یار مې پاتې لګیا
لاله دیرې مرشم چه دَ مرګ مخ راښکاره شي

چه فکر یې ور سا نه شي زه م ولویږي خوریږي
د ژوند هر یو امید م د هیرو ذره ذره شي
یو تور غوندې ښا ماروا زه خله نا مست خرې عَلمونه
هر چا ته چه شوې په هر چا دده حمله شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه خوان ګوري نه زوږ د قصر او د ورېدم څه سېږي
که فکر ورته وکړې ژوند یې توقه مسخره شي
او توقه هم بې رحمه، توقه نه ده سر لمبه ډه
دا څه مطلب د ژوند شو چې خاورې خاتمه شي

وې وایه لا اله وایه څه به پته خوم پوې که
په کم هنر به جوړه د ژوند ورانه ماشومه شي
که تا پکښې څه خوند مطلب لیدلی وي نو وایه
زمونږ په خیال خو ژوند یو دَ دې ونود کاروان

ګوتم به دا رښتیا وې، چې پیدا شوې نو تباه شوې
دا داسې جوازي ده، هر یو دا اوړي ده تاوان
یا لس کاله یا شل سره په اور آفت کښې تېر کړي
آخرې چرته تورو تار خانو ته کړي روان

د هغه خا خبرې قیاسونه دي دعوې دي
په عقل چې یې ګورې خرافات هر یو بیان
لږ عیش، لږ ځواني، مال محبوبه، بس دغه وایه
بس یو خیام خبره، نور رانده دي شاعران

زما په خوا کښې ناست یو لیونی وو په خندا شو
وې واوره دا خبرې دَ باچا دَ دسترخان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې دا ژبه د پېریانو، دَ دې ځای دې بیابان
دانشته په کتاب کښې دَ منطق اودَ امکان
نو ټول ترینه را تاؤ شو ښه خېشته او ښیار مخونه
په سترګو کښې تېر وې، خوتندې وُرو روښانه.

وګوره لیونیه خلق وُلي ته مرګ ته خاندې
دا دې ګښې دَ خندلو څه خبره ده آشنا
لږ مونږ هم خبر که کنه، یار چه په آرام شو
که تا چرته کښې پته وي مونتلے مامله

مغه پاڅېد په سپین دېوال نے سپینه کرښه را منکه
وې خان دغه جواب دې دی ښتې دَ مرګ اوسا
مغوی څښې کړې پاوې "والله که مونږ څه وینو"
په سپین دېوال سپین خط چرته لیدلے شي بابا

مغه وې که مرګ نوژوند به هم دَ غمې روک وو
چه عقل دانسان کې بس دَ فرق انداز ه
چه سوری او تیاره نه وي دنیا نشي لیدلے
دروند نظر کښې تل وي یا تیاره او یا رڼا

چه دواړه یکښې راشي رنګ ځانښت حُسن ترې جوړ شي
که مرګ نه وُ، دُنیا کښې خوک به څه پوهېده په سا؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول حُسن د ځمکې د مرګ د تورو سترګو نور دے
دَ ده په تور جهان کښې تول رنګونه د دنیا

که مرګ نه وُ، ژوند به نه وُ، که بڼ وُ سنه به څه وُ
که توره بلا شپه نه وے چا څه کاوُو سبا

راځه زما ګلابه، ژوند او مرګ دواړو ته خانده
په دواړو کښې یو هم نه دے لایق ستا د ژړا

که خوامخواه ژړا دے ځي انسانانه، خاندنه ژاړه
چه دغه په رښتیا، او که ګلا کے دے د ژړا

یو حُسن رب ورکړے دے چه ژوند له معنی ورکړی
او دے غریب ته خاندنه جوړه کړے ده بلا

خزان که نه وُ، نو یو ګلاب، یوه میوه نه وه
که مرګ نه وُ جهان به یو رګ خوب وُ په دُنیا

که نه وے سمندرونه به جهاز نه به بیړۍ وه
که نه وے بلا توب خوانۍ به څه کوله چا

یو زهر دے خواږه له او مستۍ له اور نهاله
د ژوند چینه د خِضرؑ چه یادیږي په دنیا

انسان د ریدي ګل دے، د ده کور دے بیابان
بهار د ده خواني ده، خوځېدونے دے خزان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو ځنې خطا شو، شي به ړوک مو ګلستان
او ړک شي هغه سات د ده د هوښ د احساسه
کم شي چې وړه شي قایم، دا نسم او جاویدان
داړوند کښن چې څه خوند د مرګ جوړکړ یې په ځان
که مړ که نه وجود ون به وي، د ړوکو ړوک جهان





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوآن

قسمته کښېنه په آرام کښېنه — سباله ولیکه چې څه د خوښې وي
د سپین سبا په مخ خالونه کېږدۀ — چرته او چرته تور لالونه کېږدۀ
تراخه بې خوږ مه که تراخه د خوښې وي

خواوس مې یار لږ مسکې شوی دی — قسمته چپ شه ژوندۍ شه په قرار
وخت ته د خدای د پاره ساه واخله — دغه لحظه مې که د کال مقدار
سبا شو ستا خو ښه که یار د واکدار

متول ژوند د ستا د یو بخت زمونږ — متول ژوند مې واخله خو داسې پرېږده
نن د دفتر که بند او ستر ګې پټې — قلم د ما که داسې مات پرېږده
وا ورځ، او ورځ، وا ورځ، دوه خبرې زمونږ

په توره شپه کښې د غم غاټکې نګ — پرېږده چې رنګ دې تول جهان که مه زه
د خزان ستر ګو کښې تصویر د ګلاب — د مقبرې په مېنځ کښې شرنګ د رباب
جمه د خزانې قسمت مې ستا دي واخله
قسمته ماته دا یوآن پرېږده

سباله تور که تول جهان په بېړو — خو دا لحظه ما او جانان پرېږده
بس چې نۀ ولیکم د زړه په کتاب — د خزان ستر ګو کښې تصویر د ګلاب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رنګ

ښه دې په رنګونو کښې زړګیه دخوانئ رنګ
مرګ او غم له ورکی دَ جهلونو جاودانئ رنګ
هن هن په ممبراو محراب کښې تقبور کوی
یاد شو ملاجان ته دَ کوکئ جهد انئ رنګ
زیړه شوه دَ شرمه دَ ډیرس مسته بیبانه
وے لید چه دستر کو د خرې پاکستانئ رنګ
سرلنډې تے جوړکړی چڼړک او قولنګی تے کم
توپ چه کله وُونی په بلُاکښې دخوانئ رنګ
وړې شونډې وخاندی په تش لاس شمله نیغه کی
کله چه شی پوړته غنیَ خان کښې دَ خانئ رنګ

داخوستا په دربار کښې قبلولوله — کله شین، کله سپین، کله تورېشمه
داخوستا قدم په ارمان کښې زه — په ازغو دقالین په شان خورېشمه
داخوماته خپل خان ښکاره کولو — کله ساز کله رنګ کله اورېشمه
داخوزه دَ جهلونو یو آوازیمه — خکه خکه یا شرنګ شم یاشورېشمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کږے وږے

جنګ دُ دښمن کاڼو، چینډ خوبلي نه یوړه
ورانه به ورو شي چه دَ غټو شي جګړه
سره دَ غونډۍ چه دَ سیلاب څپه هوا شي
کنډو، ډنډوکو کښې به نیزو خوره کړي خړه
غم د سباکوُ به سبا، نن دَ نن مزه واخله
خانده خوشحالیږه، وارا کار دَ غوړه زیړه

دا خوبرویو عشق دے چه څنبل کړي بے غرضه
هسے څوګ نارې کښې چاله نه ور ټکوي ګړه
هله به خبر شے چه دکندے مینځ له ور شے
ژاړے به محل کښې یادَ وے به دِ جونکړه
بے سره سَرَ دَ غنيَ نه دے دَ خر شولو سر
ځکه مدام سپوره خوري نصیب کښې نشته غوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصوّر

زه یم ناست خان له جانان یو تصور کښې جوړومه
کله ئې سترګې تورومه. کله ئې شونډې ښکلومه
زه یم ناست د غم په ښار کښې د درنا بخرې پیمه
خُم د رنګ کښې لا خمار شته، زه ترې لپې ډکومه
د سینې کوټو دِ خمار شم. څنګه ښکلې ویش دِ وکه
زه یو څاڅکې خو خُپګر کښې دریابونه ځګر زومه
زر او زور او تخت دِ داغشت. خیشت. نظر او خیال دِ راکه
دَ سرور په سُور طوفان کښې دِ کړه ډوبه لونډ لمعه
دا یو غم دو لیشه پاتې چرته پټ تیاره کښې ناست وُو
رو رو پټ م زړه له راغې لکه مار د ښکار په سمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډکمرغه دي رضا یم د لالونو زرو خـــانه
غم غمه، مرګ م هم قبول دي په خندا نې تبلومه

داخوتا اور اور ګې یو دســرور ماته ببنلي
څکه زه دې تور محل کښې خپل خوبونه بلومه

خلق وائي لاړ بله اشو، غني ســخپلي مستي وخوړه
زه یم ناست د یارو یېنستو کښې د نرګس کلونه بډمه

مرکه نه چرته ګډیږه زه لا نه یمه او ز ګار
خُم د رنګ کښې لاخمار شته زه تې لپې ډکه ومه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَسامری محل

شمعِ نشته دِ رڼا نشته　　وجود شته خو سرور نشته
رو تبدیل او ترقیدل دی　　لمبه نشته دِ اور نشته
عجیبه د رند و بنار دے　　ستر ګے شته خو لیدل نشته
دے کوڅه کښ دَ ملیانو　　ښلنګونه دی جام نشته
دا مکه دَسامری ده　　خانان ډیر دی خیام نشته
یاداکور وُو دَ منصور　　دلته خاورو کښ مستی وه
دلته هوش یو مست جنون وُ　　دلته مرګ خه وُ هستی وه
دلته حُسن دو حدت یو　　د عاشق بت پرستی وه
عبادت دَ ستار سُر وُ　　بند کی خه ده دوستی وه
یا خو دا تا تمام ژوند　　هم آخر و هم تمام
دلته دا زما خوبونه　　هم اَبد وُ هم دوام
اوس دا بنار په ورانید و دِ　　جمات شته دِ امام نشته
هسے نوم شته دَ ګلونو　　د باغونو سمام نشته
هاے افسوس چه جمدون شته دِ　　سر سُرور د جمدون نشته
محل جوړ دے لیلیٰ ناسته　　مجنون نشته مجنون نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے عجب دَ رنګ جهان کښې — سپين غالب دي او تور نشته
روتېدل او ترقيدل دي — لمبه نشته دِ او ور نشته
عجيبه لار مِ نيولې — نه پړاو شته نه مقام
نه جنون نه بے خودي ده — عجيبه زما مابنام
نه ښانست شته نه رڼا شته — عجيبه ساقي او جام
نه خندول نه مستول کړي — دا زما ماوِ ګلفام
او ه زما په دِ جهان کښې — دَ رڼا خوريدل نشته
سترګے شته واز او تشے — دَ خوبونو ليدل نشته
دلته او ګوره جانانه — ستا په غم مستيدل نشته
دلته او ګوره دلبره — ستا د نور بليدل نشته
دلته رنګ نه رنګيني شته — نه شراب شته نه خيام
دلته شرنګ او غورنګ نشته — تور او سپور او نسکور جام
دلته چغے دي دَ نن — نه سبا شته نه پرون
دا محل د سامري دے — نه منصور شته نه مجنون
دلجمدون د تيرو ډک دے — دلته رنګ د خيام نشته
دلته ټول تشويش تشويش دے — اُميد مړ دے آرام نشته
دے تک تور دغم وطن کښې — اور بليږي اور بل نشته

عجيبه دَ رندو ښار دے
سترګے شته خوليدل نشته



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډوړے ځئ پہ شا

چہ زور پہ مخہ وکړی سختہ اوډمی ډیرہ
مازغہ ولہ کډوډ کړی خپل رقیب کاندی اوترہ
ډلړے راشغلہ شی، توپ وچت وکړی پہ برہ
یو تنلہ دځوانئ پہ زور دخپل طاقت نشتہ
کډوړے ځی پہ شا

کډوړے ځی پہ شا چہ بل لہ اولګوی شا
کډوړے ځی پہ شا

وی مړہ خپت مړشی تہ پہ غصہ داسے پہ قار
پہ مړہ چا ددہ دق دے کہ وی موړ او کہ وی خوار
بل روډ خپل ورتہ ښکاری خاص د ښځے خپلے یار
خپل رورتہ اور آفت پردی تہ نہ لری نشہ
کډوړے ځی پہ شا

یو تنلہ پہ ځلوړی، اور د زور، آفت د جنګ
پہ ځان دے نہ پہ بل لیونے کړے دخپل ننګ
کہ ځا دی کہ بے ځا دے پہ بس جنګ او جنګ لہ جنګ
غیرت یولا مسالہ پہ خپل جہل کښں نشتہ
کډوړے ځی پہ شا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جلال

چې زه غوارم د هیروونه مستي سره ګلونه جوړ کړم
د سرو اوښکونه لمبې شوګلې، د زړا سروونه جوړ کړم
د خزان تیاره کړم رڼه، د امید په سمندر کښې
د ګنجکونه لالونه د غُلو پلونه جوړ کړم
چې دا روح م په ښکارا دي، د رنګونو د خوبونو
که نور نه وي د تیروزه رنګیني نورونه جوړ کړم
چې د خیشت شم زه لیواله، د صحرا هره ذره کښې
په زرهاو بوستانونه، په لکها ګلونه جوړ کړم
چې زړه ورته دارمان شم د سپرلي په سپین سبا کښې
بې حسابه مابناتو، بې پایان غمونه جوړ کړم
تورا او سپین زما دسترګو، کله تول کله تلل دي
شپه او ورځ زما نظر دي، وړکول دي او منتل دي
که خندا ده که ژړا ده، دا خپکر مشغولول دي
که وصال دے که فراق دے، خپل سره ته ګلیډل دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه مست شم دَ دیرانَ سره خیشته ګلونجوړ کړم
دَ سرو او سپکو نه سرې شونډې دجرا سره نه جوړ کړم
چه زه نیت د ګټې اوکړم د پریوتې د شکست نه
دفاتح د سترګو کبر او دَ شونډو غرور جوړ کړم
داچه زه ځان له یو تخت د رنګین بادنه ودان کړم
دغلام خوارې بدله د پادشاه په رنګ سرور کړم

داچه ته ئې اے جانانه، داچه ستا مستي رښا ده
دا زما مینه ارمان دې، دا زما ژړا خندا ده
دَ ملا خبرے خو شے، معامله ستا او زما ده
دا داستان دلوګے نه دے، دا قصه دعشق او ساز ده
دے زما سره ګډ پټ راز ستا دحسن او کمال دے
دا زما کمزورے سترګے ستا دخښت حیا وجلال دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا زمونږ غونډے
# ډُرکو کمه لار؟

خوش نصیبه خوش قسمته وے منصوره
خلق جوړ که د ړله دار څخه مزیدار
مارا ورے دے زړګی کښ له ازله
هم منصور هم سرور او هم دار
وایا وایا درندانو بابا وایا
دا زمونږ غونډے دَ ډُرکو کمه لار؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما محترم رور سردار علي خان

## (امير جماعت إسلامي) ته

داچه ته په سجدو پرېوزې اوزه ډک د ميو جام کړم
دا هم زه غواړم فرار، دا هم ته غواړې فرار
ته لټې مخ جهان کښې حورې سپينې ګل اندامې
زه جنت دلته لټومه، نشم کولې انتظار
تا په قرض جنان ورکه، زه ترې نغدو سودا غواړم
دا ته سنه شوې په بيو پارکښې، که ماشنه اوکه بيو پار
شيخه راشه ميخانې ته، چه مقصد زمونږ دوېو دے
ستا د مرګه پس قرار، زما دلته کښې قرار
نور د سوال مقام مو نه دے، ذرا خاموشه يک دے
يو ارمان د دواړو زړه کښې کړي جدا جدا اظهار
پتنګان د يوې شمع، که بينا دے که شمکور دے
دا خوخکه ده حاجې صيب، ليونے دے د زړه يار



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بینوا ته خط

(*)

بینوا په هشتنغر کښې ستا یو رور دلته اوسیږی
بې سرې بې پتې سترګې، پټ پټ شونډو کښې مسیږی

ستا قلم چه ژړا نولی او بنګې د هغه سترګې ډکیږی
تا چه خپل درد په ژړا کړی، هغه دلته کښې ژړیږی

دلته ناست په هشتنغر کښې ستا یو یار دې په رښتیا
په خانانو کښې یو خان خو، ستا په شان دې بینوا

خلق وائی لیونے دے عجیبه کوی کارونه
سره او سپین د ځان ولی چرته کوری زیړ ګلونه

د شرابو جام په لاس کښې اوریده وائی حدیثونه
کله غواړی په مسجد کښې د الله نه شرابونه

تول بې تولہ شان تلل کړی د مرګی او د دُنیا
وائی که سترګې د مرګ نه وې ژوند به نه لیدلو چا

چه نشه روغ وی چرته جمع د به ناست پکښې حیران وی
خپل غمونو نه بې غمه، او پردو ته پریشان وی

(*) د هشتنغر یو کلی اشاره ئی دی، چه د خان صاحب اشنغران نامتو به دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غرمه کښې به بیوازې چرته شړو کښې روان وی
د ملا د ذات دښمن دے، ډیر خوار به وته دمان وی
مات تو یک د منطق واخلی نسبه ولې پرے د رسا
عجیبه ورانے خبرے، مرچکی سره حلوا
ستا په شان دَ دهٔ زړګے هم د مړ خوار سره خوږیږی
په وجود ئے څرمن نشته په بڅرکے اور سوزیږی
زړه ئے ډک د میو جام دے که لږ رڼی نو توییږی
تنبه وګړینه ئے اور دے په لږ تاؤ سره لمبه کیږی
ستا دَ مړ تنګ سره هنګ کې یو ستار دے بے بها
ته دَ نوی قندهار دے دَ زور (۱) دے باشنده
ستا دَ مړ سر سره ډپی، یو شا تار ستا د رباب دے
نیم او سنبیار نیم لیونے دے، مړاو شوے شان ګلاب دے
ازغی ډیر شو خانشت کم شو، واسې دا انقلاب دے
زه طوفان یم سمندر یم، په دغه کښې ژوند حباب دے
زما خاوره کښې ډیر نور شته، تشه نه لری دا سا
زه غرور، ننګ او سرور یم، سره رنګینه م زړا
ته چه کم رنګ کښې غوبه شے دے هم هغه رنګ کښې رنګ شی
ته چه مست بما تن ورشے، دے ګنګروشی په تنګ ترنګ شی

---

(۱) د وادی پینور زاړه نوم قندهار ؤ، ځکه پادوفی بانی دغان مطلب قندهار نه، بلکې ګندهارا دی۔ (ملخن)



A .S.K B

نه چې غم فریاد شروع کړې، دې بې خوږ اکه نهنگ شي
نه چې توره کړې راپورته، دیو سر تر توب په جنگ شي
بل ددهٔ په شان به کم خاخان له رور کړې راپیدا
یارانې له داسې یار، داسې بل د زړه آشنا
ستا به زړه کښې چې کوم نور دې، ما کښې هم هغه ځلیږي
ستا د زړه چینه د رحم، دلته رود دې چې بهیږي
نه چې وینې کم خوبونه، زما سترګو کښې غړیږي
نه چې زانګې په کم تال، په هغې غنی ځنګیږي
بینوا په هشنغر کښې ستا بو رورد لته اوسیږي
بیرسه پټې سترګې، خانه خاندې اوژړیږي
کلتنګ کله تکور شي، کله ساز کله ژړا
کله دوه کښې لړلې، غیرتونه فلسفه
دیر خیزونه رتب ورکړې چې بنا دیږي په دنیا
چې څه غواړې هغه نشته ستا په شان د بینوا (*)

(*) مراد د پښتو ژبې لوی لیکوال او شاعر مرحوم استاد عبدالرؤف بینوا (۱۳۹۳ هـ ش مړ) دی چې پښتو ژبې ته یې په نظم او نثر کې ډېر خدمتونه کړي دي. او څښتن (؟) آثار یې هم چاپ شوي. د ده په علمي کیدو او ... نې گټه ... نې پیدا شوې دي. استاد عبدالرؤف بینوا (خدای دې وبښي) تر څو سوو زیات مستقل آثار او لیکنو ... مقالې مونږ ته پرېښي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

هوش دِ دَ علمونو نه جدا جدا روان شو
خدایږو لیونیه جوړے سم لیونے کیږے
مرګ کښے دا ښکاره راته جهان یو جادوستان شو
زه درپورے خاندم دنیا، ته ورته ژړیږے

# پلوشه

نن ربابي د خیال دنیا جوړے بدله ده
نوے دِ مضراب دِ نوکو لاهو کښے غږیږے
هغه دِ رباب هغه پردے خو نن ئے شان د بل
دا د کلا تال دے، یاره پاڅه که ګډیږے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نقاب

داچه زه خان لیونی کړم، دا زه تنګ شمه د ځانه
شیخ بابا ته لګیا دی، مسئلې کې د عذاب

زه خو دلته په عذاب یم، ددې خپل خود او احساس
ځکه کله په سجده شم، کله او څښمه (*) شراب

چه بې حسه شم روکېږم، چه احساس لرم سوځېږم
نه طاقت شته د سکون او نه همت د اضطراب

چه حیا پیرو نظر او کړم، همه پټ او ښکاره زه یم
دا شراب د ما جوړ کړې، ما جوړ کړې دا محراب

مذهب څه دې شي خو رسمونه، مسئلې او منطقونه
او د هغې سوال جواب دې چه نشته د جواب

(*) وڅکم، وڅښم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان تش د عاشق سینه ، د خپل زړه وینه څښل دي
چه ډیروړې شو مجنون ، ځانۍ کړ ځان له کباب
رباب څه شې د مرګله ورے او د توت او چه تنه ده
خو چه سوز د آدم راشي هله هنګ وکړي رباب
کله نو کله ر ناشي ، کله غم شي او ژړا شي
دا ځیکر دَ ربابي دے ، چه هم جام شي هم شراب
خو دا زړه م راته وائي ، دا هله وکی م کو نیږي
چه آخر به څوک او چت کړي دَ جانان دَ مخ نقاب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختر

غنی او خور دا سے غم | نه دارولری نه دم
کل جهان دِ ستر کے ستر کے | نشته ستر کے دِ صنم
خلق وٸی اختر اختر دے | مانه ښکاری محرم
چار چاپیره سازاو شرنگ دے | ماله سوز شو او غم
چه جمله ورن په کمید وشو | شو هر خیزو به سر کم
دشهوت نه وحشت لاړ | دنیکے سرور شو کم
دکناه نه مزه لاړه | پیکه خوله شوه دصنم
نه په بام دلیلیٰ مست شوم | نه سایه کښی دحرم

خلق وائی اختر اختر دے
مانه ښکاری محرم

اختر خو ستر کے دوه د دِلبر وی | مسکے مسکے شان پکښی نظر وی
ایمان چه زړه یو دِ کے دَ در نا وی | مرحبا کعبه دی مرحبا کوثر دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا به د شعر هم احساس کړي — چه ځیګر تش وي تش دا تروي
حسن خو سترګو کښې د عاشق وي — رڼا د ډوی روښان دِ لبروي
رنګین ګلونه، شګې صحرا شي — تش د رنګونو چه د چا سره وي
جمه دِ یوا ورشي توره بلا شي — چه بې سره ښځې ماڼه نیکړي
جانانه په خنک کښې خمار به سترګو — د وصال مهر اختر اختر وي
خونه دِ لالا ښته او نه خما ښته — د دا ژوند به ښه سفر وي
لار بیا اسو جوړ غنی خانه — د کوا ماو دِ آخر قرار شو

د رنګینۍ وار دِ لا ړلو تېر شو
تره سامان دِ اوس به سفر وي
زه نه پرېږم د سفرونو
د جمه دون هره لمحه سفر وي
خوږ ړه وی م دا شوم قسمت خپل
چه یا سبا وي یا ماښېګر وي
ځواني مستي م چه کم خوا لاړه
ورپسې خدا پرېږد هم هاتحُمه
لاړه د علام وي که د تورت وي
که تور غمونه که سور سفر وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تپوس که جواب

وایا وایا ملاجانه ژوند تپوس دی که جواب
ژوند وصال دی که جنون دی که آرام که اضطراب
ژوند امام دی که کلفام دی که ممبر دی که محراب
که یو مست غونډ جهالت دی رنګین خوب دی د سراب

که لمحه د نور کتمل دی
د دی تور تاریک جهانه
ژوند تپوس دی که جواب دی
وایا وایا ملاجانه

ژوند فرعون دی او غرور دی که جنون دی او سرور دی
د نمرود د زرو تخت دی که رنګین مرګ د منصور دی
د احسین مسکی مسکی دی که یزید مست په غرور دی
د ابهار د، که ګلاب د، لږ پټ شو د خزانه
ژوند تپوس دی که جواب دی، وایا وایا ملاجانه

ژوند یو مست د میو جام دی که یو مات د غم کچکول



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونۍ غر د خیام دے — که اوبنیارغر دَ بلول
یو رنګین باغ دَ ګلونو — که دَ اور دَ ازغو شپول

که یو تینبته او فرار دے
تبنتیدلي دي له خپل ځانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

ژوند یو خیشت دے چه خوریږي — که جمال چه خاورے کیږي
داسا زخپل مرګ ته کوي ساندې(*) — که یو اور دے چه بلیږي

د دے تلو، مقام، دمه شته — که د سا نه سا تښتیږي
منګوټي که دَ ارت دي — څه دکیږي څه تشیږي

که یو نور دے چه خوریږي
نا خبره دَ خپل شانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

---

(*) ساندے: د مړي ستاینے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تلے مرګ

به لګما کاله اوده وي — يو ساعت له را بيدار شي
خو لګما به نور اوده وي — چه روان د مرګ په لار شي
شاته تور يو سمندر دے — مخکښې لا توره بلا ده
مينځ کښې يو د شبنم څاڅکے — په غورځنګ لکه آبشار شي
د آدم زړه د کتور دے — د ده توره دريابي ده
دا سے تلو دا سے راتلو کښې — دے سے خوږ شي خمار شي
وو پکار چه ساعت ژوندے — په ژړا ژړا تير ولے
که د ديره په ليلیٰ مست شي — خو آخر به د مرګ يار شي
نه په تلی مرګ ستومان يم — نه راتلونکی نه يرېږم
زه به تل د غمے خاندم — که په اور شي که په دار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې پاتې د قیصې شوې — د دوزخ د حسابونو
دغه شي د ملاجان دي — زه خو ستا د سینې یار
او که وې چه سوزې، سوزم — عشق کښې نشته انکار زه
زه خو شیخ مُلا خو نه یم — چه نه کار کوم نه انکار
خو د سولو دېره نه یم — ساهو ښانکه د شاتوت یم
رانه جوړ که یو رنګین — او او نګین غونډ ستار
که یو تنک دی که زړ تنکه — سنبه په سُر کښې بجزېږم
یو قطره ستا د دریاب — یو ښکاو ستا د خمار
اې زما دستر کو توړه — دا یوه خو پکښې ولاړه
دلته سوې یمه دېر — نور م پرېږده په قلار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمتون

غرمه دَ اوري
لکه شپه دَ ژمې
يو خاموشي
او قلا رے خور دی
د کور کور کوکو
او چپ چاپ عالم هو
وخت خپه نيولے
په رکاب سور دے
دُنيا دِ خپل زړګی ته غوږ نيولے
دَ مرګ او ژوند حساب کتاب اوري
فضا کښې کله يو مسکے توب شان دِ
لکه په خوب کښې شوک رباب اوري
او زه يوازے
په خيالونو کښې ډوب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَخپل ارمان

تلاش کښې کرځمه

یو روک

مجبوره

مسافر

یم روان

په مزکه پروت

په آسمان کرځمه

ما دِهم خپل زړګی ته غوږ نیولے

دړوند څه وجه څه نساب لټوم

درد له اومرګ له څه سوب(*) کودم

ابد کښې خپل دهوش حباب لټوم

دَ ولے ولے

په دریاب کښې روک

جام کښې شراب

او په شرابو کښې

په سُور کتاب کښې

دجمات دتاخ

(*) سوب: سبب.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مرګ اوږوندله
یوتږون کوړم
چپه چپیا
او خاموشۍ
کښې زه
شرنګ دستار
دتال مضمون کوړم
چاپیره رنګ کښې
شنو کمترو کښې
ځان له جواب دځپل جمدون کوړم
زه لیونے یم، لیونے یم، دبنتیا
په میخانه کښې افلاطون کوړم
ځان ته چه سترګے م را واړولے
بس
مرګ
او نیش
وږ ینمه
زه لیونے یم، لیونے یم دبنتیا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمرګ په سترګو کښې جمدون ګورم
غرمه دَ اوری
لکه شپه دَ ژمی
یو خاموشی
یو قلار دے خورد ے
چرته کښې لرے
یو بخرے
دَ نور
ستورے ؟
که لرے دصحرا اورد ے
ماته ورو کو
پلوشو
کښې وائی
که غـردِ لوئے
په سـرئے لارخوشـتـه
څه ؟
که جـمدون
یو روک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت دِ
دهوش
یو
ابدی
دَ دهٔ ، دلدار خوشته
زړګیه ، ځان ټکی که ماتکی
خنګه ځان خلاص د هر جنجاله کړے
زړګیه ، اے ته زړګیه زما
ځان کښی مشغول او ما خوشحاله کړے
خوستانه منم
غرقیږمه
سم ، په رښتیا
لیونے کیږمه
د اضطراب په تور دریاب کښی زهٔ
او س سرسری یم بیا ډوبیږمه
په تورو ویرو کښی ګرکیږمه
دلته په خپل اور کښی سوزیږمه
په جمدون تورے خاورے کیږمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو وینو کښې ډوبېږمه
غـرمه دَ اوُړی
لکه شـپه دَ ژمی
یو خاموشی یو قلا ر ے خوړ د ے
چرته کښې لر ے
یو بڅـر ے دَ نور
ستور ے ، که لر ے د صحرا اوړ د ے

ماته ورو کو پلوشو کښې وائی
که غږ دِ لوئ په سرے لا رخوشته
څه که جمعدیوږ کړ ساعت دِ دَموش
یو ابدی دَ ده دلدار خوشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاروان

یو نیم ژوند دک د مستئ وی، یو سر ورروی چه شرنګیږی
پردې تو لې په خپل ځای وی، پاکې شې په سرغږیږی
هر یو تار مست بورا وی، چه ګلونو کښ بو نګیږی
هر یو تال ئې جنت په تو لو کښ، زیر و بم پکښ ګډیږی
خوشحالې په چوړ لکو نو، په شاډولو (*) پکښ دانګی
یو هوش مست په خپل سرور کښ، د خمار په تالئې ځانګی
یو نیم ژوند خوږ او بې نو ره، ګډ په شلو څپو (**) روان وی
هر قدم ئې یو تېندک وی، تور په غمې کل جهان وی
هر آوازئې د درد چغه، په خپل اور کښ بندیوان وی
د آرام په ارمان سوې، لکه غرځه ته میدان وی
د غمو نو سیلابونو کښ روان یو ګنګهر وی
په جلدون دوزخ کښ پروت، نیم ژوندی او نیم مړ وی
یو بل ژوند د شمعې ژوند وی، لا به مړی لا به سوزیږی
هله نور او رڼا راشی، چه په سر ې اور بلیږی

(*) شاډولۍ: یو ډول ملی نڅا ده (**) څپو: پښو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ے یو اور وی سوزول کړی، لاس د چم پے سوزیږی

پل د ښمن د بل غلام وی، ځان سوزی بل ته ځلیږی

نه نور دَ ده انعام دے، دَ قسمت کوتو ور کړے

نه اور د ده جمدون دے، چه جمدون دے لګولے

ومره قسمه دَ ژوندون دی، خو بخی چه د آدم دے

ولے په یو ځائے کښې لږ لګوی، څوک په بل ځائے کښې لږ کم دے

ږ کاروان کښې قول روان دے، که راننده دی او که سم دی

ولے په چغو څوک مسکی دی، څوک خوار کښې څوک په غم دی

فله یوه روانه یوه لار، یو مے منزل دے

ترمخکښې څوک روان دے، سپین مشال دے اور پر بل دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه‌کېږي

چه په څاڅکي کښې مستي د دریاب راشي

لکه ویر کښې سُر او رنګ د رباب راشي

صحرا لاهو شي سمندر کړه خندا له

او چینې سره یارے له سراب راشي

لکه غمو خوشحالۍ کره میلمه شي

یا په مرګ قهر باندې وله شباب راشي

لکه خوند له د ایام دَ اوښ سترګو

په جمات کښې بګل، ساقي، او شراب راشي

لکه اوره، اور زړګي په نمر منین شي

او دغر زور او پښتې له حباب راشي

دا زما او ستا یاري دَ دے عجبه

په شبنم کښې چه طوفان او سیلاب راشي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راکه ساقي راکه

راکه ساقي راکه، شراب نا(+) اور م په کار دے
زړه م تورے خاورے هام(*) تاوړانه انګار دے

پرېږده چه نے وڅوم، دا زړه نه دے يو سزا ده
ساز سرور ئے زرک شو، بس يو تهر بے قرار دے

ده به زه ګرځولم، مُينولمه، مستولمه
اوس م وينه ځکي، بس تش يو دهړه ئے ديوار دے

ميړنے کډا شوه، اوس نه تال دے نه شرنګار دے
راکه ساقي، راکه، شراب نا اور م په کار دے

نشئه هغه زور سرور ساقي ستا په شرابو کښ
باغ نه حسن لاړ، رنګونه کم شوو په ګلابو کښ
واچوه سور اور د جام کښ راکه چه مستي شمه
مست ليوني نه شوم هسے شمار شوم په خرابو کښ

دا دَ خه جهډن دے چه م هوش پکښ په دار دے
راکه ساقي راکه شراب نا اور م په کار دے

بهار راغے، بهار لاړه، زما زړه سوے ګلزار دے
يو تباه تالا ګلشن دے، په خپل اور کښ ګرفتار دے

(+) نا، نه (*) هام، هم، د هند ے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بې کوره، بې آرامه، سرګردانه مسافر دوم
نه زه یار جانان د چا دوم، نه زملګري ته دِ لېدا روو
ځمکو تش د ځمکو درد وو، هغه ښکلې جانان نه وو
هر نظر چې دې دستر ګو، نوي رنګ نوي خمار وو
زړه مې توره ادېره ده، دنیا روتاریکو ښار دی
راکه راکه ساقي راکه، شراب نا، اور مې پکار دی
یو بې حسه، دوب قرار دی د مرګي ښکلي مکان
که ساوړنی، اور مې وړنی. دنیا رو دغه جهان
تور و سترګو کښې نشته چرته یو د اور بڅری
یو بې خوده چپ قرار دی، دَ ده کور دَ لا مکان
نه دا سوز، نه دا نالا ش شته، بې جانانه فراق نه
ابدي وصال، وصال دی. مرګ دی دا سې بېنه جانان
دَ ده کور تورې لرې دَ بخملونه سپيني دي
تور ولاسو کښې نې رحم په غريب سوي انسان
د ده ملک کښې دوب آرام دی، یو بې خوبه دَ خوب دی
ورک ځمکې، ورکې احساس شته. یا صلیب لیونتوب دی
را ورو. را وره چه فنا شم، زړه د ژوند مې بې زار دی
راکه، راکه ساقي راکه، شراب نا. اور مې پکار دی



A .S.K B

# ديوداسي

په کوګو وے کوګوشتکے، تورانئے په تنانه
پچپو چپو مستی به د نسيم چپو راوړه
سحر راغے لکه زيړے، د خندا او د ژړا
غنچے تولو وے مسکا کښ: نن نسيم کښ وه نشه

وخت يو بل پراو پوره که، يو بله شپه په تلوشو
چاکړه تيره د چاغيږ کښ، په چا تيره په سلګو شوه
ملم تيز کړه په ناستے، د رنګونو په جهان کښ
هوش او رنګ به م يو ځا کړل، جوړ و ل م تصوير نه
د نړۍ غم به م ورخوړکه، د چا نکلے په احساس کښ
مړ او مړاوے نظر شو، سوسو نشان ړنګونه
کتصوير لیلی جوړ کړم، د شيرين که د منصور
دم پيوستر کوکښ نه يم، زما درد، زما خوږ يونه
تور او سور دوه رنګه واخلم، په چنګيز[1] يا تيمور[2] جوړ کړم
د دوی ستر کو کښ د اقهر، زما او ږمی تو يونه

(۱) چنګېز خان (۶۲۴-۵۶۲۴ ق مړ ۱۰ (۲) تيمور (۱۳۳۵-۱۴۰۴ ع)

ذ دې رنګ لیونتوب لور ته، یو پرې راغله غمګینه
نه لیلٰی وه، نه ششۍ وه، نه هیرا وه نه شیرینه (*)

ښکلې نه وه، یو ارمان وو، چا شاعر خوب کښې لیدلې
مړاوې سترګو کښې یې غم وو، خماري د چا په مینه

هر نظر هر حرکت کښې، لیونی د ځوانۍ تال وو
ټول وجود دې یو سرور وو، یو رنګینه ځوانه مینه

ما ته ووې اې مصوره، ما ته او ګوره زه څه یم
یو خواره د بت ویجاړه، د کمینو نه کمینه

ما ووته د حسن لورې، ته رنګینه شهزادګۍ یې
ستا په یو سوي نظر به، زر تختونه شي قربان

ما ووې اې د غم مینې، ته د ګلو ښاپیرۍ یې
د ځوانۍ بهار په لاس کښې، دا رنګونه د خزان

ستا د اوښو سوځنې، سوزګه نه دي، ارمانونه دي مستي دي
یو په یو میخانه، ستا هر څاڅکي کښې طوفان

د نازک نیاز بین جهان کښې دومره تور او درانه غم ونه
اې د سرو ګلابو ښائستګې، ستا خو لرې دې خزان

نور د شل پرې دې پرېږده، دا ابرو د غم کړه لرې
چې خندا راشي ګلشن ته، چې روښانه شي جهان

---

(*) د لیلٰی مجنون، د سسۍ پنون، هیر رانجها او فرهاد و شیرین د قصو مینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت ته نه ئې د بت وینځه، ستا په ستر ګو کښې رڼا ده
نه ساقي ئې نه شراب ئې، نه خمار ئې نه جانان

دومره خیشت آزدیدې نه، دومره مینه بې جانانه
ستا غاښ ته چه لیدلې شي، نو پړوندې شو دې جهان

وفا، مینه او ارمان، لکه نور تا کښې ځلیږي
یو غمګین ارمان پټ کړې، ستا د شونډو رنګین ارمان

راځه خوا کښې رڼا کښینه، زه هم ستا د ارمان رودیم
نه هم ګل د بیابان ئې، زه هم ګل د بیابان

زه هم ژوندیمه خوږ کړې، درد وړې، ژړوړې
وینه مینه دواړه ژاړي، غواړي مینې لجانان

ما ته ئې او ګل مسکې شوه، ستر ګې نې د شوې له اوښکو
تورتیا در خپل راغونډه که، ځان له غلې شوه روانه

خپل امید او خپل ارمان ئې ورته ستور ګې د کاروان شو
دسرو ګلو په تلاش کښې، په صحرا کښې سرګردانه

دو قاصې په قدم کښې، د ګل څانګې په انداز کښې
یو دنیا د سوز او حُسن، هوش کښې ر که شوې مانه

راته ئې زړه کښې یو بل درد، یو رنګین شان ارمان پیدا د
یو زرین د نور بڅرکې د نوروتو د جهانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منم

ولاړ مه وه په اور کښې ملوے اور زما قسمت
لمبې دي قسمت نه وې ولمبې زما د میت

نه بخت او نه کمال منم نه توره نه جلال
یو ستا د سترګو خیال منم او ستا د شونډو وست

نه ګل نه دلربا منم نه حسن نه بهار
یو ستا د خندا راج منم بې تاج بې سلطنت

نه چل او نه تدبیر منم نه عقل نه تقدیر
یو زیړ د سپرلي ګل منم ضامن د یار د بت



A .S.K B

# ګلونه د ورخارې

ګلونه د ورخارې　　د رنګ ښائست ولاړې
سحر په خندا ئېر کړې　　ماښام تول ئې خفه مړاوې
ګلونه د ورخارې
اغښتي (*) ئې سل رنګه　　خندېږي ښنګ په څنګه
سحر ځواني مشر نګه　　او ماښام ولاړه وي ژاړي
ګلونه د ورخارې
ځواني د يو سحر ده　　جمد ون ديوې ورځې
بيا هم ما نه نزان دي　　چه هر سحر خندان دي
اوننه يو پوستې غم ته　　دلبر ساعت تور تم ته
آدم د اوښکو نوم دې　　په ګلونو پسې ژاړي
ګلونه د ورخارې
څه ښکلې ښکلې خاندي　　رنګينه دي تابان دي
ښائست د ګلستان دي
غني ورته هميش حيران حيرانستان ولاړې
ګلونه د ورخارې

(*) اغښتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځمه، ځمه، ځمه

په رڼا باندے مئین یم خو، تیاروته نه یریږم
که پښیمان په ګناه نه یم، په خوږه غادره کیږم
پرون تخم وم، نن ګل یم، سبا بیا به خادره کیږم
زه دَ بادیوه چپه یم، په صحرا په باغ تیریږم
کله باد کله باران شی، کله اور کښی او سوزیږم
خوږه ځم به مخه ځمه
که او دریږمه روکیږم
چه ورپښس شم په کلونو، کرم خو لئے دعطر دکه
خوږ رومه نے چاپیره، ورته خاندم خوشحالیږم
چه دَ رنګ په جهان ورشم، یو رنګین دبودے تال شم
رنګا رنګ رنګین جال کښی، سپینه شمع شم کړیږم
چه د مستو په محفل کښی، په ساقی او په جام ورشم
لیونے شانے خمار شم، په خوبونو کښی خوریږم
چه جهان تیاره تیاره شی، او رشی تنده شی عذاب شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پښتون د پښتو غږ شم ، نه یرېږم نه نرېږم
چه د علم په جهان کښې، د اوښیارو خوا کښې کښېنم
هم مغوی پورے خندا کړم
هم په خان پورے خندېږم
په فکرونو لیونے شوم ، په لټون، لټون شوم ستړے
خو آخر دغے له راغلم ، نه پوهېږم نه پوهېږم
خو زه ځمه ځمه ځمه ، تل روان یمه په مخه
یو مقام ته ور روان یم ، یو مقام ته به رسېږم
او په لاره چه څه راغله ، که تیاره وی که رڼا
زه رڼا کښې یم خوشحاله
خو تیاره نه نه یرېږم



A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو ټکے

دالکھا زړه ګټاه، موږ دا یو ټکے زده کړے
که تک تور دی هم ښیسته شی، بار چه ستا د زنے خال شی

خسته خسته زړګے خسته، بے دړه که بے زبان
د کلال کوزے چه وښی، د کلال د سترګو خیال شی

یا د چاوړه دیوکه، یا ګلاب کوتوکښ جام شی
د خیام لونګین خیال شوے، د ساقی رنګین جمال شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باميان

يو خوا د قدرت جمال ، بل خوا د انسان کمال
زه ئې ليونے کړمه ، چار چاپيره نور دے
نه دې باميان نه دے دا[*] ، دا خو کوه طور دے
دلته د فطرت کمال ، دلته د آدم جنون
دواړه په ضد شوي و ، جوړے کړه ترخه افسون
هر خوا چه د لار نظر ، غرونه ، نا ، کلونه دي
هر غر دې درياب د رنګ ، يونا په زړ ګوټه دي
بل خوا د آدم د ژوند ، مينے او ايمان قصه
هر غار کښې نغمے د عشق ، هر خوا د جانان قصه
هر يو غار کښې پروت خاموش ، ساز يو د نورونو دے
دا روک او ويجاړ جهان ، کور م د نيکونو دے
دے تالا جهان پسے ، دے د پښتونستان پسے
دے تباه دوران پسے ، دے شهيد جانان پسے
دے سوي ګلشن پسے ، دے روک ګلستان پسے

زه د زړه په سرو وينو ، ژاړمه ويبهمه
زه چه د ته ګورمه ، مست لمبه سوځېږمه

(*) باميان د افغانستان په ايالاتو کښې يو ايالت دے چه تاريخي آثار پکښې ډېر لري . د بودا د دوه سترو مجسمو له کبله ټوله نړۍ کښې ياد ګار شهرت لري .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے

اوګوره جانانه د تیارے نه د رڼا جوړه شوه
نوے سپرلے راغے د ګلونو دنیا جوړه شوه

زمکه لکه شاړه اَبۍ بوډۍ، ورکه سپوږۍ وه
چرته مروړه مستي تلې د خپل کوږه وه

یا نۍ غوټۍ نه وے په هر بوټي د مکه سوړے و
شړنګ دَ ژوندون د غلے، میخانه نے تشه توره وه

یا ساندے او اوښکے، یا تے سپینه خندا جوړه شوه
اوګوره جانانه دَ تیارے نه رڼا جوړه شوه

یا جهان و ارمان و، یا رنګین نشه رنګونه شو
مینه زوړه مسکے شوه، په خندا ورته ګلونه شو

مست شو ساقي د اسے، کل جهان نے مست بے هوشه کړه
هره سا امید شو، هر نظر کښې خمارونه شو

هر قدم کښې تال په هر خُلم کښې مُسکا جوړه شوه
اوګوره جانانه د تیارے نه رڼا جوړه شوه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا سپوږمۍ کاسیره شوه ، په سترګو اشارې کوی
بنګلې ، نوې مستې ، شرم شرم کښې نخرې کوی

مرخوا مینه مینه ده ، شرینه ده ، رنګینه ده
رنګ ا دحُسن پوشو، مست شو خاندی مسخرې کوی

خوب نه جوړ خمار شو، دَ فراق نه لیلیٰ جوړه شوه
خاندی غنی خانه بیا دِ ورانه دنیا جوړه شوه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماښام

او نغمه راغله په ماښامی کښې — خوږه غمګین خدای دا تور ماښام شو
او ګوره ساز بیا. مهین مهین شو — رنګین رنګین شو. را بنګلے دام شو
هوس زلمے شو. شوده زړګے بیا — خان کښې رنګونه د مستئ ګوری
زه به ژړا شم. چه ورته ګورم — دا ژوند خو مسے لاړو تمام شو
دخوانئ مشرق او د آسمان تنده — زوړے مزه کا. او ړنے مزه کا
زه سم را وینس لا . نه وم د خوبه — چه نمر زیړے شو او رو ماښام شو
نظر کښې لږے زړه کښې ارمان — خود کښې خوبونه د بل جهان
دغه یو چونګ ازغی م لاس کښې — نیم د ساقی دی نیم د امام
خو د خودئ ته کی(۱) مستونه — سوزی ورتی م داخپل اوروینه
ما خو یو خاشکی خمار کښې ډوب که — خانه بجانانه. اوچت کړه جام
خوده بے خوده هغه سرور — چه ستا علاج دے. نشه په جام کښې
نا پیمانه(۲) کښې د ساقی شته دے — نه په خندا کښې د دلارام
خو راغله او نغمه او ساز مهین شو — امید روښان روښان په تور ماښام شو
راکه چه وڅکم اولیونے شم — د نن ثوابونے تول د خیام شو

(۱) کی: کړی. (۲) خان خانی خانی — نه ده د — نا — په بهر را وړی دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپوږمۍ مسکۍ شوه

سپوږمۍ مسکۍ شوه وې دا . تول دَ څه کړې ؟
مینه کښې مړه ، څوک تلل نه کوي
په سو بهار کښې دګلونو حساب
خاندۀ مستیږه او چرچې کوه
دَ دې لکها سوالونو دې جواب
څه کښې مینه کوده دَ دَ غاڅې کوه
دَ زړه وطن کښې دَ سرلاړه نشته
د فکر تول ، لکه بالول به څه کې
دَ یار حساب دَ خپله یاره نشته
سپوږمۍ مسکۍ شوې وې دا تول دَ څه کې
خاندۀ سپرلی کښې خوند ژړل نه کوي
مینه کښې مړه څوک تلل نه کوي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چینجی

پیسې مِ د بابا کړې امیدونه د خپل ځان
کړه جوړ مِ ځان له کور
یو باغ تې نه چا پیژنه په کښې میوې د کل جهان
کلونه د هر لور

په هر قسمه میوه کښې نوې نوې قسمونه
انځر وُ که املوک وُ، که انار وُ که بادام
عجب عجب نمونه، لا عجب په کښې خوندونه
خرما هم ثوابونه، جنتونه په آرام
څو کاله مِ خدمت ورله د کور د سرې وکه
ما وې د دې بدل کښې به میوې خورمه مدام
ما وې هم یو آشنا ته به دک کړ د شکو رونه بز دمه
سره شوې په غوږو کښې کوپنډی کچه بادام
یو کال یې خرخښې او ایشار غونډ نه شروع کړې
چا دوه دانې چا شل او چا په مخه انبارونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل کال ئې نقشې جوړې د جنت د نظاره کړې
هرخوا ته بس ګلونه او ګلونه او ګلونه
سپرلي نو جنت ؤ، یار وعدې د وفا کولې
هر ګل یوه وعده هره غوټۍ دعا سلام

باغچه د بوټونو وه، منارې وې د امید
هر شاخ د میوو ډک د یار د مینې وو پیغام
چینې وې، که چړې وې، بابا سیند ؤ، که لښتې ؤ
هر ځائ کې د اوبو کښې راز د حُسن و دوام

هر ځائ کې د اوبو کښې رنګ د حُسن د جذبو ؤ
ارمان د هشتنغر، د تخار چین ماچین او شام
او دا فصل ئې کوره، د ګلونو نه میوې شوې
اول ئې د خمار بیا د طاقت جوړ که نظام

چه ستر ګو ته رنګونه ؤ، نو ژبې ته مزې شوې
هر څوک پوره ساقي که وي خیام او که امام
او وائي ملاجان، ښا به که او باسه شکرونه
دا شکر خو زما نیکه هم نشي پوره کولې

رنګونه او ګلونه، ته بخښې خو جهانونه
خوږ زړه مې خو ټکنی ئې ده، او مضبوط دې پې بڼې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اے دښاخکو ته ستا مرڅاڅکے دریابونه
سینه د ستا پیشمار ذره بس له په شم د کوله
او ستا په سخی د ریکښ خوړ وریږی امبارونه
د تشو په کچکول د سرو مهرونه د لکوله

وا او د غنی باغ ته دا په کمه باندے لاړے
میوے چه د بخښے شوے نو په چا د او خوړے
او دا خنکه میوے چه کر بوری د نزی شو
په خټ د لکیدلے دے کړ منرے زېړے

هغه وی یاره وا وره چه میوے په بخښه شوے
او بنکلے دا سے بنکلے وی ته صبر کول گران
په ونو کښ پیغلو کو د وصال ستر کے وهلے
په مرگ پورے خندله . کډ یده وی ته خزان

نو راغله پرے چنجی . یاره په هرخه کښ دین شو
په رحم کښ د اکوان . د غلا او چل پروفیسران
په ناکو په پتنگو ، په هر خیز وی حواله شو
د ددی په کور اختر شو . او نحا په کور تالان

انځر ، که شلتالو وو . که منه وه که املوک وو

ددہ د اَبے باج



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوست لکه ریښم خو دَ ښیرلو تیره ډوک یو
او ډیر نازک مزاج
دا زړګیں چه دانه وی دَ ده مور پکښې لنګیږی
نیاز بینه دَ جهان
دا ابله . د آفت خم ئے میوه بانډ ے غځیږی
دَ سیلے نوابان
سړی م ور خواره کړه ماه ے غوارم داساعت
بابو صیب دَ داره
که آس، که موټر غواړی ، پکښې زړګی دا رخصت
سره دَ پچکانه
سړی به تله راتله دَ بابو کرم وړ دکان
منت . زاری . سوالونه
دے مینځ کښې لکه نا ډی ترے چاپیره باغوانان
کول ئے منتونه
بائیسکل به تانګه کښې ، کله بس کله موټر کښې
سړی به م روان و
منت ے منځ ته ، صیب دو لے نواب زادګی و
مونږ ته ے نقیه ان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخرم وے سہ پتہ د روپو نو نو نہ بوزے

د افضل ربّانی ° دے

ایمان نے بس پہ دغہ شین تصویر د خیل بابا دے

سوچہ پاکستانی دے

چہ داغے بابو کل، پہ رنگ او فکر ښاپیرے وو

پورہ پہ کمالونو

پہ عقل لږ میخین وو او کړ بو ږو کښې نرے وو

خوښکلے نے پتلون وو

چہ دار مدار وشو، د ښہ وایہ کنہ خان

چہ تا تہ څہ تکلیف دے

قسم دے پہ کار مړ وشو، کړم کوږي افسران

خو زمونږ سہ شریف دے

سہ خاندانی د دیر خوښ وي شلتالان

پہ واوره کښې آمونہ

پہ کلہ کښې نے لم لکی او پہ چرګو کښې پستان

پاستہ پاستہ ورنونہ

ماوے اے بابو کلہ، شلتالان خو دادي دیږي

خو دک دي د چینجو نہ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د خوړے آوازونه به دِ نوي پورته کیږي
بیګاله د بینځونه
ما دے د بوډ زوږه ګوره ګوره چه غونځیږي
څار به لکه سیتهان
په خیته سبه ماره دي غوږ خیتے نے څلیږي
تازه پاخه توتان
میوے یئے شوے د دوي زمانے تش کړاو تاوان
لنګیږي او دیریږي
چه رزق تے دوي او خوري زه به څه کړم بیابان
سرے پکښ پریږي
ما و سره په زد ورله څه راوباسه علاج
فو څونے دیریږي
د باغ نه م شوه جوړه مقبره د سکه د راج
قبرونه دي زیاتیږي
هغه د داچینجي نه دي مچان دي د میوے
دي عام په کل جهان
د ډیرو باغچونه دوي کړے جوړے ادیرے
کړي ننغ پکښ باغوان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه پوخ شي ونډ او کړي په هوا کښې الوزيږي

ماوے د بوټي زو يه ګوره ګوره چه غوغځيږي

ځدے د پاړه ژمي کښې مونږ والې ځکاړيږے

دا رونه ورو اجل دي

لمبولې په سنه شان موږ ځانګے غتے او نرے وے

هم علم هم اکل دي

چه داتے خنګه پاتي شو په د باندے حيران يم

خو ډے د دله شي کښې جوړ په ژمي کښې سا نه وه

ما وے چه څه کښې سا وه آخر اوړے مال د رب شو

او سنه دو چه د خلاص کړل په نصيب به دنيا نه وه

اول خل چه رانغلے نو د چه ګوينه د خلاص کرم

چرګ مے م خسمرے دے، پوار او نقصاني دے

اپاں کمترے سپي او پيشو کان د واړه يوه ل

بنګاله کښې بس يو زه يم او يو فضل د رباني دے

او يا د دشي چه را وستل جيا نه وه نه د امداد له

ګني د نه خطا شول خو د موټ را له خروب کړل

د ميښود کتاکتو د غمه د کرم خلاص

غوايان د ته دعا کی تا دمه دمه کې په خوب کړل

(۵) واے د دهلے.



A .S.K B

دَ سوتونه اوزګار دَ پاکے ښکلے مو ډیرے شوے
پخپله کاږ ویران
خاموشے په غوجلو کښې دَ غوا میښونارے شوے
څه خوند وکه جهان
. څه دَ مزے کار شو چه دَ دولسونه ډیرے شوے
اے پلاره دَ لقمان
. دا کمال دَ کوره چه، چه دَ نوونه زیرے شوے
کامل دَ استاذان
په بل ځل چه پے راغلے، نولندے بو چے دیورل
غوږکے کوم پخپله
بخوا به غله زماله کوره لرے تښتیدل
اوس زه تښتم له غله
بوچے په اندړینو اولندے په مالتان
دمه وردارو خلاص کړل په میره کښې پیښوګان
خانی شوه دَ منګو (*) بربیتو شوکښې خان
څه ښکلے بنیادی جمهوریت ئے کړه روان
خمبے ئے پټے یورے، بهر بنے دی امانی
اوس قبض دی دَ لوګے نه دَ فضل ربانی

(*) موږکو.



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابو عالی مقامه یو خوشه وکړه نور
دَ خپلے پچکارے
چه نه کئ راته خوګ دا دیکه دَ مال سپینوی
او خلاص شو م دَ خوارے
دا څوړکی دی پاتے صیب دَ دَ غمه م خلاص که
او نکارم لکه خان
چرګان دی بیا کن شوی سرے بنګته خپے پاس که
خیشته لکه دَ څان
بابو صیب وګه چه دانوی دارو امریکنی دی
په نوم جماں صفاء
کے مال خیراتی دیر څه انګریزی څه جرمنی دی
خو دا پکښ اعلیٰ
دارونه دی دا خان، بنلهٔ بوتلوکښ وباده
یواورده یو انکار
یوماشے به کئ بل ته دا قصے تر ملک اباد
او ټول به شی فرار
ورو کی صاحب وبنے بنے پچکارے دی موښ ورکړی
یو ځل نا خوخوارہ

---

دا دَ ایوب خان دَ دور شعر دے او هغه دورکښ نواب
کالاباغ زموږ ګورنر ووُ .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نه راځي قابو کښې، داځکه شي دې بنځه مړې
خوارې به دوه بېکاره
بابو صیب وکړې بس یا خو علاج ئې تبر کې دې
ښکاکښه غیږي تېران
میوه دِ او خوړي سرداد لکما روپو لړ کې دې
قبلئې ئې افسران
او خان ته میوې څه کړئې تېیږ دیر قبض کُشا دي
مزاج به دِ تازه وي
سړې وي بنه خوشحاله چه نه تش وي او نه ډک
او باد به اندازه وي
ورځه خان به تېږو، رنګ شه روک دآلو چې
تراوږه مر دار انار
خوکئ به کئ په خپله نه ګنلئ ښته نه بو چې
بېګاله دِ دې وار
چه ګله کړې په تپیږ وکښې مر چکی شي لونګین
څه دیرئې مزې شي
دلوئې نه توبه جوړه کړې، د روکي نه غر بین
او برغې ئې نشې شي
واوا، کرکمانئ ټینګې لیتهٔ دکچالو
قربان تې چرګو تې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړ ئې کښې پوست معین کړی په تکوړ دله تالو
او کوتے به ختیتے

بے کار دی ښخ خو میاتے او ناشپاتے
امرود زروئے د نمرود

منسور ئې کښې مستئ د هاغے قربان ئے د پیتے
کلکینړی بے وجود

غلے په ترنم کښې کچالو ته نه رسیږی
شته دالکښې تنک تکوړ خولېږ اوچت سر کښې غږیږی
وچه په کچالو ئې نګ شه روک د آلوچے
بیکاله دے خوګئے دو . نه لنګه شته نه بوچے

چه خور شو به باغچه کښې د بابو صاحب بیان
چینجی شو را برسیره

د ولکی سره ناتے مخکښې ښه جلوس عظیم الشان
زمونږ نه شو چا پیره

پوغت پکښې را مخکښې شو به شکل معتبر روه
سپین رږے د رنګ مزاج

ورکے ارمان چه ستا نه مخکښې ستا را غلے خو خبر ووه
لیده به د خراج

خراج که خراجونه د تحسین او آفرین
چینجے که حلا[illegible] دی مے تا پخپو کښې به سر ږدی

(۱) عدس په شرقی [illegible] په خوست کښې د ړه منسور [illegible] په [illegible] مسور بولی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاباش ستا پچکاری او آفرین ستا سکنجبین
زمونږه روک نسلونه ستا په علم شو ژوندی
که ماشی که مینږی وکه ملخ وُکه د مبر وُ
دښمن زمونږ دَ ذات
یو هم د هغه بچ نشو که په سمه که په غرودُ
په پچ (*) وُکه په سوات
هیله مو په آرام باندی سر او خوږی میوی
ماره خو ښه ماره شو
هیله مو قام شو خوراو نږدی او نږدی مو سلسلی
نسلونه مو زاره شو
نور هر خه لره مرګی مونږ له ژوندی او رحمت
دَ ذکره دِ قربان
په کمه ژبه کم قلم زه وکړم ستا صفت
ای پلاره دَ لقمان
مونږ تول ستا سو زیارت او عبادت له یو را غلی
حکیمه بی مثاله
دا خان د میوزغل دِ دادی که څی ژوندوی
بی علمه بی کماله

(*) مطلب د چپ هزاری سیمه ده .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابو نه ئې بابا ئې محافظ مدد ګاره

سخي مشکل کشا ئې د نامې نه قربان

بس د هغلو بابا چه شو قربان ستا د پیزاره

راځئ چه تبرک له ښکل کړو خپل مړي خوان

یو غر شو، او د غرسره بابو صیب بو ساره شو

بابا د سکنجبین

د خپلو مریدانو سره پیر غریب ګانه شو

او بندے شو مشین

ماوے اے بابو ګیه، خوار شے لاس که چڅکا رهے

چینجو د جناب ګیر که، که تا دی نه نومړ دے

او اے د بوړے زویه ګوړه ګوړه فکر اوکړه

یو اخے چینجي زیر نه دی چاپیره وطن زیړ دے

ورو کی بابو ګی یو سیلے د اوړکړه جوړه

په خپر کښ خوړه شو

چینجي مینجي خوځه ګئې مونږ نے تول کړلو بے جوړه

په ستر ګو موتیا ړه شو

د تورو تیارو مونږه چه واپس راغلو په هوش کښ

وُ خپر تش میدان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینجي وباغ ته تلي بابوگے ولاړ وجوش کښ

خپل علم ته حیران

زمونږه بابو کل قلار، بےغمه اوخوشحاله

په مزکه پروت وُ خوار

دارو په مخه بوته دَ جنت تو دے حلواله

په یونانه بین گزار

مثال د علم مرشو، شو یتیم زمونږ قام

اوس خوک به کی خدمت

دیرو کښ دَ میرے خپلوانو مښخ کړلو مابنام

په شان اَڅ شوکت

دَعلم برکت و لوئے بابو شو بابو گے

افسر شو د پښتون

یولاس کښ چکاری کوځي او بل کښ تبرگے

اوښکلے ئے پتلون

شو موراوس په بنیږو کښ ئے مست زیراوم غږیږی

پش پش دَ چکارو دے په آسمان زماچلیږی

چه زه ویم بابو خانه گوره گوره چه غوځیږی

بابو صاحب په ناز په انګریزے کښ اوخنایږی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي خلاص که شو چینجي نو محکمه زمونږ خلاصیږي

ابنې م دَ بخملونه بیا چیټ الوان ته کېږي

او زمونږه داسې بنګلې بنګله کلي کښې جوړیږي

بي بي م ده خوشحاله په جامو کښې نه ځاییږي

او پرېږده چه دِ خوري، خان ته یو شے نه دَ خوراک

چه څوک دِ خوري غمیږي

او ته که زرګ شوی څه پے، بس خس کم او جهان پاک

پیسے دِ نه زړه کیږي

مچان که افسران دي، څه خوږ غواړي دَ ژوند ژواک

په اَس هر څوک سوریږي

او جوړکه دکیکر نه یو مضبوط غوندے مسواک

چه خوله دِ نه خوږیږي

قیږه دَ قانون ځله کښې او بارونه لس مني

غوږونه دِ که مړاوي او ډُلکي بلخشاني

او "کاز" تاسو کښې نشته پوټے مینه وطني

وطن شو ټول آباد سپینې بنګلې شینې چمني

خوند چاڼے "اصفهانے" کښې کي تري امریکني

دا ملک چه مونږ کړو جوړ لکه جاپان یا جرمني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او باسے به شکرونه اوور کنے به شیرینی
خانان دی تول شومان قلنګ زمونږ و نه منی
هیڅ مینه د قام نشته، بس ګنی، ګنی، ګنی
په خان باندے پوهے نشوم، صیب م (٥) نه وکښی ور خوندی که
تو کړے م ترے کړو جوړه په اوبو کښې م نسکور که
پوره په فلسفه م پوهے د مرې اوژوندی که
اوده به وے "بګوړ بګوړ" چه ما به لوږ غوندے پے زور که
خوږ خاقورانه خلا مرګه وے پهانسی او دوزخ دواړه
د دے بابو صاحب په نوی ځشت پوړے ترلے
بابو په ډلګے لاړ سبه ګرندے د نهر په غاړه
نوږبوش ځے افسر چې وو خو خټک نے ولړلے
شو باغ زمونږ ویران تا کی م ګرک کړله ګنی
جوار غنم م لاړل مالیه کښې امانی
ډک ډک د غلے راغلل انګوټان امریکنی
ځار به شو افسران خو چرته نه سنکاری غنی
هغه چینجو که مړ، که خوګ منی که نه منی
یوازے اوس بنګله کښې ګرځی فضل ربانی

(٥) نیره نهر.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلندن معشوقې

دلته خو اته ازغي دي　　　بل خو اغانګې د نرګس
د هنر علم سایه ګڼي　　　ګرځي ګل لبانه مس
ډېر نوي نوي چال کړي　　　خو څومره ښه ګڼي دا خیال کړي
چې له ګلو بورا واري　　　په ازغو ګړي نوي زړه غس(۱)
ډېرې ورکې کړې ډېرې به ورکې کړي　　　ډېرې سپکې کړې ډېرې به سپکې کړي
د دنیا لښې دي پټې　　　دي الګو ګڼي د تاوس
غني خان ملا باد نه کړه　　　عقبا دې برابر کړه

بلا کانو ګڼي ډېروښې
چرته مات نه کړې اوږس

(۱) غس : غشي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عجبه فلسفه

فاسفي د ملک ولاړو، وچاپېړه تې علم
دَ خود سپين مثال په لاس. جلا کوانې زيات او کم
فکر تېز، نظر باريک، دليلونه ګلک ميخونه
دَ منطق په پاتکو، پاتکو روان په بره سم
ماوې آ دَ هوش او عقل د دنيا بله مثاله
يو به خوده ليونې دې، هم يو سازې دَ ماتم
ستا د پوهې دَ دې باب نه يو قطره د دريا غواړي
خو سوب دَ خندا غواړي. څه مطلب غواړي دَ غم
فاسفي کوې ستړې پوهې. خدای مې کې ستړې د دنيا نه
خوږې خوږې دَ غم لوږې پکښې! ښځې نا آګهانه
وې آ: زما غمګينه زړه، خيشت وجود اي نه؟
دَ ده نور به هله ږغي؟ چه په پښتو ستړګو لي!
علم سپين روښان مثال د خوږې نښې ليک ستړي
د نور ستړګې دې په زړه که، د نورو د دنيا ګوري
سمله دَ خيشت څوګ ليکوي، د منطق پکو ږغي
دَ غم باد د چاپېرې. تل دَ ستړګو او د دې



A .S.K B

وے دخود په میخانه کښې ستا دَ ښکلو شراب نشته
چه دَ مینې ساز بورے اوری. دلته نغمه رباب نشته
ستا نظر جدا نظر دے. ستا جهان جدا جهان
تا کښې وینه دَ مجنون ده. ستا نصیب کښې بیابان
ستا مستی وهمی تالونه. په سندا دبوړ ئې تال کښې
دَ ملال په نری خط کښې وینې شو نلوے دَ جانان
لیونیه. لیونیه. دا تول عقل زما واخله
خو بدل کښې واله راکړه. یو قطره دَ خپل ارمان
ستا د اوښکو نه قربان شم. ستا دردونو ته پښخیږم
چه په دوا دو کښې خمار دے دَ خوبونو دَ جانان
ما چه څ دَ دنیا وارووُ. دنیا چغې کړے پاګل دے
خو تا تاوان کښې ګټه وکړه. مونږ په ګټه کښې تاوان
چه چاوان دخیشت تالاشی. غم تش غم شی دَ دلبر
خومره مست ئے هر قدم شی. هر نظر خومره روښان
راوړه. راوړه زړه دې راوړه. چه زه په زړه کې ښکل کړم
هر ارمان ئې خمارے دے. مستے هره وسوسه ده
راکه راکه چه ژوندے شم. وی(*) دَ مرګه یره مرګ دے
ژوند ارمان دې او جانان دے. که امید که تلوسه ده
وایه وایه خومره مسته. دَ دلبر دَ شان قیصه ده
دَ جنون او دَ جانان دا. څه عجبه فلسفه ده

---

(*) وی : وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګوګوشتو

همه بحث یې فالتو  نه بس کې اشنا قرپتو
په چل خانان یې پوخ کمان  دا استاذ د ارسطو(۱)
بنده کړی ذرې ذرې
دا یې واره ترټرې
پیښې خان کړی بنا پیرې
دا د دوزو ازمرې
کې مزه دیره مزه  صفت خلکښ د بل حیا
لا چې وشي پښې شا  شي مزه یې لا سوا
خوند خبرې کې د وار
غاے سغلے په قرار
خورب خر د قند هار
چې په خله ښکاري اوښیار
پوښته یې پوره تهرتو  دا اوچت آواز قرپتو
خان کښي پوخ جرګتو  دا د خپو ګوګوشتو

(۱) ارسطاطالیس د افلاطون شاګرد مشهور یوناني حکیم او عالم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترجمه د اقبال

زۀم(1) په ذرو ذرو کښې پټ یم
تۀم(2) په ذرو کښې دننه
بس یو ذره دے چه نے غښتے
نیغ د سلو وارو وځي

په هر وخت په هر مقام
د هر شي شکل جدا وي
هر ساعت جهان ورانیږي
هر ساعت جهان جوړیږي

د ژوندون راز بس سفر دے
دا ابد راز ورانیدل دي
دا پخوا اقبال(3) زمانه
دیر خیشته رنګ کښې ویلي

(۱) زهم (۲) تۀم زۀهم، تۀهم (۳) اقبال. [illegible] اقبال لاهور ۲۳-۱۸-۱۹۲۰ع)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

ستا د مینې په صحرا کښې زه سوی پرق د لاله نه شم
ستا د باغ کشمالې نه شم، خور لوګې په هوا نه شم
ستا د سترګو مشغوله، ما کچکول ګنګرو وانغښت
سودائي خپلې سودا کړم، مجنون ستا په سودا نه شم
یو کوټ ښخې او به نه شم، چې غرمه او کربلا ده
هر خمار جانان جانان شو، هر خمار بلا بلا ده
زه د سرو ګلو غوږ ورشوم، د ګلو بوستان نه شم
ستا د کوتو په پردو کښې، لکه سُر بندیوان نه شم
راشه او ګوره دلبره، دا ما ښه په ښه بدل کړه
ښه دې راکړه اې جانانه، ښه دې راکړه ښه مې درکړه؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میلادِ آدم

عشق کړه چغه چه پیدا شو لیونے ځیګر پیدا شو
حسن ورپېد ډیرے، چه د تول نظر پیدا شو
یو چغه له دے خاورے، د ازل تیاره ته لاړه
اے پردو کښې پټ واورے، پرده سوز ښهر پیدا شو
و فطرت حیران خفه شو، چه د ګډ خاورے مجبورے
ځان جوړونکے ورانونکے، ځان لیدونکے سړے پیدا شو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو بې مهاره لونبړ ته

ته اول هم زملو ورو وې　　مړه راشه بیا م ورور شه
یا م سور د پتکي ګل شه　　یا م نر د ویښې اور شه
د پښتون د ځګر رحم　　د پښتون د ورو خوتور شه

چه ذده په سر غوېږي
ته ذده د متو زور شه
کښې لاړې او ورکیږې
سر په کندو د کاروان شه
ته خو دې بنګلو ته رپې
بنـیریه! کور دې وران شه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سینده خه سینده بهیږه

داقسمت دے د دریاب چه بهیږه او بهیږه
چه په ګتو ورشے اوږشه په اواره کښې روکیږه
چه یو ځائے کښې آغا نشے او بل ځائے غلام نشے
نه خوراک د کل مخلوق شه پیلاره د ویل موږ دکیږی
زه دائی شه موږ او پلاږ شه دنیا مار او ده چړ کوږی
زه چیرے شه خوږ شه چه دِ غاړے شنه توشی

او باغچے او چمنونه او ګلونه او ګلونه

چه ما بنام د راځی خواله عاشقان غمګینے ستړکے
جینکئ دره ته ګلیږی بلے ستړسره لاسونه

ګله ډوب لګه دَغم زه ګله مست زلمے ګلیږمه
سیندهٔ خه، سیندهٔ بهیږهٔ سیندهٔ خه، سیندهٔ بهیږهٔ
بس هم دادی چه شریک دی دیه سین او دَبل سین



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړه غر سمے جلا دی آمو او اباسین

د جینډی او اباسین

چه خیالے زه په کم خیال کښ

په قلار جینډی کښ کم دے

چه راوی (*) په کم خمار ځی      د نوبنار لنډی کښ کم دے

سینډ څه، سینډ بهیږ      سینډ څه، سینډ بهیږ

د مړ سیند وی خپلے لارے

هر یو خپل کور ته روان دے

د مړ یو خپلے دشوارے      زه چرے چرے شم اوده

چه د غارے شنه پتی شی او باغچے او چمنونه

---

(*) راوی: د پنجاب له پنځو مشهورو سیندونو څخه یو سیند.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باديوه

څښنې دِ پرېږي څه مستانه دِ رفتار دے
کوره دَ کاغذ نه چاجوړکړے خپل خمار دے
باد ته دَ عاشق په شانِ خاندے خوشحالېږے ته
مستنه، سولئ مارهٔ دَ طاؤس مسے کړېږے ته
بے جهړو کلابه په آسمان کښې زر غُنېږے ته
زړه دے دَ قسمت په تار تړلے گرفتار دے
ټول رنګين خمار دے خو مجبوره هر خمار دے
دومره وېره آسمان کښې دَ خپل رنګ شاخکي ښکاره کړے ته
باد باندے وسهور دَ لاندے خاوره ننداره کړے ته
چونګ خاوره وجود دیو لیونتوب یو تراره کړے ته
ته دنیادم دَ بخت او تېښتې یو تصویر یئے
یو رنګین خمار په تار تړلے دَ تقدیر یئے
زه هم ستا په شانِ کله کله په هوا شمه
پرېږدم خاکي ځان بس یو ارمان یوه دعا شمه
خوب شم دامید، دَ زړونو رنګینه مستقو شمه
څه قسمت وُدی (۵) راشه سَرِم ستا پکار دے
اے دَ آدم نیه ستا دخاورو سره کار دے

(۵) وُدی: ودهٔ.



A .S.K B

# تالئے

ژوندم تال دے زړۀ پرې زانګم
زړۀ دَ خیال په نیلي سور دے
دَ قسمت پړی اکوه دی
خیژمه پرې تالئے

څه دِي څه دي بد که ښه دي
دَ دیواله اخوا څه دي
چې محراب دَ ملاجان دے
که خمار دَ ملا لئے

زۀ دَ مستو په زور پریم
زۀ په ورېږي نظر پریم
زۀ دَ ځان سره سیالی کوم
زۀ پې نه یم په سیالئے

زۀ دَ خپشت مقام لټومه
رنګ، آواز، خیال او نظر کښې
لکه څاڅکے تله واخلی
تلی زور په سمندر کښې

که د فکر نظر تیز دے
دَ قسمت دیوال محکم دے
دېخوا، دېخوا خو به سم کم
خو دا غم دا خوا غم دے

زۀ پوستے در نه څاڅکے
په یو نور او روک جهان کښې
دَ خپل خود په رڼا کړم
دَ قسمت کوڅے لټومه

دَ تال پرې که پاخه وي
که نري وي که روسته (۲) وي
زۀ تالئے خو به خیژومه
زۀ تالئے خو به خیژومه

(۲) روسته = وَرَسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیام

اے خیامه ته تش غم یې، تشه تیښته تل فرار
ته د جام او ساقي یار یې، یو ځېشته رنګین انګار
عجیبه غوندې جنون یې، نا امید او بې قرار
ستا احساس د نن بند دے، په یو ښکلي رنځ بیمار

ته لمبه یې د تلاش، د لټون او د ارمان
نه یې او فکر د خزان، ښکلے ژبه د بهار
سر د بحر سره چپے وې، ډوب یې ویښ کښې قرار
ته کشتۍ د کلو ډکه، سر سرې د کشتۍ لار

آسمان پلار دے د سبا، هم بچے دے د پرون
دا هم جام دے هم ساقي دے، چه وصال او څه بېلتون
دا یو ساز دے چه روان دے، د آواز د سره کمال ته
یو د ژوند ناڅاڅکے چه خپلي، څاښۍ (*) د نبض تال ته

(*) رسۍ ؛ رسوۍ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ستا غم خو څه غم نه دے، چه دوبېږي په يو جام کښې
دَ اميد سپوږمۍ دَ پټه، تورو لړو دَ ماښام کښې
په دے مست ښکلي دماغ دے، تور خور شوے دَ مرګ جال
دَ ساقي جال پټ کړے، ستا دَ زړه نه بل جمال دے
يو مستے او شيرينه، عجيبه دَ غم نغمه يئے
دَ سرو زيړو ګلو ډکه، يوه نګينه معتبره يئے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روره قلندره

روره قلندره (۱)

خه په پته پورې شوې چه دا ښکته ځې که برې
دې کښې څه واره شسته چه سړې وکړي خبره
لسو بلا ځکانو کښې ده، کمه بلا غوره

او روره قلندره

مانه خفه شوې، که خفه يې دا شنغره
کله کله مونږ له هم راځه د پيښوره
ښه وې چه يارانې وې د سړې تکړه غاړه
نوم، ناموس، او خوې او همه خونه معتبره
خو بيا په کښې پکار دے دا نه غوند بے سره
دا په کښې ګنجکه چه ساقي مو د نظره

او روره قلندره

دانا تار خبره

---

(۱) زما محترم دوست قلندر مهمند چه په ۱۹۷۰ ع کښې د شهباز اخبار ايډيټر وو.
دے شعر کښې هم ددې کال الیکشن ته اشارے دي. (غني)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـکړې د زندان او قلا دواړه د یوغره

او روره قلندره!

را خو ځوک دمته غواړی ځوک یئے د خکره

زه کمزورے نه یم وی کمزورے بے ضرره

مونږ نه بل وژلے شونه خان له لرو زغره

او روره قلندره!

دیر وکښ ضرور چرته کښ ورانه شی خبره

بس د نور به چپ کړم خو بس دا یکښ د سره

داځنګه سیند ونه دی هم ښکته ځی هم بره

مغه صاحبزاده (۱) ته وایه یا پیره کافره

خلاص د موریدان شه د تاتار د بربره

ستا قیمت به دیروی هم یاران د بے لمبره

سره د آشنا نه خاری یار نکړن خو د خدا د سره

او روره قلندره! (۲)

نوره که څه ورانه وی نو ته نے کړه برابره

(۱) صاحبزاده فاروق د کونړ. (۲) استاد قلندر مومند ... [illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوے سیاست

د اوښیارو لاړے مے ډیرے زړه
خو زما د شان دغه لاړ نه ده

زه د زړو صحرا وو ارماني یمه
زما بخت کښے کوڅه د ګلزار نه ده

زه یم خاوره خو ډیره بے تابه یم
ما مو نتلے لمحه د قرار نه ده

دا د دې غومنډۍ ده د سودا او زیان
دے زمونږه د ګریو بل جهان

دلته ښځے (*) به یو او خرڅے به بل
دا بازار تنګ او کوته سامان

دلته مینه وفا او غیرت او ړښتیا
چه بے سوده ئے کړے نوخ توب دے

دا قصه بس د چړګ او ډیران ده
خو پرے نوم د اوچت سړیتوب دے

---

(*) ښېښې .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما لال

(دَ مور قبر ته)

زه دَ هغې لال زه دَ هغې دَ سترګو تور وُمه
زه به دَ هغې په سينه تل اوده نسکور وُمه
اوس ئې ښکته ښکته دَ مزار کاڼو ته ګورمه
خاوړو کښې پرته ده چې زه د زړه ملال وُمه
هغه لال شو خاورې چې زه وړوکے لا ئې وُمه

لا مې مه آسمان ته ماوره اے دَ جهان مور هېرېږې
زور دَ مرګي زيات دے که دې ياد دَ مينې زور هېرېږي
اودې به لحد کښې خوب دَ سوي زړګي شور هېرېږي
مونږ ته خاورې ښکله پټ دَ حُسن يو جهان کړے
يو يو کے آباد دا چمن ښکله بيابان کړے
ظُلم نه جوړېږي چې ظالم او ويم رحمن ته
مرګ چې دَ جهان بادشاه کړم څه وايم خان ته
ولې دروازه دَ علم لرنه شوه انسان ته
سيال ئې دَ خان [illegible] کړم چې نه دَ خاورو سيال وُمه
هغه لال مې څه شو چې ئې زه وړوکے لال وُمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کنی دنیا ښه ده

دَ سیغمې لږ خوب — لکه دُنیا ښه ده
نیته سے لږه ده — کنی دُنیا ښه ده
خوَل وائی جغه ښه ده — خوک وائی دا ښه ده
مالہ زما ښه ده — او تا لہ ستا ښه ده
چاله زړا ښه ده — چاله خندا ښه ده
زړه دَ مجنون له — خپله لیلیٰ ښه ده
زړه دَ مُلا له — توده حلوا ښه ده
چاله مستی ښه ده — چاله سودا ښه ده
چاله محل ښه دے — چاله بیدیا ښه ده
دنیا هغه ښه ده — که دنیا دا ښه ده
چاله هغه ښه ده — او چاله دا ښه ده
ژوندی ته ساز ښه دے — مړه ته دُعا ښه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بڼیا له سود ښه دے — مال له سودا ښه دے
دَ ملا عقل له — خُله د ملا ښه دے
زما کوتک نه — مَلا دَ لاله ښه دے
مزدور وے خانته — خبره دا ښه دے
مال له تیر بد دی — تاله حلوا ښه دے
دَ جرمن توپه ښه دُ — دَ صیب قلا ښه دے
زموږ تمتو ښه دے — دَ ښارت غوا ښه دے
حبږ ښه دَ کاندهی (*) — خُله دَ جنا ښه دے
چاله هغه ښه دے — او چاله دا ښه دے
ماله زما ښه دے — او تاله ستا ښه دے
نیته ــ نے لنډه دے
کنی دنیا ښه دے

(*) کاندهی . کرم چند ګاندهی (۱۸۶۹ – ۱۹۴۸ ع) ګاندهی د هند مشهور ... مشر او سیاسي رهبر .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

په غمونو کښې خندا کړه　　　په خندا کښې غم هېر نه کړې
او د دېرو په سودا کښې　　　چې قیمت د کم هېر نه کړې
د وصال په لمغرو کښې　　　د فراق ستم هېر نه کړې

را چې تهٔ سترګو ته خاندې
د دې سترګو غم هېر نه کړې
د الله الله په شور کښې
چې صنم صنم هېر نه کړې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

اے خدایه عقل راکه　　اے خدایه پوهه را
زړه کے مضبوط راکه　　او سینه لویه را
ستر کے د نور راکه　　رحم د ځان را
بیاتول غمونه دے　　د دے جهان را
ماتئے یه سر که　　زار درنه شمه
زه به ئے اورمه　　زه به ئے اورمه
یار بهادر راکه　　که همت نه راکے(*)
غیرتی رور راکه　　که غیرت نه راکے
د سکندر بخت را　　د دارا خیال را
مټ د خالد کښې　　توره هلال را
اسلام دِ پرېږده　　زار درنه شمه
زه به ئے کتمه　　زه به ئے کتمه
د شپے خیمه کښې　　د عشق شراب را
پاک مل د لارے　　لکه ګلاب را
د سپوږمئ نور راکه　　لوبو کولو له
د بوډئ تال راکه　　جوټو وهلو له
جهان دِ پرېږده　　زار درنه شمه
جنت به ئے کړمه　　جنت به ئے کړمه

(*) نه راکے = نه راکوے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هَو بر کیه هَو

پیښن په لیونی باندے شو پیښن لیونے یو
وے رورہ په یورپ کښې سړی کۍ دَ سرولَو

بانګ کښې د سبا پرون نوے تپه داو ریده
تلے وم خالصے ته راته ئے اُو وے "نهکے ناوه"

پریږده باچاخانه دا دَ جیل قیصے دِ خوشی دی
دال م نه ضمیږی نه عادت یم په پولاو

وا ورہ دَ یورپ نه دَ انصاف خوږے خبرے
وا ورہ مږے وا ورہ دَ پیشو بی بی میاؤ میاؤ

یو نهنګ غټ شے سو ورو کبان ئے دیر خوړلی وو
بل نهنګ پرے راغے او به سرے شوے دَ تلاؤ

یخے دَ قسمت کوتے مروند کله مړی نیسی
خپے که خان له ماتے ګداګی کړی په داؤ داؤ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبت بې وفا یار دے دیو غیږ کښې پاتې خاندې تل

وُ پرون غږ سو سېزنن دَ صیب سرو وُ
خاله خبر تسا به چا ته خاندی خندوی به خوک

مونږ نه خو خفه بوته مُلا علی داو داوُ
دلته چرګونې دَ ګُرګه جنګ دے په آلو (*) اوشو
ورکړو دَ چاښې (+) مونږ ته له بیا فرنګی تاو
کور کښې دَ قصاب غوبان په اوچوتانو نښتی دی
هولنډیه ، هو برګیه ، هسر چرګیه هو

جنګ غنیم ۱۹۴۳ع

(*) آلو: ټکره ټکیو. (+) چاښې: کلی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

ځمې ز قبلې ته لیونې ترې خبر نه وو
سترګې وې وازې د انسان په تماشه

عکس د سپوږمۍ مې د شبنم څاڅکي کښې اولیده
ځکه په سجده شو ار مسکې شو د جانان په تماشه

نښتې کښې کتاب تعبیر د خوب د ژوند د نښتې
سترګې دکه پورته د آسمان په تماشه

خدای مکه کښې نشته د منصور د خُلې مې اوریده
ورشه لیونیه، شته د ځان په تماشه



A .S.K B

# حقیقت او مجاز

دا دوه حورے دَ جنت دِی وئی شرابو کښې لامبو
که م سترګے دَ جانان بیا شولے دکے دَ اوربو

چه دَ مینے په مذهب کښې شک کول کافري دي
که منم دي کافرئیږم خلاص به نه شم په توبو

دَ نرګس بوی کښې پیلے دَ سپوږمئے دَ شغلو جالے
په کښې پروت یو لیونے دے چه مجنون دے که بلال دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه، چه تول عمر ماشوم وې

بې پروا لکه لولو وې په کھلونو کې زیږدلې
او چه تول عمر ماشوم وې، په بلا نه او ږیدلې

دَ دنیا دَ اوږ ستړګو، بې خبره ګوزیدلې
چه په خُله دَ جانان نه وې، دَ فراق وریته غزلې

بې پروا لکه لوئې وې، په کھلونو ګوزیدلې
بې خبره چه آدم وې، دَ رازونو د هوا نه

نه آشنا مجنون او ده وې، دَ غمونو د لیلیٰ نه
او چه حُسن خبر نه وې، د خپل حُسن دَ غرور څنګه

دا زما زړه نا آشنا وې، د دې ښو بلا و دَ جنګه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

اوږد بنده مشال لکه د خس دے
تو د شی لوګے وګړی رڼا کړی جوړه
لمبه شی وسوځی خاورے ایرے شی
بوده آئی پرے ژړا کړی جوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ته او زه

مجنون وے لیلیٰ پوے نه شم ... چه ته ښه نے او که زه
بلبل ګل ته په خندا شو ... وے دا څه وائی دا څه
ګلاب رو په نیاز مسکے شو ... وے که زه یم او که ته
ته نے زه او زه یم ته ... فرق زما او ستا د څه
هغه چه فرق لری زموږ ... نه پرے پوهیږو ته او زه
لیونی که سر راپورته ... وے جواب ولے دَ څه
صوفی خان که ډیر کړے ستړے ... که د ښو نه ښه شے ته
خو دَ عرش پایوله نه ځی ... د هاؤں هاؤں چغے دَ خره
لیونی ستړے کړے ښکته ... وے لید شین روکے وا ښه
وګے زما دَ روح خاونده ... چه دَ ښه دے او که زه
د نسیم یو چپه راغله ... خُله زما خُله دَ وا ښه
تے په خپلو شونډو ښکل کړے ... دواړه خُلے په یوه خُله
لیونے لا لیونے شو ... دانے وے برے کاته
هیڅ په پته دِ پوے نه کړم ... چه ته څه نے او زه څه

(۴) پوهیږو = پوهیږو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ زړینې په کیدو

اوه یو ذره دَ نور وه — شوه دریاب کښې دَ خښتې دیبه
په خوبونو دُ خوانئ کښې — یو شعله دَ نوي پیلې
دا نرئ دَ هلال شوندې — دا دَ دوو ستورو رڼا ده
دا دَ هغې خوب تعبیر دے — چه دُوَ ما او تا لیدلے
دا هم گل دے هم بورا دے — هم سازونه دَ بلبلې
دا چه ستا نیازبینو گوتو — دَ ازل څانگې ته لاس کښې
دا گلابئ ترے را واغښت — په نورونو لمبیدلے
دا چه ما غمگینې سترگے — په ژړا کړے بره پورته
دا زما دَ غم جواب کښې — سپوږمئ گل دِ رالیږلے
دا وبه دَ واورېچینو دی — دَ دریاب په طمع درومی
دا هم زه یمه هم ته ئے — هم زما او ستا خوبونه

دَ به جوړ ترے اباسیند کړے
په کلونو کښې بهیدلے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړې وړې

ورځ مې ورکړه زمکې له او شپه مې ورکړه ستورو له
خان له چې کم عقل شوم، شوم هاله او بنیاء نورو له
ستر ګو د جانان کښې کله کله د ګل پانو کښې
زه ئې هر ځائې وینم شیخه جوړ که جمات نورو له
لوی جنجال ئې جوړ که چې ئې ویش د نصیب وکه
دوه مې رحم سپینولو له او دوه مې د عقـــل تورو له
واچوله نیک تالی ملا بابا په خــیټه موړ شو
زړه د غریب ستړی وو په تلو جنازو سپورو له
دا عجب انصاف د ساقي ستا په میخانه کښې
غورو د غورو دریاب او څاڅکې نه ځي نورو له

غني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خندا او ژړا

د ساقي لاس کښې شراب کې
يو د غم يو د خندا
ما پياله تشه نيولې
ستا د فضل په سودا

اې ساقي چې کم دې خوښ وي
په خندا خندل نه را
ليونې يم کار مې نشته
په خندا او په ژړا
زه يم ستا د سترګو تږې
تږې نه يم د خندا

دا پياله مې که لبريزه
که خندا دي که ژړا
خو چې تږې مې پرې نږدې
ستا د حسن ميخانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چه د مستۍ نه
# هستي جوړيږي

پوره سپوږمۍ چه رو رو کميږي
ژوندانه پخيږي غم ئې زياتيږي
ډېر ارمانونه پوره او لږ نيم کړے
چرته محل يو نيم ډېرے جونګړے

ستا رکېښ شرنګ هغه د ماښام نشته دے
سرور په سترګو کښې د خيام نشته دے
د نور شغلو کښې شفق غرقيږي
چه د مستۍ نه هستي جوړيږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړه مُلا

ما ته یاد خپلې ګناه که — تا نه هېر خپلې نیکۍ که
ما جانان که دلربا که — تا تکي او نا تکي که
ما د خپلې مستۍ تاج که — تا د خپل جهل لکۍ که
ما او بنیاد د جهان پلا که — تا جولا د وېتکي که
ما تر بې مینه مستۍ جوړ کړل — تا کا نه په دوه څکنې که
ما د حُسن سمندر که — تا شوق د مسلکۍ که

نو اوس وایه ملا ته
چې ته خو ښه یې که زه؟

نه په ایمان توب تر فلسفې کړل څه چې — نه فلسفه تر ځه کړه جوړه لیونی
دا کړه ورته دنیا کړه ورته وانه ده — یو یې دوه په بیه یو بېبخت د خوار
غني

دا دستور روشما، د وخت تلل د ساز لید
نه خو نه لا دې چې نه دېر اوشو کنې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ژوندم ډوب دریاب دَ رورو خوږښو سمندره کښ
څاڅکے روک دریاب کښ شو په طمعو دَ ساحل
بخت کښ دَ سیلاب دی په مستئے په چپو تلل
نه ورځې دریاب له غونډیدل او اوړیدل
دے لهر د سازله تله ژوندون او دریاڼه مرګ دے
زیرے دَ ماښام وی دَ سحر راځلیدل
ګډے دے چپے کړو دَ ابد مستانه تال ته
او ګرنځو سازے تارخانو کښ دَ ازل
لاړلیو نے لاړ چپر ته دَ نور شغله کښ ډوب شو
څاڅکے روک دریاب کښ شو په طمع دَ ساحل

---

اے دانګورنچوړے — اول چه را غلے به ته
په تول عقل کښ به دې — خندا به سیره کړله

---

او اوس چه راشے ته — درد او تیاره راولے
رڼا دې کمه کړله — ژړا دې ډیره کړله



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عشق

سوزنه دے عشق سازنه دِعشق . آه او گویان نه دِعشق
مستهٔ رنګینی دانه ده . غم دَ جانان نه دِعشق
خوب دَ ځوانئے نه دِ ، دَخوبونو ارمان نه دِعشق
مینه د ملیار دَ سترګو . وخت دخزان نه دِعشق
تورتش دتیاره ړک ، دَ تیرو بیابان نه دِعشق
مست د امیدونو ، یو دریاب روان نه دِعشق
سترګو کښ که راشي دَ شفق سره دَ خمار
عقل له که راشي دَ سپوږمۍ دَ رڼا تار
دے مستانه زړه له یوه حوره دَ تاتار
دا دَ مستۍ حد دے او دَحد بندیوان نه دِعشق
مستهٔ رنګینی دانه ده غم دَ جانان نه دِعشق
عشق یو وجد دَ ربّ دے په وجدونو د انسان کښ
یو دَ مینے ساز دَ زړه په سوی قبرستان کښ
روح دَ روکی ګل دَ سپرلي سترګو دَ خزان کښ
مرګ عشق ته حیران دِ خوم ګي ته حیران دِ عشق
خوب دَ ځوانئے نه دِ دخوبونو ارمان نه دِ عشق



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په مردان مارچ د باچا خان

راشه اے خوشحال بابا          اے خالده اوګوره
پاڅه ښا... مه تښتي          دا تماشه او وینه

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري
نه د توره و برق لري
نه د زغره و شرنګ لري

زور د دښمن نه وینی          دا سے لیونے روان
دار او رسن نه وینی          دا د مستانو خان
دا د پښتنو ملنګ          خه بادشاهی ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري

سپین مخ د لیلی وینی          دشت بیابان نه وینی
زړونے د دیوار مانه دړک          غم او ارمان نه وینی
سرے د باتور ستړے نے          مینه د نتهار ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ئې د ازغو په سر — مست لکه مجنون روان
نوم د پښتنو ګټي — زوئې دې د پښتون روان
نن، داد نرانو خان — څه غيرت او ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري

سړے کينبود خاورو کښې — مرګ له ئې سينه ورکړله
د پښتون د سر صدقه ئې — خپله وينه ورکړله
وے هر څه م د تا م دي — والله، هر څه چه ملنګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري

اے د پښتنو بچو — دا ميدان م هېر نشي
سپين سړے د وينو ډک — هغه خان م هېر نشو
پروت دے دلته خاورو کښې — دا مکان (۱) م هېر نشي
پاڅئ ننګ پرے اوکړئ — خدائيږو دې په تاسو ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري
نه د تورو برق لري
نه د زغرو شرنګ لري

---

(۱) ميدام. ميدان مو، احام. حان مو، مکام. مکان مو.



A .S.K B

# پوښتې

دَ سپرلي شپه وه مستانه — ستوري کيدل ډېر روښانه
سپوږمۍ ولاړه وه ښکلې حيرانه — ليوني سوال او که دَ خپل جانانه

دنيا مې پوښته له دَ لامکانه ده
مستي مې ستړکوله دَ خپله ځانه ده
دَ خپله ځانه يار دَ خپله ځانه
ليوني سوال او که دَ خپل جانانه

ناګاه برق شو د رباب د نور راغې — څه په مستۍ راغې څه په سرور راغې
مستي شو کونګه مستي کړيانه — ليوني سوال او که د خپل جانانه

او ليوني ورته ږغ کړه لرې
ډېر په خوا ئې کښې ځا شو پوښتنې
نور د کلی دَ ځانه وُ د کلی دَ جهانه
ليوني سوال او که دَ خپل جانانه

رباب دَ نور لاړو خيشت او دنيا لاړه — او دَ جانان مستي جانان له بيا لاړه
ليوني پاتې شو خبرې کړيوانه — دَ سپرلي شپه وُ مستانه



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوال وجواب

لیونیه مکه څه ده ‏ ‏ ‏ ‏ مُلا کوږ دیو عاشق دے
کوټنی دی کښې دیرے ‏ ‏ ‏ ‏ دَ موږ رب خالق دے
لیونیه ایمان څه دے ‏ ‏ ‏ ‏ مُلا دا دے پوخ گمان
دَ یو خوب په نښه لیدلی دی ‏ ‏ ‏ ‏ دَ وصالونو دَ جانان
لیونیه جنّت څه دے ‏ ‏ ‏ ‏ مُلا ستا جنّت پېتی ده
او زما جنّت وصال دے ‏ ‏ ‏ ‏ یو خمار یوه مستي ده
لیونیه حوره څه ده ‏ ‏ ‏ ‏ مُلا سپینه لوکے ده
یوه کرښه دَ شفق ده ‏ ‏ ‏ ‏ دَ خندا برُبره کُنے ده
لیونیه نشه څه ده ‏ ‏ ‏ ‏ مُلا دا په سیل واته دی
دَ مستئ رنګین محلکښ ‏ ‏ ‏ ‏ دا واته نسواته دی
لیونیه چه نموخ څه دے ‏ ‏ ‏ ‏ مُلا خاورے بنګلول دی
دَ جانان کوڅے ته تلل دی ‏ ‏ ‏ ‏ دَ اُمید ارمان لیدل دی
لیونیه سجده څه ده ‏ ‏ ‏ ‏ مُلا ځان خاورے کول دی
دَ مستئ دَ ښکلو مار ‏ ‏ ‏ ‏ دیار څپو کښې اچول دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونیه ژوندون څه دے — مُلا نه یمه ژوندون
راز ما دَ خوب لیدلی دی — دَ سبا او دَ پرون
لیونیه وصال څه دے — مُلا خیشت کښې د وبیلتون دی
دا په ستوروکښې پیدا دی — په سپوږمۍ کښې خوریدلی
لیونیه حُسن څه دے — مُلا لرې خمار دے
بو مُسکے مُسکے شان خیال دے — یو نرے دَ رڼا تار دے
لیونیه جانان څه دے — مُلا روغ ورته نه کوری
لیونی سے هیله(*) دینې — دَ تاو کروبا نو سوری
لیونیه ته سے څوک — مُلا نه دَ چا ارمان

نه یو ګل دَ چا دَ ګوتو
په قدمونو د جانان

---

چه بے خودی ډیره شی دَ خودے رنګ وړکی
یا د بوډاتوب له هم د ځوانۍ رنګ وړکی
غم چه ډیر زور اوکړی د خوشحالۍ په شان
د ژوندون تارکه رقصانه شی رنګ وړکوی
سترګے چه تشے شی خوبونه ډک وینی
په تش کاغذ مصور مستانه رنګ وړکوی
سحر له شپه وړکوی شپے له سبا وړکی
دَ فلسفیانو سره وړ رنګ ورنګ وړکی

(*) هیله = ئیله.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اے دَلیو نیا نو نیکه

اے دَلیو نیا نو نیکه حسن که وفا ښه ده
برخه دَ مجنون ښه ده ، که برخه دَ لیلیٰ ښه ده
وے اے زما نجیبه ، دَ دلبر دَ خُلے هوا ښه ده
نخه نرمه لا ښه ده ، تیزه کټره لا ښه ده
تاو دمخ دَ پاره لو پته ، سره رنګینه لا ښه ده
زیړه ښه ده توره ښه ده ، تکه سپینه لا ښه ده
نو اے زما نجیبه حُسن ښه دے هم وفا ښه ده
برخه دَ مجنون ښه ده ، هم برخه دَ لیلیٰ ښه ده
ښه ده فقیري نیکه ، که ښه ډیره دنیا ښه ده
ګل صنوبر ښه ښه دے ، که خُله دَ محبوبا ښه ده
وے اے زما نجیبه سور عقاب له دَ غرسر ښه دے
ګل د صنوبر له ښه ، او ګل له صنوبر ښه دے
جام له قلارے ، او سمندر له طوفان خوند که
سترګو له مستي خوند که ، او زړه له ارمان خوند که
نو اے زما نجیبه فقیري ښه ده دنیا ښه ده
تخت دسلیمان ښه دے جونګړه دعیسیٰ ښه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخری

# شهید

اے شهیدٌ! اے عاشقه اے بچیه دَ مصر
په خندا جانان له لاړے، ډوب دریاب کښ شوے د نیل
نادانان درپسے ژاړی ماشومان درته مجنون وی
لیونے درته پیغمبری اے ایرے دَ کوه طور
ننګیالیه سر دِ ورکه د یار خپو کښ دِ لوے که
اوس یے کوره مسکے سترګے ښکلے د کے دَ غرور
مار اوړے تاله نه دِی دسرو ګلو امیلونه
د جنّت بلبلان څه کی دَ دُنیا دَ باغ ګلونه
تا کړے خپلے سترګے خا وړے چه زما پرے شی روښانه
تا قصه زما دَ درد بره یوړه تر آسمانه
ستا دَ وینے څاڅکے څاڅکے چه تا توے کړه دَ آرمانه
ماته سرے دیوے بلیږی په کوڅه کښ د جانان
دَ دنیا تا جونه څاریشه ستا دَ بخته ستا دَ شانه
د لیلیٰ په ننګون پروت ئے د مجنون څیرے ګریوانه
مار اوړی تاله نه دی د رامبیلو امیلونه
دَ جنّت بلبلان څه کی دَ دنیا د باغ ګلونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منصور

منصور لیونے ؤ د معشوق اداب تعمیر کړه
منصور لیونے ؤ دَ مستۍ شراب ئے دیر کړه
وے مستي دا نه مانه ده دَ جانان دسترګو نور دے
زما دَ خُلے خبرے هم تورات او هم زبور دے

دا رنګ زما دسترګو نه دے ړنګ دے دَ جانان
دا شړنګ زما سینه کښې دَ خپو شړنګ دے دَ جانان
منصور چرته لیدلے دَ مخ نورو دَ جانان
دا مست چه پرے منصور شو دا سرورؤ دَ جانان

وے دَ حُسن ارماني نه یم زه دَ حُسن سمندر یم
زه مست لیونے نه یم، زه مستي دَ بحرو بر یم
دا رنګ زما دَ سترګو نه دے ړنګ دے دَ جانان
دا شړنګ زما سینه کښې دخپو شړنګ دے دَ جانان

عالمه اشنه واورئ چه زه نور او زه رڼا یم
زه ګل یم زه بلبل یم، زه وصال زه محبوبا یم
منصور خو خپوا ډوب شو دا آتش نور دے دَ جانان
دا نه دے منصور نه دے دا سرور دے دَ جانان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر پرے ملیان(*) شوے منصور خان ته الله وانی
د کفر دا غرور چه ئے هر چا ته برملا وائی
وے کافر دے شی سنگسار دچه پلیت نه شی جهان
بادشاه دَ لیونو ئے زولنو کښی کړه روان

منصور وے خلقه واورئ چه زه نور او زه رڼا یم
زه گل یم زه بلبل یم، زه وصال زه محبوبا یم
منصور خو پخوا ډوب شو د آتش نور دے دَ جانان
دا نه دِ منصور نه دِے دا سرور دے دَ جانان

---

(*) ملیان: ملایان .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وُ

دا په سترګو دَ مریم کښې چه ژړا وه که خندا وه
چه ئې سور په صلیب اولید د عیسیٰ دَ زلفو ول

ذاځه او وا ئیمه تا ته ، چه رحیم ئې که رحمن ئې
چه په خاورو کښې کړے خاورے د ګلاب ښکلے اوربل

دا مستي وه که معراج وُو دا جهان ئې چه روښان که
که د نور دیار د سترګو ډیرا بونه بهیدل

چه دا کفر که ایمان وُ ، چه دا زهر وُ ئې لیونے کړم
چه دا غم م په خندا شو که مستئے م او ژړل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیدایش

او ماخان له ساز که پخپله جوړ
دَخپل خوب نه دخپل خیال نه
دَخپل غم نه دَ مستۍ نه
دَخپل تول نه دَ خپل تال نه
او ماخان له یار که پخپله جوړ
دَخپل سوز نه د ارمان نه
دَخوږونو نه دَ رنګونو نه
دَګلونو نه دَخزان نه
او ماخان له غم که پخپله جوړ
دَ خندا نه خوشحالۍ نه
دَ وصال نه دَخمار نه
دَ بهار نه د لوړې نه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوماځان له ژوند که پخپــله جوړ

دامید نه دَ رڼا نه

د تیرونه د بنیرونه

دغمونونه دسودانه

اوماځان له مرګ که پخپله جوړ

دَ ژوندون نه دَ مستۍ نه

دَ سپرلي دَ زيړو ګلونونه

دَ لالونونه دَ ځوانۍ نه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډے وړے

## دا څوک دي؟

د چانه خفه دے او چا ته پقار دے — په ژمي واوره شي په اوړي انګار دے
پلار نے ژوندے دے خو دے خپله پلار دے — په غرو ئي سفر په ښو آباد کلي او ګلزار دے
په بلو نے پیاز دے خو په سر نے دستار دے — په لاس کښے نے تیغ دے، په خله کښے بنامار دے
د شیطان مرید دے خو د خدائے آنا عابد دے — خبرے نے یو نه مني، خو څوک نے یار دے

په جر مست لکه خر، په سر کلک لکه غر
په زړه سپے لکه سپے، مړیرا قریرا
په خولې خوږ لکه کوک، تش ایمانے د پوک
یارانه نے لیقرے لکه سخا ایریږه

کله ماول د پیښو، کله غپ د خرو — کله غم د زهرو، کله بربر بربږو
کله شهنګ د لیلی، کله رنګ د ملا — کله شپول کله زور کله ګل د لاله
کله پرس د سونډه، کله سوبیت د دهوس — د دوستانو دعا تم او ایمان د چرس

د دوست د کونټ مړیرا قریرا
یارانه نے لیقرے لکه سخا ایریږه



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ

تو تو تو خړ او تته تته

ارمان زما لنډۍ له فيرنګ شنه جوړ کړه کته
خبرې اوس پستې کړ شمله دې دو بې بته
يو نو ې اسلام راغې د خانانو دَ مالته
چه خوبنې دې د ې موتر که مجبورت دَ جماعته
تيز کړ ګې په پتړولو کله بره کله بښکته
په بله تماچه کړ ګې يريږي دَ پښلته

او تته تته خړ او تته تته

ارمان زما لنډۍ نن په اسلام کړې ډ نګ
ارمان زما لنډۍ سخکال(•) کړلې ډې بادرنګ
ارمان زما لنډۍ کښې دي چالونه رنګ رنګ
ارمان زما لنډه په کله پلن شي کله تنګ
ارمان زما لنډې وي کله بره کله بښکته

او تته تته خړ او تته تته

ارمان زما لنډه په لرې خيته دماتي
په نسل فتح خان او په خوبونو جلاتي

(•) سخکال: سبز کال.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنګې زړه کښې زړه کینه ساتي
ارمان زمالنګې نن کړي کاروونه خیراتي
زمالنګې حاجي شو نه څپېړه وهي لته

اوه تته تته خرو او تته تته

زمالنګې بنه شوې دے غیرت د مسلمانان کښې
مړو له جنت کښې ژوندو له دا جهان کښې
زوي له نوکري کښې او خان له پاکستان کښې
د استاد رقیب دلال به نن تاله جانان کښې
په بلبله تماچه کړه څوک، یریږي د بلبله

اوه تته تته خرو اوه تته تته

ارمان زمالنګې چه پخوړ لکه زمرے دے
په لنډه کښې بنه دهړند دے خو کړبوړه کښې نرې دے
په فکر افلاطون دے په اخلاقو بناپیرے دے
په عقل لږ میخین دے خو په ژبه چچرې دے
ارمان زمالنګې دے ډک د چل او د حکمته

اوه تته تته خرو اوه تته تته

الله زمالنګې نن د فیرنګ نه ګټي خان
الله زمالنګې کښې هم مصر ایران
وي نیتم د کعبې دے خو لندن ته ږي روان
هسې ږي فیرنګو ته خو نه لګي هندوان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زما الله ي نه باکوکړ دے او نه بته
اوه تته تته خړو اوه تته تته

پرون زما الله ے چېرته ولاړو په دیران
پرون زما الله ی چېرته خوړل پرکی توتا ن
پرون چه جهان روان (*) وو، وُ زما الله ے ودان
پرون دَچا په دین وو چه دانن شو مسلمان
زما دَ بنا د ئ مشو ستاوی غم کښ کمه بته
اوه تته تته خړو او تته تته

زما الله يه واوره دَ بونډ ئ لګۍ ډ خوار شم
دښمن م دَ دښمن شه نو زه يار به ستا ديار شم
که ځے دَ جانان کورته زه به ستا دخپو غبار شم
ته زار شه په وطن نو زه به ستا دَ ستر ګو زار شم
تش منه خوره قسمونه ستا شه تورو ژبه تته
اوه تته تته خړو اوه تته تته

ته نوم دَ اسلام اخلے په اسلام پوړے خندا کړے
مستي هم دومره بويه چه دے تام پوړے خندا کړے
دعوه دِ دَ عاشق ده ديار بام پوړے خندا کړے
که سم نه شوے روان چوکه به در وُرمه بنسکته
اوه تته تته خړو اوه تته تته

الیکشن ۱۹۳۵ ع

(*) روان = وران



A .S.K B

# مسلمان

مسلمان هغه بنده دے، چې ئې شونډې تل مسکۍ وي
سترګې ډکې د رڼا ئې، د خُلې یو په سل مسکۍ وي
سپین ایمان ئې لکه تندر، بې د غُمانه هرڅه سیزے
دجانان دَ دړیو تے نه لغے ول په ول مسکۍ وي

چه ئې زړه ډک د آرام لکه ویخ دَ سمندر وي
خُله ئې ډکه د ګلونو لکه باغ دَ صنوبر
داسے مست دآسے سرشاره لکه مینه دَ کافر
اراده کلکه بے کرکے لکه څوکه دَ خنجر
دوجود هر څاڅکے وینه سره په مینه دَ دلبر
په سینه کښې ئې رڼا وي لکه څرپکه دَ جوهر
په ژړا کښې ئې تاثیر وي په خندا کښې ئې اثر
مټ ئې بر په هرڅه بر وي لکه مټ دَ سکندر
دَ زړه نور ئې لکه شمع په اورونه بل مسکے وي
دَ بلبل دَ خُلے آواز ته دَ غوټے دګل مسکے وي



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساقي

دَ ساقي لاس کښې شراب دی، دَ خندا دی که دَ غم دی
چه دَ سوز او که دساز دی، دَ مستئ که د ماتم دی
ساقي ستړې مهرباني، خو بې ګوره په ستم دی
دَ ساقي شونډو مدهوشو کښې خیالونه دَ کرم دی
دا تپوس زمانه مکوه، چه دا ډیر دی او که کم دی
دا نشه هم دَ صنم ده، دا شراب هم دَ صنم دی
میخانه هم دَ صنم ده، مستانه هم دَ صنم دی
زه ئې څکمه ستا په نوم، دَ جمدون که دعدم دی
جام په سر سر په سجده یم، یو قطره دَ خمار غواړم
دَ دلدار وصال به کېږي، زه تش خیال دَ دلدار غواړم

(*)
نه خوشحاله د وفا کړم، نه خفا د کرم ستم
ژوندیو تال د چه عزیزې، کله زیر او کله بم
دا یو دوه ګړئ ژوندون، په خندا خندا تیر که
دا جهان خداني جنجال دے، کله وران او کله سم

(*) خفا = خفه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوے کال

خاوندہ بیا سپرلے شو دنیا یو کال واړوُ

چا په ژړا وارووُ، چا په وصال داړوُ

چا د نستو په شان په ساک او دال واړوُ

چا د صاحب په شان دَبل په مال واړوُ

څوک په سفر لاړل بلخوا ئے مال واړوُ

چا د جانان په سَر دَ خاورو شال واړوُ

چا دَ ګُنګرو په شان په شرنګا شرنګ تیرکه

چا دَ سپوږمئے په شان په رڼا رڼک تیرکه

او غنی دا هم رنبه لکه پخوا واړوُ

خندئے په خندا واړوُ خندئے په ژړا واړوُ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه

زما بخت د شمع بخت دی یا به مرمه یا به سوځم
یا به ورغځ له د دریاب ځم یا به پاس په څپو خوځم

عجب زه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دے
مارسوتی پړاؤ له بیائی که زه ځمه او که نه ځم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے خلاصیږی

تاؤ دغرمے لاړه ماسپښینے شو — لکه دَ منی یخ باد دَ سپینے شو
سرور دَ سترګو ډیر خود دَ زړه کم شو — او دَ فراق استازے مخ دښمن شو

ساز کښ سرونه نن دَ خاموشئ خیږی
دَ هوش جنګے په کور دَ بیهوشئ خیږی

دَ شفق سره رنګونه شو لړه توره — بادشاه شهونکے شو دَ خپله کوره
او ستارګښ شرنګ همغه دَ ماښام نشته دے — سرور په سترګو کښ دَ خیام نشته دے

څپے دَ رقاصے سرے خو تال ئے همغه نه دے
بانګ دَ بلال همغه بلال ئے همغه نه دے

په جام کښ کوټ کوټ شراب ګیږی — سپرلے خلاصیږی ګلاب ګیږی
اورنا دَ شمع کښ د سحر نوره راغے — باغ د بلبلو ته نوم د باتور راغے

دَ غمو سترګو له خیال دَ خزان راغے
لږ مستی لاړه او لږ ارمان راغے

او د فراق سورے په وصال پریوته
ستوری را وختل او هلال پریوته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دجیلخانے خوب

(۱)

خوب وینم عالمه که ئے خوږ راکړی معنیٰ
پروت یم سر م اېښی د خپل یار په زنګانه
خوب وینم چه پورته په هوا لکه د باز شومه
کیناستم په بام د محمود ستر ګے د ایاز شومه
پورته د خاموش زړګی نه خوږ د مینے ساز شومه
خوږه م په حورو کړه د ډمو زمانه

(۲)

خوب وینم چه ناست یم د جیند ی (۱) په خیه غاړه
شاه م سویلو کښی لکه سره شمع ولاړه
سره شونډ م سکے شو ما ته ے وچه ژاړه ژاړه
څکه د د زړه وینے دا شراب دی مستانه
خوب وینم عالمه که ئے خوږ راکړی معنیٰ

---

(۱) "جینډ ے" د ښتنګر د مینځ هغه سیند دے چه نهونو
اته واړه ګډیږي په غاړه پراته دی. (غنی)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

خوب وینم چه باغ دے دګلونو او مابنام دے
سره سترګے ساقی دساقی سره کوټوکښې جام دے
لاس په ستار پروت لیونئے مست لکه خیام دے
اورئ پرِ نوئے نزئے د مینے افسانه
خوب وینم عالمه کهٔ ښوک راکړی معنیٰ

(۴)

خوب وینم چه سپینه سپوږمئ پاس په خندا راغلله
ماله محبوبا په شرم شرم ترخوا راغلله
شونډو کښې شراب او په کوکئ کښې قضا راغلله
سُر خمارے راکه پیمانه په پیمانه
خوب وینم عالمه کهٔ ښوک راکړی معنیٰ

(۵)

خوب وینم چه پټ شوم په نسیم کښې بهر لاړمه
خواله دَ جانان لکه دَ مینے نظر لاړمه
سترګو دَ دلدار له لکه خوب دَ صحرا لاړمه
یو شرنګ کښې م لوټ کړه دَ عمرونو خزانه
خوب وینم عالمه کهٔ ښوک راکړی معنیٰ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶)

خوب وینم چه زړه لکه لولکه په سیل اووتم
پورته د نرګس نه شوم په خوا د رامبیل اووتم
ناز د سپینې غاړې د لیلۍ په امیل اووتم
پټ م ورته ووے سلامونه جانانه
خوب وینم عالمه که ئے څوک راکړی معنٰی

(۷)

خوب وینم چه پورته لکه چغه د منصور شومه
پایو مټې خاوره وم پالونے دریاب د نور شومه
خوبانګ د صحرا و شو زه را وینښ شوم کور و کور شومه
خوب یوړه خوبونه را جمد (*) ے شوه زمانه
وی ئے پریوزه لیونیه تیره وه د جیلخانه

غنی

حیدرآباد جیل - ۱۹۳۰ع

(*) جمد ے، ژوندۍ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړے وړے

واوره فلسفه د لیونتوب د لیونی نه
دا آیات خو نه دي خو قرآن کښې ما ویلي

مرګ او ژوندون یوه ده . غم او خوشحالي یوه
ژوند چې چرته نه وي مرګ چا ملته لیدلے دے

زړه لکه د جام دے خوشحالي غم ئې شراب دي
ترے به رخصت شي تا خو غم ته نسکور کړے دے

خوند که ئې جدا دے . دوه نشه یوه د دواړو
دواړو کښې خمار لړ د ساقي دستر کو تلے دے

مرګ کښې پټ دے راز د مرګ ژوندي په نه پوهیږي
دا آیات خو نه دي خو قرآن کښې ما ویلي دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قید

دسحر تیل اودال — دماښام دال او تیل

نه کوټکئ په کټ کښ — قلپئ (۱) دعطر او فلیل

دسحر دوه چپاتی — لکه زړے چیترے

داسے خوارځ او پاسته — لکه دَخوږ نغرے

چاۓ لکه یخه سوروا — په تروے کړے توږ

پیاله دَ زیړو دولچه — اوس راشه خوندے کوږ

بستر د برګ تر پړی

سوځ نئے توره کمبل

او یارانے له دَ شپے

خار به خار به کهټمل

محفل د سنکلو خلقو — قول بزرګان شریفان

یا متهیزک ګسن کپان — یا اجرتی قاتلان

چه نور زیړے شی هیله — ما په پنجره کښ کړی بند

---

(۱) دجیل چکئے کښ دبولو لوښه هسم پروت دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه مرز په قطار
په باړه وکښې کړې بند
تمامه شپه ګرزي
دم په دم کې تفتیش

ته به وې چرګ یمه زه | یو به م سی پناپیش
د بندیدو سره | همه دنیا دَ بهر
یو تور ۀ لره شي | کښېني م ان په ځکر
دَ جهان تول نمونه | لکه سیلئ را شي
دَ زړه ګی سرله بدِ | لکه کوئے راشي
او چې ارمانونه پکښې | لا د لوئے راشي
لکه د مرې په کور | چه سره دولئے راشي
او چه دے باغ دکاو | ما سبام را یا د شي
لا چه دِ دک دَ مستئے | سور جام را یاد شي
که دا خدمت وی دتام | زمونږ تو به ده

دا دال او تیل مضمول
ګرانه قصه ده
او لا په دے کښې هم
غنی غزلے وي



A .S.K B

دعشق اور دے مزلے
په بلے بلے وئ
ولے په تشو اوبو
شاعری کرانده

چه تاؤ دَ اور نه وی — زر کری کرانده
قاضی(۱)، صاحب وی قرآن — سحر، مابنام، مازیگر
خان لدے کینو آواز — او مالدے خوږ که سر
که میله غزکوو — اوس راته وائی آیات
قهر په مست او شار — رحم په صوم او صلوٰت

خه او کړو صبر به شو
دا د الله نه ده
ولے په تشو اوبو
شاعری کرانده

غنیؔ
حیدرآباد جیل ۱۹۴۸ء

---

(۱) قاضی عطاء الله وزیر تعلیم زیاد حیدرآباد سنده دَ جیل مړ کړے دے. نامی عالم، پښتون شاعر، پښتو شعر، سیاسی شخصیت او لیکوال (۱۹۵۳ م ع) قاضی د پښتنو تاریخ هم لیکلی چه په خلورو ټوکونو چاپ شوے دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاورے

نه منم نه منم یاره مرګ انجام د مستۍ نه دے
خلا مېدال شراب په جام کښې اختتام د مستۍ نه دے
چه ماښام د کمې شپې وی نو د مغې سبا هم وی
چه رڼا وی تیاره وی، چه تیاره وی رڼا هم وی
که یو نه وی بل هم نه وی، او چه وی نو وی به دواړه
دے دریاب له چرته شته د لرے بله یوه غاړه
زړ سحر د بهار دی یو ماښام کښې د خزان
شل خمونه د ک د عطرو یو دانه کښې د رنځان
چه یوه غوټۍ شی خاورے تخم وکری روغ ګلزار له
د خپل رنګ او بوږقی پناه ورنه شکرانه یوسی بهار له
دا جهان د نور او سوز، ولے روک شی چه ساز چپ شی؛
چه جانان په مستو سترګو ګوتے وروړی ستار له
په قبرو نو کښې پرتے دی لاس او خپے شونډے او ګوتے
خوک شی تبرجور وے د د سرو سترګو خمار له



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جام ئې مات شو میخانه کښې لیونے تې غلے پاڅید

زړو مې ډک د ړنګه یوړه دے روان کوڅې د یار له

ساقي نوے جام را واغښت په سره شو تلو کښې مُسکے شو

بل عاشق ورته لاس ونیو شکرانه تولې د دلدار له

مُلا بے سره سروره تش کنډول د مرګي یوړه

خاورے خاورو له لاړې کنده او کنوئې خوار له

غنی

حیدر آباد جیل ۱۹۳۸ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخوبونو جهان

زما په ولیبه دخوبونو لوی جهانه
په شپه کښې راشې په ورځ بیا لاړ شې له مانه
دَ ستورو باغ پیدا دخاورو دانسانه
ښیسته دګلستانه راځه ماله راځه

دا ینې عکسه ولې بل خواته ورکیږې ؟
سوره لوګیه آسمانونو کښې پټیږې
دصحرا سینډ چرته ځې کوم خوا غیبیږې؟
وچیږې وچیږې راځه ماله راځه

دسیلۍ اَسه دآسمانه غور ځول کوې
اول دا روښې بیا دَ زړونو ماتول کوې
دَ یوکا رنه ئې او به ماکا رونه سل کوې
وژل کوې وژل کوې راځه ماله راځه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اَے بادِ صبا

ته څه خبرے اَے باد صبا — څه دنیا کانے تالا کړے مونږ

هیریږم کړے زلفِ خورے ورے — زلفے جانانے تالا کړے مونږ

هیرم که هغه دَ نور سبا — هیر مستانه لیونے مابنام

هیریږم کوګئے مینه ناکے کړے — پرتو دے اروے دَمیو جام

کړے دکے زوړلے دَ نور — څه په خنده مونږ نوستلے دي

سرے صراحۍ د رڼا او ساز — مونږ په صحرا اړولے دي

سترګے چه وے دخمار ډکے — مستے د ژوند دشهکار ډکے

پور د شرابو پیالے دَ ناز — ښکلے د سُر او سینګار ډکے

روسو کے شے هیر سوے، خاورے شوے — یاد او ارمانونه هم خاورے شوے

پاڼے ګلاب او غوټے څه کړے — غم د خزان هم خاورے شوے

ته څه خبرے اَے بادِ صبا — څه دنیا کانے تالا کړے مونږ؟

هیرم(*) کړے زلفے خورے ورے — شونډے جانانے تالا کړے مونږ

غني

حیدرآباد جیل

---

(*) هیرم : هیرمو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مهذب

چه خراب مِ په سګرټو عمرو پړپوس
او په مس مِ خرڅ کړو دین ایمان ناموس
چه مِ هیرې د پښتو د ملک قصې کړې
چه په مسلک مِ کړه بدل د وطن بوس
چه په نوم دَ پلار نیکه به شرمیدلم
شوم فدا دَ میس د خولې مرید دَ بروس
سوټ مِ واغوست جهالت ته په غضب شوم
ماګې داوړه بابا اوس زه مهذب شوم

۱۹۳۲ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوداګر

عجیبه دا سوداګر دے — په لاس تیغ په سر قرآن
شنه قبائے د امام ده — کلکے سترګے د شیطان
په خکر لکه چنګیز دے — چلولې لکه ماما ن
په خُله خوږ د ګلو باغ دے — په زړه سخا لکه ویران
غړمبیده لکه زمرے کړي — غړیده لکه حیوان
پنجے د وبے په سر و وینو — سرے بره په آسمان

ماته وَی چه خُوانه راکه — ستا پښتو توره او ننګ
راته وَی غیرت دِ پرېږده — شه زما د در ملنګ
وَی سرټیټ کړه کنی کړم به — په تا مسلک د الله تنګ
وَی زهٔ او بنیار لکه ابلیس یم — زهٔ خونخوار لکه پلنګ
ته راکوز شه ښکته کینه — ماله د دیار پالنګ
یا ما خدائے که سجده او کړه — یا زما او ستا دے جنګ

وی دا توره زما لاس کښ — ستا د ژوند اختیار زما دے
ستا خمار غیرت او مینه — د دے ګوتو ښکار زما دے



A .S.K B

داشمله دننګ کړه تیته  دېر تیره غوزار زما دے
دفرعون چنګیز وار تیر شو  اوس را غلے وار زما دے
شه غلام د دے غلام  په ده دېر اتبار زما دے
خاورو خټو کښې پراته دی  چه خوړلے وار زما دے

که زما شوے زما خوانه  ګوره دا د زرو تخت
پاس په دِ د پاسه کینه  خوشحالیږه په چل بخت
داجامونه د شرابو  مسندونه د زر بفت
دا سپرلے دا پیغلے مستے  ستا د سپینے خوانئ وخت
داجنّت د عیش او زور  بل خوا اور داوره سخت
خوانه زه ساقی له ورشه  کړه داسره سینه بالبت

رته خنکه سودا کردے  خنک زړه دکړم جهان واخلم
خنک نظر دستر کو ورکړم  او چشمے د مرجان واخلم
خنک جار او سپوږمئ ورکوم  دلالونو دېران واخلم
د کسرے د طوق بدل کښې  خنکه دین او ایمان ورکوم
د دیار دیرے خنکه  بے خودی او جانان ورکوم

دا د نور او مستئ ډک سر  په سجده کښېږدم غلام ته
د قصاب د چیچرو مینه  خنکه او بنایم خیام ته
خنک د بل دتا لی یاتے  کرم چوکه د مستے جام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خُنک دلدار په دنیا ورکړم　　رقیب او خېژوم بام ته

د جانان خیشته سرخُنګه　　دَ فرعون په بڼو کیږدم؛

نه دِ لیلٰی سودا کړه　　تا د سرے ویښے غوږ نه

په تیټ سر باندِ نه ښائي　　دا زما شمله د ننګ

د سرو زرو تخت قربان شه　　په آزاد کنډ دَ ملنګ

تېتو سترګو کښې او چیږې　　د سرو او مستۍ رنګ

ستا شراب د زهرو ګوټ دے　　خلاصول کړي دَ ایمانه

ستا ساقي دَ چکلي دمه　　په دوه نیمو پیسو ګرانه

---

زه روکیږه سودا کړه　　لیونی مونږ دَ دلدار یو

ته ئې اوږے دلالو نو　　مونږه اوږی ښکار یو

نه ئې دم نه ئې داروشته　　مونږ په داسے بخ بیمار یو

ته مغرور په خپل زور ئې　　مونږ په مینه کښې سرشار یو

راشه اوګوره فرعونه　　دا دوهمه دَ ملنګانو

په دے خاورو کښې خوړدی
کړي ئې دَ بادشاهانو

---

غنی
هري پور جیل
۱۹۴۷ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوکل

دے کوکل کښې م د ننه — هم دوزخ دے هم جنت
دے کښې قهر او غضب دے — دے کښې رحم او راحت
دے کښې پروت یو سمندر دے — د نشے او د خمار
دے کښې پروت یو تهترین دے — د لمبو او د آزار
دے کښې پراته دے دوه رنګه — د سپرلي او د خندا
چه یو یې برق نے پورجهان کړي — د مستۍ او د رڼا
دے کښې پراته دے دوه رنګه — د تیارے او د ژړا
چه یو یې نے تور لحد کړي — د خندا د که دنیا
دے کښې دوه شجاعت دے — چه د ګل جهان مرکونه
یو نظر کښې تار په تار کړي — لکه باد ورکړي بوسونه
چه په پیره بانډې راشي — زړه تے[۵] غټ دے د منزرک
دا سے رپي دا سے تبنتي — دا او بوشا ښکے تے کلک
او چه کلک شي دا سے کلک دے — لکه کاڼے د فولاد
نه پرے زور تر سے اثر کړه — نه پرے زور کاله فرياد
دے کوکل کښې م د ننه — هم دنیا ده هم قیامت
دا هم لار هم کاروان دے — هم تدبیر دے هم قسمت

---

(۵) تے : سړي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت په دې کښې قول د ان دې / دَ جزا او د سزا
خور په دې کښې لوئے جهان دے / دَ وصال او دَ وفا
دا هم باغ دے هم خزان دے / هم بلبل دے هم بهار
دے کښې سره نیاز بین کاونه / او د ښنو او بو شرار
دا هم زهر هم زقوم دے / هم ګبین دے هم نبات
دا هم تور د مرګ ښادرې دے / هم چینه ده دَ حیات
ده کښې پروت داسے شراب دے / چه یو څاڅکے د مغے
په بد مسته او سرشاره / کړی دا واړه فرښتے
دَ چه څځ په بره درومی / شی جبریل ورته حیران
چه په بد و باند راشی / امان او غواړی شیطان
عجیبه دیم جوړ کړے / اے زما خدایه عجیبه
بے د تانه نور دَ هر څه / دَ همه یم مرکبه
دا داوړ او نور دریاب / دومره لوئے لکه آسمان
دومره روکے لکه څاڅکے / دومره لنډ لکه یو آن
دا قصه دَ سوز او ساز / ولے ولے څه له څه له ؟
خیشت او غم راز و نیاز / ولے ولے څه له څه له ؟

غنی
حیدرآباد جیلخانه
۲۳/۹/۴۸



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جناب شیخ

زړه ډېر ډک دے دَ خپل ځانه — په کښې ځاے نشته دَ یار
دا سے ډک ئے د نیکونه — لکه ډک دَ مرو بنار
دوار وسترګے ډېرے ړندے دی — دَ بل بد دَ ځان ښه وینی
تل آئینه کښې ځانته ګورے — د یار نه وینے سینګار
شُنډے سترګے او زړګا رے ړندے دی — چه صفت دَ اَشنا وکړے
دَ خپل نور قصید ے وائے — په کوڅه کښې دَ دلدار
دا سے ته په نیکے مست ئے — لکه ووُ فرعون په زور
د ریا ښه دې ته تاو دی — لکه لوئے او تور حصار
چه په بل کښې بدی وینے — خو مړه زړه دې شی خوشحاله
د بل خیشت دې ته غلا ښکاری — ستا د تور تاریک جماله
دا شکور رانده چه وینے — چه دې غرے کوی غُرزین ی
دا م ستا په شان روان دی — دا چه پرېوزی او پاخیږی
دا چه ته وربورے خاندے — دا مجنون او دا ملنګ
ستا قبا د شنو رینبو — او دَ دوی شلید لے لنګ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم زوے دے د آدم — د الله د کوتو جوړ دے
څه که ډوب دے په تیرو کښ — په شرابو کښ شور پوړ دے
دے هم ځغی په چغو چغو — دے هم غفلته روان دے
ته چه ئې د کسم په طمعو — هم هغه ددۀ مکان دے
اے چه ډوب په فضل ډوب ئې — اے چه بره ئې خوشحاله
ددۀ شور چغې هم واوره — دا هم ځان له وی هم ناله
دا چه د پرے پرے رخ پریوزی — تا ته ښیئ تینک دَ لاړے
دا دِ دے سر ماتے ولیاء — ځکه ته روان او ښیارے
شیخ چلو دَ نیکو د که — گنهگار دے ستا اُستاد
ستا دعا دَ ځان د پاره — ناله دے دَ دۀ فریاد
ستا دَ ښو دیوه بلیږی — په سینه کښ ځان د پاره
ددۀ سرے لیبے داوردی — دَ همه جهان دَ پاره
دے تصویر دے دَ آدم — دَ ختتو او پریوتو

او په سوو وزرو نو
دَ پتنګ د الوتو

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۹ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخ

دخوبانو سره مینه
ده خوراک د زړګي وینه

چه د بانړې دي تندۍ کښ
تل به ښخ وي ماه جبینه

زنګ وهلې توره چړے
تویوی نه ستکے وینه

قتل عام د مږغې کار دے
چه خُلیږي تاړه سپینه

دخزان رنګ د سرو زرو
دغني یاره حسینه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

شونډو له خوند      او سترګو له رنګ
پوزے له بوئین      دَ نرګس دَ لونګ
زړه له امید او      مستي او ارمان
غوږ له سرود او      شـــنا را او شرنګ
ماله ســـرور او      جـــمدون او نور
دا څو آوازه      دَ ژونـــد دَ رنګ
ټق ټق دَ اور      ټپ ټپ د باران
اَخ اَخ دَ وصال      اُف اُف د ارمان
وَی وَی دَ جنون      وَخ وَخ دَ صنم
نانا ، اَو اَو      هـــر وَخ دَ صنم
قت قت دَ خندا      پرق پرق دَ مستے
شرنګ شرنګ د پانزیب      چڼ چڼ دَ لښتۍ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرشر دا دبو — شغ شغ دَ نسیم
بس بس دَ دلبر — بر بر دَ غلیم
هیں هیں دَ ډهلې — شنګ شنګ دَ کولې
قر قر دچلم — پر پر دَ لولې
دُم دُم دَ دوېړې — تنګ تنګ دَ رباب
غر غر دَ پیالې — سخ سخ دَ کباب
چپ چپ دَ کوکې — پس پس دَ دلبر
چر چق دَ تارو — کو کو دَ کمتر(*)
بس بس دا آشنا — بد بد بے روان

ایش ایش دا قلم
هاں هاں دا بیان

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۸ع



(*) کمتر: کوتره کبوتر.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب

زوے مې راغے دیورپ د تربیته
جوړ سنبال لکه دَ ناوے پوره ښکته
تریو تندی پوړه ری مخ ئے وؤ نیولے
تا به وے وؤ د لاټانو دَ محلته
دَ ډوډۍ او د فیشن سره ئے شوق وؤ
ډیر نفرت ورله ورته دَ جماعته
لکولو د پیسو کښ افلاطون وؤ
خو کتلو کښ غریب وؤ بے همّته
نن چه ما ورته په فکر نظر وکړو
خر مې معنه وؤ بس نوئے ډوکته

۱۹۳۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور

ګنهګار یم ګنهګار یم — هم د خدای هم د دلدار یم
بې وفا په محبت کښې — نفس پرست او بې اختیار یم

مینه مینه په خوله وایم — مینه نه لرم حیوان یم
نه م لوظ نه م قسم شته — نه مین په یو جانان یم

چه کم ځای ځواني او رنګ وي — چه کم ځای د ګنګرو شرنګ وي
چه د چا د تمبل تنګ وي — نو زما د زړه غوږ ځنګ وي

یو مکه د مسلمان وي — د کافر یو بت خانه
هره ورځ زه بدله ومه — نوې نوې میخانه

هم م مینه ده بې پته — هم ګناه م بې وفا ده
چه م کمه مخامخ وي — زه وایم دا خما لیلیٰ ده

کله لاړ شمه جماعت ته — په سجدې په زاړې پریوځم
شل سجدې م کړې نه وي — بیا د چا په یارې پریوځم

یو سوز او درم د کوګل کښې — ما سوزي د نه بهر
نه د یخ خونه دې کم شو — چه دا اور دې که سقر

که ساقي د کوه قاف وي — که شراب وي د شیراز
بس پیکه م ترې زده کې شي — چه معلوم نه کړمه راز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ما بنام وي که سپوږمۍ وي — که وي راز او که نیاز
روح م تنګ لکه لحد کړ — که وي سوز او که وي ساز
دا زه څه یې پسې حیرانه — سرګردان پریشان ګرځم
دا زه کم خواته روانه — په باغچه بیابان ګرځم
ګنهګار یم ګنهګار یم — آدم خور یمه څپل ځان خورم
څپل بنایست خاورے کومه — اژدها یم څپل جانان خورم
دے په زړه د نه اوږدم — رو رو تن لوګے لوګے کړه
د(*)هیرے ګړه سره کلونه — شین چمن لوګے لوګے کړه
دے دا اورمے خوراک کړه — نوے نوے امبار غواړي
نوے رنګ نوے محفل کښي — نوے نوے خمار غواړي
دے دغجن یم دے وغجن یم — دادَ قسته کوم فریاد
نه یم تنګ زه دَ دے اوږه — زه په دے یمه آباد
زه به ده له خاشاک ګورم — که باغچه که بیابان وي
زه به ده ته لوګے کومه — که خواني وي که جانان وي
دادَ ده په شنو لوګو کښي — زه اوربل د دلدار وینم
دادَ ده په لمبو کوړه — زه سپوږمۍ او ګلنار وینم
دے زما په وینه پائي — زه د ده په لمبو پایم
دے زما وجود او ساده — زه د ده وجود او سایم
چه دده پرق او شنار وي — هلته ژوند هلته انسان وي
چه دَ ئې دخاورو توپ وي — پنه خزله دَ ویران وي

(*) هیرے = ایرے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی یم لیونی یم          نه مې سرشته نه سامان
نه په مینه مستې پوهیږم          نه په سود او نه په زیان
عجیبه بې زوره لار ده          عجیبه بې خُمې کاروان
که قدم اخلم غورځیږم          که او دریږم مه تاوان
عجیبه غونډې شراب دي          چه نې څکم لا تږې کیږم
عجیبه من او سلوی شته          چه نې خورم لا وږې کیږم
دا په زړه د ننه اور م          که نې وژنمه روکیږم
که نې نه وژنم سوزیږم          لوګې کیږم ایرې کیږم
لکه شمع بد نصیبه          لا به سوزم لا به مرمه
لا به خان تالا کومه          لا به تور دریاب له ځمه
بس دې بس که لیونیه          دا دَ ولې ولې باب
جام که ډک سترګې که پټې          تنکوه دِ خوږ رباب
ور نژدې شه ور نژدې شه          چه د یار شونډې شکرې
روپه مینه مینه اوکړې          ده خوږې خوږې خبرې
تورې سترګې بلیږي          لکه شمع دَ معراج
د غم سرو شونډو کښې اور دې          اور دې هم دا اور علاج
په سرو کوتو کښې جنت دې          که دوزخ دې که بقا ده
وی سوزه سوزه خانه خانه          ژاړه ژاړه دا دنیا ده

غني
حیدرآباد جیل
۱۹۴۹ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آدم

عجیبه م وجود لا عجب یم ځکه
څه بې توکه بې توله دا سترګې او سر

یا په بام د حرم د مستۍ ترانه
یا په شپه د وصال د نفلونو بهانه

یا موسی ته قیصې د فرعون د محل
یا فرعون ته بیان د ابد د اجل
یا د غم د بی بی نه سرور غوښتل
بُت خانه کښې پرتونه د طور غوښتل

کله روح د مجنون او ساقي او پیاله
کله نشر د خیام او ژړا او صحرا
کله خوب د منصور د رڼا د وصال
کله شوق د حبشي د کوکې او د خیال

کله ډوب بې پایانه کوسې د غم
کله هر و پیاله کښې صنم صنم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا دَ ژوند کاکوکښ د مرګ تصویر
یا دَ مرګ ساګوکښ د ژوند تعبیر
یا پیغام د فراق په خندا کښ دیار
یا امید د وصال په ژړا کښ دیار

یا دَ جیل کوټګۍ کښ خوبونه دکور
او ایرو کښ ارمان د رڼا اودَاور
دا بیخوده دماغ بے کماله وجود
پچارې د منډراو شوق دَ درود

هم غلام د ښایست هم مرئې دَ وفا
هم دریاب د تیرے هم مستۍ اورڼا
بے آرامه ارمان بے قراره نظر
خه بے توکه بے توله داستړګے او سر

یا په بام د حرم دَ مستئ ترانه
یا په شپه د وصال د نفلونو بهانه

غني
خان پور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه کېږي په عقل

سپین ولینبه دِ تاوکه ستوکے ځنه ترِجوړه که
قرض رنګ پرِتوی که قالین جوړ د خپله پوړکه

نه کېږي په عقل تو کـل غواړي د چرسیانو
نشـتـه دے کلونه په کوڅه کښې دَ ملیانو

دلته ښانګونه دي تالي دي رکیبۍ دي
دلته شـراب نشته پیکوړي او زلوبۍ دي

عقل له سرور کښې سرله عقل کښې کور نشـتـه
داخبرے ماته مِ رو رو کړے آبۍ دي

مینه خو یو مینه وی نه سود وی او نه زیان
دلته په کچکول کښې خورے شوے نوابۍ دي

لاړه د هوښیار په کنډو کنـډو په دړو دړه
مینځ دلوړے ژورے دَ اودکه داسې ړده

داسے آواز کوړۍ چه نه زیر وی او نه بم وی
خو ښه ئے رباب کښې خاموشي د مقبرو ده



A.S.K.B

اوبښ خوار له یا لوړ او صحـــرا وو یا مهار وو
خـر د موسیٰ رورد ے خو مین دے په جوارو

کوردَ طمع څه دے تو ر محل د بلا کانو دے
روح نا وے کول په ړوند کی کښ دېرینو دے

تش د کباب خوند له اسمٰعیل حلال ول دی دا
مادا او ریدلے په کوڅه کښ درندانو دے

زور او غـرور نه لری عشق صبر او ارمان دے
سر او سره ورنه لری سړخان دے او جهان دے

رحم نه انصاف دے یو تدبیر دے دَ دوام
هرڅوک نے پکار دے که خیبو دے که خیام.

شنګ وی د نزدے نه او ړوندکے دَلرے لرے
دواړه غزنی یو شان او یو ړندکے خبر ے

دک د ظلمه زوره دَ طاقته د بازپر ے
جوړے د مهین او رنګین بوی د ګل وزرے

کومه لار چه اخلے خو مقام نے بس یو دے
دلته زر جُماته دی امام نے بس یو دے

څکه لیونے دے مرورتیٔ کــــله کله
بل خوا ته ورتاوکړی داد هوش تمته شله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېوزي په پړاو کړي بتخانه کښې ډېوه بله
خپسې سپينې پولۍ طمع تا قتی دَ منزله

تا ته اور سرو ورد ے يو مار ولے وړ شنې اوګښ؛
اے دسپين او تور ما ګکه څه مزه ده تور ګښ؛

ولے زما لال دي پروت په خُلے کښ دَ بنامار
ولے دے ګلاب له نه اوربل او نه بهار

ولے دِ بندي که څاڅکے تن کښ دَ ډنډ وکی
غوا ړے ترچپے دسيند سازونه دَ اَبشار

ماله مرګ او ژوند دے تا له تښ دَ څښنے ول دے
اور کښ دَ بل کړے ولے حُسن الول دے

اور ته دے نبولے یم فولاد جوړے زمانه
سنه چه زه فولاد شمه نو څه زما جانانه

جستو فولاد وله جوهر وله کمال له
بس خاور ے کيږ دي روکيږ دي دَ دُنيا نه

ولے دِ ورانو لوله جوړ کړے سور محل دے؛
اور کښ دے بل کړے ولے حُسن الول دے؛

ډېره اسماعيل خان
۱۹۵۰ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختلافات

پلار مې ورک په خپل وطن
زه د خپل وطن نه ورک

د هغه خوښ دې تعلیم
زما خوښ ساک د پالک

د هغه خوښ دي ځوانان
تول د قام په جنګ روان

زما خوښ هر ګلستان
هر چمن د لولو ډک

د هغه وطن جهان
دا بې نوره بیابان

زما ملک ښکلې آسمان
د ښيسته ستورو نه ډک



A .S.K B

# لوږه

چه شي خُله دخوږو سپوږمۍ — د دنیا خوارږه همه
نه ملام ملام یادیږي — غونزاخی(*) او تښلمه
چه شي خیته ډیره وږې — د دنیا ګُل خوراکونه
نه په سترګو کښې غړیږي — سیخکي او کباپونه
چه شي سترګې ډیرې وږې — د دنیا ښکلونه وارږه
ورته ښکلې ښکلې کیږي — تورې زلفې سپینه غاړه
چه شي شونډې ډیرې وږې — د جهان همه خوبانې
ورته وړانګې وړانګې کیږي — سپینې تورې سمې ورانې
چه زړګې د مینې سپوږمۍ شي — تیرې نوې خوشحالې
پکښې د نه ړنګې ړنګي — لکه ناوې په ډولۍ
او نږیم او نږیم داسې وږې — په یوه کوګۍ ورکومه
داجهان او جنت دواړه — په دوو سرو شونډو خرڅومه
کښینه کښینه لیونیه ! — دال ختمه وهه کوکارې
دامږې د دې نصیب کښې — چه ته زوی د داسې پلارې

---

(*) غونزاګی ، ځنځیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر غله به دِ خوږ شي — کښېنه وايه ګړ ګړه
دَ قسمت غاخاورنے ګرځي — راغورځي کندے ته لوږه
که بهار کښ دې ګلونه — نو ميوے دې په خزان کښ
سبا دغه دے راوخوت — ستورې ښکارې په آسمان کښ
سره ګلونو شنو او بوله — بيا به لاړ شي هشتنګر ته
په نوتوب عزت به ګورے — خوږ به سترګو دَ دلبر ته
بيا به غاړه دَ تالاو به — دَ سرو ميو ډک کړے جام
بيا به ګرزنے په مالتو کښ — دَ سحرا او دَ ماښام
بيا به او ترے په يوه — برګ او مست هندکي غوايان
بيا به نيسے په جينکي کښ — مار مهئی او سره کبان

بيا به شور شغرب د ژوندې
ديارانو د شتې مستې
چپ چپ شه مخکښ مه ځه
ژړا را غله بستې بستې

غني
حيدر آباد جيل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویش

باغ کښې ښوک ګلاب شي ښوک شي سړے ښوک ورخاړې
ښوک د مینځ غنچه شي ښوک کبل د غاړے غاړے
تاج د چا د زرو د چا تاج شي دَ غمونو
ویش دَ بل په لاس دي که ته خاندے اوکه ژاړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَغم لوَر

لنګه تیاره شوه رڼائے راوړه
آدم چه مست شو حوائے راوړه

مرګ چه د خپل ژوند تلاش کښ د وت
ژوندون ئې راوړ او سائے راوړه

تورې چه چغه د کفر او کړه
د مال ئې پیالکه قلائے راوړه

چه او بنګے سره شوے شراب ترې جوړ شوه
چه غم بابا شو خندائے راوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زور

خدای چې پیدا کړ د ځان نه زور
کړل ئې ترې لاندې څیزونه نور

سړے او چت کړ تر نیم آسمانه
بادشاه د هر څه وُ بے سره زور

الله مو سکے شو حسن پیدا شو
طاقت په مسکه پریوت نسکور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بُت

دا شونډې سرې د ګل غوټې
دا شونډې سرې ورې ورې

دا شونډې سرې قطرې د ناز
دا مجسم مکمل نیاز

تش او وچ و زړه کوته دا
رنګ د مستۍ او ارمان خوري

ما بانډې ښې او خوږې لګي
ما ته نقشې د جانان خوري

دا خوږ ژوندون مست شوي دي
مرګ پورې مسخره کوي

دا خو ګلاب خندا نه کړي
بل پسرلي ته اسرې کوي

دا خو د تور مرګي په مخ
رنګ او امید د دنیا خوري

دا خو د مجنون ستر ګو ته
خیشت او سینګار د الله خوري

پوهې د دوی د آدم په راز
پوهې په تللو د سوز او ساز

تورې قیصې نه یادې دي
تورې قیصې د راز و نیاز

دا د عیسی د لاس په شان
ژوند او امید او خندا خوري

"بت" ورته خلکه او وایه
ما ته چه نور او رڼا خوري



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېژندګلو

هوښيار هغه وي چه ځان ګڼي خرتوب ويني
خر هغه وي چه خپل ځان ګڼي هوښيار
عاشق هغه وي چه طمع د څه نه که
په شرنګار په مخه ځي لکه آبشار
غوث هغه وي چه له ځانه خبر نه وي
خو خبر وي له ژړا د غريب خوار
چه د قام د پاره دانګي اول اور ته
د هغه منم بريتونه کوناه دار
غني هغه دے چه سړے دے بے سره
کله خر کله نقلي کله هوښيار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولے؟

ګل له بنده خانشت        ستر ګو له پسته دنیا
شونډو کښې دابېخودي        شونډو کښې نشه نشه
خیشت له دچل خان پشان        نور او سینګار او خمار
یار له دخندا په خاے        سپین دسره ګلونو خار
سینې له دَ زور دَ سمندر        زړه دَ بادشاه ورکه
ساز لره آواز، اثر        خانشت، تا دښتا ورکه
ماله دغمونو ارمانونو        جهان راکه تا
ماله زړګے پوست او مستانه        او حیران راکه تا
او ستر ګے خمارے دَیار        دحُسن د آرام ډکے
کله د سپوږمۍ درنا        کله د ماښام ډکے
کله دَ ځوانۍ دامیدونو        دَارمان ډکے
کله لیونے ستا دخمار        او ستا د شان ډکے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای دَ دوزخونو قیامت      او د حساب رڼه
ای د تورو زلفو د لالونو      دَ رباب رڼه
ای دَ مستو سترګو د نرګس      او د ګلاب رڼه
ای دَ مینې حسن د ځوانۍ      او د شباب رڼه
ای دَ لولکۍ د حُسن      ای د ګل د خیال رڼه
ای د راز او نیاز او      دَ نسیم او د ملال رڼه

ولې دې د حسن نه
جوړ که دا د خاورو ښار
خیشت له د خپل ځان پشان
نور او سینګار اخمار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باچا

بادشاهي د جهان څه کړې؟ ځان له دې زياتې غم
د انصاف تلل مشکل دي څه به ډېر کړې څه به کم
خپل غمونه دِ لالن دي د جهان غمونه غواړې
دا سې تخت بخښه کړې څه چه پر شپه او ورځې ژاړې
د تهتوانو په عمله کښې غټ تهتو محکمکښ روان وي
لوی باچا د خښا ورو د هما ولونې جيوان وي
دا دنيا د سپي لګئ ده نه نيغېږي نه سمېږي
په وجود توره پېښو ده چه سې وينځې لا تورېږي
بادشاهي مله جوړېږي چه نيم لګي شي نيم مړو کړي
چه يو کس د بل په غوښو د خپل کور کوترې ماړه کړي
د دې ژونده څه مطلب شو چه يا مرې يا به بل وژنې
دا ميوه ګلاب دِ څه شو باغ ساتې او بلبل وژنې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رتبه مالره که دړاکړه　　بادشاهي دکل جهـ ـ
زه به ئې وغورزوم له کوږه　　لکه سوتې په ډیران
دا یو دوه کړې ژوندون زه　　په جګرو نشم تیرولې
ددې ظلم په کتوئې دې　　زړه بل کیږدهٔ برغولې
مالره اکړو خو کلونه　　یو نیازبین شا نتې جانان
یو ورو کې غوندې باغ　　او په خوائې سیند روان
چه ئې زه په غاړه ناست یم　　په یخ سوري دخرولې
په مزه مزه لیکمه　　د مزې مزې غزلې
کله سوال منت جانان ته　　کله بد او رد مُلا ته
د ساغر ساقي صفت کوم　　د تهیږو دک لاله ته
کله کله تا نه رټبه　　د ورو په شان ګیلې
کله تور د جمعې (٥) امید　　کله سوې اسویلې
کله تنګ کله تکور　　کله جام کله دلبر
یو جهان ګڼې درنګ ووب　　د جهان نه بې خبره
بادشاهي مغوله وړکه　　چه زغملې ئې شي زوره
چه په لاس لکه قصاب وي　　په خصلت لکه منګوره
چه خپل خان ته شي کولې　　قرباني د رود دینې
م مفلحو همم خورې شي　　د غریب د غو ښو پینې

(۹) جمعه ئے ژوندے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ورلے هغه سرشی | چه وژل لکه وباکړه
لکه پړانګ داړل خیال کړه | پیرول لکه بلا کړه
تخت هم نه پاتې بې زوره | بې د توري د جلا ده
بادشاهان چه خوږه دین وي | دومره وي دنيا برباده
لوی بادشاه دی لوبه ژوره | دے په وینو زوو پائی
بادشاهي لکه د اور | په روتو په سوو پائی
رتبه فضل په مونږ اوکه | مونږ ساته د دے آفته
چرته غټ خرته په شاکه | دا دسرو لا لونو کته

سفارش ورته دا وکه
صیب زمونږ د بابته
وے پام کوه : دله خره
غنی ونه وے (*) په لته

حیدرآباد جیل

(*) وے: وهی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوزخ

دَ آدم دَ نظر تول دے          که دا تور دے که دا سپین
دَ آدم دژبے خیال دے          دا سپلنے او انګبین
دا آواز زما دَ ګوتو          پوست مروند تنګے ګمین
دا زما د خکر لوبے          ګل اندامه او شیرین
دا زما خودے جوړ کړے          دا وبو شراب رنګین
چاله بجر دَ شرابو          یو قطره ده دَ زمزم
چاله بجر دزمزم دے          یو غمګین ماښام دَ غم
چاته روکے سپینه شمع          دَ سپوږمۍ نمره روښانه
څوک پیغام دَ جبریل واوړی          دَ سرو شونډه ده جانانه
چاته سور په وینو تاج شو          چاته تور په تیرو تخت
چاپه سر دَ صلیب ولید          چاپه سور ریښمین بالښت
دَ موسیٰ پښان څوک سیٔ کړی          په مروبت کښی مخ دَ یار
څوک ترے جوړیږه ژړا کړی          څوک تر حُسن او خمار
څوک د ګل دماشوم مخه          دَ آشنا شونډے ګړی جوړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا په خوا د نرګس و منت    چا از غوګنې د ګرور ړے
خوش نصيبه ځوک ولاړ ه    په خندا غيږ ے د ياره
چا ذ ناوے دجوړ ے نه    ګفن اوشلوو دلاړله
رتبه! رتبه! زما رتبه!    ليونے شوم په فکرونو
خنکه خور قهر او غضب کړم    په سپرلي او سره ګلونو
خنکه غوږ کيدم ملاته    تو را نے بلبله هيره
خنکه ستا د نور اوخيشت نه    بد رنګي تياره چاپيره
ذ خندا ذ سپين سبا نه    تورما بنام اولحد جوړ کړم؟
ذ انسان د مايوسئ نه    سره سرو د ابد جوړ کړم؟
ذ فقير ذ تلو سو نه    د بادشاه خمار کړم جوړ؟
ذ دوزخ د اور او زور نه    ستا خايشت سينګار کړم جوړ؟
خنکه و منم تا جوړ که    دا جهان او آسمان دے له!
چه خيام روان په زور کړے    طوفانونو ذ کعبے له!
ذ مستئ دا دومره ډک زړه    بس پيدا او وسوسے له؟
جوړ دے حسن يارانه کړه    د جزا سزا قيصے له؟
تاکړه جوړ د خپل خايشت نه    يو حسين يو نازنين
ستاذ بنکته بهنو سره ے    هرما بنام پوست اورنګين
تا خندل چه د ګلاب رنګ    ذ لولکے وزد يوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په لاس، خيام، په جام کښې	بې خودي او دلبري وړه

څنګه غم غني له ورکړم؟	د قيامت او حسابونو

کړکه زړه کښې د بلبلې	د سپرلي او د ګلونو

څنګه شال دوينزې خوکړم	د ليلۍ په سپين جبين

د حبشي د عشق ليواله	ښا پيرې کړم دماچين

څنګه لاس کښې محبوباله	خنجر ورکړم دغماز؟

څنګ دېرې کوي کښې ږوبکم؟	د مينو سترګو راز

څنګ جهان حسن ږوبکم؟	په يو ځاځکي د تيرو کښې

او د شمع رڼا څنګه	کړم بدله په ايرو کښې

ربه! ربه! زما ربه!

ليونے شوم په فکرونو

څنګه خو ز قهر و غضب کړم

په سپرلي او سره ګلونو

خانپور خېل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیونی

یو ښارے روان کړے د نوو نوو کوڅو دے
یو خیال ے روان کړے دَ زړګی د تلوسو دے

یو شے ے روان کړے تمکے سوز او تمکے ساز
یو عشق د حقیقت جوړ د عشقو نو دَ مجاز

یو کوڅے روان کړے د خوبونو دَ رنګونو
د تورو تهترینو کړنګیـد ونګو شنګونو

او خاندی لیونی سترګے ډکے دَ مستونه
وحدت ے روان کړی د لکها بُت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه ګل او صنم وانی
او کله دَ مستئ خبرے دیرے په غم وانی

سرے پا سنے ګل غوړیږی مخ د شبنم پرے پټوی
او ربل مست خوروی د سترګو غم پرے پټوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه

زړه یم زړه یم رنګ سپېره او راوشرنګار زړه یم
دَ جانان ستر کو کښې هوا وے خـــمار زړه یم

دا تعبـــیر زما دمست زړه دتالا شوے
یار زما د زړه ارمان دے دلدار زړه یم

دا زما زړه چه دخیشت اورنګ شي وړیے
سپېرلے سوه کلونه راشي بهـــار زړه یم

دا چه زړه شــم دمسکو شونډو لیـــاله
لیلی جوړه کړم دحُسن معمار زړه یم

دا خوزه دخکو سوز به هوا سوری کـــړم
روح، مطلب، معنی، آواز، دستار زړه یم

چه زړه نه یم بے معنی جنت آسمان دے
دَ جهان دسوز او مینے مختـــا ر زړه یم

دومره پوی شوم په دے زړوکی غونډ ژوند کښې
یارزما کمال، کمال دَ دلـــدار زړه یم

خانپور خیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښ

لکئ دې دَ خرچوکي اوغړانګه دې د بتې
کوږ وږ اوږدان ويجاړ او دولس نيم ګزه اوچتې
په غوږو کښې عرب او په شونډو کښې حبش
که پاوهم خوګ دراچې، ورته ته شغ اخلتې
ډيرزيات بې نوره ښکاري ستا په پوزه کښې مهار
ﮊې دومره اوچت سر کښې د پستئ نيستئ زنار
نصيب کښې دې چينه شته نه اوربشې نه شلتې
بس لونې دره نه بارونه، کجاوې تغرې کټې
ستاسترګې د شاعر دي تله د لچک د نواب
په شکل معتبر، معقول ملک ے د نيستې
خندا دې زړه کښې نشته په سينو دې تل خوله توره
بوډا په هغه ورځ شې چه پيدا شوې ته د موره
مستي وچه بې نوره او ځواني دې بې سروره
غوږونه د نيلي، تښ د نيلي د خيال غوره
اوږې د خپې دې د ډېنګ د توپ او تله بې خبره
دَ قبر په شان ملا دې د سرګي په شان مجبوره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ټول ناکام ناکام ئې نه رنګ وينې نه خمار
همت او جوش دِ نشته ګرځه اوږې ترې خوار

په خيټه دِ ځان ورکه خکه ډوب سپک او درون شوې
مين په پيکوړې شوې خکه پاتې د جلوس شوې

جنون خندا دِ ورکړه د زوزانو په بدل کښې
د حُسن بادشاهې کښې د ړوندانو ورته جاسوس شوې

تا خيشت د ارمان ورکړه بلهنګي کښې د ړوندانو
تا ورکړه په تيپرو فلسفه د افلاطون

ته روړ شوې د خرو پرې دِ سنوه روډي د ازمړي
تا غږه د موسیٰ ورکړو په کرخه د سامري

تا لې د يزيد وينې وينې نه مرګ د حُسين
په ژبه دِ شراب تراخه خوږه لګي ترې

ته نن په سبانه ورکې ته نه ئې جوارګر
وا خکه مهار تېت کړه، ستا د تولوا وچت سر

اے او سبه غتبه او سبه، ته ئې روکې د مينړې نه
لس چنده که زمرۍ شې، خو يرېږې د لړګي نه

تر مغے به يريږې، او ژړيږې او کړيږې
تر کومه چه ونه باسې دِ طمع د زړګي نه

د طمع ستانه ډيرا وچت سر ونه کړم راښکته
د سپينې شهزادګۍ په سرخوږې د ړمے کته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا طمع مړي او مخې کاندي سترګې نرې نرې

دا طمع خرڅوي بازار کښې شونډې ګرېې ګرېې

دا طمع شهزاده کاندي غلام دګورد وينزې

دا طمع د جنت حور له سترګې کړي بې شرمې

دا طمع شهزادګي کړي د مرئي سره نوکره

دا دېر غمي ميرې کړي، کړي کونجکه تر نه بره

دا جوړه د عقابه کړي د تور ککوري کمتره

دا زړه نه غم راغونډه کړي او خندا خواني د ښځو

دا جوړه د کعبې نه کړي منډې د سود او زيان

دا کجل خاورې ايرې کړي مستي پوسي د عنبره

دا جوړ کړي د عيسی نه مقتدی د سامري

د دې په خپو خوړ کړي نظر و نه دلبري

اې اوښه خواره اوښه بې بنا استه بې جاله

اې اوښې د زوزانو بې خبره د کماله

ته نه لوږه او تنده نه سرور ې او نه ساز

هم دغه دې دا وښ او د آدم د فراق راز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګې

مرګې دې راشي
چه کله نې وس وي

ګل به مې لاس کښې وي
او یا به اَس وي

یا به ټوپک وي
یا به قــلم وي

دوب به خندا کښې
دَ دنیا غــم وي

چه څه مو بخت وي
دومـره به بس وي

مـرګې دې راشي
چه کله نې وس وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمتره

د جنت مرغۍ کمترې — د غم درده بې خبره
که سپرلی وي که خزان — ستا وي مستې بازيګرې

شپه او ورځ په بغبغور يې — د آشنا په ننداره
د يارۍ مستې قيصې کړې — د جمات په مناره

دوه دانې کړې چرته پورته — بيا ستې غوټې شروع کړې
د پېريانو په کومې کښې — لمغړې د ښاپيرو کړې

اې د مينې ليونيه! — بې ګناه او بې آزاره
د محراب د پاسه تاخ کښې — کوکې اخلې د دلداره

خپې دې مردکې سرې وي — هره ورځ په تا اختر دے
تل نشه نې بې شرابو — مدام خوا کښې د دلبر دے

خوش قسمته بې خبره — د دوزخ نه د ملا نه
د نيکو د ثوابونو — د شرمونو د ګناه نه

ده کوکو له جوړه شوې — ستا منبوکه بې آزاره
ستا سره سره نرۍ نوکونه — د ګل د خښت او د سيکاره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دِ جنګ نه دِ غم پښتنه — سوچه مینه بې نفرته
نه دِ چل نه دِ دوکه ښتنه — یاري پاکه بې علته
البته دِ هم دِ سیل دي — د مستۍ د بازیګرو
که بادشاه هم پیښې کړې — دَ وړو کوتوتکو
غونډ و ستر کې دِ معصومې — د رښا اتباره ډکې
پیمانې د سرو شرابو — دَ خندا دیاره ډکې

کاش چه زه هم ستا په شان
اې کمتره مستانه وې
چه نه غم وې نه ارمان وې
بس خندا او یارانه وې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باویړې

بیا شروع شولې په ما د غم چپې
بیا بې خوبه بې آرامه مې شوې شپې

یو خوا رند یو خوا ساقي یو خوا شراب
بل خوا الوت کښېني زاهد اړوي تسپې

په لوګي د هغه اور واړه تو دېږي
چه عالم ئې کړ جلیا ــ تپې تپې

غني خوبه د ارمان په لمبو سوځي
خوبه وي دا د فراق سرې ــ تپې

د ځوانۍ اختر دے لا رنګرېزې څه کړې
شپه به وي چه په دیوال ئې وړ تپې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مېږے

اوږد کاروان ستا — ګرم روان وي
سم په قطار قطار — لکه اوښان وي
په هسله هسله — په منډه منډه
نمر دړله اوسوي — لښاره بربنډه
لکه د سپي مسې — خوله کښې اوړکې
او د پلټنې په شان — په پرېت تلل کوې
د مرمتي په شان — هم غل هم نرې
په حکم کلک روان — د خپل افسرې
د خپل نظام تابع — لکه انګرېزې
په زړه مضبوط مړنې — لکه چنګېزې
ملا چکه اره نرې — لکه لښتي لړې
خوله د کلنګ مې — خپې پټ پټې لړې
وجود د درې بنده — او شپږ يې خپې دي
نرۍ نرو چک دي — ګړې وږې دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولاس دیو نښتنه        دا عجیبه ده

څه بې توله غوندې        دِ معامله ده

دَ پیدا کولو آفت        دَ جمع کولو بلا

لکه د شوم خنبوړے        زمکه کښې واړه دنیا

په هیڅ هیله نه کړے        لوم خوړے مار خوړے

ته دَ مچو دنبورو        تو سکون اَچار خوړے

د سبا فکر کوے        نوے فلسفی ئے

مستی خندانه کے        پخو صوفی نے

یو قدم نه اخلے        ته بے غرضه

رَب دِ مونږ وساتی        دَ دے مرضه

بس د خوراک له غمه        لیونے کړے ملام

ته نے د حرص بنده        ته نے دَ خیټے غلام

ستا طبیعت دَ قارون        دَ خزانو شوقی

مین په هره میږه        د هندوانو شوقی

داسے په دوږ زغلے        لکه بکې

اَچے دَ چرګے هسے        سپینے اَګې

دیرا ستګارے ته        خولا مبو کښ نه وے

په سر زمری ورځے        ژوندے ملغ نه وے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکل جهان صفائی — ستا به تنکه دو
ستا نوکری په ماچین — په امریک
اوړې او ژمې — منز پشکال
ستا دغه لاروی — او دغه خیال
دپیدا ایش نه واخله — تر د مرګی
تل د غمت پناه لاناه — کوی زویرګی
نه دی پوره کړه — او نه ته موړ شوی
او نه پیدا اوی — او اوړی زوړ شوی
تاکښ خبری دیری — دی زما خوښی
خو هیڅ مستی نه کی — په زړګی یخی
بس مناه ومناه نی — تل اوکاه انه کی
بی د خوړلو خکلو — بله سودا نه کی
خو زما خوښی په دی — نوربه ادمی ته

په ماچک مه لکوه
که زما یار ی
الله دی درکړی
دانی بسیاری

=★=



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وصیّت

کهٔ ځازئ شنهٔ م پهٔ قبروی ولاړے
کهٔ غلام مړوَم راځئ توکړئ پړے لاړے
کهٔ بچپلو وینونهٔ ووم لمبیدلے
پهٔ مامه پلیتوئ دَ جمات غاړے
چهٔ قطرے قطرے م فوځ دَ دښمن نهٔ کا
مورے ما پسے پهٔ کوم مخ به تهٔ ژاړے
یا به دا ننګے ملک باغِ عدن کړم
یا به کړم دِ پښتنو کوځے ویجاړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماشے

دَ ماښامه ترسبا        سرېندوه کاله سهرنا
پېنه پېنه پنگه پنگه        هم خوړل کړے م وینا
سپک به وخېږے په تول        دوؤ دانو سرۀ غوښتو
خوماتی ستا دَ گذاره        خان کوری پټ په خټو ختو
پچکاړی دِ نی تل ډکه        وے هر حاله انجکشن
ته به وے ستا باباجی وو        دنو ښار سِول سرجن
دَ میږی صوړه کوټی کښی        دم خُله نشته م خرتم
اوږ دَ خپے دِ دَ جولا دی        نر چوکی وزر دَ دم
اوږ ده دونگه دوږبرے        باد نشته په لاشه کښی
وا به زهر دِ اغوښلو دی        دَ وکیل په شان په خوله کښی
نور همه غاله د جهان        وی د مال د فصل غله
ته زما د زوند ن وَ غل ئے        زما وینه ستا خواږه
په زړه سخت ئے دیزیلۀ        د گلاب په شان ورو ئے
سر تر خپو سوړ سوړ ئے کړے        هر سوری کښی آفت پر ئے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه راشمه ستو مانه | په کټ پریوزم بے اختیاره
ته به وے تاته غورے چا | د پولاؤ کینبوه تیاره
تک م او باسے دغوږه | پوست بالبنت ته رسیدګین
بیا تموری خپله شروکړے | په نرو نرو پردو کښ
ستا په طمع ګذاروکړم | خان له ستا اوسوزومه
ته م شاته سرپیندوے | زه غوږ و نه کرومه
که ریښمین شانِ مابام وی | سور ګلزار او شین چمن وی
چه یاران اوده په ولیښه | نشه شوی په دیدن دی
په سر خپو دلیلی کیږدے | پلیت وربے د سپی داره
لیلیٰ وخ او دیش شروکړی | خوار مجنون پریږدی واره
که خوک پټ شی په خادکښ | ته نے پاس کړے پنګه پنګه
چه آخرے پوزه راوزی | لکه شکون دځیل سر نګه
ته بے شغ شے دا پریوزے | لکه باز کینی په زړکے
حمله پریږدے په تلاره | چه جلد ترے نه استوکے
بندیان کونے ویږوکی ځکړے | هر ختستانه په ازار دی
غوان سنان کا میښے آسوئ | دلکو ما لوبے آزار دی
دوګے خاشکے د دوزخ نے | که د شرافت بځرے
خله زما په وینو سره کړے | بیا بے وے راته سناکړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی ملا بابا چه ستایو — قرنیکه په پاپو شل
د نمرود سپیږ مه کښلاه — غاړې غاړې په چال وَل
هغه اور غوریدله په زمکه — کلک ئې ونیوله تښی
چه شروع ئې په یو ځل کړه — هم تیزونه هم اتوشی
خوګل ئې د ننه ناست ؤ — د قول به ئې وزړه
هاله ئې پرینښود چه ئې ونکه — دَ غریب نه کچومر
حراموتوب کښی د شکنځه شو — چه کَړدَ ئې بابا زوے ئې
چَلولی لکه لومبړے — اوږي ئې سر لکه سپے ئې
لا یوه بله غرره دے — د هماوُ ده عجبه
خان سره ګوزے په بله — بنه تو ده د منی تبه

را دعا دَ لیونی ده
پاکه رَبّه که قبلے
که را بنکے په وارو ماشو
تیزه سر دَ هر(*) سیلے

(*) هر: اهار.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیرے

ویره پیرے دے　　امید د فنا ده
دَ شک تیاره کښې　　ویره بلا ده
که جوړیده دی　　که ورانیده دی
کاروان روان دے　　دَ لارے تله دی
ویره تیاره ده　　او ورکیده دی
امید ژوندون دی　　امید لیده دی
دِ وے ویره کفر دِ　　خدائے ته منل دی
یو تور دریاب کښې　　غوپه وصل دی
لمبے دَ روح　　لوګے کیدل دی
په ژوندون ګور ته　　ورکوزیدل دی
امید هستی ده　　امید بقا ده

ویره پیرے دے
ویره بلا ده



A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آس
# بَدُو

ترپ ئې دهوسۍ په شان — زړه ئې دزمري وو
رنګ ئې دغمي په شان — خيال د ښاپيرۍ وو
سترګې دکوږ کوږې — غونډې غونډې ښکلې ښکلې
تله ئې دَ نرانو — طبيعت ئې دَ بلبلې
تن ئې د طاقت او دَمستۍ — او دَ نرانې ډک
روح ئې دهمته و — ځيګر ئې دمړانې ډک
خپوکښې ئې ګړا وه — دساقي دسپينو څپو په شان
سترګو کښې غمونه — اميدونه دهوسو په شان
زړه ئې دَ پښتون وونه — په کندهار نه په غرا بسار
جوش ئې دغازي وونه — په ځان او په سر اسيار
چې په خُله آشنا زما — لاړې چرته لاړې ته
چرته دچاکور کښې ئې — چانه وړې غواړې ته
شته هغه دنيا کښې شنه — نوکر کړ دِ لادر په شان
شته هغه دنيا کښې واښه — شنه دَ هشتنګر په شان
چې په خُله آشنا زما — چې په خوله وې تول عمر

---

(۱) بدو : زما عربي آس وو. دِ لا درې سائيس وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه چه زه نه لمے وے تل    اوه چه نه وے تول عمر

دغه وو آشنا زما    دغه وه دَ ژوند قصه

دغه دَ آدم وجود    دغه دَ سمندر قصه

ترپ شو او تهٔ پوهٔ نه شو    خوب شو او خوب وٗ نه شو

دوه د مستئ ورځے شوے    دوه دَ غم کالهٔ نه شو

نه ئے دَ راتلو سبب    نه ئے شته تلو علاج

نه ئے دَ ژړیدو دوا    نه ئے دَ ولولو علاج

نه ئے دَ کمولو بند    نه ئے دَ زیاتولو شان

نه ئے دَ هیرولو تاب    نه ئے د لیدلو شان

نه ئے د سلکو تپوس    نه ئے د خندا وجه

نه ئے دَ پروڼ سبب    نه ئے دَ سبا وجه

اے مسته آشنا زما    لاړے چرته لاړے ته؟

چرته د چاکور کښ ئے؟    چانه وړے غواړے ته؟

څوک به نوا لے دړکی!

څوک به کوی ستامدار؟

کوم جهان کښ الوزے

ستا د مستو خپو غبار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

هندوستان کښې د وروتونو منده راغلې

په کښې خلق خر خوري ایمان په ختمو

بابا وے: غنيَ: سړے شه جیل ته لاړ شه

غنيَ وے بابا لنده ے نه د ے ځتمو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قارغه

تور دِ مخ دے غل چکیه
تور دِ زړه تور دِ آواز دے

سپے نے خیته د کول بس
ستا انجام او ستا آغاز دے

چا تورے که د ماستو وی
که د بچې دَ کچالانو

که پولاو د خان لاله وی
وظیفه دَ ملیانو

ستا په هر څه کښې حصه ده
تول جهان آد دے ستا دپاره

یا تو ننګے وَنے یا تغیرے
نه آرام کړے نه قرار

غلا هم غل نے بے غیرته
د پونی چرګوتی غله

نه دِ پرک شسته نه دِلته
ړک د شوره دَ چلوله

موسے خیته کښې دِ پروت
د نل د حرص تهترین دے

نه د کیږی نه یخیږی
عجیبه دِ کښې مشین دے

که د سوتو سخا دیران وی
که اکړ وی د کرکوړے

که بچے دَ تورانی وی
که وی سخا مردار کپوړے

که غریب وی که ماشوم وی
که حلال وی که حرام

ورته ستا کیه کښې درد وی
که سحر وی که ماښام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل مارغه کښ دومړ بوهه　　دومره چل او هنر نښته
خو افسوس قارغه په تاکښ　　د عقاب سره وزر نښته
تش په چل سردار نشی　　د سروبه د مارغانو
دا په مینه مستی کیږی　　په موږ زړه د لیونیانو
ستا لغار د سپی کونګار دے　　یوه چغه ده د لوږے
د بلبل په شان نه ئے　　د شبنم د ښاخکی تږے
په هنر که سامری شے　　په حکمت باندے لقمان
تل به خورے څپیړے او سوټے　　اے جوړیه د آسمان
سره کلونه د لولی دی　　ښنے کمرے دی د کرکی
یخ سحر د تورانی دے　　ما خیګر د تو تکری
ستا حصه ده دغه سوټے　　دغه شور او دغه منډے
دا کنځل د خدمتګارو　　دغه چغے دغه غونډے

څه که تیز لکه وکیل ئے
خپله واګے د بل ناورے
په مارغانو کښ چوړے ئے
که وزرے د رتب خاورے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

یاربي مغه مېزه کړه
چه د دارو سيال وي
سوري هم دومره وي
چه خومرو نه خيال وي

شپه به د جنت خدايه
چه دېاره ال وي
خومره چه زړه وي ښکلي
دومره نه جمال وي

دقام په مينه مسته
کوڅه لال وي
دا پيو نه به هم
خدايه خوشحال وي

چه لاس او زړه وي ورته
د قارون مال وي



A .S.K B

# چرګ

خوراک کوی دَ سپی　　او مسئلے د ملیانو
بانګ کونه دَ بلال　　او لنګوټے د چنګړیانو
پرتوګ دِ یاره نشته　　او شمله نیغه دَ خان
شل ښځے دِ ساتلے　　خو سحروانے آذان
په جنګ کښں بهادر　　او مستانه لکه چنګیز
په مینه کښں بے شرمه　　بے پروا لکه انګریز
او ربوز دِ دَ قاضی دے　　طبیعت دِ دَ متلا
آواز دِ دپیغمبر دَ دے　　او انداز دَ منسټر

انجام دے تخے دے
اے مجنونه دَ دیران
یو روځ به روستے بانګ
وکړے دوړی به وکړی خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځې

چاله شراب ورکړي — چاله سرې وينے د جام
چاله خربانو د پاره — چاله کل اندام
څوک په اډيله بانډے — پرې د ماچين واخلي
څوک په چوارنے پسے — دنيا کاندې تمامه
چاله مينه خربه خوږه — بوځي لکه د ګوړے
چاله نخه نخه شيخ — روکنے دابو مړے
چاله د لولکے په شان — چسته او رنګينه
چاله د کونټ پښان — توره او مهينه
چاله قتنغۍ کوکارۍ — کړکه زړه چرکه
چاله غوناړه موناړه — مسته تکه سپينه ګرګه
چاله داسے ستغه — لکه اوچه بکيانه
چاله دوبه مسته — لکه نوے دوک بيانه
چاکره صابره کورودانه — درنه مينه
چاکره سيمه کوترۍ — په هرچا چه شوه پيسنه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاکره چلی دَ چلی     لوره بده مکاره
چاکره کمتره چه هم     بنځه وی هم یاره
چاله زره خره بیخونده     بې نوره پواره
چاته لک سروه     د خندا دکه والاره
چاله بنه ترسکه نه     چاله بنځوره حلوا
یوله دنیمبوا چار     او بل له مرتبه
یوله خمبیره دودی     پرسمنه پسته نرمه
بل له دمسورو پیتی     کړمړ کړمړ کرمه

ورکړه دَ قسمت دی
چاله ډیره چاله کمه
خدای د هغه درکړی
چه وی ستا په شونډو سمه

حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیروتے

سقراط (*) دغه ځانے کښې تیروتلے
ایمان دِ واغښت فلسفوله یووړه

د غلته ژرک دغلته ژرک شوے غنی
زړګے دِ خپل په دو سینوله یووړ

خیام دغه ستا د مرګ دو ساعت
چه خپل سرور دِ صراحوله یووړه

منصور خکه خوپه دار او ختے
چه دَ آشنا راز دِ حجروله یووړه

دا ظلم ظلم دے زما جانا نه
چه دِ مرکل خاورے کیلو له یووړه

(*) سقراط د افلاطون استاد مشهور یونانی فیلسوف او حکیم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زبرګ

چه دِ وس د باده نه وي — څه به ته څه به دِ بنه وي
توبه هله دَ شرابو — چه شراب در ته پراته وي
چه بله ها ښئ څاڅکی په شېبه — بيا توبه توبه د څه کې؟
هغه بنه د بله و بله وي — دَ ناکامه چه ته بنه کې؟
مُلا ناست د تکړو شکور ته — وي رندانو ته خراب
غريب څه وکړي حجات کښې — نه معشوق شته نه شراب
دا چه باغ د ګلوډک وي — مستانه غونډي ما بنام وي
دا چه سرې شونډې ساقي دِ — په سور لاس نيولي جام وي
دا چه تا ته رسېږي ستړي — غلې ووائي سلام
په مکېز دِ زړه کښې بل کړي — دَ مستۍ دوزخ تمام
اوو ي راشه راشه ياره — وخت د لږ خبرې ډېرې
بيا دِ روښان د اورونه — پسته ليچې کړي چاپېرې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څله دِ ځلې ته کړې درپورته — شونډې سرې تو دې بیهوشه

لکه بله ډیوه ړپې — دخوانۍ مستۍ دجوشه

سینه درو ړې سینې له — دَ مخمل مخې ریښمینه

د ارمان او مینې ډکه — دنرګسونه نیاز بینه

او ستا وجود پوسمندر شی — د طاقت او دَ سرور

زړه دِ واخلی هغه اور — چه هم اور دے او هم نور

ته چه دغه وخت اوچت شے
ـ ئے جمات کښې په ژړا
لیونے وائی قسم دے
یا خو غوث ئے یا مجرا

غني
حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کُلے وړے

راشه راشه ساقي راشه — دړے دړے مالا دړے
په ما باندے بدے لګی — ستا پخے پخے خبرے
غټه پګه دِ شه خاورے — عجیبه ته خناورے
ته دَ مینے بے خبره — ته دَ حُسن نه منکره
دا محفل دے د رندانو — اخوا اخوا لرے لرے
د شرابو د څکونه دی — ستا ترخے شونډے ببرے
ورشه د غلمته خیراتِ دے — تا لئے تول اینبے دے لرے
د کعبې په شان خوږے که — په مرداره دِ وزرے
ساقي ستړګو کښې مسکے شو — بیا دَ خیال کینوے وزرے
په تُل مستہ مستہ راغله — سرے پاپڼے نے دکمترے
ستا اوده واړه جنته — دَ دے یو د ناز نخرے
ستا خلوینت زره کتابه — دَ دے دوه خوږے خبرے
ستا وعدے او ږدے د حورو — دلته سرے شونډے شکرے
تاله قرض زه ملګو درکړم — دا راکړه پرے ملغلرے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم یم(۵) چه جنت پرېږدم — ستا د سور دوزخ ذرې
جانانه میخانه درکړم — واخله ستا کنډې ...
ملا تا خکلې نه دي — نورې سره ښوناه کافرې
ستا په غېږ کښې نا ستې نه دي — د کالو ډکې کمترې
د جنات په چارچونې کښې — یا ده وه پرد تورسرې
ډک گلزار کښې ته ولاړ — په ډېران لکه د خرې
اوړې سترگې اوړې خېته — بد قسمته بد نصیبه
خیشت او مینې تشکوړ — او په زړه په روح غریبه

واشه واشه لیونی له
جام او چت که مسلمانه شه
د زمانو په مذهب شه
جنتي په د جهان شه

حیدرآباد جیل

---

(۵) یم : سه یم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګډې وډې

مسئلو مِ زړګي دړوند که یاره ماته بېکتنئ شه
نور دروتو تاب مِ نشته پراته شه چپاتئ شه
دا اوږ دې اوږې دخبرې داواره واره فکرونه
دَملت هاې دَکړلو نه یم ماته مي تنئ تنئ شه
رنډوسترګو د پتنګ نه دَ نورونو قیصې مه کړه
پتنګ لمرته کتې نه شي ډیوکۍ شه موم پانئ شه
ماته ماشیه: قیصې ته دهاتیانو دَ توال مه کړ...
بس په دغه خانې نې پرېږده بکتئ شه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عجبه فلسفه

زړهٔ مې واچوه په تال کښې — دَ جمات کوټے له لاړم
دَ مُلا په خپوم کېښنود — ماوئے دامې صدقه ده
داچه خومره زه پوهیږم — په "طٰهٰ" او په "یٰسین"
داچه خومره بنکته تلے شي — په سجده زما جبین
داچه خومره اخلي نور — دا زما خاکي وجود
داچه خومره زما ژبه — شي څکلے انګبین
مُلا څخ زمانه واوره وو — وے دا څه دَ ستا تالي کښې؟
نه پلاو دے نه فرني ده — نه حلوا نه فالوده ده
وے ئے شرع ظاهر کوري — او ظاهره نه فاسق ئے
دا دَ ربّ سره دَ مینے — تا را غښتے څه قصه ده
یره یره دَ قهار نه — د ایمان اصلي حصه ده
دجنون او دَ جانان ستا — څه مهمله فلسفه ده
زړهٔ دِ کیږده په سینه کښې — دلته رنګ او لباس راوړه
ستا شراب دلته حرام دي — شه بهت راوړه کلاس راوړه



A .S.K B

ماخپل تال دِک دَ خوبونو ‌‌‌‌‌‌     دِ قاضي دربار لېږونه
رو کے لال مِ را او چت کہ     تار خانے اومار لېونه
ماوے اے دسنو اوباړه     اے د تورو سپینو خانه
د داخل زما قبوله     په نامه کړه دَ جانانه
قاضي لیناستہ په تخت خپل     په سپین سر ئے دستار کینبود
په یو لاس ئے توبه کینبود     په بل لاس ئے حصار کینبود
تله ئے پورته دَ منطق کړه     یو خوا دے یو خوا مِ تال وُ
یو خوا شور و وکم زور ئے وے     بل خوا زړے و ، کمال وُ
یو خوا عقل وُ دلیل وُ     نه مستي وه نه جلال وُ
بل خوا رونړ غونډ تلاش وُ     ژک بے خوده نمونډ خیال وُ
ماوے دا یو نتوب واخله     او خپل عقل پے تاله کړه
ماوے دا زما خمار     دَ خپل علم کتماله کړه
ماوے اے د انصاف رتبه !     دا دَ زړو مستزال کړه
ماوے اے د تول امیره !     دا بے توله تلل کړه
قاضي ستړے کړلے سپتے     شونډه سے بند مخ پریشانه
وے افسوس زمانه ورک دے     دا چه ته غواړے زمانه
زه خوزور یم دَ انسان     زه سرور د آدم نه یم
مادي سپین او تورا غشتے     د مستي دَ کاستانه



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

زه تور وینم او سپین وینم
بس زما دغه قصه ده
دغه تول زما امید دے
دا تلل م فلسفه ده

ما خپل زړه لاس کښې راغونډ که     تورې شپې او غم له یووړه
د ماښام تیاره کښې ورک که     د سبا شبنم له یووړه
اوس یو زه یم یو ارمان دے     د جانان د شان قصه ده
روکے ګل او لوے خزان دے     یو امید، یو تلوسه ده

ما مړګي ته شروع کړے
د ژوندون د خیشت قصه ده
د جنون او د جانان دا
څه عجبه فلسفه ده

بهنګوتر (هزاره)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د توت بناخ

که دے سر که سپور — نو دے پانی په غم
دا رحمت او بخل — زور د زور او ستم
مایوسي او مستي — دواړه شال د صنم
دا خندا د یقین — او دا شک د ژړا
دا تیاره د جانان — دا هلال د صنم

بناخ څه دے؟ یو ستار دے
د توت بناخ د سیمو تار دے
هنګ او شنګ او ټنګ د درد دے
د بل لاس د بل خمار دے
مجلس چه په خندا شي
دے بس شور دے او تقار دے
غږوونکے چه بلبل وے
دے هم ګل دے هم بهار دے
چه منصور په کښے ګیږدی — هم دار هم خار دے



A .S.K B

عطر تول د بل د خیال دے
دے یو گل دے بهار نه دے

دے روان کاروان د بل دے
دے ارمان دے دلدارنه دے

دے مجبور شان مسافر دے
منزل نه دے اولار نه دے

د بل خیال د دهٔ تقدیر دے
دے نصیب دے او نه تور

ناز او راز، آواز د بل دے
د دهٔ شرنگ او د دهٔ شور

شپه او ورځ د دهٔ تول
د سبا او ماښام

د دهٔ هوش جوړ وی
هم ساقی هم خیام

دے نظرے د کاوه نه او نور دی د بل
دده سترګے خو خیشتے او سهوری دی د بل

غنی
(پښاور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بس دے افلاطونه

بس دے افلاطونه فلسفه دِ سنبال کېږه
غونډه دِ کړه دا مونږ خپل او ته دِ جال کېږه
عقل عقل عقل څه دے؟ ګف ګف ګف دے
عقل چې نه کېږی دے غلام غلام زما
زړونه چې الوزېږی نه پوهېږې دے زمانه
لا نه کړه د خپل خدائ نه سره مقام زما
د مه فرښته کړه وېنه د کړه ئې نه د هوش ذکر
مینه کړه د ما له د خښت د مستۍ او د هوس نه
مینه به نه بیا تړل اختیار د باده هوش د
... زه د زما او خدائ د کلف هوش د کړه
ستا د ټولې خیال به د دنیا به رت کړم
دا ما د حسن دے بنځ د عقل کړه ګم
دلته لال ساوات ساوات د نشه د ګټل کتاب
دلته ژوندون کال دی جمع او اغوښتا نه دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته مینه تش یو ښکلی سینه کښې د ویدانه دی

دلته ژوند داستان دغم خندا آګله آکتمل نه دی

زړ لکه معنی که د ملال د دنیا وکړے ته

نښته دے په تاکښې د مـلال ښګرے یو

زړ، زړه رازونه دے کومې ښکاره شوي دی

نه دے خولے تاته دَ ارمان کـمترے یو

دلته ډیر خوبونه د رڼا لیدلے شوی دی

نه دی خولې تاته خپلے مرے دلبرے یو

ته نیولے نه شے، لیونتوب ته جلال پریږدۀ

کینه افلاطونه، فلسفه د سنبال کیږدۀ

تا سره ده تله دَ سیرونو دَ مـنونو

دلته کښې ګجرونه دی او تور او ډرانه غرونه

ته ئے بیوپاری د عطرو ګُړو، دَ چرګانو

دلته کښې پرتے دی ولولے او امیدونه

تا لره یو قطره شراب، دریاب دَ تورو زهرو

دلته کښې پراته دی په زړګونو ډک خُمونه

اے د رڼا زویه دلته لوړے او خوبونه دی !

ستا لَه قطرے تلې، او دلته دریابونه دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د آدم لاس نے د آدم سترګے او سر
ته د ده پوشاک ، د ده لباس . د ده بستر
ته د ده وجود ، د ده آرام ، د ده محبود
ته د ده قانون ، د ده آقا ، د ده افسر
دلته تول تلل دي ستا د تلے نه اوچت
غرونه د عقاب دي ، د بلالے نه اوچت
ستا سترګے روښنا دي خوږنه دِ د رڼا وتوږدے
تاکړه روښانه سترګې نه دي ، اوردے ، اوردے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پتیره دا دُنیا

خانه نن مه کوه غمونه د سبا
سبه پوهیږې دې ده په پتیره دا دنیا

د کړه وخت کښې د غوږ ل فکرونه مه کوه
خوره او څښه حساب کتاب نه مه منا

دنیا لیکلی نشي چې څه خونه
په ویره نه په ژړا په واویلا

دا ځواني به همیشه نه وي ناموه:
څه رضا کړه د یارانو په مرضیا

سبا بیا خان به دې چې سبا نه سبا ده
تر ینه نشته   زړه ووړه د سبا!

نن د ښت زړه د اقبال اختیار د بادشاه ورکړه
سبا خان خبر چې څه به وي سبا

زه په خان ازې په خان ای غني هم
ولې نه ورکړې خنا، خنا، خنا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوارګر

په هوارو لارو کاروانو نه ځي
او په غرو نو روان خط د غاړې

خو هوارو لارو ځنګ ته وا خلمه
ښي کاڼه په کلکه او په دال مه ږدې

د بهار غوټۍ ځنګونه او خندا او ترنګ
په شګو وتي ويالې قربان کړمه

لوړ آرام له د ځان د رقيبه!
زه د کاڼه بې خودي او جانان کړمه

که دا توږې تيږې لاتوږې شي
او جهان د په قار د دوزخ په شان

او هر خاشاکې د رنګ د تيږو ډک
هره ساه د کبابونو بوی د سخې په شان

زه به ساز او پرواز ور نه کړمه
او ملا له اياز ور نه کړمه

نيت مې کړې د کور د جانان دی
څه خنکوړي څه شپول او څه ديوال

داووم اينبې په کور د سرو درې
څه ورزه، څه وسه څه وري مال

پخوا ته تورنا د رنيا او چل
با ځواکمه او سنزه او ملال

ځنګ ميين به په ټل دلبشي ځوک
خلکه يو د په يوه او به خاله مه ږدې

لکه سره په غيته قربان کړمې ځوک
يا دلته په سر جمع کړي مال مه ږدې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه خرڅ چه د بل چا په زړو کړی
خپل جانان په ما نبام دَ وصال سره

دا دی زهر دا زهر د روح دی
خو نامه ورله ورکړی دَ مال سره

دا و بنیارو لاړے م ډیرے زده
خو زما د شان دغه لاړ نه ده

زه د زړو صحراو ارمان یمه
زما جنت کښې کوڅه د ګلزار نه ده

زه چینه د ژوندون د خوبونو یمه
لاړ م مونتے سینه دَ دلدار نه ده

نه یم خادره خو دیره بے تابه یم
ما مو ښلے لمحه دَ قرار نه ده

تالا کړے م ژوندم غرور دے
داو م ایښے په کور دَ سرور دے

غنی ۔ غرتسر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الا بلا به کردن ملا

به کل کښې ولید — چه ته نے نه مومې کتاب کښې
اے ملا! ستا نیم کتاب م — واوریده د باب کښې
ستا پګړۍ د عقل — زما تاج دلیونتوب په سر
ته نے په غاره ژاړې — زه غوټے وهم دریاب کښې
دے جهان کښې مور نه شوې — دمغه خانه خدائے خبر
ستا نه ښه بنیا شو — ملا تیر وتے حساب کښې
نشته ستا زمزم کښې نشه — واخله سرو شراب زما
وایه ملا صاحب ستا خلاّ — څه وائے دے باب کښې
میر دے کړ منطق کښې — په مینا(*) کښې دې ونه مونده
زه نے مدام وینم — د غمونو په دریاب کښې
حسن دې نه ورک شو — د کعبې په دیوالونو کښې
ورک دے سمندره کړ — مړله تندے شوے سراب کښې
زار دے شم لږ پیرے ملا — سوال د لیونی واوره
نوم پرے د کافر مه بده — د دے غزل جواب کښې

(*): مینة المصلی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جلال

چې زه غواړم د هېږوونه مستۍ سره ګلونه جوړ کړم
د سرو او سپکو نه سرې شونډې د ژړا سره جوړې کړم

د خزان تیاره کړم وړيه د امید په سمندر کښې
د ګنجونو لالونو، د غنمو، پېلونه جوړ کړم

چې د اروح م په ښکار وځي د رنګونو د خوبونو
که نور نه وي د تیرو نه، رنګیني نوو نه جوړ کړم

چې د خیشت شم زه لیواله، د صحرا مرو ذرې کښې
په زرهاو بوستانونه، په لکها ګلونه جوړ کړم

چې زه وړنې دارمان شم، د سپېلي په سپين سبا کښې
بې حسابه ما ښاموږ نه بې پایان غمونه جوړ کړم

تور او سپين زما د ستړګو کاله تول کاله تلل دي
شپه او ورځ زما نظر د سترګو کهال دا او مونتال دي

که خندا ده که ژړا ده، دا خلګ مشغول ال دي
که وصال دې که فراق دې د خیال سره ته ګلا يد ال دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه مست شم د دیوانه سره د خښت کلونه جوړ کړم

د سرو اوښکو نه ښتې د ژړا سره به جوړ کړم

چې زه نیت د کتې وکړم د پرېوتي د شکست نه

د فاتح د شونډو کږې او د ستر لوغړو جوړ کړم

دا چې زه خان او تخت د رنګین باده وران کړم

د غلام امید بدل زه د بادشاه په کاسه وکړم

چې خپل نوم د نړۍ نه کړم ترنه د یر نو مونه جوړ کړم

چې زه غواړم د هیرونه مستي سره کلونه جوړ کړم

دا چې ته او دا ته نې. دا چې ستا مستي رنګ ده

دایم زه دا بس پوهیږم دا زما ژړا خندا ده

د ملا خبرې پرېږده. معامله ستا او زما ده

دا داستان د لوبې نه دې دا قصه د عشق او ساز ده

دې زمانې سره ژوند کښې هم ستا حُسن او کمال دې

دا زما کمزورتیا دې. ستا د زور جاه او جلال دې

بهنکوټ





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

یو توره شپه د غم کښې یو څرې د رڼا
زرغون په ویرانه کښې بنایسته بوټی د لالا

د ویرې تور ځنګل کښې یوه زرکه په خندا
یو څاڅکے د امید د نا امیدۍ په دنیا

رنګین د بوډۍ تال د تورو شګو په صحرا
مستي ده که ځواني ده که دلبري که الله؟





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

جو مات ته لاړ په میخانه کوره
په زیان کښې سودے د شان جانانه کوره

نیته د دولتونو او کارونه ډیر دي
پوره به نکړے شے خان له بانه کوره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اراده *

نه م یار شته نه به وشي
اوسني یاران دي خوشي

چه حاجت نې دې رته وینه
ستا به پلار نیکه م نه به شي

کار چه خلاص شي د سپي تښتي
ډلیندې نه لګي غشي

چه یارې ئې په سستالو شي
دا یارې به یارې څه شي

من خوره ډیره یاران ډیر شو
لکه سیند کښ خشي بشي

سخا بادام دي واني خلي
یو به ډک وي سل به تشي

په ناپیده دې ظاهر خاندي
خو پکښې اوبه او به شي

ته په دغه لار ومه څه
غني دا به د رله نه به شي

---

* د غني لس کاله عمر کښې م دا لیکلې وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رښتیا (*)

چه م باغ د ګلونو نه بهار بخښه کړم
چه م سترګې دیدار نه خمار بخښه کړم

چه د خولې نه د بلبل و ښکلې نه وي
که هزار بخانه شي خو بې چغار بخښه کړم

که پې نور د الله نه وي وریدلی
د کعبې د ښکلو ړک مینار بخښه کړم

مقبره د مړو په ترینه ښه ده
د جاهل بې غیرتو ښار بخښه کړم

چه زما نغمو لا لې پېښې نه رغیږي
ملا! ستا قصه د نور او نار بخښه کړم

چه زما د عشق سازونه پکښې نا وړي
د سوو زړو که وي تش سه تار بخښه کړم

---

(*) دا هم د ماشومتیا د زمانې ده.



A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَجانان زلفے چه شته روندۀ زاهدهٔ:
ستا تسبیح . د برهمن زنار به څه کړم

چه زما د تمام جنلهٔ پرے نه رپیږي
بیا چا د غرو په شان حصار به څه کړم

چه ئے تل دَ بل په غیږ په خندا وینم
دَ دے یار دَ ښکلی مخ دیدار به څه کړم

ماته غوږ دَ دلبر د کو څے کندے
دَ رقیب د محل نیغه لار به څه کړم

چه ئے تمام د پارهٔ جیب کښ پیسه نهٔ وی
غنیٰ: دا د ښنلهٔ وغواوُ کوار به څه کړم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غمونه

په خندا دَ سرو غوټو کښې
دَ خزان سلګۍ پنهان

مستې سرې شونډې مسکۍ زر
کړې خدای وچې په ګریان

یوقطرې مستۍ دډکره
ښکاره رنګ ښایسته شادان

خودښنه نے آدم جوړ کړ
دغمونو قبرستان

او زما وړوکی زړه کښې
دی غمونه په شان شان

یو دی غم چه درته خوښ وي
هغه غم دے دَ ایمان

یو د غم د قام دَ ننګ
خوشحالۍ ترې ښه قربان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دے غم چه څه غم نه دے — نهادې په غم د ځان
یو د غم چه سړے سپک کړي — هغه غم دے د خپل ځان
یو د غم چه سړے توره نشته — غم د شان د خاندان
یو د غم چه سړے ژوندے شي که — غم د قام د نوم نشان
یو دے غم د شاعرانو — غم د مزکے د آسمان
یو دے غم د بادشاهانو — غم د خوار د بے زبان
یو دے غم د بے غیرتو — په پښتونولی د تاوان
خو یو غم ترخ د دې وائي — دے اخته زما په ځان

نه په دم نه په عمل ځي
نه ئے دارو شته نه درمان
په خوائي غني که مړ کړي
غم دستا تور د جانان

۱۹۳۰ع - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تجربه

د رواج چپې م وسوسې — د قانون لنګرم کېښود
په خندا دریاب له لاړم — ستا سپیړه کوډه م پرېښود
د اتا وده او یخ بادونه — نوې ساز نوې سرونه
نوې ښایست نوي کلونه — چه د خیال وزرم کېښود
کله تاو غولی کښې شمه — بیا چپو کښې ونښلمه
خوږ وه خمه خمه خمه — غم د ځان وزرم پرېښود
خبر نه یم څه به کېږي — چه څه کېږي هغه به کېږي
که ورکېږي که ډوبېږي — پښې لاس کښې سم کېښود
مړ د خپله لاسه نه یم — خو بن خپل دوزخ کښې وېم
نیم پوردي جنت کښې نه یم — سوال د بل د دم پرېښود
ځان م ورپېژند دانا شوم — خپل مالک شوم که بادشاه شوم
تیا چې لاړې سپین سبا شوم
د قانون لنګرم کېښود

۱۹۳۱ع - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدایه ولې؟

خدایه! عقل چه دې ور زړه دې ولې راکړ!
په یو ملک کښې دوه خودسره بادشاهان

بادشاهي او فقیري دې ولې یو کړه
د ژوندون په هره ساکښې مرګ پنهان

ولې غم لکه آسمان په جهان خور دې
خدایه ولې خوشحالي دې کړه نایابه

ولې جوړ دې کړه ننګې د ګل د پاڼو
خدایه! ولې نشته بیا ئې له شرابه!

ولې بنایست او رنګ دې دواړه خوار او روږد کړه
ولې ولې د جهان کړ دک په رنګ!

ولې کوڼ دې زه پیدا په جهان نکړم!
خدایه! ولې دې آواز پوست کړ د چنګ!

ولې ماته دې عطا کړ و فکر و خیال؟
ولې ولې په دنیا ورسخې خوبونه؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه! ولې دې ځواني مرچاله ورکړه ؟
خدایه! ولې دې پیدا کړل امیدونه ؟
ولې جوړ دې د یار سترګو کښې جنت کړ ؟
ولې تریخ دې کړ بیلتون او خوږ وصال ؟
خدایه ولې دې سپوږمۍ له رڼا ورکړه
چه زړګې مې د مستۍ په مهین تال
ولې جوړ دې کړ ازغي د ګل په خوا کښې
ولې زړه مې پاک خو جسم مې ناوے ؟
ولې ماله دې د ولې طاقت راکړ ؟
خدایه ولې، خدایه ولې، خدایه ولې ؟

۱۹۳۰ء، لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بابا ته

دا منم چه عقل ډير دی
که ته مې غني سير دے

چه حساب کتاب ته کښېنې
ته به وې خان د بونير دے

دا منم په خيال ماشوم دے
د ملک رو رواج ترې هير دے

خوئې ترخ سرے مغروره
د خواهش غولۍ کښې گير دے

خو ئې زړه د سپينه بکوره
په يار دوست د سر تير دے

بابا ته مه خفه کيږه
دا د زنګ لاندے شمشير دے

۱۹۳۱ع - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه دَ پاره

...ا زخانه جوړ جهان کړ د عالمو
...ے دَ لویو دَ ژوړو ورانو سمو

زرغون شوی په اسیلی ژوندے په طمعو
شو پیدا د کومے موره دَ کوم پلاره

څه د پاره، څه دَ پاره، څه د پاره

موږ بربنډ له کومے راشو په تش لاس
ولے واغوندو د ننګ شرم لباس ؟

ولے جوړ کړو دین ایمان وېره وسواس
په تش لاس کوم خوا ته خو چه ژوند شي خلاص

په کوم ملک په کوم وطن په کومه لاره

دا ویړونه دا غوغا دا شور د څه دے ؟
دا چه زه ورته ویم کور دا کور دَ څه دے ؟

اوه، دا سوځي چه عالم دا اور دَ څه دے ؟
زندګی څه دے، مرګ څه دے، کور د څه دے ؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا پسې څه پسې څه بې قراره

غربت څه شی. طاقت څوره. دولت څه وی؟

وې ماته چه وی سبه بل ته سبه نه وی؟

څه وی څوک چه جهان ټی عالم نه وی؟

کوم خواتښتی مړه رڼا کوه نه سوی؟

یو ورورکے سراو دا قیصے بې شماره

څه دیاره، څه دیاره، څه دیاره

۱۹۳۱ع ۔ لندن





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوډا

بوډا په بریتو لاس راښکوي مې ټنې ټنې
لاوړ دمنو ډکه دا دے د لاس پیټۍ

هینګولې م د خوښې او چې ګورې م د زنزې
مازغه د ځوان ګډوړي او پیرو د کتې

په لاس دجوارې په بابا سره غوټه د پیاز
د پاسه پیکوڼې پورے دراماس د سخامتې

که دیره په زره مالدار د پیسې کونګړی م واغله
بیا خه په تره سکوات که شروع خپله پیتنې

۱۹۳۰ع - لنډن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

زما بخت د شمع بخت دے یا به مړ مه یا به سوځم
یا به بیخ له د دریاب ځم یا به سر په چپو خوځم

عجب زه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دے
ما وروستی په اوله بیائی که زه ځمه او که نه ځم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حال زما

هیڅ د عشق له غمه نه دی برابر غمونه کل
چه د یار فراق دې وي دغه دې د خدائے وصل

چه مې زړه دا یو ویړ شو د قارون خزانه څه کړم
چه لالي مې خوا کښې نشته څه کړم ګل څه کړم بلبل
چه دنیا مې شي برباده آخرت به مې څوک جوړ کا؟
چه د زړه پښې مې شوې شلې څه به کړم د امید نغل

زه به تمو تموا وسم به خوانۍ مې خان کړم خاوړې
چه هیڅ ازغلی نه شو هغه ما به خان زغمل
بې جانانه جنت څه کړم بې وطنه بادشاه څه وي
یا به خان پسې الو کړم یا به ئې کړم د پټکي ګل

په جومات کښې مې ونه موند په مکه کښې مې ورک شو
خدائے مې زړه کښې را پیدا شو چه مې مخ د یار کړه ښکل
غني: بله په زړه ښکاري کنې ده به وي جوګه کړے
په سیلاب د سوخت د اوښکو اباسین دے دریاب

۱۹۳۴ ع (اتمانزی)



A .S.K B

# څه وکړم؟

یو سړک د ګلستان
بل لاره د زندان

مینځ کښې زه ولاړ حیران
چه په دې ځم که په دې

یو خوا عیش عشرت سیلونه
بل خوا کندې کندې غرونه

دې خوا ساز اخوا ویرونه
اوس په دې ځم که په دې

دلته بنګلې موسکې شونډې
هلته غم فریاد د کونډې

دا خو خوب هغه خامنډې
اوس په دې ځم که په دې

یو دې ډنډ پټ په شین رنګ
بل دې سیند ډک غوړ خنګ

دې خوا قبر اخوا جنګ
اوس په دې ځې که په دې

یو خوا سوے غم د سکور
بل خوا خاندې سوځې اور

اخوا تاج دې خو سر تور
اوس په دې ځې که په دې

دېخوا ښځې د زړه ... ینې
اخوا سره شراب د مینې

نه روند ئې هلته وینې
اوس په دې ځې که په دې

۱۹۳۴ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه چاودے

ستا زړگے وچوه پښتونه — زړه مې چاودے له تا نه
خوی خصلت دے د غلام — نشته زیاته له باچا نه
کله سکه په تا سوریږی — مغولی دے باباکیږی
بیا په تا په جوتوکیږی — مغلے څوک له کوه دا مانه
عقل پس زړه دے ناپاکه — لاس دے ستړے خوله چالاکه
ستا تاریخ دی عبرتناکه — چیرے خلاص نے له خزانه
خپل خیرخواه ته لاس په بڼ — سُر سړی ته زړ کړے ډډه
معامله دے گډه وډه — خیل خانه دے بے نشانه
تا تو کړے تو کړے خوشحال کړ — د ربلا! دے جمال کړ
خوامان دے په څه حال کړ — بے وطنه سرگردانه
په دیران ناست ئے خوشحاله — د کونکټ سوتوکښ جاله
بے هنره بے کماله — په هنر د ورور پښیمانه
بے ناموسه ستا کارونه — ستا بے کاره ناموسونه
ستا زړگے وچوه پښتونه — زړه مې چاودے له تانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله دے ودے

ویل کمتر وایه — خو په هنر وایه
چه ژبه لویه لري — هغه ته خر وایه
غمي په هار کښ یو — خو دُر ګوهر وایه
ساز د ماښام ښکلی — نمونځ د سحر وایه
چه وي مجرا بد وته — هغه ته نر وایه
چه دے خدمت کړي مدام — هغه افسر وایه
چه وي په تا شیدا — هغه دلبر وایه
که وي دیار تیکری — ورته سره زر وایه
غوښه د تور تخری — بوی د عنبر وایه
الله الله که نشے — دلبر دلبر وایه
چه په مردي لرشي — هغه ته بر وایه
بوړا ته خدائے یادوه — خوان هنر وایه
چه ستا نه مخ کښ دړي — هغه رهبر وایه
لګئے دے پرے کره حمله — غني ته خر وایه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما محل

دسینې دَ سپینو شګونه م جوړ کړل محل
دې تواخ کې جهان وته حیران حیران کتل

قالین م پکښې خور کړو دَ سرو پانو دَ ګلاب
او چت ئې دیوالونه وو سازونو دَ رباب
بیا رنګ م ورله ورکړو د خوبونو دَ شباب
هر ګل م ورله راوسته ماليار م کړو بلبل
دې تواخ کې جهان وته حیران حیران کتل

نرګس م په غیږ راوړه م میامه م کړه امیل
دَ غاټکو دَ شبنم نه م بنیسته جوړ کړو امیل
نسیم په خندا راوړل زیږ ګلونه دَ چامبیل
شراب م ورله ورکړل بیا د او ښکلو دَ بلبل
دې تواخ کې جهان وته حیران حیران کتل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنا مې د سپوږمۍ کړه د زړه اېښې غزلې

خندا ته د تنخو و ښکلې زړګي پیدا لې

دستو زړو مستې سترګې غلا غلا پیدا لې

وروږو پټ مستي راغله د خدای اور کړ بل

دې تول ځنګي جهان وته حیران حیران کتل

یوازې د بادشاه ومه په سرام تاج د غم

پخوا کښېم دلبر و ومسکې سترګې پرنم

په غاړه امیا ښبیسته د ښاغلو د شبنم

ماشومه نازنینه پاکه ښکلې لکه ګل

دې تواخګي جهان وته حیران حیران کتل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

ګوره طاؤس مړکړ ښایسته وزرو
ابلیس برباد کړو عالمي خبرو

سپینې ویده وه د سیین په تل کښ
زړګي نه وچاؤ د سڼ ملغلرو

ګلاب خپل رنګ اخپل بوېي نالاکړ
منصور په دارشو چه باخبرو

پتنګ خپل نرم زړګي سستی کړ
میږې برباد کړ خپلو وزرو

غني پوهیږي ښکه ژړیږي
څه ښه به ژوند و که ژوند دَ خرو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور

زما ختہ چہ خوشتہ کړه
په څه اور ے ابتہ کړه
چہ ئے نہ وژنم ورتیږم
چہ ئے وژنم لالمبہ کړه
نو رمہ ئے دخان جوړ کړم
دشیطان ئے یوه ذره کړه
خوږ ا زما چہ ورنزدے ؤم
دوره غتہ ئے پرده کړه
چہ جنت وتہ روان شوم
دوزخ لوے دروازه کړه
چہ دوزخ تہ ورنزدے شوم
چاپځے بچے نعره کړه
خدائے دورک کړه د زړه اور ه
تا د ژوند ورکه مزه کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څو ترانه

خوږ دے ماته ملک زما
خوږ تر ټول جهان
زه به خم په جنګ د کام
زه چه شمه خوان

وینه ده تور ده زما رګو نو کښې د ننګ　　سر که م قام غواړي زه به نکومه په څنګ
زوږے د مالیا مه د توپ م د تفنګ　　زور م د غیرت دے د همه زوړ ورو خان

زه به خم په جنګ د قام
زه چه شمه خوان

سر څه د سپي سر وي چه ډلے نه وي په قام　　نو څه به نخوني وي چه شیدا نه وي په قام
نوم م موسی څه وي چه نوم وي د غلام　　دا نوم به بدل کړم یا به کړم بدل جهان

زه به خم په جنګ د قام
زه چه شمه خوان

زه پښتو بابا د خپلو نیکو پیدا کړے　　زه پښتنے مور په غیرتي پیدا لوئے کړے
مونږ به په پلار نیکه د ننګ کار نه کړي　　زه به غلام نه شم که غلام شي ټول جهان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خم په جنګ د قام

زه چه شمه خوان

زه به په وجود یمه کوتلی وزیر اس

کرم به د کاروان خبرداری لکه د اس

یم به د ظالم سترګو کښی تل د سترګی خس

زه به لکه باز یم د نرتوب مرد میدان

زه به خم په جنګ د قام

زه چه شمه خوان

زه به لوی زړګی لکه شیرشاه د بنګالی لرم

مت به ابدالی لرم همت به روهیلی لرم

سر به ښکته نه کړم زړګی به ګشاده یم

زه به ښکته نه کړم چا ته سر په ته د افغان

زه به خم په جنګ د قام

زه چه شمه خوان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

زړه م پسې وچاود خو آشنام نکړ لاندې
هغه په موټر کاټ کښېنه په سټرې تټو باندې

کوږه نوا چار دې په اینبولو تر سکوینږي
منځه مړېه ده چه تازه وي مزه کاندي

مالي د وصال په صبا راکړ تانپ کوړے بل
دومره مهذب او ښایسته نه جانان دے

نن چه دَمس کوټې دَ بابا په کور داخل شوم
لسونې تاریخ ورکوې د وار دغنیخان دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

مغ وے مینه یو کال دے — اوس تازه وي اوس فنا شي
ماوے یو کال چه شي مړاوے — سل کلونه ترے پیدا شي
مغ وے مینه ده اور — سړے وسیځي فنا شي
ماوے اور چه چرته بل شي — جهان ګرم شي رڼا شي
مغ وے مینه یو خوب دے — چه ترے ویښ شي لابلا شي
ماوے ګوره ژوندون خوب دے — چه سړے ویښ شي شیدا شي
مغ وے مینه غضب دے — سړے ړوند شي نابینا شي
ماوے خدائے ئے ته بینا سترګے — تل جهان ته نابینا شي
مغ وے مینه دوزخ دے — ماشومان پکښ جلیا شي
ماوے بنه دے دوزخ بنه دے — له ګناه وجود صفا شي
مغ وے مینه تباه ده — پکښ خان وکړے شي تالا شي
ماوے بنه ده تباه بنه ده — پکښ پته سخا دنیا شي
مغ وے خوره دلبره — کاشکے ستا عقل زما شي
غني وے ماشومه کله! — ستا د سر دے فدا شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تماشه

خښتک دَ پښتون شلیږی باچا خان ورته ګیندے وهي
کاندي لیونے شوے دے سنله اته سرپندنے وهي

ختمیے مراوے وچ خوراک مرچ تتهي نے کور
زړګی نے روکی روکی سخا زړوکی اوږه بوږه تور
دهند دا بنیادم نه لري دم نه لري زور
په ښخه هیڅ بد نه ګڼي پیسے پیسے تندے وهي
کاندي لیونے شوے دے سنله اته سرپند نے وهي

دَ غونړ نه تادکري تار نو بیا کري ښاد کوڅي لوړته
دهوتي په خټ راواړي توره ختنه کاندي پوړته
هم دومره لوي وي چه څي آواز نے کوړته
وختي سحر چه پاڅي خوله کښې څڅي دو بند نے وهي
کاندي لیونے شوے دے سنله اته سرپند نے وهي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل لاپې د تهذیب کا د تهـذیب نه بې خبر و
په خوله سور مزری وی خاله به ښکته کوی خان بره
چه وخت دعمل راشی بل ته وائی دا نه کړه:
په خپله په تل تښتی الله ؛ تل خه کړندې دمی
کاندی لیونی شوی دی سنا اته سرینده دمی
خار به او مرغون نه لیده زانی دی مالیدلی
وښکو کښی نه لعاب ښایسته د پان وی بهیدلی
په سستیه کوی ګفتار لکه سالار توره ویستلې
که باو پرې چانغوړې کړې تبنتی خان پسې جرند وی[٥]
کاندی لیونی شوی دی سنا اته سرینده دمی

(٥) جرند سکه : جلدي سې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

وره دا ظلم و ناروا او دا بیداد — په خندا نه زغمه مه کوه فریاد

کوه تل د لوی مکان د کانو زور
وی په سر باندې د کټې دَ بنیاد
چه تکلیف او غم سهی خوږ داناکا
دوم یوه ښود نه شی هیڅ استاد
طور د ختو کانو جوړیږ نکه غرو
چه ایر شو تور نه شو به جهان یاد
شین زمری ځنګل نږتوب تور یادیږی
کنی تن د ډیرے کاندی صیاد
او ځنګله سوځی خکه سوخول کا
دانه خاورکښې سپه کاندی آباد
د مظلوم دَ درد او ښکو پاک سیلاب
په لکها ودنبار ریشې کاندی برباد

غنی: چپ شه د بزرګے خبر مکړه — ما ته واوره ستا خو توربشو را په یاد



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه نوے

زوړ اشنا زین کړی آس دے — دے زوړ کور لکه جنت
زوړ دلبر نوے برستن — نز دے واله نے راحت
زوړ نوکر سوچه قالین دے — بے بها دے بیش قیمت
نوے دوست ته چه زوړ پریږدے — بے غیرت دے بے غیرت
په کمکو باندے زیات شی — زوړ خاوند نوے شهرت
یا نے بنه په چپه خرابه — یا پوره پریږده سنت
یا کچه خبرے مه کره — هم زنا هم عبادت
بنی زوړ خیال نوے جامه کښی — دغنی دے د اصفت

# پلوشه

مه مے مشین کړه خوند مے پریښود
ته هیڅ مے کېنبود د لیه وړی
خوزړه مے هغسے د مستے ناوړی
تبه مے کیږی نرئ نرئ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګډے وډے

چه خلاصیږي بې وفا عمر زما — د جهان د بناخه څې ثمر زما
توره تیاره د مرګ چه شي راپورته — چه پیښیږي د عزرائیل ذکر زما
زه به شین د سرو شرابو جام په خوله کړم — د جنت باغچه به شي بستر زما
په ژړا او په سجده چه شیخ و نه لید — ما په یو ګوټ ولید آ دلبر زما
مرګ په خوب دی یو نشه د بې هوشۍ ده — په دې وار به دې بدل ځګر زما
ته د روح په کوتک نه وهې زاهده — روح او زړه زما یو یو افسر زما
نابینا عقل م مست نه دی ته پوهیږي — او ستاره کښې د غم شو د صبر زما
د غني د همه لا ګډے وډے — خان سره بې سره لوګا سر زما

## پلوشه

چا ته نه بنایست ورکړو غمګین
چا ته نه غم ورکړو بنایسته
زه نه مست او هم هوښیار کړم
هم نه په تخت کړم هم په تخته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخ دَ جانان

کله مخ زه په قبله کړم کله کړم مخ وجانان ته
هیڅ په فرق نۀ پوهه نۀ شوم ربه! خیر م کړې ایمان ته

هغه ورځ چه خلق پیدا شو دَ خالق په تجلي شو
زۀ ودم پروت مخمور مشکوره په سجده مخ دجانان ته

اوس زما په بیکسۍ کښې د مستۍ لمغرې وینې
زۀ دَ مرګې قابل نۀ وم ولې تا بوتلم آسمان ته

دَ خبرې خوګ نشته خان سره غني کومینزی
لیونے نۀ هله بولې چه وګورې جانان ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو جام

درندے هوانن الوځي مابنام کښ
واخله دوب کړه تول غمونه په یو جام کښ
څه که شوې چشتي ملنګ څه که امیر شوے
کور کښ فرق نه وي آقا او په غلام کښ
تور ښکاري مرګي شوله دي لاس نیولې
خاندۀ خاندۀ ونن بیا نشي خندل دام کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه دغه

تمتو دوست کړه سنډا یارکا ‌ ‌ ‌ ‌ خر کړه خپل مطلب پرې بار کا

خوار لوهار(*) ته لا لا وایه ‌ ‌ ‌ ‌ چه تیره درله سپاره کا

سرکار مرګ له چه ځوک بیائي ‌ ‌ ‌ ‌ یو کپتان بل صوبیدار کا

د مستۍ چه خر شي پاتې ‌ ‌ ‌ ‌ د ښیځي چوغه اختیار کا

چه نرسې ږغ ور شروع شي ‌ ‌ ‌ ‌ خان حاجي کا پرهیزګار کا

چه میږي ته خدای په قار شي ‌ ‌ ‌ ‌ دوه وزر ورله تیار کا

چه پښتون ته خدای په قار شي ‌ ‌ ‌ ‌ لوئے ملک ئے د سرکار کا

خان او خر دي سکه ورونه ‌ ‌ ‌ ‌ مست په جر زنا په جار کا

پښتون هغه وي چه مړ شي ‌ ‌ ‌ ‌ خپل پردي ورته آزار کا

خره کړې لوئے په جهان نه وي ‌ ‌ ‌ ‌ چه په ږیره اعتبار کا

زړه کړه زهر خوله خوږه کړه ‌ ‌ ‌ ‌ خره راشه خان هوښیار کا

یو دیار شونډې خوږې دي

یو مزه غوښه د ښکار کا

(*) لوهار : آهنګر.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې (*)

څوک دې ماته ووائي   څرنګه شيدا شي څوک ؟
څوک چه چاته وخاندي   ولې په خندا شي څوک ؟
ستورې دَ غره څوکې ته   غاړې شان بېګاه ووې
مينې په ژړا ووې   حسن په خندا ووې
ماته موسکو سترګو کښ   ښکلې دلربا اووې
ولې څوک زړه وبايلي ؟   څرنګه شيدا شي څوک ؟

څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک ؟

سترګو دمجنون ووې   او ښکو دَ ليلى ووې
اووې په نشه خوائي   غم ورو په سودا ووې
ماته موسکو سترګو کښ   ښکلې دلربا اووې
ولې څوک زړه وبايلي ؟   څرنګه شيدا شي څوک ؟

څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک ؟

---

(*) دا ما ۱۹۳۹ع کښ دواده په شپه ليکلې وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو جام

مستانه ساقي راشه　　　يو جام جام راوړه
موسکۍ شه په خنداشه　　　يو جام جام راوړه
پياله ګبنين ده شيرينه　　　خواني دخوانۍ وينه
رنګ رنګ مستي رنګينه　　　حسينه نازنينه

مجنون يمه ليلی شه

يو جام يو جام راوړه

يو ګل يم ژړيدلې　　　يو باغ يم سوځيدلې
يو ساز د ژړا يم　　　يو آه د بلبلې

ژوندون شه زما ساشه

يو جام جام راوړه

ګلفامه ساقي راشه

يو جام جام راوړه

يو راګ يمه خاموشه　　　نغمه يم فراموشه
خواني م په غم بايه　　　مستي راوړه بې هوشه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ساقي زما شه

یو جام جام راوړه

موسکۍ شه په خندا شه

یو جام جام راوړه

مست مست راکړه خوبونه　　چه پټ کړم پرې غمونه

شروع کړه د ژوند تال ته　　نازک دَ بنیست سرونه

دلبر شه دلربا شه

یو جام جام راوړه

مستانه ساقي راشه

یو جام جام راوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډے وړے

عقل ترینه بزیره وخوړه — خیښتے ترے ایمان وخوړه
کوره په وربشو کښن — خره لال دَ بدخشان وخوړه
کوڅه کښے نه خرڅیږی — خوار لاله دَ غمخان وخوړه
قبض شو دَ صیب — دیرے هندوستان وخوړه
خار ښم دَ لیلٰی دکولمو — خیښته ئے د بنګلو لوده
چا مهار چا او بنږ وخوړه — اوده واړه کاروان وخوړه
کون ملا شهید دے — په مزار ئے دیوه بله کړه
مړی ووکم شوی خوار — دَ لوږے نه قرآن وخوړه

څه دَ لیونی دَ مرض
خوشی دارو مه کوه
غم دَ مرګ غوږ ځنګ دَ زړه
سترګو دَ جانان وخوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمې وړې

بلبل په هیضه مه پشو دیږے خوښ وو ښاتوتان
لاله م سالارنه شو اوس نے بدیښې هندوان
وه ناسته په آسمان کښې د تقدیر لوبه لو[۱] ـه
یوخرے روان کړے وو ښاخیل نصرت الله له
فرمان پرے رانازل شو د قادر و ذوالجلاله
کولا ئے تادی[۱] وکړو بشر جوړ کړو د یوخان
بلبل په هیضه مه پشو دیږے خوښ وو ښاتوتان
اوږبوزے خوږه ته سم کړو او هم پړے کړو تړے لکې
تندې کښې ورله کینبوه د غضب یوه ټکې
مغزو کښې ورله واچوه مرض د ملکې
شمله ورله کړه نیغه که راجوړې په جهان
الله لاله م وخوږ هم بلبل هم ښاتوتان
اوس څه به ساقي خلک په لکنهو کښې نوابان
اوس څه رنګ به لیکي د عشق غزلے شاعران
یاالله تیري شان

---

۱ په تادي : تعدي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنی آدم ته
# قصیده

لوئے شے کوډاکیه او توپونو نه دِ ځار شم
اے د کندهٔ دکه دَ عملونو نه دِ ځار شم

جوړ کړے دے چاکو توشے جوړ نخه دَ پاره
ځار دِ دَ قلمه دَ حرفونو نه دِ ځار شم

یو یو کے دِ بادئے څه د رنګ او جنګ خبرے کړے
اے دَ سحر خوبه دَ خوبونو نه دِ ځار شم

حسن دے ایجاد کړو مشغولا دِ ځان له جوړ کړو
ځار دے دَ مستئ نه دَ سازونو نه دِ ځار شم

علم دے دَ خیال دے خوب او خوب دے خیال دے
دومره غټو غټو کتابونو نه دِ ځار شم

پوه په سود او زیان دے شو او زیان بچے ته نشے
ځار دِ دَ خندا نه دَ ویړونو نه دِ ځار شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه کوڼې ژوندون له دې څو قسمه ځړې جوړې کړې
ښار دې دَ سجدو د تکبیرو نونه دِ ښار شم
ستورو او سپوږمۍ سره د راز او نیاز خبرې کړې
اې دخاورو کله! د رنګونونه دِ ښار شم
کوم د تیارو کور ته مسافره! سپینې سترګې ځلې
ښار دِ د ماڼو، د محلونونه دِ ښار شم
ګوتې دې آسمان ته او پایۍ دې د وبې خټو کښې
لوڼې ښې ګوره کیږه: دَ تونونه دِ ښار شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خيال

آئينې د خيال کښې دا دنيا ده
بادشاهي او فقيري د زړه سودا ده

زما خيال دې پورته کوڅې بنيسته کړې
که مکه که مدينه له دلربا ده

عاشقي د خوب د نه يو مست خوب دې
د دې خوب د ملک سپوږمۍ مې محبوبا ده

وخت دریاب يو بې پايانه او بې کناره دې
بې چپې او بې لنګر کشتۍ زما ده

ګل غوټۍ وي شي ګلاب او بيا خاوره شي
د پښو لاندې مې خوړه خاوره زما ده

يوه ناسته مې په خوا کښې موسکۍ شونډې
يوه ناسته مې سپوږمۍ کښې دلربا ده

يوه خاندې د ګلونو په خندا کښې
يوه ناسته په تياره کښې د صحرا ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه سترګې

کله ګورم مځکې ته او کله ګورم ستورو ته
او کله ګلستان کښې د قبرونو خاورو تورو ته
ګورم بتخانه کښې ستا د حسن تجلی کله
کله په سجده د کعبه کښې وینم خلق نورو ته
لویه هنرمنده د هنر کمال دې ګوره
د غټو خبرو ته او دې شوندو کمزورو ته
زه چې ګورم څه وینم ته ګوره ته ګوره
د رنګین جهان ته او زما سترګو شکورو ته
واوره شهزاده زما: غلام دې ګیله مند دې
خلق د غمونو قیصې کړي سترګو غم خورو ته
تا ته یو ساعت یوه لحظه کښې سترګې ووائي
هغه چې ګلونو کښې ویلې نه شي نورو ته
څه خو م لیونی یو کړو چې ژوندانه د جهان وړې
خاڅکي د نور او لیونۍ د لپو تورو تورو ته
نه د تاب د بنیست لرم او نه دې د خبرو
ما ته به ووائي ته ووایه دې ستورو ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه سترګې م دوه رنګه هر رنګ د جهان ويني
ګوري يوه مزګوته او بله ګوري ستوروته
په يوه کښې سرور وي مستي وي خندا
په بله کښې سوز او سلويلي او ژړا
په يوه کښې دنيا سرسينګار د دنيا
په يوه کښې ستم غم آزار د دنيا
په يوه کښې ژوندون د ژوندون بے خودي
په يوه کښې افسوس او ارمان په ژوندي
په يوه کښې جنون دے نشه ده افسون
په يوه کښې کافر دي فاسق دي مجنون
په يوه کښې پسرلي دي سپوږمۍ او جانان
او بله کښې ځيان تول د اشان د انسان

د دوو سترګو څه ضرور وو — چه يوه وي ښه بينا وے
ښومره ښه به ستا آدم وو — ښومره ښکلي به حوا وے
چه يا غم وي د کلونو — او يا غم د جنتونو
او مجنون ته په کعبه کښې — موسکے سترګے د ليلي وے
تا پرے خپل کمال ښکاره کړ — او غوبل دے ما کښې جوړ کړ
په ژړا اليوڅې تا ته — ځکه بانګ کښې د سبا وے
خلق د غمونو قيصے کړي — سترګو غمخورو ته
ما ته به ئے ووائي — ته ووايه د ستورو ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورو

ورو یې غوټۍ د ګلاب ورو ماته ورو      اورې له قصه داوو اشنا شه د ابرو
مالیدلې خوب ګڼې د راتلونکي بهار ستورې دې      شپه ګڼم لیدلې د جانان د بڼو سورې دې

نښکلې خلیدلو د سبا په منارو
ورو یوه چپې د نسیم اوړې ماته ورو
ستورې خوره پاک خلیږي شپه ګڼې د تیاره

زه یم د بهار سلام د ښیست د زړه دعا
زه د مجنون ساز او بوی یم د زلفو د لیلی
وې بام د عشق اوچت دې د کعبې د منارو

ورو د سبا ستورې سحر ورې ماته ورو
ګل خوب د بهار دی نخه شپه ګڼې د تیارو
زه د سحر خوب د شپې امید یم د وصال      زه د چا د مستې نیغې یم د خیال
لمر دې یو د یار جوړ د شغلو زړو      لمر زه دله د یار د دیار خلقی

بام د عشق اوچت دې
د کعبې له منارو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شان دانه

ــ زمالوړ ــ

دا یوه ذره د نور ده — شوه دریاب کښې د نیست ورکه
په خوبونو د خوانۍ کښې — یوه شغله د نور پیلې
دا نرۍ د هلال شونډې — دا د دوو ستورو رڼا ده
دا د معنی خوب تعبیر دے — چه وو ما او تا لیدلے
دا هم زه یم هم ته یې — هم زما او ستا خوبونه
دا هم ګل دے هم بورا دے — هم سازونه د بلبلې
دا چه ستا نیازبینو ګوتو — دا ازل ځانګي ته لاس کړو
دا ګلاب ئې ترے را واخیست — په نورونو لمبیدلے
دا چه زه په پټو سترګو — مستي دریاب کښې ډوبیږم
دا م لال تاله دلبر ے — د تیارو راخیژولے
دا چه ما غمګینې سترګې — په ژړا کړے بروپوته
دا زما د غم خواب کښې — سپوږمۍ ګل دے رالیږلے
دا اوبه د دوو چینو دي — د دریاب په طمع درومي
زه به جوړ ترے آباسین کړم — په کلونو کښې بیالے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راشه ورو دیار غمه

راشه ورو دیار غمه
پرېوځه په سینه زما

ګل غمه ګلزار غمه ـــ اې د ګلو ښار غمه
خوږ لکه دلدار غمه ـــ اې د ستورو هار غمه

راشه ورو دیار غمه
پرېوځه په سینه زما

غم کښې چه امید وی ـــ خه پسته نشه لري
دغه ورکښې دا ارمان ـــ ښکله پلوشه لري
دا مستي او دا ژړا ـــ سره ستا د ستار غمه

راشه ورو دیار غمه
پرېوځه په سینه زما

راشه اې د زړه خوږه ـــ وینې کړه دا جهان ستا
وینو به پلوزانې کړه ـــ سور ګلستان ستا
رنګ زیړ د خزان ستا ـــ بوی دې د بهار غمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه ورو دَ یار غمه

پریوځه په سینه زما

مستا په تورو لړو کښې — لږه رڼا دیره شي

اور او ورکښې ستوري شي — حسن ئې ترڅا پیره شي

اے دَ لیونو نښے — مست دے دستا خمار غمه

راشه ورو دیار غمه

پریوځه په سینه زما

تهٔ دَ مودو یار زما — نښه دَ دلدار زما

ته یې دَ وفا گواه — تهٔ ئې نوم دیار زما

خوږ لکه دلدار غمه — ای دستور و هار غمه

راشه ورو دیار غمه

پریوځه په سینه زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر

پرَچه د شهباز لرے او سترگے دَ عقاب
زړه پوست دَ بلبل خوږے خبرے دَ بنا رو
سر ډک د خوبونو لکه مینه دَ قارون
سترگے مینه ناکے مستے سترگے دَ مجنون
چل دَ سامری اوږباکے گوتے دَ موسیٰ
تور دَ غم صلیب په سپینو لو د عیسیٰ
تن ئے سرِ رباب چه دَ قسمت گوتو کښ ټنگ کوی
خوله ئے دَ گونگرو چه د جانان په پښو کښ ترنگ کوی
دی دَ گوتے پوتے کړی نامه دَ یار ولیکی
څه چه قلم نه لیکی هغه دے خمار ولیکی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنظیم په نظم

# دَ

# عبدالاکبرخان

غني کړې ستر ګې ستا تصویر ے ولیده
چیناخ په لوته وخاته کشمیر ې ولیدهٔ

چا ولید په ژړا جانان چا ولید په خندا
چا ولید په خوبونو کښې یو خوب دَ دلربا

چا ولید په سجده وکښې چا مستۍ کښې دلیلی
عیسیٰ ورته موسیٰ کښې شو چه شمشیر ے ولیده

چیناخ په لوته وخاته کشمیر ے ولیده
چا ولید په سپوږمۍ کښې چا د شپې تورو تیارو کښې

چا ډوب دَ غم دریاب کښې چا د حسن نندارو کښې
چا ولیدهٔ پیلی په مستو نڅو نڅو کښې



A .S.K B

او اوليدليونی چه خپل تقدير ئے وليده

چيناخ په لوته وخاته کشمير ئے وليده

اے لويه سمندره، او د حسنونو د مستو

رنګين د رنګ جهانه د رنګينو تنستو

چه بخت د لمر خاته دی که قسمت د پريوتو

(او، عيسىٰ ولے موسکے شو چه شمشير ئے وليده)(٥)

---

(٥) عبدالله الرحمان آفريدی ۱۹۰۰ع کال دچارسدې په عمرزو کې پيدا شوی دی د صوبه سرحد مشهور سياسي مبارز او د پښتو ژبې حقدار ليکوال او شاعر دی، خوارۀ تراخه، خوږګړه، سفرنامه، روښانيان، د مثنوي پښتو ترجمه او نور يې مشهور آثار دي.

خدای په ۱۳۵٦ هـ ش کال ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اے دَ لیونیا نونیکه

اے دلیونیا نونیکه لمونځ ښه که مستي ښه ده؟
حسن جوړیدل ښه دي که حسن پرستي ښه ده؟
وے ښه ده مستي ښه ده خو زړه پاک لکه آئینه غواړي
دا دریاب هضمول دَ سمندره هُمره سینه غواړي
حسن جوړیدل دَ ښهٔ عشق د کمال دے
تور دغم دریاب کښې سور خمار د وصال دے
او اے زما بچیه! دَ جانان ئے مینه لا ښه ده
نوم ئے ښکلے لا ښه دے جلوه ئے رنګینه لا ښه ده
اے دَ لیونیا نونیکه مار ښه که ملا ښه دے؟
تن مې دک له زهرو که زړه دک مې دَ بلا ښه دے؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما بچیه وے ویران لره انکار ښه دے
مړے له پېښو ښه ده چینه خے له بنا مار ښه دے
تاله لیونتوب ښه دے مستي ښه ده صحرا ښه ده
چاله طاعون ښه دے چاله سوړے د مولا ښه دے
دا د دنیا رنګ دے دا دنیا رنګینه لا ښه ده
زیړه ښه ده توره ښه ده تکه سپینه لا ښه ده
اے لیونو نیکه حُسن که وفا ښه ده؛
برخه د مجنون ښه ده که برخه د لیلیٰ ښه ده؛
وے اے زما بچیه: د دلبر د خولے هوا ښه ده
یخه نرمه لا ښه ده او تیزه ګرمه لا ښه ده
تا و دغ دیار لوپته سره رنګینه لا ښه ده
زیړه ښه ده توره ښه ده تکه سپینه لا ښه ده
(نو) اے زما بچیه: حسن ښه دے هم وفا ښه ده
برخه د مجنون ښه ده هم برخه د لیلیٰ ښه ده
ښه ده فقیري نیکه که ښه ده دیره دنیا ښه ده
ګل د صنوبر ښه دے که قلا د محبوبا ښه ده
وے اے زما بچیه: سوړ عقاب له دغه سره ښه دے
ګل د صنوبر له ښه او ګل له صنوبر ښه دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جام له قلاړے او سمندله نه توفان خوند کوی

ستړګو له مستی خوند کوی او زړه له ارمان خوند کوی

انو، اے زما بچیه! فقیری ښه ده دنیا ښه ده

تخت د سلیمان ښه دے جونګړه د عیسی ښه ده

مشرو لیونیه وزیری که جیلخانه ښه ده

ښه م خپل لوږکی دی که قرض تو تخانه ښه ده

اے زما بچیه! یار ژړ لوله صحرا ښه ده

تخت د رقیب نه دے ښه تکورے د لیلی ښه دے

دوست د یزید ښه نه دے شهید د کربلا ښه دے

واک چه ئے د بل وی د دے نه زنانه ښه ده

او اے زما بچیه وزیری نه جیلخانه ښه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دحورو ښکار

یو عاشق د ګلونو دحورو په ښکار لاړ
او د جانان د کوره په توبه او استغفار لاړ

وې د جانان ښیست یو خوب او خیال دے
وې دا مستي بے خودي ځما وبال دے

وے پروني ښاپیري نن تورے خاورے دي
دَ دنیا ښیستناکے اوبه پروني واورے دي

وې د جانان په ښتو سجده روا نه ده
دَ مسلمان سترګو له نشه روا نه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ چې واوریده د سرو زنځیل بوږنه
رنګ ئې د سترګو نه غوټکۍ د ګل یووړه

د ماښام لوړې له د زړه ارمان لاړ
په پسرلي شپې له ئې د مستۍ نشان لاړ

ارمان چې لاړ خواني هم لاړه
خمار هم لاړ مستي هم لاړه

او د جنت په طمع جنت نه خوار لاړ
یو عاشق د ګلو نه چې د حورو په ښکار لاړ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلہے ودے

مستي چه چاکښ ډېرۀ شي　　یا ډم شي یا شاعر شي
نیستي چه بونیرے وُ وي　　ملاؤ دَ هشتنغر شي
چه صبر چاکښ ډېر شي　　یا ملنګ شي یا بادشاه شي
چه کبر چاکښ ډېر شي　　یا فرعون یا ډنګا چا شي
چه اَس دَ تتو زوے شي　　قد غنے بلخشانے شي
چه ډم وي په کابل کښ　　• خالصه • کښ درانے شي
په چا چه کینه ډېره شي　　یا تخت شي یا تخته شي
په چا چه نفل ډېر شي　　یا تتو یا فرښته شي
خواني چه چاکښ ډېرۀ شي　　یا غل شي یا ولي شي
چه زور په چاکښ ډېر شي　　یا یزید شي یا عليؑ شي
دچا چه بخت راوېښ شي　　یا مجنون شي یا لیلیٰ شي
په چا چه تهذیب ډېر شي　　ملوے یا ملولا شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنهیا چه ډېر سخي شي　　یا پېتي شي یا پاڼک شي
مهمند چه معتبر شي　　بې غیرته شي ملک شي
چه مینه چاکښې زیاته شي　　نبي یا لیونې شي
چه دم وي په کابل کښې　　"خالصه" کښې درانی شي
چه علم چاکښې ډېر شي　　یا شیطان شي یا فقیر شي
چه وس د وسه ووځي　　یا نصیب شي یا تقدیر شي
چه وخت د تولې ووځي　　یا قیامت شي یا وصال شي
چه سر د خودۍ ووځي　　(نو) یا شرنګ شي او یا تال شي
پښتون چه غیرتي شي　　یا خان صیب یا خان باده شي

نیستي چه بونیري ووځي
ملا د هشنغر شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خُوانه

سوے باغ تالا کلشن دے — مراوے گل خاورے چمن دے

نه بلبل نه لولکۍ شته — نه نرګس نه یاسمن دے

د ګلاب دے ایرے شوے — که په اور سوے ختن دے

اے پښتونه! ستا وطن دے — اے پښتونه! ستا وطن دے

د دے باغ خاورے را واخله — تر ینه نوے بوستان جوړ کړه

اے د سوی باغ مالیاره — د نورو نو جهان جوړ کړه

اے چه ښکته ښکته ګورے — نن پښے ابله سر هر تورے

نه خبر ئے چه ته څوک وے — ته د مینځ آسمان وی ستورے

ستا شمله چه به شي پورته — شوے به ښکته شملے نورے

په مستی اورنګ به سر وے — ستا د تیغے سترګے تورے

اے د تیغو سترګو خوانه — پاڅه هغه جهان جوړ کړه

د دے باغ خاورے را واخله — تر ینه نوے بوستان جوړ کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې دَ وران خپه میرنۍ      اې دَ وږې بچي پلاره!

بې دړه که سر ګردانه      اې دَ سوي باغ مالیا!

اې چه نن بربنډ بچي ستا      دَ خوراک په کشاله دي

ستا دَ لاس مانۍ ولاړې      په ډهلي په بنګاله دي

اې دَ بل دَ در مړیده!      پاڅه هغه د وران جوړ کړه

دې دې باغ خاوړې راواخله      ترینه نوی بوستان جوړ کړه

اې په غره په سر ډېر کښې      په باغونو په میرو کښې

په جنډول کښې په تیرا کښې      زما لال پټ په ایرو کښې

اې د زړګو په خندا کښې      دَ تنزو په ښارو کښې

دَ شیرشاه نازبینه زویه      ته نے پروت تورو تیارو کښې

کړه دَ غم تیارې راغونډې
ترې دَ مینې داستان جوړ کړه
دَ دې باغ خاوړې راواخله
ترے نه نوے بوستان جوړ کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

اے د حسن او نور دریابه! ماله یو څڅکے د نور را
سترګے ډکے د خندا راشونډے ډکے د سرور را
زه دے خپل وړوکی زړګی له یوه ننبه دیدار غواړم
اے د حسن او نور دریابه ماله یو څڅکے د نور را
دے تک تور د غم محل ته یو ځغرے د رڼا را
سترګے ډکے د خندا راشونډے ډکے د سرور را
دے مستی او د ارمان له یو تصویر د جانان راکړه
ستا په مینه نازیدل راستا په ښکلی مخ غرور را
دے د خود سوی باغچے له یوه وعده د بهار غواړم
زه دانه وایم چه جنت را زه دانه وایم چه طور را
د دے خوب دسا او وخت اشاره د تعبیر نه کړه
ماله نه د بادشاهانو سینه د تعبیر راکړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

رتبه دا سې لیونے شوم په یو خیال بانده مین شوم
خُم د وبیزه م سمندله کښې په یو لال بانده مین شوم
رتبه: داځنګه مستي ده چه جانان م پکښے ورک کړ
که په غم د یار د سترګو په دلال بانده مین شوم
زه د سیند د ځنبلو نه ووم یو لپه م عمره پورته
زه دلبر د مینے نه ووم په هلال بانده مین شوم
چه م نه ځانید سینه کښې پښخو بونو کښې م ځاے کړ
غم م ګرد غم د جانان ته په یو خال بانده مین شوم
دا مستي نه د ځواني ده نه مستي ده د شرابو
داغوزه د یار د سترګو په یو خیال بانده مین شوم
دام بانګ د لیلی وا وریده که ستاینه د بلال؟
که د یار د پایلو شرنګ کښې په یو تال بانده مین شوم
پتنګ پروت وو په تیاره کښې په نامه د شمعے مست شو
که دا زه د یار د سترګو په یو خیال بانده مین شوم
ملغ سوے دلبر ولید په یو ځاڅکی د شبنم کښې
که صنم ماته موسکے شو په خوبونو د صنم کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړه شمع

ما ته نسیمه مه وایه / مه وایه : یار به سبا راځي
ته د مستۍ خبرې کړې / ماله ژړا ژړا راځي

اې د رندو مسئلو ملا ! / اې د اوږدو سلسلو ملا !
ستا په دې راز و نیاز پورې / ماله خندا خندا راځي

ما هم یو خوب لیدلې وو / ما هم یو باغ کړلې وو
ته چه قیصې د ګلونو کړې / ماله ژړا ژړا راځي

زه هم یو شان د ځوانۍ ومه / زه د مستۍ یو تصویر ومه
اوس یو ذره د ایرو یمه / څه که بېګاه سبا راځي

زه لکه مړه شمع ورکه شوم / ورکه په طمع د سوزېدو
کله په لاس د ساقي راځي / کله به اور او رڼا راځي

تلې ځواني چه لاړه شي / چرته به بېرته بیا راځي
ته د مستۍ خبرې کړې / ماله ژړا ژړا راځي

---

او د بنده مثال لکه د خس دی
تود شي لوګي وکړي رڼا کړي جوړه
لمبه شي وسوځي خاورې ایرې شي
بوره ابۍ پرې ژړا کړي جوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنده

بنده بدلیږي داسې بدلیږي
لکه بدل شي چه وخت دَ کال
کله سپرلے شي کله خزان شي
کله مستي شي کله وصال
کله پوحسن شي پوسوز او خوب شي
کله مجنون شي پولیونتوب شي
کله فریاد سلګۍ، کله نوتوب شي
کله سینه دسقراط کله خرتوب شي

کله ارمان دَ سینې او کله لال
کله مستي شي کله وصال

مینه مستي ده داسې مستي ده
لکه مست وي دَ بنګړي تال
کله سودکل شي دَ سپرلي شپه شي
کله منصور شي کله بلال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله یو غم شي ساز او ستار شي
یاد غوټۍ ارمان د ګلو هار شي
کله سره د سوز کله چغار شي
کله قصه د بنایست کله دلدار شي

کله سینې د حورو او کله خیال
کله مستي شي کله وصال

غم یو نشه ده داسې نشه ده
لکه نشه شي په بانګ بلال
داغو یو لمبه ده د عاشق زړه کښې
د یار د سترګو د خط او خال
کله شراب شي مست او سرشار شي
کله د زړه جام شونډو نه د یار شي
څوک ئې تسبې کړي د چا زنار شي
کله قسمت شي او کله اختیار شي

کله ماښام شي کله هلال
کله مستي شي کله وصال

دغه بند بدلیږي داسې بدلیږي
لکه بدل شي چه وخت د کال
وې ئې ارمان شي هیر جانان شي
هیر ئې مستي شي هیر ئې وصال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلام

نه ساز شو نه سوز شو — بس هسې ژوند تمام شو
نه خوب شو نه شرنګ شو — نه یار ګلندام شو
دا توره توره شپه راغله — نه ستوري نه سپوږمۍ شي
خواني وه لاړه لاړه — یوکوټ او خالي جام شو
یو ستوري سې د سباؤ لاړ — سور ګل یو د لاله و لاړ
سوړ لمر زیړ زیړ شولو — نرے نرے مابنام شو
قصه د حسن هېره شوه — مزه د مینې تېره شوه
مُلا بانګ د سبا وے — اخر په سول خیام شو
مستي بے پرواني وکړه — په خود کښ بے خودي وه وه

او څوک وره لیونے هم نن
بادشاه نه په سلام شو

---



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژمي مابنام

اوه نن دَ ژمي مابنام　　دَ جړې شپه ده
پوست شبنمي باران　　بهر وريږي
غاړه د اور او خيام　　شروع قصه ده
دَ شاعر سره اوستا　　مهين غږيږي
تنک او تکور دَ ژوند　　ناز او مستي دَ جانان
شړنګ د ځواني کنږهت　　شاتار دَ غم وهي
خندا مستي دساقي　　بت پرستي دَ ساقي
ستيندې د مرګ سره　　دکونګرو شړنګ وهي
اونن دَ ژمي مابنام　　دجړې شپه ده
پوست شبنمي باران　　بهر وريږي
يار شروع کړي مانه　　دَ غم قصه ده
کله موسکی شي
کله ژړيږي



A.S.K.B

# مست

چه مِ زړۀ مست وو دنیا وه مسته
ګلونه مست وو لیلیٰ وه مسته

چه مِ زړۀ ډوب شو دنیا بوډۍ شوه
ګلونه مراوي شو لیلیٰ بوډۍ شوه

چه مِ زړۀ مست وو شونډې تودې وې
دَ زهرو شونډې به هم خوږې خوږې وې

چه مِ زړۀ ډوب شو شونډې مړې شوې
یخې د داورو په شان دَ حورو خُلې شوې

چه مِ زړۀ مست وو سترګې مِ سرې وې
ملام سپوږمۍ وه د سپرلي شپې وې

چه مِ زړۀ ډوب شو سترګې هوښیارې
خزان مِ مل شو په نیمه لارې

خدایږو ژوندون بس ځوانۍ مستي ده
دا نور ژوندون نه دے یو کړیدۀ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې چه غځې شي رټب دې کړې پټې

چه مستي نه وینې داغه لیا! دې

اوما بناسې یاره ورو راروان دې

سبا به چونګ خاورې وي نن غنچان دې

جانانه: شونډې ماته نږدې کړه

چه زړه م مست شي دنیا شي مسته

چه بیا سپرلي شي ګلونه سره شي

چه ځواني ورانګې خندا شي مسته



A .S.K B

# نور او سینګار او خمار

کل د بدنه ښایست سترګو له پسته رڼا
شونډو کښې دا بیخودي شونډو کښې نشه

ښیسته د خپل خان په شان نور او سینګار او خمار
یاره د خندا په ځای سپین مړو کالو نه ما

مینې له د زور د سمندره، نزه د باچا ور کړه
ساز لرو آوازونو ښائست تا د ښار ور کړه

ماته د غمونو ارمانونو جهان راکړ تا
ماته زړګی پوست او مست او حیران کړ تا

او، ستومانه ستا دیار د حسن د آرام پکې
کله د سپوږمۍ د رڼا کله د ماښام پکې

کله د خوږې خوانۍ د امیدونو د ارمان پکې
کله خمارې ستا د خمار او ستا د شان پکې

اے د دوږخونو د قیامت او د حساب ربه:
اے د تورو زلفو د لالونو د دریاب ربه!
اے د مینې حسن د خوانۍ او د شباب ربه!
اے د مستو سترګو د نرګس او د ګلاب ربه!
اے د لونګې د مینې اے د ګل د خیال ربه:
اے د ساز او نیاز او د نسیم او د هلال ربه:
ولې دې د حسن نه جوړ کړو دا د خاورو ښار
ښیسته د خپل خان په شان نور او سینګار او خمار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل مې حیرانه

زړه مې بیقراره بې آرامه مې دې خیال
عقل مې حیرانه او فکرونه مې جنجال
پوهه مې ده ښتې لکه لومه کښې سرخکه
روح مې دې تیار وکښې لکه لړه کښې ملال

رتبه: زما رتبه: د جانان دا خط وخال
دا زړینې زلفې کچه خوله وروخې هلال
دا سترګې نیاز بینې دا پستې سترګې رنګینې
پاکې د نرګس نه دلولکې نه ورینبې مینې
سرې سترګې مستانې د مزې سترګې حیرانې
دکې د جنت او د دنیا سترګې جانانې
کله د ماښام لړې کله د رڼا دکې
کله د پېرون دښکه کله د سبا دکې
وینم پکښې زه وارَه دنیا د جام جم په شان
او ښکې نې دي پاکې پاکوونکې د زمزم په شان



A .S.K B

ډوب پکښې پراته د ساز او حسن جهانونه دي

دوی لیدلي زر لکه سپرلي او خزانونه دي

دوی کښې د مستۍ او بېخودۍ د ځانو قصې

دوی کښې د مرګونو د ژوندونو د ځوانو قصې

دا به تور چینجي شي او چینجي به تورې خاورې شي

دو به به د ناهوکۍ کښې د غرونو د سرو اوږې شي

ښکله به چینجي د ماښام سوز ساز د سبا وږمې

ښکله به چینجي د سپرلي شپه د لمر رڼا خوري

څه شوه د ایاز د زړه مستي د محمود سوځه شو

څه شوه زلیخا د مخې ښکلي ګودا کې څه شو

زړه مې بې قراره بې آرامه مې دې خیال

عقل مې حیرانه او فکرونه مې جنجال



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ژوند م لوئے دریاب دے ورو ورو خوږ شو سمندر کښې
څاڅکی ورک دریاب کښې شو په طمع د ساحل

بخت کښې د سیلاب دی په مستئ په چپو تلل
نه ورځي دریاب له غونډیدل او دریدل

دے لحن د ساز له تله ژوندون و دریدۀ مرګ دی
زیرے د ما بنام وی د سحر راخلیدل

ګله دے د چپے کړه د ابد مستانه تال ته
وکړنګوه ساز نے تار خانو کښې د ازل

لاړ لیونی لاړ چرته د لمر شغلو کښې دوب شو
څاڅکی ورک دریاب کښې شو په تمه د ساحل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اَرِنِي

خان له خه ګمانه زه د بیګاه او سبا ګورمه
خاوره کښې د ګل له د ګلونو دنیا ګورمه
سترګې م لټي چېرته صحراګنې منارو یوه
شونډې م لټي دُعاله بنګالي ننداره یوه
ګورخم ما بنا مي کښې د زړه هلال شغلې لټوم
زه د شبنم څاڅکي له خپاوي او سیلې لټوم
خان له ګمانه دخندل وجه د ارمان لټوم
شپې له د سبا زیړې او مینې له جانان لټوم
خکه کله ګل کله پسرلي کله هلال اخلم
پورې ترې رڼا لټوم په وازو سترګو جال اخلم
کله دریاب کله کومه د خیام تپوس
کومه د غمونو تالوسونه د آرام تپوس



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان له څه معنی زه د بیګاه او سبا ګورمه
خاورو کښې کال له د کلونو دنیا ګورمه

رُبه : د ځوانۍ او د مستۍ خوب له تعبیر لټوم
دے د لمر ذرو له زه تر لوله زنځیر لټوم

رُبه : زه ژوندون له او مرګی له یارانه ګورم
دے لیونی سره له د منلو افسانه ګورم

ځان له همسانه زه د بیګاه او سبا ګورمه
خاورو کښې دے کاله د کلونو دنیا ګورمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

ورکړه شرنګ دے ستا رله یاره! نوے دَ منۍ ماښام دے
نوے سپوږمۍ را ختلې ده نوے سرور کښې خیام دے
او دَ زړه تار خانو ته دے ګوتے د ساز ور ښکته کړے
وئ : د محمود خبګر ته ښن سترګے ایاز ور ښکته کړے
سترګے مینې په غم ډکے ډکے د سرا او صنم ډکے
سترګے ستے د شبنم ډکے خُنګه په ناز ور ښکته کړے
او دے دَ خاورو ستارکښ تا خُنګ د ابد قصه جوړه کړه
او دیو شرنګ او تهنګ نه دے ماله مستي نشه جوړه کړه
تا دَ ګلونو دَ رنګ نه ماله دَ یار تصویر کړ جوړ
تا دَ تارونو د شرنګ نه ماله یو خوب او تعبیر کړ جوړ
تا دَ سرور او غورځنګ نه ماله بابِ منیر کړ جوړ
تا دَ غمونو دَ رنګ نه ماله دَ غم اکسیر کړ جوړ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا د غرور او ارمان نه — ما ته بهار او خزان کړ جوړ
تا د ژړا د آواز نه — ما له تصویر د جانان کړ جوړ

تا د نرګس د دوه پا نو نه
ما له بهار او ګل کړ جوړ
تا د نسیم د خبرو نه
ما له فریاد د بلبل کړ جوړ
ورکړه شرنګ د ستار له یار
ورکړه رنګ د خمار له یار
ورکړه سلام ګلونو له
ورکړه دعا د یار له یار
بنانست او ارمان او سپوږمۍ
ما له تورے ګل او خزان کړه جوړ
او د نسیم د خبرو نه
ما له تصویر د جانان کړه جوړ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زک خیال

یو ښایسته غوندې ماشوم و . که یو خیال که یو خمار و
یو مُسکی شان تا ته وکړو د ازل د تیارخانو نه
زما خوا له ښادراغی لکه یوست قدم دیار
که یو ستوری ستړی والی چرته لرې د تیارو نه
که د توت کوترې وزرې شاهزادګۍ د نوروز لاړ
دما سترګو کښې غځمو . ښکلې شونډو کښې خندل
د ځان دان یو حرکت و . که یو رنګ د تخیل و
که د تال ګنګرو په خپو کښې م خوبونه کله یدل
لکه روه صوت باغ کښې په هیڅ شی نے یقین نه وی
چرته پټ په کښې یو خوب وی د صحرا او د ځنګل
ماد مینے لاس خوار وکړو . څه دعاوه څه ارمان
ماوته آئینه رنګینه نوره . راشه مست که دا جهان
زه به خپل خود ستا وجود کوم چه ته سترګو ته ښکاره شے
خپل احساس به د جامه کوم چه یو ښیښت یونند آره شے
ستا مستے له اختیاره به د ځان سرور درکوم
ستا امید او مشغلا له . به خوبونه د طور درکوم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خپل ژوند ترجان کړم ستا د ژوند دکتابونو
زما کوټې به ستا ږدی . ستا د شه نک ستا د ړنو
یو قدم مې که راپورته . هم راته هم سیریده
د صحرا عادت هوسئ ؤ په ګلزار کښې تریاؤ

ما خپل زړه ستړګو کښې خوړکه . دیره په مینه ورروان شوم
عجیبه جهان ته لاړم هم عاشق شوم هم جانان شوم
خو چه زه ئې ورتلم خواله . نو چا چغه کړه چه خان
لیونی شپوله اغلی . درنے خاوره ورله دوستان

یو نظر م چې تې وارو . نو د نوو بنا پیرسے نه ؤ
چار چاپیره به تیاره کښې نه ئې نوم ؤ نه نشان

اے زما ماشومه زوړه . ته به ګرځې نے کم صحرا کښې
د تیاره په شپه کښې نه کړه . ستا خوګوردې په دنیا کښې
و لے لاړې یوزکې خوب شوے دا زل روکه دنیا کښې
ستا خاشت کښې زما ژوند دې . ستا جمه ان دې زما سا کښې
یو نظر کښې که دې ماته سور ګلشن تور بیابان
لیونے . لیونے ګرځم د سے زکې شوے م جانان

راشه راشه په خدا شه لکه ستوړے په سبا کښې
د تیاره په شپه کښې ژړکه . ستا خوګوردې په نا کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه قصه

ښوک په ساز کښې          ښوک په خوږ سوي رباب کښې
ښوک په مسته ترانه کښې          یو تمه بل افسانه کښې
هر وخت هر یو زمانه کښې          په فراق په یارانه کښې
بس د خپل حیات قصه ده          په هر مخ د دې کتاب کښې
ښوک نوي وي په اودستو کې          ښوک په مست نګین رباب کښې

ښوک د تال او حرکت نه          کړي ژړا او خندا جوړه
تول وجود یو ارمان شي          چه د غم کړي ګډا جوړه
لاس او خپې د ګلو ښانګې          د بوډې تال په حباب کښې
د اغیښت داسې رنګونه          نشته نشته په ګلاب کښې
خو هم هغه یو ارمان دې          دې د تال او شړنګ رباب کښې
هم هغه یوه قصه ده          په هر مخ د دې کتاب کښې

ښوک نوي ساتګي را واخلي          په خپل اور سره لمبه کړي
یو مستي سره ورسې جوړه کړي          په جانان نوې صدقه کړي
ګله دوب په کړي خپل خمار کړي          د دې هم خان سره نشه کړي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله تور غمګین ماښام کښې | دومره په غم کې چې تیاره وي
یو بې وسه مایوسي شي | ناامیده او ډک ماتم شي
یو بې نومه اضطراب شي | سوځې لوګې سپې آدم شي

---

د سرو جام د میخانې کښې | د حیات په سپین محراب کښې
د صوفي په پټ سرور کښې | د عاشق د عشق شراب کښې
د شاعر د لاس کمال کښې | په جنون په اضطراب کښې
بس یو رنګ د چپه ځلیږي | هم جانان کښې هم ګلاب کښې
هم په ساز هم تال کښې | هم په خوږ سوي رباب کښې

---

یو خو اتویم غوړه مرګ دی | بل خو اژوند یو رنګین خوب
یو خو غم درد او تیاره ده | بل خو مستي شان اینتوب
یو خو اژوند یو بې وسي ده | لویه توره مقبره ده
بل خو اژوند یو مستي ده | د امید ارمان نشه ده
په دې سوال د هم پوه نه کړم | د ژوندون به لوی کتاب کښې
دغه سوال بس دغه سوال دی | هم په رقص هم په رباب کښې
عاشق سینه کښې سوز کښې | شاعر غم او اضطراب کښې

هم هغه یوه قصه ده
په هر مخ د دې کتاب کښې



A .S.K B

# د مدونې یادونې
# او
# شرکندونې

د پښتو د اوسنی ادب د تر ټولو ستر شاعر خان عبدالغني خان له نامه سره به د افغانستان او برصغیر په علمي، فرهنګي او سیاسي حلقو کښې دېر لږ خلق بلد نه وي . خان له پښتو نخوا او افغانستان او برصغیر سربیره په نوره دنیا کښې هم د نامه خاوند دے او په خاص دول د پښتو ادب خارجي محققین او له انګریزانو سره د لرو پښتو د آزادۍ د جګړې مورخین او مطالعین د ده له نامه او ژوند، کردار او کلام سره آشنا دي . او هم لږ ودېر په هغه مقام هم واقف دي چه زمونږ د غه لوی شاعر دے د پښتو په معاصر ادب کښې لري .

سربیره پر دے د پښتو ادبیاتو په معاصرو تذکرو (۱) کښې هم خان . عبدالغني خان زمونږ مشرانو ادیبانو پر مونږ پېژندلے دے او بوخاي

---

(۱) پښتانه لیکوال د ب علي همېش خلیل ص ۱۸ - ۱۹ - د ۱۹۵۹ ع ص د پېښور چاپ . او هسې لیکوال
[illegible] د ۱۳۳۶ هـ ش د کابل چاپ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور هم ډیرې نخې تحقیقي او علمي مقالې د ده په ژوند او فن کښل شوې دي (۲)، مګر داچه اوس يې د کلام يوه عمده برخه د (کلیات) په نامه د چاپ ډګر ته راوځي. نو بيا چه د کليات له لوستونکو سره د مرستې په خاطر د ده په شرح حال او ژوند او هنرمندۍ هم څه وکښل شي. چه له ابتدائي لوستونکو سره د رهنما په دود مرسته وکا، البته منتهيان خو د خان له ژوند او هنره سره ترهغو چا ډير بلد دي.

نو زه به په همدې نيامت خپله ليکنه د ده د شرح حال له کښلو پيل کړم او بيا به په ترتيب سره پر بحث ور موضوعاتو لنډې خبرې هم وکړم.

## کورنۍ او د ژوند ابتدائي حالات:

د پښتو ژبې د غه د غوره ځلاند شاعر خان عبدالغني خان پلار د پښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان دے او مور يې د رزړ د خانانو د يار محمد خان لور وه. چه له باچا خان سره يې په ۱۹۱۲ع کال واده شوے و (۳)،

د غو دوو خانخيلو له پښتنه په ۱۹۱۴ع کال (۳)، د شمال مغربي سرحدي صوبې د هشتنغر د اتمان زو (۵) په کلي کښې د پښتو ژبې د غه نوميالي او ښکلي

(۲) کتاب سال ليس، د مرحوم استاد بينوا مقالې ص ۱۰۹-۱۲۹ د ۱۳۴۶ هـ ش کال د کابل چاپ.
(۳) زما ژوند او جدوجهد د خان عبدالغفار خان ص ۷۰ د ۱۳۶۲ هـ ش د کابل چاپ.
(۴) په پښتانه ... ص ۹۰ ... د ۱۹۱۶ع ... ښودلی دی؟
(۵) په کتاب سال ليس ص ۹۰ کې مرحوم بينوا د غني خان د پيدائښت ... د هشتنغر ... ښودلی دی؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعروزیږيد. پلار يې د عبدالغني نوم کښېښود.

عبدالغني د مور او پلار لومړنی اولاد او د دوی ډير نيازبين و. استاد بينوا مرحوم دده ديوه دوست په حواله ليکلي دي چه: "غني په کوچنيوالي کښې ډير ښکلی او د مور او پلار ډير نازولی و. په غاړه به يې د سرو زرو ډنډ او زنځير وه او په ښي غوږ به يې د سرو زرو والۍ وه. په سر به يې بنګله داره ډيوټله ټوپۍ وه چه ټوپۍ او په ټوپۍ کښې به يې يو زرينه جونه وه ميلې وه چه د جونې ته چارچاپيره بډۍ ... دي د نظرمات تاويزونه تار و شوي وو."

مګر د غه نيازبين توب ډير پايښتي نه و. ځکه ننګيالي پلار يې هغه مهال د وطن او خلکو د خلاصون لپاره د انګريزانو پرضد مبارزه پيل کړې وه او په خپل کور کښې آرام نه و ناست. له بله پلوه د غني مورهم دده په ننهه کلني له دنياسترګې پټې کړې او نازولی غني د مور له ټود غيږ نه محروم شو.

دغني دمور د مرګ واقعه د پښتونولو نه ملي مشر دغني پلار باچا خان داسې ليکلې ده: "دجنګ په وجه په دنيا کښې سخته وبا راغله. په جنګ کښې دومره کسان نه وو مړ شوي. لکه په دې وبا کښې چه مړه شول. په هندوستان کښې هم دې وبا ډير خلک ووژل. پښتانه هم ډير پکښې مړ شول. دا داسې عجيبه وبا وه اکثر به يې ځوانان. جينکۍ او هلکان وهل او مړه کول او چه يو کورته يو ځل ننوته بيا به يې يو هم نه پرېښود.... په دې مرض دتولو نه اول زه پريوتم دوم خو مې خدای جوړ کړم.... زما وروسته غني چه د ښځو کالو ونا روغه شو.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غني ډېر ښکلی وه. د مور ورسره ډېره مينه وه. ډېر به يې ورته ژړل ما به منع کوله او د صبر تلقين به مې ورته کوله خو د هغې زړه به نه صبرېده. يوه ورځ د غني رنځوري سخته شوه. مور يې ورته د کټ سرته ناسته وه. د ده سر يې په غېږ کښې ايښې و. ما د ماښام لمونځ کړے و، په مصلی ناست وم. دعا مې کوله غني ته مې کتل چه بې هوشه پروت دے چه ناڅاپه مور يې پاڅېده. د زوي سر يې د خپل ورانه نه په بالښت کښېښوده او د زوي له کټه چاپېره وګرځېده او سره يې ودرېده او لاسونه يې په دعا پورته کړل او په ژړا يې وويل چه اې خدايه د ده مرض په ما کښېږدې او دے ماشوم ته شفا ورکړې. د خدائے يوه عجيبه حکمت و. په سباله دانا جوړه شوه. د دې مرض ورځ په ورځ زياتېده او د غني مرض به ورځ په ورځ کمېده. غني جوړ شو. او مور يې خوانيمرګه شوه. ماشومان يې راته پاتې شو. د غه وخت غني د پنځو کالو. ولي د درېو کالو او خور يې د يو کال وه. (٦١)

د مور تر مرګ پسې وروسته د عبدالغني خان روزنه د ده دانا د پاچا خان د مور په غاړه وه. مګر د هغې هم د ژوند ډېرې ورځې نه وې پاتې. په دا وخت کښې چه باچا خان د ډېره غازي خان په جېل کښې قيد و. مور يې هم وفات شوه (١) او د غني د دې پالونکې او مهربانې هم له دنيا سترګې پټې کړې. غني بې سرپرسته پاتې شو. لنډه دا چه په غني د ماشومتوب په دوره کښې د ژوند د ناوړه چپې راغلې مګر ورو ورو د دغه حالاتو مخ په سينه کېدو ښول. خان کاکاجي (غني) د مله شو

(٦١) زما ژوند او جدوجهد ص ١٣٢ - ١٣٤ .

(١) همدا کتاب ص ٢٠٩ .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سنو ږغېو ته لاړ دده په شخصي ژوند کښې هم تبديلي راغله .

## زده کړه، روزنه او فرهنګي محيط :

د پښتو د اوسني ادب د غه نوميالي شاعر هغه وخت د مل پېسې د ننګ شو چې باچاخان او نورو مبارزو او ننګيالي پښتنو په همت په پښتنو کښې د عصري تعليم د شروع کولو او عامولو جد و جهد جاري وو . او د دوي په همت او ميړانه په ۱۹۲۱ع کال د اتمانزو آزاد سکول جوړ شوے وه ، خود لروپښتنو په چاپېرچل کښې په عام ډول د تعليم څه شوق نه و ، او ډېر لږ اجتماعي نو په د عصري تعليم د مخنيوي لپاره په خلکو کښې ډول ډول غلطي پروپاګنډ ے خپرولې او خلک يې له عصري تعليم څخه ليرے ساتل ، په قبايلي او کليوالي سيمو کښې د سبقونو عام دود په جومات کښې هم اغه ديني نصاب و ، چه له ځوانه تر اوسه لا په ځينو ځايونو کښې چلېږي .

غني خان په داسې شرايطو کښې د سبو ږغې شو ، او ميړني پلار يې د اتمانزو په آزاد سکول کښې شامل کړ .

استاد بينوا مرحوم په دے باب کښلي دي : " د غني خان ابتدايي زده کړه په هغه آزاد قومي سبو ږغې کښې شروع شوه چه باچاخان او د هغه دوستانو د غريبو هلکانو د پاره په اتمانزو کښې جوړ کړے و ، او زده کړه پکښې ورياوه .

باچاخان خکه خپل زامن د غريبانو سبو ږغې ته واستول چه خلک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه وايي چه: باچاخان د خپلو او نورو د زامنو تر منځ توپیر کوی. خپل زامن
معتبرو ښوونځیو ته بیایي او د نورو زامن د غریبانو ښوونځیو ته استوی (۸)،
د لسم ټولګي تر پاس کولو وروسته د دهلي په جامعه ملیه کښې
شامل شو، په ۱۹۲۹ع کال باچاخان د یوه مرام لپاره بیرته هلته را وغوښت
او څه موده وروسته یې تحصیل لپاره لندن ته ولیږه. او د ۱۹۲۹ ع کال
د جولای په ۲۳ نیټه د څوارلسو کالو په عمر د لندن په نیت په بمبئی کښې د اوبو جهاز
کښې سور شو.

استاد بینوا د ده د لندن د سفر په باب زیاتوی: "غني خان لندن ته
ولاړ او هلته یې د باچاخان په مشوره د دوه نیم کاله د یو لوی پادري په کور کښې
تیر کړه، وایي چه په دې کښې د باچاخان مطلب دا و چه غني خان که د پرنګیانو په کور
او چت خاندان کښې عمر تیر کړی نو د پرنګیانو د عظمت په راز به پوه شي....
د انګلستان آزاد ماحول کښې د غني نایاب ښایست د ده د پاره یو لوے
مصیبت شو. چه چیرته به تې پرنګیانې جینکۍ به ور پسې وې او سبق ته به یې
نه پرېښود. خو په آخره کښې د لندن یوه د فلم ستاره پرې مینه شوه چه د یره
بې بها ښکلې وه. د ده نورو ملګرو ته ویره پیدا شوه چه غني یې په نکاح
وانخلي، نو پولیس یکښې باچاخان ته خط ولیکه او د ټولې قیصے نه یې
خبر کړه، باچاخان د تار په ذریعه حکم وکړ چه فوراً امریکې ته لوم کالج لاړ شه (۹)،

(۸) اوسني لیکوال ح ۳ ص ۹۷۰
(۹) همدا غد اثر ص ۹۷۱



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه خبر: خانے خانے د غني خان په شاعرۍ کښې هم خان بنکاره کوي

چه د لندن د پیرنګو جونو ښایست په زړه اثر کړے و... د لندن معشوقې»

ترمه لیک د ده یو د تو ته ده چه داسے پیل کیږي:

دلته خواته از غي دی      بل خوا ثخانګے د نرګس

د هنر علم سایه کښې      ګرځي کل لبانه مس (۱۰)

غني خان د پلار په حکم له لندن نه امریکے ته ولاړ. او د لویزیانا د ایالت د بورې

او شکرے جوړولو په یو کورس کښې شامل شو. اما دوه نیم کاله وروسته چه

باچا خان بیا قید شو، نو غني خان ته ژوند ترخ شو. ځکه خرخ نه

ورړسید. او پوره اته میاشتے پیسه خرخ هم نه وو رسیدلے. بالاخره دے

یو خیلو دوه ملګرو د ورلیږل چه دی بیرے له امریکے هندوستان ته

راواپس شي.

باچا خان هم د غني د موضوع ته داسے اشاره لري: «مشر عبدالغني د چه هغه

د ترو کمستوري د تعلیم د پاره امریکے ته لیږلے و. خو چه زه فیرنګیانو په ۱۹۳۱ ع

کال کښې جیل ته ولیږلم او زما جایداد یے کړو د کړو نو هغه د پیسو د نشت په وجه

سرته ونه رسولو او واپس راغے» (۱۱)

کله چه عبدالغني خان له امریکے راغے نو باچا خان د هندوستان د بهار

د ایالت د هزاری باغ په جیل کښې و، چه د غني ورسره ملاقات وشو. او بیاد جواهر لال نهرو

(۱۰) پانوس ص ۱۱۶، ۱۹۷۸ ع کال د پېښور چاپ.

(۱۱) زما ژوند او جد و جهد ص ۲.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

فضیل (۱۸۸۹-۱۹۶۴ ع) په مشوره ئې د ے آله آباد ته ولیږل او هلته د جواهر لال نهرو

د پلار موتی لال نهرو په کور کښے ديره شو، او ته مياشتے د جواهر لال نهرو

ميرمنې کملا د خپل بچي په شان وناز اوه خو کله چه په هغے پسے ذکر شاهي

انګريزی پوليس راغلل نو دے او خپله لور اندرا (۱۹۱۷-۱۹۸۴ع) يے د ټاګور

بين الاقوامی يونيورسټئ ته وليږل، د چه د غني د يونيورسټئ ته لاړ، لږ موده

پس د محصلينو د اتحاد يے رئيس شو.

د غني د منظم تحصيل دوران هم له واقعاتو سره مل روان و کله به يو څه

پيښ وو، او کله به بل څه.

د دے تحصيل په جريان کښے د وله خپلے مورنۍ ژبے سره عربي، فارسي

اردو او انګريزی ژبے د خبرو کولو مطالعے او په ځينو کښے د څه کښلو

ترسره حده زده کړے.

په اوسنی ليکوال کښے د ده د عربي دانۍ او د اسلامي علومو

د تحصيل او مطالعے په باب راغلي دی: " د باچاخان د اخيال و چه د غني به

يو لوی اسلامي عالم جوړ کړی، نو ځکه غني خان او ده کاله د عربي مروج

علوم ولوستل په تيره بيا د قرآن تفسير ئې او د احاديثو کتابونه (مسلم، بخاری)

احسن المسائل او بلوغ المرام تقريباً ټول په ياد وو او عربي ژبه يے د خپلے

ژبے پښتو په شان روانه ويله" (۱۲) وايي چه يو ځل د هند د ديوبند د اسلامي

---

(۱۲) اوسنی ليکوال ج ۳ ص ۷۹۰



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاصیب یو مولانا د اتمانزو آزاد سکول ته را غلے و، غني خان د تولو نه کردانو

مخکښے ولاړ شو او ښل دقیقے یے په روانه او فصیحه عربي ژبه وینا وکړه

مولانا پوښتنه وکړه چه دا هلک عرب دے ؟ باچاخان په جواب کښے ووئیل

چه نه دا زما زوے دے .

دغسے چه باچاخان په غني باندے دعربي د زده کړے باعث

دے ترڅنګه یے د پارسي ژبے د زده کړے سپارښت هم ورته کاوه، باچاخان

په خپل یوه لیک کښے غني خان ته کښلي دي : " عربي او فارسي طرف ته هم

څه نه څه توجه وکړه او د دے مطالعے د پاره هم څه نه څه وخت وباسه ماته د دے

متعلق اول هم لیکلي وو لیکن تا یے په خپل خط کښې څه خاص ذکر نه دے کړے"(۱۳)

## ملازمت :

بناغلي همیش خلیل کښلي دي کله چه غني خان په ۱۹۳۳ع کال پېښور ته

واپس راغلو څه موده دے د تخت بهایي په شوګرمیل کښے ملازمت وکړو (۱۴)

استاد بینوا لیکلي دي : " غني خان هلته د بوره جوړولو په یوه کارخانه کښے

د میاشتے په سلو ښل کلدار نوکر شو، په لومړي سر کښے یو معمولي نوکر و، خو په دے کاله

کښے دننه دننه د خپل نظري استعداد او لیاقت په وجه د کارخانے د تولو نه لوے

اوغټ افسر شو . . . څه موده د راستنے یے د تخت بهایي په سیمه کښے د بورے

جوړولو کارخانه جوړه کړه . کارخانه په چلیدو راغله، خو اهغه خت وجه دده د بلار

---

(۱۳) د باچاخان لیکونه          (۱۴) پښتانه لیکوال ص ۱۷



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(باچاخان) او پرنګیانو ته مخ بیا ځکه په تور دوه شوه او د غني خان قول ځیلوان د انګریزانو له خوا د استعمار زندانونو ته بوتلے شول. غني خان ته باچاخان حکم کړی و چه خان به قید ته نه ورکوي، او د صفوي د جایداد سرپرستي او انتظام به کوي. غني خان هم د خپل جایداد په یوه کلي کښے ځانله سبه کور جوړ کړ... کرمه زمینداري ئے شروع کړه او په مزه کښیناست» (۱۵)

استاد بینوا په اول وار کښے د ده د ملازمت ځایونه د ښوولے او دوهم والي چه: غني خان هلته د بورجړ ولو په یوه کارخانه کښے.... نوکر شو. خټکه چه داعجت په هندوستان کښے د ده له ژوند سره اړه لري، نو د ملازمت د غه دوره به یے هندوستان کښے وي، خو په اوسني لیکوال کښے د غه ځایونه د معلوم.

اما په بلوښے (۱۶) کښے چه د میاجعفرشاه په نامه د عبدالغني خان کوم منظوم لیک چاپ شوے دے، په یوه بیت کښے یے راعلی دی:

چرته نرم ریښمین تار چرته میزرے
چرته زه چرته «ګوله» چرته شکرے

د محمد منظوم لیک په حاشیه کښے کښلی دی: ګوله: ګوګرنا ته د هندوستان په (یو. پي) ولایت کښے یو ځا دے غني دلته د بورے په کارخانه کښے افسر ؤ.

نو استاد بینوا چه په هندوستان کښے د خان د ملازمت کوم بیان راوړے دے دا به بنایي هماغه ګوله کښے وي.

(۱۵) اوسني لیکوال ص ۹۰۳
(۱۶) بلوښے ص ۳۶ د ۱۳۲۹ هـ. ش کال د کابل چاپ - پښتو ټولنه.



A .S.K B

## واده :

اوسني لیکوال کښې راغلي دي : " .... او هغه وخت چه د بمبئي په ښار کښې یې د خپل یو دوست کره د حیدر آباد د نواب رستم جنګ کشر لور ولیده نو د لیدو سره سمد ستي یې زړه پرې بایلود ... " بیا لیکي : " او تر اوږدو کالو منډو وروسته یې د نواب صاحب لور وکړه او د خپل ژړه مطلوب ارزو ته ورسېده ."

عبدالغني خان د خپلې د ملګرې په باب داسې نظر لري :

یو خوب د شاعر په جامه انساني | یو ساز د ور دراز نیکي خوږ آسماني
یو ګل د جنت په خصلت جهاني | یو جسم ناري یو زړه ګې نوراني
شو نه داسې پیدا د غني دلبرا | په غیرت شته په ښا ایرا یې ټ ښت تني (۱۷)

## سیاسي میدان :

که څه هم استاد بېنوا کښلي چه غني په ۱۹۴۵ ع کال د سیاست د ډګر څخه هغه وکړه ، خو زما خپله رایه او نور شواهد دا دي چه د عبدالغني ژوند له ماشومتوبه څخه په یوه سیاسي ماحول کښې تېر شوی دی .

خان په داسې یوه کورني کښې زوکړی چه هغه څپله یوه لویه سیاسي ملګه وه ، باچا خان نه یوازې د خپلې سیمې په سیاسي حلقو کښې محشور شوی و بلکه د سیمې په سیاست کښې داخل شخصیت دی .

عبدالغني په د غسې یوه کورني کښې دنیا ته سترګې پرانیستي ، د هغه وخت

(۱۷) . د جرس څپاره ص ۳ . د ۱۹۵۹ ع کال ـ چاپ ـ پېښور . د جرس څپاره په ۱۹۵۶ ع کې د جنوري میاشتې په چاپ کې په هغه یک پنځه ۱۹۵۰ ع کال د خپل واده دولسم کال بېرو لي دی . نو ښکاري چه غني خان به په ۱۹۳۹ ع کال کښې واده کړی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول سیاسي جریانونه او واقعات دد: په فکر او نظر او عملي او موثر وو.

زه په خپله د ع. الغني خان د سیاسي فعالیت زمانه او په سیاست کښې دده ګډون له هغه وخته راپیل کوم، چه د پرنګي د شومونیاتو په نتیجه کښې په افغانستان کښې د غازي امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹ع) پر ضد بغاوتونه شو او بچه سقاو د ننه شو، زموږ په ټول هیواد کښې د حق او باطل ترمنځ یوه جګړه روانه شوه. او ټول وطن د پرنګي په لمسه په اور کښې سوځېده، زموږ ټولو ورونو د دغه مصیبت برداشت نشو کولای. او له موږ سره غني خان په دغه غم کښې شریک باله. باچاخان او دده ملګرو د خلکو د پوهولو لپاره جلسې کولې او د امان الله خان په ګټه یې تبلیغونه کول چنده سره یې ټولوله (۱۹)

او د جنګ د زخمیانو د مرستې لپاره یې افغانستان ته د یو طبي وفد د لېږلو کوښښ شروع کړے و. غني خان هم د باچاخان له خوا د دغه وفد ته معرفي شوے و، لکه چه اوسني لیکوال کښې راغلي دي: "باچاخان پنځه زره روپۍ او یو هم غني د دغه وفد ته ورابخښنه" غني خان د دغه وخت په جامعه ملیه دهلي کښې سبق وایه، په غني پسې ټیلګرام لاړ او هغه په دوهمه ورځ راورسید. خان ته یې د رضاکارانو خړې جامې جوړې کړے او د ډاکټر خان صاحب (۱۹۵۶ع شهید) له کمپوډر سره یې د پېښور تر لوچل زده کړ. خو پرنګي د دغې ډلې له تلو سره موافقه نه درلوده او د دوي پاسپورټونه یې ترې وخښل

(۱۹) مرحوم راحت زاخېلي (۱۸۸۴ - ۱۹۶۳ م) هم په د سه باب ویلي دي: ... یا د ګوره ... په ما ... کښې د نجیانو ... د واغښ ص ۳۰ د زلمي هیواد مل په زیار، د ۱۳۶۳ هـ ش ... چاپ)



A .S.K B

چې امان الله خان له پاچهۍ لاس وکېښ .

څنګه چې د باچاخان د غني فیصلې ته پرنګیانو په ښه نظر نه کتل او ملګه یې غوښتله چې د ګرفتار کړي ، نو غني یې له ګرفتارۍ څخه د ژغورلو په خاطر د تحصیل لپاره انګلستان ته ولیږه ( ۱۹۲۹ع ) . دا و د سیاسي مبارزو په ډګر کښې د غني لومړي ګام او د پرنګي د اعمالو پر ضد یو پاڅون .

وروسته تر دې چې غني له اروپا او امریکا څخه بېرته هندوستان ته راوګرځېد ، د هند په سیاسي حلقو کښې محشور شو . له ګاندهي جي (۱۸۶۹-۱۹۴۸ع) او د هند له نورو سیاسي لیډرانو سره یې د پلار په وسیله ناسته پاسته شوه . لکه چې باچاخان په خپل یو لیک کښې عبدالغني خان ته کښلي دي : « غني جانه ! دا خو ډېره د خوشحالۍ خبره ده چې د ګاندهي جي په صلاح او مشوره بنګال ته روان یې زه به تا نه ډېر خوشحال یم که چیرې ته د ګاندهي جي په صلاح سره کار کوې د هغه تا سره ډېره مینه ده ....» (۱۹)

استاد بېنوا لیکلي دي : « عبدالغني خان په ۱۹۴۵ع کال د دوستانو په سپارښتنه د هغه وخت په مرکزي پارلمنټ (برتانوي هندوستان) کښې د انتخاباتو د پاره ودرېد ، خان یې کاندید کړ (۲۰) د ده په مقابل کښې که څه هم د هغه وخت د ټولو سیاسي ډلو لکه خاکسار ، مسلم لیګ او هندو مهاسبها

---

(۱۹) د باچاخان لیکونه ص ۲۰

(۲۰) د پښتانه لیکوال په ۱۰ مخ کښې یې کښلي دي : « کوم وخت چې خان عبدالقیوم خان د کانګرس مستعفي شو نو غني خان د هغه په ځای د دوه کاله د مشترکه هندوستان د سنټرل اسمبلۍ ممبر پاتې شو . »

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ دی، خو غني خان هغوی ته ماتې ورکړه او د هند په مرکزي پارلمنټ کښې وټاکل شو نو ډهلي ته ولاړ. د هند په مرکزي پارلمنټ کښې ښاغلي غني د خپل مستعد دماغ په برکت ډېر ژر منلی مقام وموند او د هغه وخت د هندوستان په دريو بهترينو مقررينو کښې يو هم غني خان و، که څه هم دے د پارلمنټ ترټولو ځوان غړی و، خو چې ده به تقرير شروع کړو نو يودم به چار چاپېره د پارلمان غړي په منډه منډه د پارلمان سالون ته راتلل.... سره د دې چې عمر يې لږ و، بيا هم د مرکزي وزيرانو سره د يوولسو سلاکارو کميټو غړی و يو ځل نيم هم داره پا بين المللي کنفرانسونو ته ليږلی شوی و.“ (۲۱)

هغه مهال په شمال مغربي صوبه سرحد کښې د مسلم ليګيانو وړانۍ د خدايي خدمتګارو په وړاندې زياتې شوې وې، نو هغه وخت چې عبدالغني خان د خدايي خدمتګارو د محافظت لپاره د زلمي پښتون ډله جوړه کړه او ډېر وطنپرست پښتانه زلميان يې پکښې منظم کړل، د دغه تحريک سره له دې چې شپږ مياشتې وچليد، خو داتيازرو په شا و خوا کښې پښتانه زلميان ور سره وو.

فخر افغان د دغه تحريک په باب کښلي دي: ”څه وخت چې زمونږ خلک د ميجر خورشيد د دې اراده او سيکم نه خبر شول نو هغوی د خدايي خدمتګارو د حفاظت د پاره نوجاعت د غني په مشرۍ کښې جوړ کړو، نوم يې (زلمي پښتون) و او په دې کښې هغه ځوانان شريک شول چې د چا عقيده په عدم تشدد باندې نه وه

(۲۱) اوسني ليکوال، ص ۹۰۲



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې چې هغوی په دې غرض دغه جماعت جوړ کړې و، چې خدايي خدمتګار خو تشدد نه کوي، د دوی عقيده په عدم تشدد ده دوی په خلاف د تشدد سازشونه کیږي، نو دوی اعلان وکړو چې دا جماعت هم د خدايي خدمتګار د حفاظت د پاره دی. د دې په مقابل کښې مسلم ليګو د غازي پښتون په نوم يو جماعت جوړ کړو ليکن پښتون قوم زلمي پښتون پسې و، او مسلم ليګ کښې چه کوم خانان د برټانيا نوتالي څټ وو، هغوی په دې نتيجه ورسيدل چې قوم خدايي خدمتګارو سره دې نو که د زلمي پښتون او غازي پښتون جګړه شي نو مونږ مسلم ليګو کښې به يو کس هم ژوندي پاتې نه شي... » (۲۲)

د هندوستان تر ويش وروسته د ۱۹۴۷ع کال د جولائي په څلرمه نېټه د شپې په يوه بجه غني خان د مسلم ليګي حکومت له خوا ګرفتار شو او د مځې شپې په سبا پېښور ته بوتلې شو، او له مرحوم ماسټر عبدالکريم سره يو ځای جيل ته وليږل شو. د هسپوړا او پاکستان د نورو جيلونو په تورو او سپينو پنجرو کښې يې شپږ کاله تېر کړل او په ۱۹۵۴ع کال کښې له بنده آزاد شو.

داوه د ده سياسي ژوند او په سياسي ميدان کښې د ده د فعاليتونو او مبارزو لنډه قصه. اما تر دې وروسته هم که ظاهراً خان په روان سياست کښې لاس وهم نه لري، مګر بيا هم د محيط او خپلې کورنۍ د سياسي مرکز ميو

---

(۲۲) زما ژوند او جد وجهد ص ۶۹۲ - ۶۹۹



A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمچیو په امان کښې نه شي پاتې کیدے او دغه سیاسي جریانات دده پېژوند

اغیزکوے او ده ژوند مل ورسره تیرېږي .

## د ادب میدان :

ویلے شي چه خان عبدالغني خان خپل لومړنے شعر د ۱۹۲۹ع کال د جولائے

په ۲۲ نیټه دعمر په څورلسم کال ویلے دے ، او دغه شعر یو بیت دا دے :

د تهمت نه به جهان کښې څوک خلاص نه شي

چه آسمان وي کله کله وي وریځې

عبدالغني خان له همدغه وخته د ادب په میدان کښې لومړے قدم

کیښود ، مګر دغه قدم یے ډیر پوخ او محکم کیښود چه ان تر دے دمه پورې

لار روان دے ، او ادب یے د زړه همدم ایسي .

خان له ۱۹۲۹ - ۱۹۰۵ع کال پورې په دې شپږ پنځوس کالو کښې خپلے

ژبے او خپل فرهنګ ته ډیرخه ورکړي دي . چه دغه ادبي کارنامے به یے

نوم تر ډیر یو ژوند ے وساتي .

## پښتو ادب ته دغني خان بخښنے :

د پښتو ادب په اوسني دور کښې په سلګونو شاعرانو او ادیبانو لوا او

پښتو ژبے ته په نظم او نثر کښې ډیرخه بخښلي دي ، چه په دغو والیو کښې

دځینو هغوله مرغلرو سره برابر دي ، او د ځینو لا په کونجکه نه ارزي .

د عبدالغني خان بخښنے په لومړي قطار کښې ځاي نیسي ، ده چه څه



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې ژبې او ادب ته غښتلې دې ډېرې برخې یې د پښتو شاعرۍ په اوسنی دور کښې خپل بل ساري نه لري، او پوازې دې په خپله ژبه کښې د د غسې بکر و اوناویلو شوو مضامینو مبتکر دې.

زه به د دې لیکنې په دې برخه کښې لومړی هغه څه در وپیژنم چې د ده پښتو ادب ته ورکړي دي.

## ۱- د پنجرې چغار:

دا د خان د منظوم کلام اولنی شایع شوې مجموعه ده، اوله اختتامیه لیکنې یې ښکاري چې دغه مجموعه خان په جیل کښې تنظیم او بشپړه کړې ده د ده خپله لیکنه په دې خصوص کښې داده: "نن په ۲۲ تاریخ داکتوبر ۱۹۵۲ ع په هری پور جیل کښې داکتاب لیکل ختم شو." (۲۳)

دغه مجموعه ۲۱۵ مخه په ۱۹۵۶ ع کال پېښور کښې د یونیورسټی بک ایجنسی له خوا چاپ شوې ده. د کتاب پېژند ګلو د مرحوم ماسټر عبدالکریم په قلم کښل شو، او په پیل کښې یې د خان خینې منثورې لیکنې هم چاپ شوې دي.

## ۲- دغنی پلوشې:

دا د عبدالغنی خان د کلام دویمه مجموعه ده چې په ۱۳۲۹ هـ ش کال په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا ۲۳۶ مخه چاپ شوې ده. د دې مجموعې د پیل په ۱۲۳ مخونو کښې د خان نوی کلام چاپ شوی او وروسته یې د پنجرې چغار

(۲۳) د پنجرې چغار ص ۲۱۵ - خان د دې اثر په پوربل ځای کښې کښلي دي: "هري پور - ۱۵ اکتوبر ۱۹۵۰ ع کښې داکتاب شروع کړم - غني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظمونه اخیستي دي.

د دې مجموعې په پیل کښې د مرحوم استاد الفت یو یادښت او په پای کښې یې د غني خان یو یادښت چاپ شوی دی چه د مړه پور په جیل کښې کښل شوی او تاریخ یې د ۱۹۴۹ ع کال د جولای د شلمې نېټې دی. د غني په دې یادښت کښې راغلي دي: "کتاب خلاص شو خو شعرونه ډېر پاتې شو، خیر بیا به چرته څه غم وکړو، ژوند عجب شی دی. د دې کتاب کښې اول شعر د اوبو په جهاز کښې په بحر هند ویل شوی او آخري د مړه پور جیل د کوارنټین په یوه چکۍ کښې په دې منځ کښې چه څه مستي، خوشحالي، غم، ارمان، امید، وغیره. خندا او ژړا په ما راغلي دي. نو د دې کتاب په پاڼو کښې موجود دي ولې افسوس دی چه ژبه مې د زړه هومره طاقت نه لري بیان د احساس نه کمزوری دی. خو هر څه چه دي حاضر دي ما د څه پټولو کوښښ نه دی کړی. بلکه د ښکاره کولو خواري مې کړې ده.

دا زما د خان تصویر دی، ډېر نامکمل او مات گوډ دی ولې دا زه ښه په خوشحاله ضمیر ویلې شم چه د دې کښې هر څه دي زما دي. دا زما د دې بې ښکاره او بې مطلبه ژوند یوه خواره ډالۍ ده چه ما خپل قام او ملک له جوړه کړې ده. کاش چه د دې کښې د ژبې د ښایست او پوهې د کمال د پایو نه ما ډک کړې وې ولې څه وکړم چه ما دومره وس و. او بنده د خپله وسه زیاتي په هېڅ نه دی پوه. که په دې خیالاتو کښې دومره حسن وي، چه له ما نه پس هم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندي پاتې شي نو زه به وايم چې واقعي ما د آب حيات چينه وموندله، او س دوي ما ژوندي کړي دي، او بيا به دوي ما ژوندي کوي. (غني) (۲۴)

## ۳- پانوس:

د عبدالغني خان د شايع شوي کلام دريمه مجموعه پانوس نومې چې په ۱۹۲۸ع کال د قامي مکتبه پيښور له خوا په پنجاب آرټ پريس ! هوی کښې ۲۹۲ مخه چاپ شوده. په دې مجموعه کښې د خان له نويو نظمونو سره د پنجرې چغار او پلوشې انتخابات هم ليدل کيږي. دد مجموعې په پيل کښې يو يو مخيز ياد ښت هم چاپ شوي دے.

## ۴- د غني ليکونه:

غني خان د خپل سياسي او ادبي ژوند په دوران کښې دلرې او بر پښتو خوا او برصغير اديبانو، شاعرانو او سياسي خلکو او مشرانو ته په اردو انګريزي او پښتو کښې منظوم او منثور ليکونه هم کښلي دي، چه زه د خان د غني ليکونه دده يو ځانته ميل اثر بولم.

که څه هم دده د پښتو منظومو او منثورو ليکونو ځينې برخې د سرحد په اخبارانو، رسالو او هم دده په کتابونو کښې شايع شوي دي، خو د هغو ځا مله تولول او خوندي کول په کار دي، ځکه د غني ليکونو له خپل ادبي او هنري لطف سره سره ځينې ډير مهم نکات او تاريخي وقايع هم رانغاړي، چه د غني خان

(۲۴) پلوشې ص ۲۳۶



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي، سياسي او ادبي ستونزو په څېړنه او هم ئې تل د مناقبو او وخت د
مطالعې په دوران کښې د څېړونکو سره ډېره مرسته کوې. زه په دې خاطر کښې د سجاد
له زړه ورسالو څخه د دوه منثور او دوه منظوم لیک د نمونې په ډول راخلم.

دارالامان

۵۹/۱/۲۰

ګرانه مهدي:

ستا دواړه خطونه راورسېدلي دي. معافي غواړم چې اول مې جواب
درنکړو. خوزه داورې نه څخه ناجوړه یم او نن سبا خو مې د خپله خانه او
تر ټولې دنیا نه مرور شوی یم. تا ته دا هم معلومه ده چې کلونه او شو چې ما څخه خاص
شی نه د لیکلې تېر شوی خو هم کښې چې زه په هسپتال کښې وم. نو په امام حسین
مې مرثیه لیکلې ده. هغه د لیږم. هغه هم راته ورکه شوې ده. خو کوښښ کوم او را
یاد وم. زه ستا ډېر مشکور یم چې کله ناکله زما شعرونه رهبر کښې چاپ کړې
زه مې ډېر غواړي چې هره هفته د لته څخه نا څه لیکم ولې ډېر پریشانه او ډېر
ستړی یم او صحت کار ته می د ده نه نی (۲۵) غني.

لاندې منظوم لیک را وړم چې عبدالغني خان د ۱۹۵۱ع کال د جون په
۲۵ په جېل کښې ماسټر عبدالکریم ته لیږلی و:

---

(۲۵) رهبر کابل نمبر ۱۲ فروری ۱۹۵۹ع الف م خ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غني ته نه سړې وې — نه سړې شوې نه به شې
بې تکه د خبرې — بې مطلبه د نشې
بې توله د دماغ دې — بې لباسه د بیان
دا سړې د سنګ ادې — نه سود پیژنې نه زیان
تا لوګینې الوته وینې — بق بق آسمان ته ګورې
قسمت د ته نارې وي — ته نې ناست او ځانته ګورې

* * *

جوړې کړې محاونه — د خندا او د هوا نه
په ځان لې غاور کړې — دا بنایسته دنیا ورانه
دا کړه د عیشونو — کنډلو جونو او ړنانه
په ځان دې مقبره کړه — تکه توره ورانه ورانه
دا څه غواړې د بل نه — ځان څه غواړې د ځانه
دا څه بلا جوړې — د دې بنایسته دنیا نه

* * *

نرګس دې د ي کړلې په باڼ کې کښې د جوارو — رامبیل دې لګولې په باغچه کښې دانا رو
دنیا کښې ترقي په خوشامند و د دله ده — تا څو به سلام دی او تختونه په منت
دنیا واړه کمزور ده خوارې دروغ خوارې — چې څه د بل شناوې د هغه کیږې صفت
بادشاه د دنیا زرد او یا زور د بل نشته — مطلب د ترونه یا ځان دی او یا ګوره بل نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ته اینې خان نه شې ورې نه به شې — کله نوا او کله نوا، خندان نه وې شمشې

د خاموښ نظر کښې خان خیال نه دې — ته ټول پارسا ښکاره ځلې تون نه دې

ته ټول منصور منصور زره د تود سر دې — خان له حکمتونو د بهلول نه دې

منځ چې د ګلونو اشاره نو سپرلو یار دې — خو تاله دوربخنانو د انعوشیو نه دې

په دې ځنځیر چې د ګل و دنسیم ساقی راز دار دې — چې تاله بلخ خماول او خان خیلو نه دې

همیش په دې شغل یوازې خیږې په سحر کښې — په ګوټ کښې د فرغو چې خان باول نه دې

رښتیا که دېره او کې په د تشه رنها څه — داوړ خیټې خان په د تشه خندا څه

* * *

ته حسن چه شکې د لوګی هوا محل دې — انصاف انصاف د خه دیر هوښیار شا اکل دې

ایمان ایمان د خوږې هوښیار غم کړې د سبا

اتبار د هوښیار تیا د اکو ایمان د عقل غل دې

رښتینې د مړ چینې وشي په زولنو کښې

نن برده د چاې ده مور او برده روان چل دې

په بیه شرافت د نوم او ننګ په لیلام

یا هی په کرایه ښه سپوتوب په بدل دې

خټک کښې د پیریا نو لتو ته بنا پیری — تعلیم کړ پښتو به د ستا خان د سامری

په شعر کښې لټې د لرو سرو پلو شې — غني ته نه سې و نه سه شته نه به (۲۶)

(د س ستا ور غني)

---

(۲۶) رهبر، ۲۹ فروری ۱۹۶۱ ع ص ۱۱۴ - ۱۱۵



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغو آثارو سربېره د خان متفرق اشعار او نظمونه، لیکونه او نور منثور لیکنې د پېښور په ډېرو ملي رسالو او اخبارونو کښې شایع شوي دي چه تر اوله او خوندې به کاردي، ځکه د ده هر لیکنه او هر نظم د پښتو ادب یوه قیمتي پانګه ده. او بویه چه زمونږ لرنی پخپل قوم او ژبه مېین وروڼه د غني کار وکړي.

د غني خان د آثارو په لړ کښې ادب پوهانو په انګرېزي کښې د "پټهانز" په نوم د ده یو اثر یاد وونه هم کړے ده. چه "خو افغان ته اهدا شوے دے" ویلي چه د غه اثر د ده ځله چاپ او شایع شوے دے. یو ځل په بمبئي کښې او بل ځل په ۱۹۵۰ع کال په پېښور کښې. ما خپله د خان د غه کتاب نه دے لیدلے.

## د غني د کلام شکلي خوا:

د خان د کلام کومه مطالعه چه ما غزېبه ته میسره شوې ده چه هغو کښې زیاتره برخه د آزادې شعري سکښت لري چه زمونږ لرنی ورونه یې "نظم" بولي او د شعري قالبونو د ټینګو قاعدو او اصولو ډېر تابع نه دي. له دغو نظمونو سربېره د ده په کلام کښې غزل، رباعي، قطعه او یو نیمه مثنوي هم لیدل شي.

د عبدالغني خان په کلام کښې ځنې داسې نظمونه هم ځان ښکاره کوي چه موږ ورته دلته په کابل کښې "آزاد نظم" او یا نوې شعر وایو د غه ډول نظمونو هم خان په خاص ادبي مهارت ویلي دي چه فکري خوا او سربېره هنري مزیت هم لري او د پښتو د نوي شعر د مطالعې په دوران کښې په خاص ډول د یادونې وړ دي، دلته زه د ده د غه ډول نظمونو یو نمونه وړاندې کوم:



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوک د زړه غولولو نښته
خان له زړه غولوم ځپله
خان له ناست یمه خپل غم ته
د خپل غم وایم بدله
چې رته لرے تیر محفل له
د مستۍ او خندا خمه
چې رته مړه شمع را اخلم
خپل مثال پرے لګومه
د ے تور تم غم او افسوس کښے
زه په یاد د مینے پایم
سوی زړه ته قصے دیرے
د خوانۍ رنګینے وایم (۲۷)

دخان د آزادو نظمونو دیرے نمونی په پانوس کښے خوند دی په مجموعه کښے یو ځاے د علامه اقبال (۱۸۷۳ - ۱۹۳۸ ع) د کلام ترجمه لیدے شی او هم د پښتو د اولسی شعرونو نمونے هم .

## دخان د شاعرۍ مضامین او فکری ارزښتونه :

دخان د کلام له مطالعے هرچا ځانله خوند اخیستے دے او لیکوالو او محققینو هر یو د خپل برداشت سره سم څه پرے لیکلی دی . مګر زما په عقیده تر هرڅه د مخه او تر هرڅه د مخه باید په دے د شاعرۍ په باب دخان ځپله رایه پوهه شی چے د ے په دے باب څه نظر لرے . عبدالغنی خان استاد بینوا مرحوم ته په یو لیک کښے په دے باب داسے لیکلی : "..... زما خیال دے چه ژوند کښے دیو شاعر مرام او هدف دیو مبلغ او ملا نه بیخی جلا او بل شان دے او دا ځکه چه انسان په اساسی او بنیادی توګه یو ځناور دے

---

(۲۷) رهبر جون ۱۹۵۹ ع ص ۱۲



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خوراک . څنګه جنسي ارتیاوو او استراحت ته ضرورت لري او نور هم څه ته نه . د ازمونږ د شاعرانو وظیفه دو چې د انسان توجه او پاملرنه د هغه د ژوند او هستۍ دې لوړو مرکزونو ته ور واړوو ، چیرته چې هغه ممکنه ده ، د خپل تکامل انعکاس وویني ، او د خپلې ابدي معشوقې د ښکلا او ښایست دیدن وکړي .

زما خیال دی چې یو شاعر باید د فکر او خیال قول او عمل په ډګر کښې د ښکلا او ښایست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کاندي چې هغه د خپلو خواهشاتو له ګنډ کیو څخه خپل مخ د خپل باغ عدن خواته واړوي . دا کار په پند و نصیحت نه شي کیدی . زما هغه خلک بد ایسي چې ماته نصیحتونه کوي .

که چیرې مونږ د ژوند له ګومي د ښکلا او ښایست د قدرداني لپاره ځان راپیدا کړای شو ، ترګومه چې په ژوند کښې د عذاب او مصیبت د رد او غم تعلق دی نو زما خیال دی چې مونږ ته د ښکلا ښایست د تخلیق د پاره د هغې قیمت اداکول لازم دي . هر یو آرټسټ دا بوګنوونکی قیمت اداکوي ، او په دې کښې یو څو کسان خوش بخته وي چې د ښکلا ، ښایست او دلربائي یو څانګې راپیدا کړي .

د آرټ ، ښکلا او ښایست او دلربائي مخې ته د راوستو د پاره ته باید چې د ژوند ، د درد و غم ته مخامخ شي ..

د خان له دې خبرو نه ښکاري چې د ده د شاعرۍ مقصدیت هم په لوړو خبرو کښې نغښتی دی . او د ده د کلام کمال او جمال هم دغه تای دی چې خان پخپله بیان کړل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خان د کلام زیاته برخه فکري محتوی لري چه د ملي او قومي مسایلو له بیانه ئي نیولي تر تحلیلو فلسفي مسایلو پورې خبرې او د ټولنې ضروریات په خپل کلام کښې رانغاړي .

د خان اکثر فکري آثار د طنز او مزاح په ډول په داسې طنزي انداز کښې بیان شوي دي چه د ټولنې او معاشرې ډیرې ناوړې خواوې په ډیرو خوږو طنزونو او توکي ټکو نظمونو کښې بیانوي . او د پښتو په معاصر ادب کښې ډیر لږ شاعران د غني په څېر طنزونه لري . یا خو به د غه ډول طنزونه ډیرلږ وي که ډېر نو هغه به هم د غني په اندازه چه غني بیان کړي دي نه وي . په همدې اساس دلته پښتو ادبي محققین لیکي چه په اوسني دور کښې طنز و مزاح ته په پښتو شاعري کښې لیوني فلسفي عبدالغني خان خاصه ځلا ورکړه ( ۲۹ )

د غني په شاعري کښې له وطن او قوم سره مینه په داسې انداز کښې بیان شوې چه هیڅ ډول تفنن او تصنع نه پکې لیدل کیږي او د ده د قوم پرستۍ او وطن پرستۍ د واقعي احساساتو ترجماني کوي . او په ټولنه کښې مسلط اجتماعي او سیاسي نظام هم د ده د اورني ژبې او د نقاد قلم له خوږې خلاص نه دی . د ځینې زیاتو باسي چه د جامعې فساد ونه په داسې طنزیه او مزاحیه ټکو کښې انتقاد کړي چه په ظاهر کښې ډیر سطحي او پیش پا افتاده ښکاري . خو که سړی یې مطلب ته ورسي ، نو حال د خان په فکر و مغز آفرین ووایي .

---

( ۲۹ ) اټک کښې اسپار ص ۱۹۶ . طبع لوشته ادب لاهور .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبدالغني خان او د ده کلام د شاعرانو، ادیبانو او محققینو له نظره:

د خان د پېژندګلۍ او د ده د آثارو او افکارو په باب چې کوم بحث شوی، د هغو تکمیل لپاره لازمه ایسي چې د هغو ادیبانو او شاعرانو آراوې هم راوړل شي چې د غني او د ده د آثارو په باب څرګندې شوې نظریات لري:

۱- مرحوم ماسټر عبدالکریم (۱۹۰۸ - ۱۹۶۱ ع)، د پنجرې چغار په دیباچه کښې کښلي دي: "... د غني د شاعرۍ درې دورې دي: اول دوره د هلکوانۍ شاعرۍ ده ... دویم دور د غني شاعرۍ هغه وخت لپاسي شي څه وخت چې غني له دیورپ، امریکې طواف په هم زیاته کړې وه ... د دې دور کښې د غني په تخیل کښې پراخوالی موندل شي، دا ځکه غني د خیال په نیلي سپرې خو داسې پښتو قابو کښې کړې یو آواز د چې سوز او ساز لري، یو سرور چې د مستۍ ته ګوخا لري د دور کښې غني خان که خپل مسلک هم لري، وايي چې غالب او ټیګور په لاره روان وو غني مخې له ورغی د واړو په یو بل ته وکتل. د غه د غني د دریم دور شاعري ده او چې د خیام مستۍ له یې د غالب بیباکي او د ټیګور رنګیني ورکړه ..." (د پنجرې چغار مقدمه ص د.)

۲- د پښتو ژبې نومیالي لیکوال همیش خلیل لیکلي دي: "د دغه نوم نه وړاندې ادبي دنیا کښې غني خان په لیوني فلسفي پېژندل کېده شو او د خپلو مزاحیه شعرونو له لکبه چې اکثر به په اوونیز خپلې پښتون کښې شایع کېدل هم د دغه مجلې په ذریعه لیوني فلسفي نه صرف په خپل ماحول کښې بلکه ترلرې لرې مشهور شو ..."
(پښتانه لیکوال ص ۱۰)



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- مرحوم استاد گل پاچا الفت ( ۱۳۵۶ هـ . ش مړ ) د غني شاعري دا ستايي :« د غني خان په اشعارو کښې چې څه شی زما په نظر ښيږي هغه د فکر او خيال آزادي او د تقليد له تلقينا تو څخه سرکښي ده .

د ده رندانه مقام ته څوک نه شي رسيدای او هغه څه چې ده د خپل سباغلي ليونتوب له برکته ويلي شي د نورو خولې ته نه سوځي .

غني د شعر او شاعرۍ په دنيا کښې رښتيا غني دی او په خپله يې په ځير رسيدلی دی . د ده په اشعارو کښې عشق او محبت ، پښتو او پښتونولي ، رندي او خيامي فلسفه ، توکې او مسخرې هم څه شته له کارغانو او مارغانو سره يې هم په شاعرانه ژبه د ويرې د خوند خبرې کړې دي .

د ده په مستانه ليونتوب کښې شاعرانه هوښياري او بيداري پټه ده او په ملنډو کښې يې د مقصد لوی نغښتی دی . نو ځکه ورته ليونی فلسفي هم وايي » ( پلوشې - الف . ب مخونه )

۴- استاد بېنوا ( ۱۳۶۳ هـ . ش مړ ) بيا وايي :« ... ظاهر بين خلکو ورته د ماشوم په نظر و کتل خو د قدرت په نظر کښې هغه د پښتنې ادب په آسمان يو ځليدونکی ستوری و ، چې له نميمه رانښکاره شو .

هو ! هغه وخت څوک پوهيدل چې دا ماشوم به يو ورځ د پښتو ادب غني او مستعد دماغ شي چې د سپيڅلې طبيعت له الهام ، د حقيقي انسانيت له نورو ، د سرمست احساس له جامه د رندۍ او شوخۍ له خمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیونۍ مینې له سوز و سازه او د ژوند د ژورو فلسفي له تلله په پښتني ادب دا تېر مې نوې خلا ، نوې رنګیني ، نوې روح او نوی خوند وبخښي چه د پښتو زوړ ادب لوړ ورسره اشناو ." ( اوسنی لیکوال ، ج ۳ ص ۹٦۹ )

د . شوروي پوه ک . ف . ګیریس بیا د غني شاعرۍ له تحلیل څخه دا خبره راوباسي ،

" د ژوند انځورونو د ترسیم له پاره غني خپل مخصوص سبک او اسلوب انتخابوي طنز ، ټوکې او ټکالې کوي ، او هغه څه چه د شعر په ډګر کښې د ده مخې ته ورغلي دي همدا ورته نه دي پاتې شوي او ګوزارې ورباندې کړې دي ، حتی انګلیسان ملایان ، وطن دوستان ، اولسي بې سوادان او عتیقه پرستان د ده د ظرافت لاندې راغلي دي . تیز او مهم موضوعات په دا رنګ تعبیر سره بیانول په طبیعي ډول د اشعارو خپې سموي . برسېره پر دې د غني خان د اثارو نه معلومیږي چه د اولس په ورورستنه پاتې کیدلو کښې څپله اولس ملامت دی ." ( ۲۹ )

٦ . استاد اجمل خټک د غني په نامه یو پارکې لري چه یوه برخه یې دلته را اخلو :

| | |
|---|---|
| دغني په نامه لیکم څو شعرونه | په پنجره کښې یادوم تازه ګلونه |
| د هغه سره ، نګونه د قلم دي | زه ولړم پرې څو ساړه ساړه آهونه |
| د هغه خوله کښې د خوندونه ډک چغاره دی | زما زړه کښې دي د ده د ډک داغونه |
| هغه خیال فن او ښکلا سره لوبیږي | زه ګلیا یم لوبوم دا غلي زړونه |

( ۲۹ ) د پاڅي اولس ادبیات . سر محقق معتمد شینواری ترجمه .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلاب نے هغه دنوي دنیا کې د ے | بلوم زه د کوډلو مثالونه
د هغه احساس د حسن تازه کال د ے | زه جذبات یم په بابل دی سره اوږونه
هغه مینه د غیرت د ولولے دی | زه وفا یم پښتو یم ننګونه (۲۰)

۷- د پانوس په دیباچه کوږ تے کښے اغلي دی: «غني خان چه خپله د آرټ دیوے ماهر سے حیثیت لري د هغه د افکارو سره پوره پوره انصاف وکړے شي . . . . غني خان د خپلے پانګے د کلام خزانے نه په یکوي . چه د هغه په خیال به یو پښتون باغ کښے د کلاب بوټے خپلے فطري ارتقاء ته په پښتو دل په کار دی .»

۸- پروفیسور ولی محمد خان سیال کاکړ یے بیا داسے ستاینه کوي :

چه پیدا په هشنغر کښے غني خان سو
بخت بیدار په رښتیا دلوے افغانانو
شاعر نه د فیلسوف د زمانے د ے
په خپل شعر کښے د پښتون چه ترجمان سو
دلیلي اشعار چه لولي لیونیان سي
پس له لوستلو هر سړے خبر په خان سي (۲۱)

---

(۲۰) د وخت چیغه ص ۲۴۲ د ۱۳۵۶ هـ ش کال د کابل چاپ .

(۲۱) منظومه تذکره ص ۲۷ د ۱۹۹۲ ع کال د کوټے چاپ .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ - صاحبزاده محمد ادریس پخپل یو نظم کښې د غني او مفتون مقایسه داسې کړې ده :

فرق څه دی په غني او په مفتون کښې | کوم چې وینې لیونتوب او په جنون کښې
سرګردانه که دي یو بل نا قـــلاره | اضطراب کوره د دواړو په څخون کښې
د احساس درد کموي په شرابونو | بیا ورتیږي د شرابو په بیلتون کښې
بیهوشي کښې اوري خوږ د سرونه | فرق نه وینم د دواړو په قانون کښې
په د خیال بل د جذباتو په تال زانګي | ورسره د خیال لیلا د مجنون کښې
سر په پښو په او مستي په زړه جابل دي | سبقیان دواړه د عشق په په فنون کښې
د غني د خیال نیلي په آسمان ګرځي | ورسره د مفتون آس وي په کډون کښې
سرونه چې د مینې کوي برسیره | مستي راولي د عقل انقلاون کښې (۱)

۱۰ - زموږ نومیالي استاد پوهاند رښتین د غني د هنر او فن تجزیه داسې کړېده:

" د غني په استعاره کښې یا په بله ژبه د دوه دنګو په پلوشو کښې عشق او مینه او محبت پښتو او پښتونولي ، رندي او مستي ، تنقید او کره کتنه ، آزاد خیالي او بې باکي د بې باکي فلسفه او نور هغه رنګ لذتونه او خوندونه شته او په دې میدان کښې غني د خوشحال د لارې یو ځ ملګرې د سخي په توګه او ملنګو کښې تر هغه هم وړاندې دی " (۲)

---

(۱) د سپېدې دستور ، ص ۶۱ - ۶۲ د ۱۹۵۷ ع کال د پښتو ټولنې ادارهٔ اشاعت سرحد .

(۲) وږمه د ۱۳۵۶ هـ ش کال ګڼه ص ۱۳۰



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- ښاغلی صادق الله خان کنبلي دي: "د غني خان شاعري یو سیلۍ ده چه نه نیولے شي او نه تللے پام کولی شي چه په خیال تاو کښې د غني خان د اچولو لپاره ونه کوې په دې چه ستا او زما تال نه خو د هغه وسعت ته رسیدلے شي او نه د هغه د وزن او چټولو طاقت لري." (۱)

۱۲- سلمی شاهین چه د غني په شعر کوم مقاله اخیستې ده نه د هغه خلاصه دا ده: "د غني د فکر پلوشې د حسن و عشق په دنیا کښې که د وه دنی د خیال په نوم په دیوو ته کښې شیشه د دې هغه چالاکۍ چپال انداز د ننداره د غونډو کوي." (۲)

۱۳- وغ لیونی پوخا لیکلي دي: د غني خان شخصیت د تعارف محتاج نه دے خو دومره کیف او بے خودۍ نه په خپل نه ده اخیستے او هغه د باکۍ اجرت قایله به نه وي د او د فکر تکین عکاس د کاش په سینه چپاشوخ لیونتوب کښے هم دستور او پلوشو مجا تاب نه خوري هسے خو دغه په نظم هم ښیار لیونی د خاکي هم ښیار ان خوښه وېلي دي چه دنیا په لیونو خانه ده او لیونی په دنیا کښې تا سو کوري چه دا زه هم لیونے فلسفي خو ښه وایي:

زه خو ښه خوایمان نه خو شرم ... خدایه لیونی په خاتمه خانه لیونی

غني خان د شعر فن په میدان کښې ډیر جدا او آزاد د لار ختلے دے. هغه د ژوند یو ګړے د دنیا نه لرې خوږ باد نه کوي. خو د دې سره چه بے باکه او مخلص محبوب د خپل جاپ په چل د کنده کیږو هم او د احساس کوي خو سخته تېرند لمنه ورکوي. د هغه احساس موثر دا ښايي چه په کنده هم خوږ پیرزو خوږ جال وایي خپل نه ووای. د هغه حقیقت ګمه کې د چه غني بي تحجا ده. د هغه کلام د ژوند نه لولو نه ډوره د تلو میوو ترهو. خوشحال خټک او ... سره او سان خوږ و ترخو نه او تیاره ذکر و نه کوي. هغه په زړه د ننه د خپل ګډون کښې د معاشرې په مقامه مخلص او ښکلي توپي. خو په خوږو و خوږو کښې د ترخو حقیقتونه هم ځینې ځله کوي." (۳)

(۱) ... [illegible] (۲) ... [illegible] (۳) ... [illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴- حامد کتبلی دی: "شعر غنی بازتابی از زندگی محیط و درگیری های سیاسی زمان اوست وهمین مسایل است که انگیزه های بازسازی دنیای نگری اورا می سازد شعر درست او خامدی است که با آن افکار فلسفی، آزادیخواهی وحب وطن را با تمام ابعادش ترسیم میکند. ...... درشعر او فضای زیبا وشکوهی تبلور یافته است. همین ویژگی شعر اوست که اورا در ردیف شاعران ممتاز وبرازنده زبان پښتو قرار میدهد." (*)

## غني او اخوزکري :

په ادبي څېړنو کښې راغلي دي، چه غني خان اخوزګر (مصور) هم دی. د ده ځينې اخوزونه په بعضې کتابونو کښې شايع شوي هم دي. ويلې شي چه ده ټيګور په بين الاقوامي يونيورسټۍ کښې غني د خپلې استوګنې په زمانه کښې د هلکانو د تحقيق تصويرونه جوړول شروع کړل. اما د غه تصويرونو چه د کالج پرنسيپل او ټيګور (۱۸۶۱- ۱۹۴۱ع) وليدل نو ډير زيات خوشحاله او حيران شول.

ښاغلی هيش ياکښلي دي: "غني خان د يو ښه شاعر نه علاوه يو بهترين مصور هم دی او ډير ځله د تصويرونو نمايشونه شوي." (پښتانه ليکوال ۱۰ مخ.)

---

(*) حقيقت، دمي درياڅ، ۱۳۶۴ کال د اسد مياشتې ګڼه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غني د کلام د غره مجموعه:

کله چې د پښتو ژبې نوميالي شاعر او ليکوال سليمان لايق ما ته د غني د کليات د ټولولو سپارښتنه وکړه. نو ما لومړی کار له پاڼوس پيل کړ. پاڼوس ګټ شو او کاتب ته د ليکلو د پاره وسپارل شو. تر دې وروسته مو د پنځو څپاړو کار الا ټولو او نيوه کوم نظمونه چې په پاڼوس کښې راغلي وو. هغه تر ليکې کړې شول او باقي ترتيب شوي وليکل شو او کاتب ته حواله شو. بيا مې پاڼوس وکتله. دده مجموعې ټول هغه نظمونه چې په پاڼوس او پنځو څپاړو کښې راغلي وو. هغه تر ليکې کړې شول. او پاتې نظمونه يې وليکل شو.

البته کيدای شي چې ځينې داسې نظمونه د پاڼوس مغزي ته راغلي وي خو د ليارې چې د عبدالغني د کلام مجموعې خپل هويت هم ساتلی شوی وي. د مخکې ليارې حلا حلا سره بېلوي دي کړل.

د شعرو کليات کښې راټولو په املا کښې ډېر لاسوهنو د اوهو تړنيږي حدونه ځانګړي زياروي ويست چې املا د ازې بنيوخوا املا ته وتري وي. هغه کلمات چې خان په شعرو کښې لهجه کښلي او ځينې مو هم کړل او په مروجه املا مو ليکل خو ځينې بې لا د خان د لهجې مطابق پاتې شول. البته دا خبره بايد هيره نشي چې د پنځو څپاړو او بلوشي کوم نظمونو چې په پاڼوس کښې راوړي دي. په هغو کښې ئې لاس ملي دی او ما د متن د ترتيب د ... ولي مجموعه او بيتونه په کليات کښې اخيستي دي.

---

☆ له بده مرغه ځينې نکرار نظمونه هم په مجموعه کې راغلي او زه د اسې وخت ورته متوجه شوم چې ايستل يې ګران وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د دې لیکنې په پای کښې د خان عبد الغني خان یوه خوږه غزله تاسې ته وړاندې کوم چې زما له دې بحث سره ډېره نږدې اړه لري، او د ده د ژوند په مطالعه کښې ارزښتمنه ایسي.

## غني غني ته

ما وې غني یار خو بې اندازه غوندې یې

ادب دې کښې کم زبان دراز غوندې یې

قصه دې که وي ده نه سم خاشې ته توقې شوې

خو ته دې دو پیاز و کښې خو دې پیاز غوندې یې

پټې دې وران ویجاړې اوکړې ورځ دې پوله

کوې پکښې کلونه حسن ساز غوندې یې

لیدل دې ماته کوې او شمل ماهل دې غشي

خو غزار دې بسا لکي تیر انداز غوندې یې

دولت دې که صفت دې که ناموس دې که شهرت

په ورځ خیته موړ او بې نیاز غوندې یې

که تنک دې که تراش وي که چاړ بیته که بدله

په خپله لار روان یې بې استاز غوندې یې

په مینه یې مین او خدای ته پلار او جانان وایې

دا خکه خو بې تولې بې اندازه غوندې یې

---

پښتو مجله ۱۹۸۳ع ... (مارچ) ۳۰ مخ
[illegible] • رحمان بابا
خادم العلما مرتب و مدون ۰ ۱۰ ۰ ۰



A .S.K B

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**